د پښتو څېړنو د بین المللی مرکز- بین المللی سیمینار

INTERNATIONAL SEMINAR OF
Int'l CENTRE FOR PUSHTU STUDIES
Pushto Academy Afghanistan

د افغانستان ژبې

او

توکمونه

لیکوالی

څېړنمل دوست محمد دوست

پښتو ټولنه

۱۳۵۴

ACKU

Download From: Aghalibrary.com

د پښتو ټولنې د خپرونو
پرله پسې نومره «۲۰۹»

دافغانستان ژبې

او

توکمونه

لیکونکی
څیړنمل دوست محمد دوست

خپروونکې

پښتو ټولنه

۱۳۵۴

Kabul University Library
Kabul, Afghanistan

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00004632 5

د زلمی هیواد مل او پاکی محمد

په اهتمام

دا کتاب په دولتی مطبعه کی ۱۰۰۰

توکه خپور شو

ACKU

Download From: Aghalibrary.com

138217

سریزه

د افغانستان د ژبو او توکمونو په باب دا لومړنی مفصل اوهراړخیز اثردی چه په پښتو ژبه لیکل شوی دی. په دې کتاب کی د پښتنو، بلوڅو، او رمړو، پراچگانو، نور ستانیانو او پامیریانو په باب ژوره څیړنه شوی‌ده اولرغونی آریایی ژبې لکه‌اویستا، سوغدی، پارتیانی، خوارزمی، زړه پارسی‌اونورې‌په ایتمالوجیک ډول له پښتو سره پرتله شوی دی. همدارنگه په‌دې اثرکې دژوندیو ژبو د تصنیف او د هغو دسیمو اودعربی اوترکی ژبو دراتگ‌په‌باب رڼا اچول شوې ده.

دکتاب‌مؤلف‌ښاغلی دوست محمد دوست په‌دې تحقیقی څیړنه کې‌ډېر زیات زحمت ایستلی دی‌اود پښتوژبې‌رابطه‌یې له‌نوروآریایی

«لومړی»

ژبو سره دژبپوهنې د پر نسيپو نو په رڼا کې ښودلې ده . که دغه اثر په انگليسي يا کومه بله مهمه ژبه واړول شي په بين المللي سويه به د پښتوژبې دمعرفي کولو په لاره کې ستر خدمت وی .

څرنگه چه دا کتاب د پښتو ژبې دا نستيتيوت دتأسيس کيدو دسيمينار په وياړ چاپ شوی دی او په دې سيمينار کې يونسکو هم برخه اخيستې ده ، ښايي چه ديو نسکو له خوا د پښتوژبې دموقعيت په باب دزياتو څيړنو د پاره په بين المللي سويه هلې ځلې پيل شي .

نوموړی سيمينار ته د بحث د پاره يوه نظريه وړاندې کيږی اوهغه نظريه داده چه پښتوژبه دهغوژبو ترمينځ چه هندو ـ ايرانی بلل شوی دی داتصال کړی ده يا په بله ژبه پښتو ددغو ژبو تر ټولو لرغونې ژبه ده ځکه چه د دوا ړو ځانگوگڼه خصوصيات پکښې ليدل کيږی .

«دو هم»

پښتو ټولنه دا خپله وظیفه گڼي چه د گران هېواد دنورو ژبو ترڅنگ د پښتو ژبې د تاریخ او ژبنۍ جوړښت په باب پرله پسې څېړنو ته دوام ور کړی .

دتوکمونو په باب باید وویل شي چه دنژاد اصطلاح ورو ورو خپل واقعیت او ارزښت له لاسه ور کوی او هغه وخت لیری نه دی چه دغه فصل دانترو پالوژی له کتابو نو څخه حذف شي . په دې اثر کې د توکمونو په باب څېړنه یوازې اکاډمیک اړخ لري . زمونږ دملت بېل بېل قومونه دیوې ونې گلونه دی . داونه ددې هېواد په لرغوني خاوره کې زرغونه شوې ده، د تاریخ په اوږدو کې یې ریښې ځغلولې دی، د گډ ثقافت او گډ وار مانونو په چینه خړوبه شوې ده، او دزمانې په غېږ کې به دتل د پاره تازه او برومنده وی .

«دریېم»

په پای کی ښاغلی دوست ته دد ې ارزښتناك
اثر په لیکلو سره مبارکی وایم اوهیله لرم چه
په دې لاره کې نور پرمختګ هم وکړی .

په‌درناوی

څیړنوال محمد صدیق روهی

د پښتو ټولنې رئیس

«څلورم»

ACKU

خوخبري

دښاغلي دوست دغه کتاب که څه هم ماپخوا په کابل مجله کی دجلا جلا مقالو په ډول لوستلی دی مګر اوسنی شکل یې له پخوا سره توپیر لری ، ځکه چه اوس له هره حیثه منظم او منسجم شوی او ښه شوی دی او ځینی برخې یې چه ضروری نه وی ، پرېښودل شوی دی .

کله چه دښاغلی دوست له خوا په کابل مجله کی دافغانستان دژبو دڅېړنی لړی پیل شوه نو دښاغلو لوستونکو له خوا یې په ډېره خوښی استقبال وشو ، چه له یوې خوا د کابل مجلې دمشترکینو شمېر زیات شو اوله بلې خوا دعلاقه لرونکو له خوا دا هیله څوځله تکرار شوه چه که داسقالې چه زموږ دګران هېواد دیوېښ اړخ څرګندونه ده ، د کتاب په شکل ترتیب شی ' بهتره به وی .

دهمدې ضرورت له مخی ښاغلی دوست دغه تکلیف یو ځل بیا په غاړه واخیست او دادی اوس یې ګرانو وطنوالو ته دیوخوږ سوغات په توګه وړاندې کوی .

یوستل دی چه: «له هرڅه دځان پېژندل ګران دی» دښاغلی

«پنځم»

دوست کتاب زمونږ دګران هېواد داولس دژبو او توکمونو په برخه کی یولوی تحقیقی اثر دی چه ددې کتاب په وسیله مونږ خپل اولس ، ملی تاریخ ، دخپل اولس ژبې اونورې کلتوری برخې په ښه توګه پېژند لای شو یا په بل عبارت مونږ خپل ځان پېژنو اوملی وحدت او ملی اتحاد ته سورابولی داخبره ټولو پوهانو منلې ده چه دانډوآر یایی ژبو ترمنځ دارتباط دلړی پیدا کول او په علمی توګه یې څېړنه دافغانستان دژبو او خصوصاً دپښتو ژبې د تحقیق څخه پرته نیمګړی او ناقصه ده . دهمدې ضرورت له مخې ډېرو غربی او یوڅوشرقی ژبپوهانو په افغانستان کی ژبنی تحقیقات او څېړنی کړی دی او ترخپله وسه یې پوره زیار ګاللی دی. مګر متأسفانه تراوسه پورې مونږ داقدرت نه دی پیدا کړی چه دخپل ځان پېژندنی په برخه کې لازم علمی او مترقی ګامونه او چت کړو .

ښاغلی دوست په دې برخه کی دنړی دلویو ژبپوهانو اوعالمانو دآثارو څخه استفاده کړې ده اودضرورت وړموادو په را پیدا کولو پسی یې ډېرې ستونزی پرځان منلی دی .

داخو ټولو لوستونکو او خصوصاً هغو ښاغلو ته پوره معلومه ده چه په اوس وخت کی دژبنیو مسایلو دڅېړنی او تحقیق له پاره ډېر سمعی او بصری لوازم ، کافی وخت اودحمل او نقل وسا یل په کار دی او بې له دې لوازمو څخه یو محقق نه شی کولای چه

ACKU

دموضوع دحق دپوره اداکولو له پاره مستند مواد وړاندې کړی.
مګر متاسفانه چه ښاغلی دوست بې له قلم او کاغذ څخه نور هیڅ لوازم نه درلودل او په تش لاس يې دې درانده کارته ملاوتړله چه دادی په نتیجه کی ددهد ډیرو ستونزواو کړاوونومحصول دیو کتاب په شکل ګرانو لوستونکو ته وړاندې کیږی. هیله ده چه ددې قیمتی کتاب په لوستلو سره زمونږ دهیواد والو ترمنځ دملی وحدت مزی لاپسې ټینګ او کلکشی اودغه علمی لار دنورو وطن دوستو ځوانانو له خوا تعقیب او بشپړه شی. زمونږ په ګران هیواد کی دتحقیق له پاره زیښتی ډیری موضوع ګانی شته چه تراوسه پورې نه دی څیړل شوی ګوندې په راتلونکی وخت کی زمونږ پوه او حساس ځوانان دې برخی ته متوجه شی او په علمی تو ګه یې وڅیړی. هیله ده له دې وروسته دهیواد دپرمختګ په لارکیدنورو حیاتی ځانګو غوندې دنورو خلکو داړتیا څخه خلاص شو او خپل ځان دنورو په سترګه نه بلکه پخپلو غړو لوسترګو وپیژنو.

زه ښاغلی دوست ته ددې علمی اثر پهوړاندې کولو سرهمبارکی وایم اوپهدې برخه کی نور زیات موفقیت اوبریالیتوبورته غواړم.

خیر محمد
د کابل مجلی مدیر

لومړی خبرې

دغه کتاب چې دپښتو ادب، غلیو، لوستونکو حضور ته وړاندې کېږي زما دڅلور وپنځو کلونو دڅېړنې او زیار محصول دی . داچې دغه څېړنه به زموږ ټولنې ته څومره ګټوره وي دهغې فیصله خپله لوستونکو او محققینو ته پرېږدم .

زه خپل دغه اثر چې زمادڅېړنې لومړی محصول دی هیڅکله بشپړنه ګڼم بلکې نیمګړ تیا وې هم لري چې دهغو لرې کول زما له لاسه پوره نه وو . دمثال په ډول :

۱ـ دبین المللی ترانسکریپسیون‌توری لکه(چ ، ځ، څ ، ښ،ږ، او نور) دیوې ژبنی څېړنې دپاره فوق‌العاده ضرور دی چې له هغو پرته ژبنی مسألی څېړل نیمګړی دی .

۲ — دژوندیو ژبو په باب زما داستفادې څه مأخذونه بهرنی دی . له یوې خوا زمونږ په کورنیو خپرونو کې داسې مواد زما لاس ته نه دی راغلی بلکی زما په خیال اصلا نشته چی دخپلو ژبو پـه باب ورنه استفاده وشی او له بلی خوادماموریت چوکاټ‌اواقتصادی شرایطو دومره امکان ماته نه دی را کړی چې افغانی‌ټولې‌ژوندی ژبې په خپله وڅېړم چی دبهرنیو پوهانو داستفادې مورد شی.

«ا تېم»

دافغانی ژوند یو ژبو په باب که زما داستفادې مو رد بهر نی ماً خذونه وی علت به یې همدغه وی .

په هر صورت ما تر خپلې وسی زیار ویستلی دی چې دمطلوبو موضوع گانو هر کتاب ، هر مأخذ او هر مدرك ولټوم او تر دې چې د یوه مطلوب ټکی په لټون پسې ډیر زحمت وگالم .

دغه کتاب زما ابتکار او اختراع نه ده اونه زماشخصی اوعندی نظریات دی . دادنړی دسلگونو پو هانو افکار او دتتبعاتومحصول دی چې د ا ینډ و آ ریـا یـی ژ بـو پـه بـا بـې عموماً اود باختری ژبو په باب یې خصوصاً وړاندې کړې دی اوما په لنډډول دلته راټول کړی دی .

ددغه کتاب زیاتې برخې د (۱۳۴۹) کال نه تر (۱۳۵۲) کال پورې د کابل مجلې په بیلو بیلو گڼو کې خپرې شوی دی بیا دلوستو نکو له خوا ښه هر کلی ته تشو یق کړم چی په نسبتاً لنډډول یې ښاغلیو لوستونکوته په یوهاندازه منسجم ډول وړاندې کړم .

دمجلې په گڼو کې دافغانی زیاتو ژوند یو ژبو گرامری برخه هم وړاند ی شوی ده خو د کتاب دحجم دلویوالی له امله هغه د لته ماړانه وړه . دضرورت په وخت کې لوستونکی کولای شی د کابل مجلې په دغو گڼو کې یې ولولی :

۱ ـ د کو ر دی ژبې گرامر، کابل مجله د۱۳۴۹ کال د لړم

لیندی ، ورغوسی گڼی .

۲ ـ دبلوچی ژبی گرامر ، کابل مجله ۱۳۵۰ د چنگابښ گڼه .

۳ـ داورمړی ژبې گرامر، کابل مجله ۱۳۵۰ دتلی ، لړم ،لیندی گڼی.

۴ — د پراچی ژبی گرامر کابل مجله ۱۳۵۰ دورغوسی ،سلواغی گڼی.

۵ـ دسونجانی ژبی گرامر، کابل مجله ۱۳۵۱ دغبرگولی گڼه .

۶ـ دشو غنانی ،روشانی ژبې گرامر کابل مجله، ۱۳۵۱ دزمری گڼه.

۷ ـ دا یشکاشمی، واخانی ژبی گرامر، کابل مجله، ۱۳۵۱ د وږی گڼه.

۸ ـ دپشه یي گرامر ، کابل مجله ۱۳۵۱ د لیندی گڼه.

۹ـ وټه پوریشو ،ماشتی ، گواربانی، کهواری ژبی ، کابل مجلی، ۱۳۵۱ دسلواغې گڼه

۱۰ـ کاتی، وایگلی، اشکونی، پراسونی، کابل مجله ۱۳۵۲ کال دوری گڼه .

زه هیله لرم چې زما دغه کتاب که د افغانستان د ژبو اوتو کمونو دخیړنی اوتتبع په لاره کې یو بشپړ گام ونه گڼل شی خو زما اویادنوروسحققینو دراتلونکو څیړنو سره به ترزیاتې اندازې مرسته وکړای شی .

په همدې ملحوظ هیله من یم محترم لوستونکی که زما په دغه کتاب کې کومې نیمگړتیاوی گوری هغه ماته هم راپه گوته کړی.

په درناوی

څیړنمل دوست

پښتو ټولنه

د تلی ۲۶ - ۱۳۵٤ کال

«لسم»



څيړنمل دوست

سرلیکونه

سریزه ١

افغانستان د آریایی ژبو ځانګو ٥

لومړی پاړکی

پښتو زمونږ ملی او رسمی ژبه ٢٧

ساکی ، تخاری ، یفتلی ژبی ٥٩

باختر او باختری ژبه ٦٧

ساك او دهغو ژبه ١٠٣

اویستایی ژبه ١٢٤

اورمړ او اورمړی ژبه ١٦٨

پراچګان او پراچی ژبه ١٩٤

دوهم پاړکی

پامیری ژبې ٢١٦

شوغنانی او روشانی ژبې ٢٢٦

اشکاشمی ژبه ٢٣٦

واخانی ژبه ٢٤٣

سونجانی ژبه ٢٤٨

سوغدی او یغنوبی ژبې ٢٦٥

خوارزمی ژبه ٢٨٩

او سیتی ژبه ٢٩٩

دریم پاړکی - جنوبی پارسی ژبی

زړه پارسی ٣٠١

«یوولسم»

نوی (دری) پارسی ۳۲۶

څلورم پاړکی-(میدیك) ژبی

پارتیانی (اشکانی پهلوی) ژبه ۳۵۱
بلوچ او دهغو ژبه ۳۵۹
براهوی ژبه ۳۸۳
کوردی ژبه ۳۸۶

پنځم پاړکی

داردی ژبی ۳۹۱
سرکزی داردی ژبې ۴۱۳
تیرایی ژبه ۴۳۲
وته پوری ژبه ۴۴۰
شوماشتی ژبه ۴۴۲
ګوارباتی ژبه ۴۴۳
کهواری ژبه ۴۴۵
نورستان او نورستانی ژبی ۴۴۸
کاتی ژبه ۴۵۴
وایګلی ژبه ۴۵۷
اشکونی ژبه ۴۵۹
پراسونی ژبه ۴۶۲

ضمیمه

افغانستان‌ته دتورکی‌اوعربی ژبو دراتګ‌لنډتاریخ ۴۶۵
په دغه اثر کې‌داستفادی مأخذونه ۴۷۸

« دوو لسم »

ACKU

سریزه

ACKU

د نړۍ د ټولو ژبو حقیقي شمېر لا تر اوسه نه دی څرګند ځکه چه له یوې خوا د ژبو او لهجو (دیالیکټونو) ترمنځه قطعي پولې لا تر اوسه نه دي تثبیت شوې او له بلې خوا یوزیات شمېر ژبې (خصوصاً په امریکا او افریقا کښې) لا نه دي څېړل شوې. په اټکلي ډول د نړۍ د ژبو شمېر درې، درې نیم زره ته رسیږي چه د هغو په جمله کښې تقریباً پنځوس ژبې د بشري ټولنې د میلیونو نفوسو د لیک لوست او افادې استفادې ژبې دي چه د هغو په جمله کښې پښتو او دري «فارسي» هم شاملې دي.

د نړۍ ژبې (او دیالیکټونه) یو تر بله د نسبي خپلوۍ له مخې کله په لویو لویو کورنیو ویشل کیږي لکه اینډو اروپایي، سامي، تورکي او نور او کله یې له نورو ژبو سره خپلوي نه لیدله کیږي.

د افغانستان د ژبو اکثریت اینډو آریایي دي. اینډو آریایي ژبې د اینډو اروپایي ژبو یوه څانګه ده چه نورې څانګې یې (سلاویاني، بالتیکي، جرمني، روماني، یوناني، کیلټي، ارمیاني، خیټي، الباني) دي.

اینډو آریایي ژبې پهدريو لويو گروپونو (هندي آريايي (۱)، داردی) ویشل کیږي . دافغانستان زياتې ژبې د (آريايي) گروپه دي . د آريايي ژبو لبه پاره درې تاریخي مرحلې او درې اصطلاحگانې منل شوې دي :

۱ ـ لرغونې ژبې :

دآینډو آریايي ژبو د بيلتون له مرحلې (تقريباً لهدوهزره کاله قبل الميلاد لهپيله دڅلورمې ،دریمې میلادي پوری) . ددغې مرحلې ژبې له اویستا ، زړې پارسي سکيفو سرماتي (دتورې بحيرېپه شمالي لمنو کښې(اتمې قبل الميلاد نه دمیلادی څلورمې پورې) ، ميدي ژبه (چهلږشمير کلمې يې دهيرودوت يوناني مؤرخ پهتاليفاتو کښې ساتل شوي دي) .

۲ ـ منځنۍ ژبې :

دقبل الميلاد دڅلورمې ، دريمې نهدميلادی اتمې ، نهمې پوری ، داژبې له (باختري ، ساکي ،سوغدی ، الاني، خوارزمي ، پارتيانې منځنۍ پارسي) نه عبارت دي (چهپه دغه کتاب کښې څيړل کيږی) .

۳ـ معاصرې ژبې:

لهميلادی اتمې ،نهمې نهترنن ورځې پوری .

زه اصلا هغهژبې دلته څيړم چهپه افغانستان کښې موجودې وی اويا اوس هم نسبتاً زيات شمير ويونکي لري . يولړداسې ژبې هم لږ څه څيړم چهدتاريخي جريان او يادژبو دطبقه بندې له مخې د افغانستان دژبوسره خاصې اړيکې او روابط لري، لکهخوارزمي، اوسيتي،زړهپارسي او نورې .

دلتهزياتې آريايي ژبې ترممکنې اندازی څيړل شوې دي ـ دکومو

---

۱ ـ هندي ژبې هم آريايي ژبې دي خود باختري او پيرسيک ژبو سره دتوپير دپاره په هندي با هند يک یاد يږی .

خیرل چه ما بی ضرور ته ګڼلی او دهغو دبشپړی څیړنی نه تیر شوی یم دلته یې په لنډه ډول وړاندی کوم :

۱ـ یز غلامی ژبه :

(دشوروی پامیر دیزغلام په دره کښی)دپامیری ژبوله څانګی.

۲ـ لوری او بختیاری دیالیکتونه :

دایران په جنوب لویدیځ کښی دکوردی دسیمی په ګاونډیتوب کښی دلوري او بختیاری تو کمونو ژبی دی چه دنفوسو شمیریی لهیوه ملیون څخه تر یوملیون او پنځهسوه زرو تنو پوری رسیږی . دغه دیالیکتو نه لاتر اوسه لیک نه لری .
(دپیر سیک ژبو څخه دي) .

۳ـ تاتی ژبه :

په شوروی ازربایجان کښی او څه یی په داغستان کښی موجوده ده . دوه اساسی دیالیکتونه لری : الف ـ دآزربایجان دتاتانو ژبه . ب : دداغستان دیهودوتاتانو ژبه (پیرسیک ګروپ) .

۴ـ تالیشی ژبه :

په شوروی آزربایجان کښی او څهیی دایران په شمال لویدیځ کښیهم موجود دی . دټولو نفوسو شمیر یی تقریباً (۱۵۰) زرو تنو ته رسیږی (میدیک ګروپ) .

۵ـ غیلانی اومازندرانی دیالیکتونه :

دغه دیالیکتونه سره ییخی څیلوان او دکاسپین دبحیری په جنوبی غاړو کښی پراته دی . ددواړو دو یو نسکو شمیر تقریباً یو ملیون ته رسیږی . غیلانی د (ګالیشی) په نامه یوه وړه بلهلهجه هملری . دغهژبی اوس لیک نهلری خو پخوامازندرانی لیکلیادبیات او لیک درلودل (لهمید یک ګروپ څخه دي) .

٦-دایران مرکزی دیالیکتونه :

چه لیکنه لري او تراوسه ښه څېړل

شوي هم نه دي ، دجغرافیوي موقعیت له امله دایران د مرکزي دیالیکتونو په نامه یادیږي او هغه دادي: نتانزي، خونساري، سیدي، یزدي، نایني، خوري، سیمناني، لاسگیردي ، سورخی ، سنگیساري ، شیمیرزی ، کاروانی او نور (چه غالباً دمید یک له گروپه دي) .

افغانستان
دآریایی ژبوځانګو

دمعاصر افغانستان په‌خاوره کې دننه او دهغه په گاونډیو نژدې سیمو کښې ارکیالوژیکې پلټنې او څیړنې او د هغو نتیجې محققینو ته دا قناعت ورکوی چه افغانستان دلرغونو آریایی قومونو ځانگواو ټاټوبی وبولی .

دافغانستان غرنی جغرافیوی موقعیت دهندوکش دغرنیو لمنو په سمڅو ، غارونو او پناور کوونکو لویو ډبرو او کمرونو کښې د ابتدایی انسان دژوند امکانات ، په‌بلخ ، کره کمر ، از ار سوم او د هندوکش په دواړو خواو کښې دلرغونو استوگنځایونو ډبرینو آلاتو کشف او نور تاریخی شواهد داټول دمؤرخ سره بی طرفانه قضاوت پیداکوی چه‌دمعاصر افغانستان سیمه دلرغونو آریایی‌قبایلو ځانگو او ټاټوبی وبولی .

تاریخی یولړ موثوق اسناد ددی شاهدی ورکوی چه‌د آریایی قبایلولومړی ټاټوبی بلخ اود هندوکش دواړه خواوې دی اوله‌دغه ځایه لو مړی هندی آریایی قبایلو دختیځ او ایرانی آریایی قبایلو ورپسی دلویدیځ خواته مهاجرت وکړ اوله‌دغه ځایه آریایی قبایل په‌څلوروگروپو (ایرانی) (مرکزی یاباختری)، (هندی) او(داردی)

وویشل شول (۱) .

څرنګه چه هندی آریایانو نسبت ایرانی قبایلو ته څوپیړی پخوا (تقریباً دوه زره قبل المیلاد) مهاجرت وکړ اوایرانی قبایل څوپیړی نور هم په باختر کښی پاتی‌شول ځکه‌نو دباختري ژبو خپلوي دهندی ژبو په‌نسبت دایرانی (پیر سیکو - مدیکو) ژبوسره زیاته ده . له‌دغه ځایه دواړه ګرو پونه کله کله د (آریایی) اودرې واړه د (هندو آریایی) په‌نامه هم یادیږی .

ځینی محققین باختری (مرکزی آریایی) اوایرانی (پیرسیک)ژبی د (ایرانی) په‌نامه یادوی.ددوی مطلب له (ایرانی) څخه‌آریایی‌دی نه‌دمعاصر ایران موجوده جغرافیایی‌سیمه.اوس چه‌ایران دیوی خاصې سیاسی جغرافیوی سیمې‌نوم دی ځکه‌نودابه‌یوه‌اشتباه وی چه باختری ژبی دپیرسیکو ژبوسره یوځای د (ایرانی) ژبوپه‌نامه‌یادې‌شی.مثلاً پښتو چه‌د تاریخی او جغوافیوی شرایطو په لحاظ دایرانی او هندی ژبوترمنځه موقعیت لری‌دلغت ، ګرامر اوفونیتیک په‌لحاظ ددواړو ګرو پونو ترمنځه دوصل دکړی حیثیت لری . دهغی یو اړخیز نسبت ایرانی یاهندی‌ته په‌علمی اساس بناء نه‌ښکاری .

ددې موضوع یادونه به‌په لنډ ډول وروسته راشی.

څرنګه چه‌زماد څیړنو مورد یوازې‌دافغانستان‌ژبی‌دي‌نودهندیک ګروپ بحث‌په‌همدغه ځای پریږدم.

په‌آریایی ژبو خورا لرغونی لیکلی مواد که‌څه‌هم‌دایران‌په لویدیځو غرنیو ولایتونو کښی (په‌زړه‌پارسی)لاس‌ته راغلی دي‌خودمحققینو په عقیده داسیمه هیڅکله دآریایی قبایلو لومړنی‌ټاټوبی نــه شی ګڼل کیدای.

---

۱ - ددادردی قبایلو بحث په‌خپل ځای کښې راځی .

دلرغونو ژبو په باب تاریخی اسناد ددې شاهد دي چه دمیلاد نه درې او دوه زره کاله پخوا دایران په دغو لویدیځو سیمو کښې داسې قبایل اوسېدل چه دهغوی ژبې نه یوازې داچه له آریایی بلکې د اینډویورو پې ژبو له لړی څخه نه وې . دغه قبایل له (ایلامیتو، دکاروان او کرخی په وادیګانو کښې چه نن دخوزستان په نامه یادیږي)،(کاسیتو یابلی (کاشو) او لولوبی) (۱) قبایلو څخه عبارت وو . یوازې د قبل المیلاد زرو کلونو په شروع کښې دغو سیمو ته دآریایی قبایلو د مهاجرت او هلته دمیشته کیدلو نخښې لیدل کیږي.

له دغه وخته وروسته دایران په شمال لویدیځ کښې دمید ي قبایلو لوی دولت جوړ شو چه د(مید یا) په نامه په تاریخ کښې یادیږي او مرکزیې ننني همدان ؤ.تقریباً همدغه وخت د قبل المیلاد د نهمی پیړۍ په نیمایی کښې د پارسیانو په باب شواهد په تاریخ کښې لیدل کیږي چه د فارس تر خلیجه ورسیدل او په دغه خلیج یې خپل نوم کیښود(۲).

دآریایی قبایلو بل ګروپ (ساك) په قبل المیلادزرو کلونو کښې د توري بحیرې له ساحلونو څخه دچین تر سرحدونو خپور شو.

هغه آریایی قبایل چه په خپل اصلی تاټوبی کښې پاتې او (مرکزي آریایی)یا(باختري) ګروپ تشکیلوي:

باختریان : داموپاسنې او منځنی برخه د باختر په ولایت کښې .

پارتیان: د(کسپین د بحیرې په جنوب ختیځ کې دخراسان په شمال او دمنځنی اسیا په جنوب لویدیځ کښې د(پارثاو)په ولایت کښې .

آریا) : داریرود په غاړه په(هرایوه) ولایت کښې .

سوغدیان:دزرافشان دسیند په جریان او په ورخیرمه سیمو کښې د (سوغدا) په ولایت کښې.

1— Elamit—s, Kassit-s (kash shu), lullubi-s.

۲ـ (ایرانی ژبی) ۳۳ـ۳۴ مخونه.

ACKU

خوارزمیان: دامو په لاندنی جریان کښې د(خوارزم)پولایت کښې اودسا کودقبیلې یوه برخه.

جرمنی نامتو ژبپوه او محقق اگوستین شایخر عقیده لري چه معاصر افغانستان اوهغه ته ورخیرمه سیمه نه یوازې دآریایی قبایلو او ژبو بلکې داینډو یوروپی قبایلواوژبو ځانګواولومړۍټاټوبی دی. دادي ددغه محقق دلیکنې دیوې برخې لنډ مطلب:

«... هغه اینډو یوروپی اولسونه چه څومره ختیځ ته نژدې او یا په بیدو ختیځ کښې دي هماغومره یې ژبه لرغونې ده اولرغونی صفات ډیرلري او څومره چه لویدیځ ته نژدې او یا بیدو په لویدیځ کښې دي هماغومره یې ژبه لرغونی خواص لږلري .سلاویانی او جرمنی قبایلو د لویدیځ خواته تر ټولو لومړی او بیا ورپسې یونانی، ایټالوی- کلتی قبایلو مهاجرت وکړ.

پخپل ټاټوبی کښې له پاتې شویو آریایانو څخه هندی قبایلو جنوب ختیځ ته مهاجرت وکړ او ایرانی قبایل د جنوب لویدیځ خواته خپاره شول. او په دې ډول داینډو یوروپی قبایلو ټاټوبی د مرکزي آسیا د غرونو لړۍ دي».

نوموړی محقق لیکی: «هندي قبایلو نسبتاً وروسته په مهاجرت لاس پورې کړ.دوی له خپل نوي ټاټوبی څخه هغه ولسونه وشړل چه له اینډو یوروپی توکم څخه نه وو او دهغوی له ژبو یې څه خصوصیات په خپلو ژبو کښې واخیستل» (۱)

ددغه جرمنی نامتو ژبپوه له لیکنې په څرګند ډول معلومیږي چه دده په عقیده داینډو یوروپی قبایلو لومړی ټاټوبی معاصر افغانستان او هغه ته ورخیرمه سیمه ده.

۱-(دنولسمې او شلمې پیړۍ دژبپوهنې تاریخ) لومړی ټوك ، مسکو ۱۹٦۴ کال ۱۰۸-۱۰۹ مخونه .

ACKU

آریایی ژبی :

کله چه دآریایی ژبو نوم اخیستل کیږي په هغو سره مطلب کله هندوآریایی (پیرسیک ـ لوید یځی باختري ـ مرکزي او هندي ـ ختیځی) ژبی وي. او کله کله ورنه مطلب یوازې باختري او پرسیک ژبی وي چه په عنعنوی ډول د (ایرانی ژبو) په نامه هم یادیږي. (ایرانی ژبی) دغو گروپونوته ویل یوازې یوه اصطلاح ده چه په علمی دلیل برابره نه ده.

یعنی که پیرسیکو ژبوته (ایرانی) وویل شی، مجازلري اما باختري هیڅکله ایران ته نه شی منسوبیدلای. ځکه نو دغه ډله ژبی زه د (آریایی) په نامه یادوم. او ددربو اړو گروپو مجموع (هندوآریایی) بولم.

آریایی سرې ژبی دادي :

اویستا :

(دلرغونی بلخ او دزردشتی دین دمقدسو کتابونو دلیک ژبه)

منځنی پارسی :

(دساسانی دولت رسمی او دولتی ژبه).

سوغدی :

(د زرافشان د درې دلرغونو او سیدونکو ژبه) خوارزمی (دلرغونی خوارزم، دامودلاندینی برخی ژبه).

باختری:

(دلرغونی باخترژبه چه په یونانی الفبایی کتیبی موندل شوی دي).

ساکی :

دلرغونو ساکو ژبه (چه کتیبی یی په تورفان کښی موندل شوي) داتوالی هغه ژبی دي چه یولړ کتیبی یی دنړی دعلمی تولنو په لاس کښی موجودې دي.

تاریخ دیولړ نورو ژبو دموجودیت شواهد هم په لاس کښی لري :

میدی ژبه :

(دلرغونو میدي قبایلو ژبه چه په اتمه قبل المیلاد پیړی کښی یی یوځانگړی دولت دایران په شمال غرب (همدان) کښی جوړ کړي ؤ).

سکیثی ژبه : (دهغو جگړه ماروکوچیانو ژبه چه د توري بحیرې او ازوف بحیرې ترمنځه سیمه کښې دچین ترسرحد و نویی مهاجر تونه کول).

پارتیانی : (دلرغونی (پارثیا) ژبه (چه دار شکانو په دورو (۳-قبل المیلاد -۳-میلادی): کیدتولی پارتیا د شاهی قلمرو (هم په ایران او هم په منځنی اسیا کښې)دولتی ژبه شوه.(۱)

تاریخی شواهد او مقایسوي ژېپوهنه ثابتوي چه آریا یی ژبی او لهجی سره دخپلوی ارغونی رابطه لري او دیوې ستې(آریایی) بیلی بیلی څانگی دي . مقایسوي ژبپوهنه دغه خپلوي هم دلغت او هم دگرامراو هم دفونیتیک په ساحه کښې ښیی.هماغه گډ ژبنی خواص چه دغه ټولی یا دې شوې ژبی یې لری ژبپوهانو ته اجازه ور کوي چه داټولی یادې شوې ژبی دیوې ستې ښاخونه و بولی -دغه ستې ته اصطلاحاً(آریا یی ژبه) نومیږي چه دهغی تاریخ ډیرلرغونی کښل کیږي اوددوه زره قبل المیلاد ترمخه و او لیکل شوې موادترې پاتی نه دي.دغی(مور) ژبی نه لومړی نورې ژبی دلهجو او دیالیکتونو په ډول وزیږیدې اودوخت په تیر یدو و هر دیالیکت دڅانگړې ژبی په حیث منځ ته راغی . دغه په څانگوویش او انشعاب متوازي حیثیت نه لري . ډیرې ژبی له منځه لاړی دځینوو یونکی ډیرزیات اودځینو بیخی لږدی ځینی څنگه او څنګه دي .

دتاریخی ،اجتماعی،جغرافیوی شرایطوسره سم دټولوآریا یی ژبو انکشاف یوشان او یوه اندازه نه ؤ.همدارنگه په خپلو کښې دژبو ترمنځه دخپلوی نسبت هم ډول ډول ؤ.

ځینی ژبی له نورو بیخی لری شوی دی. ځینی نوروته له یوه یا بله اړخه نژدې پاتی شوی. ددغو ژبوترمنځه لږیا ډیرلریوالی چه په ابتدأ

۱-پورته مطالب: ایرانی ژبی ۳۴،۳۵مخونه .

کښې یې د یالیکت حیثیت لاره، څومره چه ژبې دتاریخی تکامل او څانګړیتوب خواته پرمخ تللې هماغومره زیاتیده او نن داسې مرحلې ته رسیدلې چه دیوې ژبې ویونکې مثلاً داو سیتې ژبې ویونکې په بلوچې نه پوهیږی او بالعکس . ځینوتاریخی او اجتماعی شرایطو دژبولغوي پانګه هم له نورو خواو بشپړه کړه چه دیولړژبوترمنځه یې بیلتون لازیات کړ .

مثلاً پښتو ، فارسی، کوردی او ځینې نوری داسلام د راتګ او دعربی ژبې دسیادت سره پهعربی لغاتوداسې بلهای شوی چه خپلزیاتنګه او بومی لغات یې له استعماله وغورځول او بالاخره مړه شول. بالعکس په اوسیتې کښې دعربی کلمواندازه دګوتوپه شمارده او داځکه چه د پښتو،فارسی او کوردی ویونکی سیمی اوبړ دهوختونه دعربو د مستقیم تسلط لاندې وې. اماپه قفقاز کښې داوسیتینیانوسیمه دعربودنفوذ نه په څنګ وه .

یو بل لوی عامل چه دغهژبې یې یوتربله سرهلرې کړې دي هغهدژبو غیر مساوی پراختیاده، پهدې معنا چه یولړژبوخپل لرغونی خصوصیات پهزیاته اندازهساتلیدي او بللړ ژبوهغهپه زیاتهاندازه لهلاسهور کړیدی .

مثلاً پارسیژبیدعربودفتوحاتو (او ومه عیسوی پیړۍ) تروخته لرغونی اسمی خصوصیات(اوښتنی) جنسیت(مذکراو مؤنث) او ګرامری حالت (فاعلیاو مفعولی) دضمیر تصریفتقریباً بشپړله لاسهور کړیوو. اما بالعکس پښتو ژبیدغه ټول لرغونی خصوصیاتپهزیاتهاندازه لاتر اوسه پهخپل ځان کښیژوندي ساتلی دي (۱) .

یو بل عامل چهآریایی ژبې یې یو تربله سره لالرې کړې دي هغه دژبوتر منځه جغرافیوي موقعیت او دنورو سره او ړدهتماسونهدي .

۱ـ دزیاتتفصیل دپاره پهدی باب(ایرانی ژبی) ۱۸-۱۹ مخوته مراجعه وکړیء .

دژبو دانکشاف تاریخ ددې شاهد دی چه هره یوه ژبه دخپلې ګاونډۍ ژبی نه یوه زیاته اندازه ژبنی مواد اخلی او ځان پرې بډای کوی او یوه زیاته اندازه مواد ور کوي او لږ تر لږه خپل هغه ژبنی مواد خوندي ساتی چه په ګاونډۍ ژبه کښې ژوندي وی. په آریایی ژبو کښې د دی موضوع ډیر ښه مثال پښتو ژبه ده چه د هندیک او پرسیک ګروپونو تر منځه دوصل د کړۍ حیثیت لری، دوا ړو خواوته یی خپل زیات شمیر لغات هم ور کړی او هم یی تری اخیستی دی.

آریایی ژبی د تاریخ له مخی :

دآریایی ژبوویش دتاریخ دزده کړې له پلوه له هغی مرحلې شروع کیږی چه هندو آریایی ټولنی سره بیلیږی. د میلاد نه تقریباً دوه زره کاله پخوا آریایان (باختریان او پارسیان) د هندو آریایی ټولنی نه جدا کیږی او په ځانګړو پراختیاو پیل کوي.

تاریخ دآریایی ژبو دانکشاف دوره په درې مرحلوویشی :

۱ـ دلرغونو آریایی ژبوعصر :(دهندی ژبونه د بیلید لو څخه نیولی دقبل المیلاد څلورمی اودریمی پیړی پوری).

دزړی پارسی او اویستا لږ څه مواد ددغی مرحلی له وروستیو پیړیونه پاتې دی.

۲ ـ منځنی آریایی ژبی: (دقبل المیلاد څلورمې ـ دریمې پیړۍ نه نیولی دمیلادی اتمی، نهمی پیړی پوری). داوخت دمنځنۍ پارسی، سوغدی پارتیانی، منځنی پښتو (باختري) او نورو کتیبی موجودی دي چه زیاته برخه یې ددغی مرحلی وروستیو پیړیوته منسوبیږی.

۳ـ داتمی، نهمی میلادی نه تر موجوده مرحلی پوری چه ژبو ته یی تر منځه اشاره و شوه. دآریائی ژبوتر منځه بیلتون لا هماغه وخت زیږید لی ؤ چه آریایی قبایل په خپل ټاټوبی کښې او سیدل او مهاجرت یی لانه و کړی.

د دغو قبایلو تر منځه د اقتصادي، کلتوري او سیاسي روابطو سستوالی ددې عامل شو چه دوی یوه ژبه و نه ساتلی شي او په بیلو بیلو دیالیکتونو (لهجو) او بالاخره په بیلو بیلو ژبو خبري و کړي. له بله پلوه دغه قبایل د تاریخي او کلتوري شرایطو، دعشیروي او ژبني چاپیریال په لحاظ هم سره بیل بیل وو .

ځکه نو دغه ټول د دی عامل شول چه آریایي ژبي په خاصو ګروپونو وویشل شي .

پارسي، میدي او هغه آریایي قبایل چه د نن نه تقریباً دری زره کاله پخوا د ایران لوید یځو غرنیو سیمو ته و کوچیدل له دغه وخته د پیرسیکو او باختري ژبو قبایلو بشپړ بیلتون منځ ته راغی چه د ژبو کامل بیلتون هم ور با ندې بنأ دی . د دوی او هغوی تر منځه لوی سیرې اووچ ډاګونه واقع شول چه تیریدل ورنه ډیر ګران وو . د دغه واټن په تاریخي پولو کښي د (دشت لوت) او (دشت کویر) نومونه د یادونی وړدي .

د جنوبي اروپا سکیفیان (یا سکیتیان) هم دغه شان له خپلو (هیوادوالو) جلا شول . د دغو آریا یي قبایلو د ژوند شرایط نور په ډول ډول وو چه د ژبو مقدرات هم پرې بناوو چه د لته وړاندې کیږي .

د آریایي ژبو څانګې :

معاصره ژبپوهنه د تاریخي مقایسوي ژبپوهنی په حکم آریایي مړې او ژوندی ژبې او دیالیکتونه په دوولو یولویو څانګو ویشي چه هره یوه یې بیا دوه دوه ښاخونه لري :

لومړی باختري ـ الف جنوبي : باختري، ساکي، پښتو، اورمړی، پراچي (۱) او پامیری ژبي .

۱ـ اورمړی او پراچي یو لړ محققینو په (میدیک) ګروپ کښی شامل بللی دی وروسته یې بحث راځی .

ب: باختری شمالی: سوغدی، یګنوبی خوارزمی، الیانی او سیتی .
دوم : الف : ایرانی جنوبی: زړه پارسی، منځنی پارسی، نوې پارسی، تاتی، لوری ، بختیاری ، کومزاری ...
ب: شمالی: (میدی) کوردی (د کوران ، زازا او نورو لهجو په شمول) بلوچی، تالیشی، غیلیانی (دمازندرانی لهجوپه شمول) دایران مرکزی دیا لیکتونه او جزءاً دفارس دایالت دیالیکتونه .دغه گروپ ته (میدیک) هم وایی .

داویستاد لرغونو متونو تجزیه او تحلیل ښئی چه باید په باختری گروپ کښې و نیول شی .وروستنی متنونه یې چه دساسانی دورې پورې مربوط دی له دغه گرو په څخه لری ښکاری .

میدیک (شمالی گروپ) داسی ژبې خصوصیات لري چه له یوې خوا جنوبی پرسیک ژبو ته هغه نژدې کوي خوله بلې خوادباختري ژبوسره یو لړ گڼ خصوصیات اري چه باختري گروپ ته نژدی کیږي .
لکه چه ترمخه ورته اشاره وشوه دپیرسیکو او باختري ژبودو یونکوترمنځه

ډول ډول لریوالی موجود و، اولویې دښتی یې ترمنځه واقع وې ځکه نود ژبې مقایسې په پهلحاظ دواړه گرو پهسره بیل او دلغت ، گرامر او فونیتیک پهلحاظ سره نه شی یوځای کیدلی.

دادي یولړ لغوی مواد چه باختري ژبې دپیرسیکو په مقابل کښې دیوه گروپ په حیث سره یوځای کوي.

لومړی دلغت په ساحه کښې:

پښتو :(اغوندل ،اغوستل) مونجانی(اغوند-اغوست) ، اشکاشمی (اغود-اغوست) ، یازغولامی(نوغوند- no ghwand نو اغوست) ، او سیتی (اغوند، اغوست) پراچی (اغوند ، اغوست) اورمړي (پرغون) سوغدي (غوند ، غوست) یگنوبی (نیغوند)، خوارزمی (انغوند)

ACKU

پارتیانی (نغوند ـ n—gwand)، ساکی(همغون همغوست) (۱)
ددې کلمې لرغونې(ریښه (gud) پټول ، اغوستل)ښوول شوې ده .
په سانسکریت کښې دا کلمه د (—gudhyati) پټول ، پناورکول ـ gudheraa پټوونکی پناورکوونکی) (۲) ده .

پښتو : (له: ـلکه له کوره ،تر....) اشکاشمی (له) منجانی(له) ایتمولوژیک قاموسونه دلته د (ل) غږ د (د) دغږ او ښتی بڼه ګڼي او لرغونې آریایی ریښه یې(هده ـ hada) ګڼي چه په دې ترتیب د پښتو (دـلکه د کورونه تر....) دتور فانی، پهلوی او اوستی (ادـ ad سوغدي (دونـ dwn اویستاـهده)زړه پارسی (هدا ـ hadaa) زړه هندی (سدهه ،سهه)له یوې ریښې دي (۳).

پښتو : (پېـماسته)سریکولی (پې، پود —pay pud) ، شوغنانی (پیهـپود piy—pud)سنګلیچی(پوـ pu)، ایدګا(پیوـ (pio) یازګولیامی (پیوـ piw)دا کلمه په اویستا اوزړه هندی کښې د پوـ (pu) په بڼه موجوده ده او د (خوسا) معناورکوي چه په پامیري ژبو کښې همدغه معنا افاده کوي او د(پیو) لازمی صفت دی . د(پنیر) کلمه هم له دغې ریښې ښکاري .

پښتو : (وړ،وړ یا)واخانی یور (یور —ywar وړ،غوره)خوارزمی (ywur) انتخابول،غوره کول)سوغدي(یور (ywar) ، بېلول) بیلول پارتیانی (WWR) اویستا(ورـ (Var) ـغوره)اوزړه هندي(ورـغوره،

۱ـ داوسیتی ژبی تاریخی ایتمولوژیک قاموس ۳۸ـ۳۹ مخونه.
۲ـ په اوسیتی ژبه یادونه مؤلف فرانسوي ختیځ پېژندونکی بینو ینیپیست ۹۳ مخ .
۳ـداوسیتی تاریخی ایتمولوژیک قاموس ، ۲۱۰ مخ .

منتخب) (۱).

پښتو: (وژل-دحیوان ،اور)سریکولی (وزیو —wazew))داور رنبا - سړه کول شوغنانی (ویزیو - wiztw وژل) مونجانی (وزوو- uzow وژل - اور)یـازگولیا می(اوزیـو- wziw وژل داوررنـا) سا کی (بویسو - bu—yasu— سحوه کول و ژل).

پښتو: (شین) اورسړي(شین) یازگولیا می(شین) اید گا(اخشین) اوسیتی(اخسین) کوردي (شین)سا کی(اښښینه)سوغد ي (اخشین) اویستا(اخشینه - axshena).

پښتو:(و ابښ،و ابښی، سرو ابښی-تښی) شوغنانی(و ابښ،و ابښی) سنگلیچی (ووبښ -و ابښی)پراچي (باش-و ابښی) ،اورسړي (بیش،و ابښی) اوسیتی (بوس-اوښی).په تورکی ژبو کښی همد (بوش bosh) په بڼه د(تښی) او(و ابښی) په معنا کلمه لیدل کیږی.

پښتو: (تووږل) شوغنانی(تیش) مونجانی (تیژ) یگنوبی(تش-توش) سوغدي(تش-تشول) یازگولیا می(تبښت)و اخانی (تش)مو نجا نی (تشر- لښول،تووږل) اویستا (تش-غوښول) زړه هندي (تکش -غو ښول) . دپښتو(تښول) او(تښتې همدارنگه دپارسی تیشه)هم له دغی ریښی ښکاري.

دا کلمه په اینلو یوروپی نوروژبو کښی هم ثابته ریښه لري خود مطلب دنه او ږدولو په غرض ورنه تیریږم.

پښتو: (پوول -دمیږو، اوزو ،غواو اونورو څرول) و اخانی (پوي)اراشوري(پوي)اورسړي (پوي) سو غـدي (پی —pay). دا کلمه په سا کی کښی(پاـ پای pa—pai -سا تل خوندي کول)، په اویستا کښی(پای-سا تلو-خوندي کولو)، په زړه هندی کښی(پای)د ساتلوخوندي

۱-همدغه قاموس ، ۲۲۰ مخ.

۲-داوسیتی تاریخی -ایتما لوژیک قاموس، ۲۲۰ مخ.

کولو معنا ور کوي (۱) .

پښتو: (او سپنه) شوغنا نی (سپپن ـ (sepin)) اشکا شمی (سپون ـ spun) سنگلیچی سپون ـ Bazon) سریکوای (سپین ـ spin) مونجا نی (یوسپن) یاز گولیا سی (سپون)خوارزمی (ایسپا نی) سوغدي (اسپن) او سیتی (افسن) اویستا (سفنه ـ safna)(۲) .

پښتو: (ویسل ـ وړل) مونجا نی ـ ییس ـ yis ـ ویسل) ایدگا (ایسن) روشا نی (یوش) شوغنانی (یاس ـ yas)همدارنگه (یوس ـ yos) یا زگولیا سی (یس ـ yas) سریکوای (یوس ـ yus) اشکا شمی (ووش ـ wus) . داټول د (ویسل وړل) په معنا . دا کلمه په او یستا کښی (یا س ـ yas ـ رسول) سوغدي اوخوارزمی (اس ـ as ـ نیول) په معنا دي (۳) .

پښتو: کب (ما هی) ایدگا (کمپ) مونجا نی (کمپ) واخانی (کوپ) سوغدي (کپ) سا کی (کوه ـ kawa)سکیثی (کپه ـ kapa) او سیتی (کف ـ kaf) (۴) .

پښتو: (کندي ـ نا حیه ، د قربی برخه) سوغدي (کند ـ کندي)سا کی (کنته کندي kantha) یگنو بی (کنت ـ kent ، ښار) او سیتی (کنت ـ کلا) . دډیروښار و نوارغو نومونو(کندهار ، کندوز ، کندیس روهیل کنډ ، سمرکند او نورو) نو مونونه هم ددغی کلمی سره ربط لری .

۱ـ داو سیتی تاریخی ـ ایتمالوژیک قاموس ، ۲٦۸ مخ
۲ـ » » » » » ۳۳٦ »
۳ـ » » » » » ۳۳۲ »
۴ـ » » » » » ۳۸۱ »

پښتو:(کوم-لکه کوم سړی، کوم یو)سا کی (کا مه) اید گا (کیوم- kyum) څوك. اشکا شمی (کوم) زازانی (کم ـ کوم) یگنو بی (کو م ـ kum).

پښتو:(کراسته-لمڅی ،دلمڅی یا څرمنی زړه‌توته) واخانی(کراست پوستین) اشکا شمی (کر و ست) سنگلیچی (کو ر و ست ـ korost پوستکی څرمن) مونجانی (کراست-څرمن پوستکی)اید گا کراست ـ پوستکی څرمن(۱).

پښتو: (کشر) سا کی (کستر ه ـ kastara) سوغدی کشتر- kashtar) او یستا (کسو- kasu)وړوکی.(۲).

پښتو:(کسل، کسی -(دسترگو)سنگلیچی(کس- kas) یازگولیامی (کس- kas)د(کتلو ، کسلو)په معنا. سوغدي (کس ـ kas -څارنه) خوارزمی(شکش ـ shkash ـ کتل، کسل)اویستا (کس،اکسل، کتل) زړه هندی (کش-څلیدل، کتل.)

پښتو: چا(څوك)په‌دویم حالت کښې سریکولی (چوی) شوغنانی (چای-چا)روشانی (چای).

پښتو:(سکور ،سکروټه)سوغدی(سقور -سکور) اویستا (سکرنه- sakarana)(اورلږونی، داوردوړلواله)

پښتو:(منه)یازگولیامی (مون- mown)شوغنانی مون- (mown) روشانی (ماون mawn-) سنگلیچی (مین) اشکا شمی (مېند) مونجانی (امینگا) ،پراچی (مون) .

پښتو: (غلبیل)شوغنانی(غلبیل)سنگلیچی (غلبیل) واخانی(غلبیل) اشکا شمی (غلبیل) مونجانی(غلبیل).ریښه یی‌سوچه پښتو(غله بیل) په نظر راځی.

۱- داوسیتی تاریخی ... قاموس ۵۸۲ مخ .
۲- « « « ۵۸۹ مخ .

پښتو:(سیا شت-سیا ست) شوغنا نی (سیست) با ز ګولیا می (ما ست) رو شا نی (سیست) بار تنګی ا و سر یکولی (مو ست - most).

پښتو(غوجل)شوغنا نی:(غیچید) یاز ګو لیا سی (غه ګود) .

پښتو:(غر،غر کی،د بره) شوغنا نی(غر-د بره) یاز ګولیا می (ژ یر-د بره) و اخا نی (غر) سا کی (غر ی - ggari) ا و یستا (ګیر ي - gairi) اور سړي (ګر ي) .

دا کلمه پهاینډ و یورو پی ژ بو کښی د(غ ،ګ) او (ر)دغږ و نو په اصا ات ریښه لري .

پښتو:(ښوول)یاز ګولیا می(اښوو-اښود- ښوول) او یستا (شیو - کر دا ر ، عمل) .

پښتو:(زر که) شوغنا نی(زریخ)رو شا نی(زریخ) سریکولی(زریخ) و اخا نی(چهکر)مونجا نی (ږور ږا)اوسیتی (زر zar- سندره ویل) .

پښتو:(رودل)شوغنا نی (ریو د reud) رو شا نی (ریود) با ر تنګی (ریود- rivd) سریکولی (ریو د).

پښتو:(و اښه)شوغنا نی (ووښ)په(مجهول و او) رو شا نی (ووښ) بار تنګی (ووښ) سریکولی (ووښ په خرګند واو) .

پښتو: تور(رنګ) بار تنګی(تور - tor) سریکولی (تور) رو شا نی (تیر-تور)شوغنا نی (تیر-تور) .

پښتو:(سپږه- مخصوص خز نده) شو غنا نی (سپیږ) او یستا (سپیش) با ر تنګی (سیپو sipaw) .

پښتو:(شوټ،شل) با ر تنګی(شوت-ګوډ) شوغنا نی (شت) .

پښتو:(غوږ)شوغنا نی(غوږ)رو شا نی (غوو) با ر تنګی(غو) سریکولی (غیو) یګنو بی (غو ش) سوغدی (غوش) او سیتی(غو س).

پښتو:(میږ-میږه) شوغنانی (میږ)ر وشانی (میو- mew) بارتنگی زماو - Maw) اویستا ما یشی (maeshi) .

پښتو:(پرخه-شبنم) شوغنانی (پیربش) روشانی (پیربش) بارتنگی (پیربش) اویستا (پرشویه - parshuya) .

پښتو:(زړه-قلب) بارتنگی(زورد- پهپټ واو) سریکولی (زورد) شوغنانی (زورد) یازگولیا می (زارد) روښانی او خوفی(زورد) اویستا (zarada) . سید یـک ژ بیهم دغه ریښه په (ز-د) لری .

پښتو:(اوږد) شوغنانی (ووږد) روشانی (ووز - vuz) بارتنگی (ووز- vuz).

پښتو:(پیژندل) یگنوبی(بیزونته- Bezonta) سوغدی (پیزن) او سیتی (بزون- Bazon) یا زگولیامی (وزن- ویزنت) روښانی(وزون) ساکی (پیسن- paysan) سید یک ژبی هم دغه ریښه په (ز- ن) لری .

ددی کلمی ریښه (زن - zan) ښودل شوی ده چه په اوبستا او سوغدی کښی په همدغه بڼه او معنا موجوده ده ، دا یوه له هغو تیپیکو کلمو څخه ده چه د باختری ژبو د (ز) دغږ په مقابل کښی یی جنوبی پیرسیک ژبی د (د) غږلری . لکه د (دان، دانش) .

پښتو:(وړی، لوږه) یگنوبی(وژ-دیوز- wazh-dewaz وړی ، لوږه) سوغدی(دیزه-لوږه) پارتیانی (دیزه- لوږه) ساکی(دیبیشه) .

پښتو: (لویدل) یگنوبی(دیویته- dewita) شوغنانی(دی- di) روشانی(دای- day) سریکولی(دیی- day)ددی کلمی ارغونی آریایی ریښه(دویه dwaya لویدل)ښودل شوې ده .

پښتو:(ایشیدل) یگنوبی(ایشته- eshta)سوغدی(یش- ysh) اویستا (یایش - yaesh). داله هغو تیپیکو کلمو څخه ده چه د باختری ژبو د(ی) دغږ په مقابل کښی پیرسیک ژبی د(ج)غږلری ، لکه :(یاله-جوی، ایشیدل جوشیدن)

ACKU

پښتو: (غندل)، سوغدی (غندك، غنتك ـ ناوړه) سریکولی (غوند ـ ناوړه) د فارسي ژبو د (ګنده) او باختري ژبو (غند) ریښه یوه ده.

پښتو: (خبري) یازګولیامي (خریك) شوغناني (خیذ) سوغدی (غریك) یګنوبي (غیریو ـ دوړه، او ګرد).

پښتو: (ګورل) لکه زه ګورم، یګنوبي (غور) سوغدي (غور، اغوز) او سیتي (اګورون ـ لټول).

پښتو: (هو!) یګنوبي (هو! هون!) خوارزمي (هه).

پښتو: (اینځه) سوغدی (اینچ ـ ښځه) یګنوبي (اینچ ـ ښځه) پراچي (جینج ـ ښځه) پښتو (کوټه) یګنوبي (کت ـ kat، کوټه، کور) سوغدی (کت، کتك ـ کور) او یستا (کته) ـ kata کور) پارتیاني (کود) یازګولیامي (کود) د پښتو (ګوده او ګوډی) هم له دغې ریښې ښکاري.

پښتو: (لونډ) یګنوبي (لوند = لټ، بیکاره) شوغناني (لوند = لټ تنبل).

پښتو: (مینه ـ ودانی) یګنوبي (میین ـ meyn مینه) په اویستا کښې (میشنه) ده.

پښتو: (ناست) سوغدي (نیست ـ nyst) یازګولیامي (نوست ـ nust) مونجاني (نیوست ـ nyest).

پښتو: (نیغ) سوغدي (نیغ ـ nygh) همدارنګه (نغی) یګنوبي (نیغ).

پښتو: (پل، پلی) ایدګا (پول ـ pol پل) او یستا (پذه) سوغدي (پذك) او سیتي (غد) یګنوبي (پذ). د آریایي ژبو د (د) د غږ په مقابل کښې د پښتو د (ل) غږ تپیکه مقابله ده چه د باختري په مقابل کښې (د) لري.

پښتو: (پر ـ پر میز) یګنوبي (پر) سوغدي (پر) خوارزمي (پر) روشاني (پر) بارتنګی (پر).

د دغې خدمتي کلمې لرغونې آریایي ریښه (او پري ـ upari ـ پر) ښوول شوې ده.

پښتو: (پیرودل) سوغدي (پرید) یګنوبي (پیرون ـ peron) واخاني (پورون).

پښتو:(ريبځ ـ جارو) يگنوبی(رو بچ)و اخانی(در يپيچ). مارگينستري ددې کلمې اصل (راو پاچی ـ raupachi) ښو دلی‌ده .

پښتو:(ستوري)يگنو بی (سيتو ره) سو غد ي (ستري) سا کی (ستري ـ staray) ا شکا شمی (سترو ك ـ struk) مـو نجا نـی (ستوري ـ storay) اورمړي ستژي .

پښتو:(و ند)د(و ندر، غړو ندي اوو ندي)يه کلمو کښې.
يگنوبی (و نت ـ vand)یازگولیا می (و ند) رو شا نی (و يند vind)و اخانی (و ند).

پښتو:(ورخ ـ د پټی)يگنوبی (و غ)پارتيانی(پند ـ ور گم ـ بند ورځ) دا کلمه په‌اوسيتی کښی‌د(ارخ ـ arx)او په ارميا نی کښی‌د (ارق) په بڼه موجود ده. دهغی ريښه په‌تور کی ـ مغولی ژبو کښی هم ښوول شوې‌ده. تور کی(ارخ ـ ارق) کانالو يا اله ، مغولی ـ (ارك ـ ark کاريز)(۱) .

پښتو: (برايی ـ تيره شپه)يگنوبی (و برای ـ viBray) سو غدي (بيـري ـ Byryy)خـوار زمـی (بيري ـ Biyari) شو غنا نـی بيـور ـ Biyor ـ پرون) پراچی (و يار ـ wyar).

پښتو:(شوده ـ شيده) سا کی (شويده shida) يا ز گو ليا می (شوود ـ shoud)شوغنا نی (شود) سريکولی(شيود) ايد گا(خوشود خـوړ) اويستا (خشو بيپـته xchipta)شـو د ه . يگنو بی(خشيفت ـ xshift ـ شوده)سوغد ي (خشبت ـ شوده).
اورمړي لوگری(ښيپی ـ)، کانيگرامی(شيپی)

پښتو: (و ينه ـ خون) مو نجانی (اينه ـ yina) او يستا (و هونی ـ vahuni).شوغنانی(و يخين ـ vixin)پراچی(هين ـ nin)اورمړي(ښو ن)

۱ـ داوسيتی تاريخی ايتمولوژيک‌قاموس، ۱۷۵ مخ د(ارخ) کلمه.

پښتو:(داسی)روشانی (داس): (لکه داس مک =داسی مه کوه) شوغنانی (دیس) .

پښتو:(ښه)روشانی (شی- Shay) دوی ، په ښوکالیو کښی پټ) خوفی پاسنی کلمه په پاسنی معنا لکه په دې جمله کښی(سی وخت خلق فوکاد شی سوج -زمونږ دوخت خلک ښه کالی اغوندي).

پښتو: تا-د(ته)دویم حالت)روشانی(تا-د(تو) دویم حالت خوفی(تاو).

پښتو:(تر-تر کوره)روشانی او خوفی (تر- tar)لکه دروشانی په دې جمله کښی (مش وای تر بازار یوسم -مونږ به هغه تر بازاره یوسو).

پښتو:(څه رنګ)شوغنانی(څه رنګ) روشانی اوخوفی (څه رنګ) اورسړي (څه رنګ).

پښتو:(جوړه-جفت)شوغنانی (جور-جوړه) سنګلیچی (جو ري) مونجانی (جوار) .

پښتو : (جوړ - روغ) دشوغنانی (جور) (جورات یاست -جوړ یاست) اور سړي (جوړ) .

پښتو:(کوږ) شوغنانی(کږ) سنګلیچی (کږ) ا شکا شمی (کـژ) مونجانی (کوږا) .

پښتو: (جوړ - روغ) شوغنانی (جور)لکه (جورات یاست = جوړ یاست) اورمړی (جوړ)

پښتو: (سوټی) شوغنانی (موت mut) سنګلیچی (موت) اشکاشمی (موت)دا کلمه په سانسکریت کښی (موټس- mutas) (ګنډه ، غوټه) ده.

او په دې صورت په سل کونو داسی لغات موندلای شو چه باختري ژبی دیوه ځانګړي ګروپ په حیث تشکیلوي ، چه دلته یی لږ څه مثالونه وړاندې شول مګرپه پرسیک ګروپ کښې کلا یا جزءاً نورې کلمې لری.

دفونیتیک په ساحه کښی:

دفونیتیک په ساحه کښی هم باختري ژبی دپیرسیک ګروپ په مقابل کښی یوه ځانګړې دله ده چه څو ګڼه مهم خصوصیات یی دلته وړاندې کیږي.

PROPERTY OF ACKU 4632

د باختري او پیر سیکو ژ بوتر منځه د فونیتیک په ساحه کښی یو مشهور توپیر دادی چه د پیرسیکو ژ بو د لغاتو په سر کښی د (ب ،د ،گ ، ه) غږو نو په مقابل کښی په باختري کښی د (و ، ذ ،ل ، غ ،ا) موجود دي:

باختری ژبی:

پښتو	ورور	وړل
سوغدي	ورت	و ر
یگنوبی	ویروت	وار
شوغنانی اوروشانی	ویرود	وار
یازگولیامی	ورید	
واخانی	وروت	
اشکاشمی	ورو (د)	
سریکولی	ویرود	ویرد

داتیپ کلمی په پیرسیکو ژبو کښی د(ب) په غږ موجودې دي. (پارتیانی ، کوردی، بلوڅی،تالیشی او نورو) کښی د یاختری گروپ په شان د (ز) غږ موجود دی.

د فونیتیک په باب باختری او پیرسیک گروپونو ترمنځه بله څرگنده او تیپیکه نښه داده چه په باختری زیاتوژبو کښی د(ښ)او (ځ) غږونه موجود دی خو پیرسیک گروپ یی نه لری.

باختری :

پښتو	څلور	څرمن	پنځه
خوارزمی		څرم	.
اوسیتی	څه پر	څرم	فنځ
شوغنانی	څوور	.	پینځ
روشانی	څوور		پینځ
اشکاشمی	څه فور		پونځ

واخانی	څه ېر	پینځ
سریکولی	څوور	پینځ

د کلمو په سر کښی د پیرسیک ګروپ د(ه)غږ په باختری ژبو کښی په الف راځی:

پښتو	اوه
مونجانی	ووده
اوسیتی	اود
یګنوبی	اود
شوغنانی	اوود
اشکاشمی	اوود

د فونیتیک په ساحه کښی دا هغه ډله ییز او عمومی نښی وی چه دواړه ګروپه یی سره بیل کړی دی، په خصوصی توګه ډیری بیلوونکی نښی شته چه باختری ژبی یوتر بله سره نژدې او له پیرسیکو ژبویی بیلوی مثلاً پښتو او پامیری ژبی:

په پامیری ژبو کښی کټ مټ د پښتو په شان د (ټ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) غږونه موجود دي (۱).

هغه کلمی چه باختری ژبی یی په سر کښی د (غ) غږلری په مقابل کښی پیرسیک ګروپ د (ګ) غږلري .

پښتو	غوی، غوا	غوړ	غندل	غوز	غنم
سوغدی	غو	غوش	غندك	انغوذ	غنتوم
اوسیتی	غوګ	غوس	ایغندون	انغو	ـ
شوغنانی	ژوو	غوړ		غوز	ژیندوم
یازګولیامی	غیو	غوون			
واخانی	ږیو	غیش		اوغوزو	غندوم
اشکاشمی	غو	غوی		اوغوزو	غندوم

---

۱ ـ دافغانستان دځینوژبو اولهجو قاموس د شاه عبدالله بدخشي تالیف مقدمه .

سریکولی	ژیو	ژیوی	غوند	
مونجانی	غووا	غوغ	اغوزا	غوندوم

د(غوز) کلمه په منځنی پارسي کښې د (ګاوز) په بڼه او پاسنی نورې کلمې هم په پیرسیکوژبو کښې د(ګ) پهغږ موجودې دی.

دباختري ژبودهغې (ز) دغږپهمقابل کښې جنوبی پیرسیک ژبېد (د) (۱) غږلری چهد کلمو پهسر کښې واقع وی :

پښتو	زوم	زه	پېژندل (پې+زن+دل)	
اویستا	زماتره	ازم	زن	
مونجانی	زما	زا	وزندکا	و ـ زند ـ کا
سنګلیچی	زمود	ازی		او ـ زین ـ وا
اشکاشمی	زومد	از	پژیند	

د کلمو پهسر کښې د (ز) دغه لرغونی غږ د پیر سیک ګروپ په جنوب غربی ژبو کښې (زړې پارسي، منځنی پارسي، بختیاری، تاتی او نورو) کښې د(د) پهغږ اوښتی دی خو په شمال غربی ژبو کښې د(ز) پهغږ دی.

دګرامر په باب :

لکهچه دلغت پهساحه کښې باختري او پیرسیک ګروپونه سرهپه اساسی ډول بېل بېل دي دغهشان دګرامر پهباب هم دوی سره اساسی بېلتون لري لکه :

په باختری ژبو کښې صفت له موصوفه او مضاف الیه له مضا فه ترمخهوي خو په پیرسیک ګروپ کښې داموضوع بالعکس ده . همدارنګه د باختري ژبو په اکثریت کښې دفعل داطلاق دپاره لرغونی سیستما تیک ادات د (و ، نه ، په) په بڼه موجود دي حال داچه پیرسیک ګروپ لهدغه لرغونی ادات څخه بېخي او اصلاً محروم وو او دی.

---

۱ ـ زوم ، زند (پېژندل) او نور په پیرسیک کښې غیرله میدیکه د (د) پهغږدي : (داماد ، دانش ...).

ACKU

لومړی پاړکی

ACKU

پښتو

زموږ ملي او رسمي ژبه

ACKU

پښتونن د نړۍ د نژدې هغو ښځوسو معتبرو ژبو په کتار کښې ولاړه ده چه بله ای ادبیات لری او د بشری زیاتو وګړو دلیک او لوست ژبې دی. لکه چه د ایرانی (پیرسیک) ګروپ دژبو په لړ کښې یوا زې دری ادبی او دلیک اولوست ژبه ده ، په باختری ګروپ کښې د اصفت یوازې د پښتو په برخه دی (۱) .

پښتو ژبه چه د افغانستان ملی او رسمی ژبه ده زموږ د هیواد نژدې (۱۲) ملیونو او په بل عبارت په سلو کښې له (۶۲) څخه زیات وګړي پری خبری کوی . او په پښتونستان کښې نژدې اووه میلیونه پښتانه پرې ګړیږی .

سربیره پردغو دوو سیمو یوزیات شمیر پښتانه په پاکستان ، هند کشمیر ، یولږ شمیر د چین په (سین کیان) او له پنځوسو زرو نه زیات د ایران په خاوره کښې پښتانه ژوند کوی (۲) . د ایران پښتانه په ختهالیزي

---

(۱) ـ آریانا دائرة المعارف د (السنه) عنوان .

(۲) ـ د سین کیان او ایران د پښتنو په باب مقدماتی فیلا لوژي ۱۰۵ مخ وګوری .

او نور زي دي اود سين کيان د پښتنو دمو جوده ژبې په باب معلومات نشته .

د پښتنو دتوکم په باب پخواني نظريه داوه چه پښتانه ګوندې دسامي توکم (بني اسرائيلو) څخه دي چه دا نظريه د ګورګانيانو له دربار ه نشئت کوي . ددغې نظريې لومړى څرك په (مخزن افغاني) کښې چه دجهانګير د دربار واقعه ليکونکي نعمت الله هروي غالباً په (١٠٢٠ ه،ق) او ميلادي (١٦١٢) کښې ايکلې دی، ليدل کيږي.

همدغه نظريه بيا دافضل خان ختڬ په تاريخ مرصع ، دحافظ رحمت خان په(خلاصة الانساب) خورشيد جهان، مرحوم قاضي عطاءالله (د پښتنو تاريخ) سرويليام جونز ، راورتي او نورو مؤرخينو هم تعقيب کړې ده .

د پښتنو د توکم په باب بوه نظريه داهم شته چه پښتانه د حضرت ابراهيم له اولادې څخه دي ـ له دې نظريې سره سم بيا هم پښتانه د سامي ګروپ له توکمه ګڼل کيږي . ځينو غربيانو ابتداء ، د البانيانو او يا ګرجستانيانو سره هم په توکم کښې ګډ بللې وو .

دغه نظريه چه پښتانه سامي نژاده دي تفصيل يې د پښتنو د تاريخ په بيلوبيلو آثاروا و کتابونو کښې خپور شوی ، دمو جوده پوهنې او عام په نظر کښې دغه نظريات له افسانې څخه زيات ارزښت نه لري.

بشرچه دتاريخي واقعاتو او پيښو ډير تيار ه اړخونه نن دزيار ، هاند او فني وسايلو په مرسته روښان کړي دنولسمې پيړۍ له پيله دا نظريه ورته پيدا شوې چه پښتانه د بشري لويو کورنيو په ولکه کښې هندو اروپايي او په هغه کښې آريايي باختري توکم دی . دا نظريه د پښتو نخوا دلرغونو تاريخي اسنادو اود نورو ژبو سره د پښتو په تاريخي مقايسوی رڼا کښې سپيني ته وتلې ده ، ځکه چه د (پښتون) ريښه

ACKU

په (پښتو) کښې پرته ده . دلته غواړم چه د پښتو په باب د لویدیځو ختیځ پوهانو د پاملرنې او بیا د نظریاتو لنډیز وړاندې کړم .

پښتو ته د ختیځ پوهانو پاملرنه :

د پښتو خیړنې اوزده کړې ته د وروستیو دریو پېړیو په جریان کښې د لویدیځو محققینو زیاته پاملرنه اوښتې ده : په بریتانیا ، روسیه ، فرانسه ، جرمنی او نورو هیوادو کښې ډیرو پوهانو پښتو زده کړه او وې څیړله ، خو د دې ټولو په جمله کښې پښتو ته په لویدیځ کښې زما په خیال دوه مرکزونه ټاکلی شو:

۱ - لویه بریتانیه چه پښتونویې په خپل استعماری قلمرو کښې داخله ګڼله .

۲ - شوروی اتحاد چه پښتونویې د خپل یوه دوست ګاونډي اولس ملی ژبه ګڼله او ګڼي یې .

کله چه بریتانیې د هند نیمه وچه تر خپلې لاندې کړه او د پښتنو سیمې ته یې پښې وغزولې ، د خپل تسلط د ساتلو په غرض یې د پښتو په زده کړه او څیړنه لاس پورې کړ ، چه وخت یې په پښتو کښې داسې کتابونه ، قاموسونه او نور مواد خپاره کړل چه د لویدیځې اروپا د نورو علاقه لرونکو د توجه سبب هم شول او د لته یې په اړه ډول وړاندې کوو :

کوکس : د پښتو ګرامر ولیکه چه په (۱۸۱۱) کال کښې په لندن کښې خپور شو . راورټی چه د بریتانیې د پوځونو پوسپاهی و ، او د (۱۹) پېړی په لومړی نیمایی کښې دیر غلګرو په پوځ کښې د پښتنو خاورې ته راغلی او دلته یې پښتو زده کړې وه چه انګریزانو د (پښتو پلټنو) د پلار په نامه یاداوه په (۱۸۵۵) کال کښې یې د پښتو ګرامر خپور کړ او په (۱۸۶۰) کال کښې یې د غه ګرامر لاپسی بشپړ او دریم ځل یې په (۱۸۶۷) کال کښې خپور کړ . په همدغه

کال ده (پښتو انگریزي قاموس) دویم محل چاپ کړ. همدارنگه (گلشن روه) (د پښتو شاعرانو غوره اشعار) چه ورو ستی کتاب دانگریزی ترجمی سره په (۱۸۶۳) کال کښی چاپ شوی دی. دده ښه آثار دي، په همدغه کال کښی بې انجیل په پښتو خپور کړ. نوموړي د پښتنود نسب، جغرافیی اونورو په باب ښه آثار لیکلی دي.

واهن نومی انگریز په (۱۸۶۰) کال کښی د پښتو یو گرامر په لندن کښی چاپ کړ. همدارنگه د پښتو په باب د بیلیو دلغت او گرامر کتابونه ښه شهرت لری چه د پښتو قاموس یی لومړ ی په (۱۸۶۷) پـه لندن او بیا په (۱۰۹۱) په لاهور کې چاپ شو. او د پښتو گرامر یې په (۱۸۶۷) په لندن کښې چاپ شو.

ترو مپ چه اصلاً جرمنی دی د پښتو گرامر یی په (۱۸۷۳) کښی پـه لندن کښی خپـور شو، ده او گریرسون (پښتون) دو ید اد (پکهت) او د یونانی مؤر خینو (پکتویس) سره مرادف گڼل.

لو ریمرد وزیرود لهجی گرامر او قاموس په (۱۹۰۲) کښی خپور کړ، دوزیرو دلهجې په باب گریر سون هم یو کتاب پـه (۱۹۲۲) کښی خپور کړ.

ز وس کیپل: د پښتو گرامر په (۱۹۲۲) کال کښی په لندن کښی خپور کړ. ښاغلی میکنزي په لندن کښی د پښتو دقلمی نسخو کتلاك چاپ او د پونسکود پاره یې دخوشحال ختک دديوان یوه زیاته برخه پـه انگریزی ترجمه کړه. دلته دهیوز (کلید افغانی) هم دیادونی وړدی. او په دغه شان د پښتو په باب په انگلستان کښی په سلگونو کتابونه او رسالی وخت پـه وخت لیکل شوی چه د پښتو په زده کړه کښی یې د نورو ختیځ پوهانو سره پوره مرسته کړې ده.

د پښتو دزده کړې او خیړنی په باب زیات شمیر نورختیځ پوهان هم شته چه د ځو مشهورو نومونه یی دادي:

ډار مستترنا متو فرانسوي عالم دی چه د پښتو د اولسي سندرو مجموعه (د پښتو نخواهارو بهار) مهم کتاب یې لیکلی او په (۱۸۸۸) کال کښې په پاریس کښې خپور شوی دی، په دغه کتاب کښې د پښتو د فونیتیک او لغوي تحلیل ښه څیړنه شوې ده.

گیگرد پروفیسر مارگین ستړین په قول په لوید یځ کښې د پښتو د غږ پوهنې اساس ایښې چه اثر یې (د پښتو ایتمولوژي او غږ پوهنه) نومیږي او دده یو مونوگراف دی چه په میونیخ کښې په (۱۸۹۳) کال کښې چاپ شوی او بل اثر یې چه (پښتو ژبه) نومیږي چه (د ایراني فیلالوژی بنستونه) نومی اثر جزء دی او په ۱۸۹۸ کال کښې په ستر سبورگ کښې چاپ شوی دی.

مارگین ستړین نارویژی عالم او د پښتو ټولنې افتخاري غړي د افغانستان د یولړ نورو ژبو سربیره په پښتو ښه آثار لیکلی دي مثلاً: په (۱۹۲۷) کال کښې د (په نژاد پیژندنې پورې مربوط پښتو محاورو ي لغات) نومی کتاب خپور کړ په (۱۹۲۷) کال کښې یې په اسلو کښې د پښتو ایتمولوژیک قاموس خپور کړ.

په امریکا کښې دډاکتر پنزل له خوا په (۱۹۵۵) کال کښې (د پښتو گرامر د کندهاری لهجې تشریحی څیړنه) نومی کتاب او بیا یې په (۱۹۶۲ - ۱۹۶۵) کال کښې د مشیگان د پوهنتون په مطبعه کښې (د پښتو قاموس او د پښتو لوست) چاپ کړل.

د پښتو د مطالعې په باب په چکوسلواکیا کښې د ښاغلی بچکا خصوصاً د پښتو د خج په باره کښې رساله هم د یادونې وړ ده.

د پښتو او پښتنو څیړنه په روسیه کښې سیستیماتیکه تاریخچه لري:

د اتلسمې پیړۍ په لومړۍ نیمایی کښې د پښتنو په باب معلومات راغونډ کړای شول. د ۱۸ پیړۍ په وروستۍ نیمایی کښې نه یوازې د روسیې بلکې د لوید یځې نړۍ د محققینو له پاره اکادیمیک گیولډ ینشتید (د استراخان اکادیمی)

ACKU

له خوا شه معلومات را غونډ او په (د قولوژ بومقایسوي قاموسونه) پترز بورگ ۱۷۸۷ کال کښې خپاره شول.

د پښتو گرامري مواد دنولسمې پیړۍ په سر کښې دعا کترایو پرسمن له خوا نسبتاً په مفصل ډول خپاره شول.

د پښتو په گرامراو ایتمولوژۍ او د ایرانی او باختری ژبو سره د مقایسې په رڼا کښې کلاپ روت دلوید یځوهغو افغان پیژندو نکو نظریات رد کړل چه په (۱۹) پیړۍ کښې یې پښتانه گرجستانیان ، ارمنیان، البانیانان اویاساسي نسله گڼل او ضمناً یې دانظریه هم رده کړه چه پښتو گونډې د دری (فارسي) یود یالیکت دی .

همدغه نظریه بیا نا ستوافغان پیژندو نکی دورن هم تاییداو تشریح کړه ۰دورن چه دخار کوف په پوهنتون کښې دختیځوژ بود کرسۍ مشرو، د پښتو او پښتنو په باب د یر گټور او غوره تاریخی آثار لری لکه :نعمت الله هیروی چه د پښتنو تاریخ (مخزن افغانی) د(۱۷) پیړۍ په سر کښې لیکلی و ،ددورن له خوا ترجمه اوددورن له خوا دزیاتو تبصرو دضمیمو سره په (۱۸۲۹-۱۸۳٦) کال کښې چاپ شو .

د(۱۸۳۹) کال دعلوموداکاډیمۍ په غونډو کښې دورن د پښتو د گرامری جوړښت په باب سهم کنفرانسو نه و رکړ ل چه د پښتو د زده کړې په تاریخ کښې زیات ارزښت لري .

په(۱۸۴۲) کال کښې ددورن له خوا(د پښتو گرامری یادداشتونو ستمم) د نو مو ړ ی له خوا خپو ر شو. په(۱۸۴۷) کال کښې دلسومړی ځل له پاره دده د پښتو انتخابات چاپ کړل . دورن په حقیقت کښې دهغو روسی محققینوله پاره د پښتو د زده کړ ی قو ی بنسټ کښینښو د چه په راتلونکی وخت کښې یې د پښتو زده کړې ته ملاو تړله . بلکې دورن ته نورارو پایی محققین (د پښتودعلمی گرامرلومړی مؤلف) وایي: دده په

غوښتنه په (۱۸۵۵) کال کښې پښتو د پترزبورګ د ختیځو ژبو د پوهنځي په تدریسي پروګرام کښې داخله شوه، مګر دغه تدریس یوازې دوه کاله دوام وکړاو بیا تقریباً یوه پیړۍ بس شو. د دورن نه وروسته د پښتو په باب ځینې کارونه وشول لکه د تیرین تیف، پروفیسر ګریګوریف، تومانویچ، یفیموف او د نورو آثار. مګر د پښتو په باب اساسي کارونه د روسیې په شوروي دوره کښې بیا شروع شول.

د (۱۹۳۰) کلونو په حدودو کښې بیرتیلس (د پښتو ژبې کندهاري لهجه) د (پښتو جوړښت) او د (پښتو او د هغې د لیک او لوست په باب لنډ معلومات) نومې آثار خپاره کړل.

له (۱۹۳۹) کاله وروسته د مسکو د ختیځ پیژندنې په انستیتوت او په یوشمیر نورو عالي پوهنځیو کښې د پښتو تدریس په منظم ډول شروع شو چه د تدریس انتظام او د موادو برابرول د استاد اسلانوف د زیار او زحمت محصول وو، لکه (د پښتو لغت لیکنه)، (د پښتو فولکلور او په شوروي کښې د هغه زده کړه)، (پښتو د افغانستان ملي ژبه)، (پښتو روسي قاموس) تقریباً پنځوس زره لغات، او داسې نور.

استاد اسلانوف د پښتو په باب ډیر شاګردان وروزل چه هغوی د شوروي په عالي تعلیمي مؤسسو کښې خپله د استادانو مقام لري، لکه پروفیسر لیبیدیف، پروفیسر دوریانکوف، پیري میچیوی، ګالینینه، غني یف پاځینکویچ، ګیراسیموه او نور.

پروفیسر لیبیدیف په (۱۹۴۵) کال کښې د پښتو بشپړ ګرامر ولیکه او بیا یې په (۱۹۷۱) کال کښې د پښتو بل ګرامري کتاب خپور شو.

پروفیسر لیبیدیف د (روسي-پښتو قاموس چه نژدې ۳۲ زره لغات لري) په (۱۹۷۳) کال کښې خپور کړ او سربیره پردې یې د پښتو د بیلو بیلو اړخونو په څیړنو کښې زښتې ډیرې رسالې او مقالې لیکلې دي.

ښاغلي دوریانکوف د پښتو د فعلي سیستم په څېړلو کښې ښه کار کړی دی او په (پښتو ژبه) نومي اثر کښې یې پښتو ښه معرفي کړې ده . د پښتو د هجاوو په باره کښې هم د ښاغلي دوریانکوف زیار د یادونې وړ دی .

ښاغلي ګیرس د پښتو ادب په معرفي کښې لویه برخه واخیسته او د افغانستان او پښتونستان د ادیبانو او ادبیاتو په معرفي کښې یې ډېر کار کړی دی.

ښاغلي زودین د لومړي ځل د پاره په (۱۹۵۰) کال کښې کوچنی پښتو روسي قاموس چاپ کړ چه نژدې د ولس زره لغتونه لري بیا یې په (۱۹۵۵) کال کښې روسي پښتو قاموس و لیکه چه نژدې (۲۱) زره لغات لري او دویم ځل بیا په (۱۹۶۴) کال چاپ شو. په دغه صورت ګورو چه پښتونن د لویدیځو هیواد و په ډیرو پوهنتونو کښې لوستل کیږي او له ډیرو هیواد و څخه دراډیو ګانو په ذریعه بروډ کاست کیږي .

د پښتو او پښتون په باب د لویدیځو محققینو په آثارو کښې البته ابتداء یو لړ اشتباهات شوي دي چه په تدریج سره د زیاتو تحقیقاتو په اثر د نورو له خوا هغه بیا سم شوي دي . په هغو کښې ډیر مهم ځای د پښتنو د تو کم ثبوت او په آریایي ژبو کښې د پښتو د موقعیت نظر یه ده چه لنډه یې د لته وړاندې کیږي:

داویستا په روایاتو اوزړې پارسي د میخي لیک په کتیبو او د لرغوني یونان د مؤرخینو او جغرافیه پوهانو په لیکنو کښې دا باسین (اندوس) د لویدیځ (پښتونخوا) د اولسونو یا دونې مکررې راغلي دي. په دې باره کښې د قبل المیلاد د دریمې پیړۍ یوناني جغرافیه پوه ایراتوسفین eratosfen په هغه روایت کښې چه د ستر ابون strabon په لیکنو کښې ساتل شوی دی دا سې څرګند وي:

د هندو کش په جنوبي لمنو کښې پر و پا میسا دیان (۱) (.د کابل خوا او شا) او د هغو د جنوب خواته ارا خوتیان (کندهار یان) او له هغونو رو هم جنوب ته (په معاصر بلو چستان کښې) ګېډ روسیان او سیبري چه د اباسین .تر غاړ ورسېدلی دي.

د پروپا میسا د یانو لویدیځ ته آریان او سیبري (۲) او دار اخوتیانو او ګیډ روسیانو پورې ددرنګیانو (سیستان، هلمند) پولې نښتې دي.

ددغو اولسونوسیمه چه ختیځ ته د اباسین - شمال ته د هند و کش او جنوب ته د بحر العرب او لویدیځ ته د میدیا او پارس پورې غځیدلی وه، د آریانا په نامه بلل کېدله.

ددغې سیمې د خلکو په ژبه کښې تقریباً توپیرنه وموجود

داو، دایراتوسفین روایت. همدغه ډول روایتونه نور هم موجود دي چه ددغې سیمې د خلکو د ژبې یووالی او یاد لهجو خلپوي ورنه څرګند یږي.

مثلاً: چیني ګرزندوی (چژان څیان) چه په قبل المیلاد (۱۳۵-۱۱۵) کښې (لویدیځو هیواد و) ته سفر کړی و، په خپلو یاد داشتو نو کښې لیکلي وو: «چه «د فرغانې او پارتیا» ترمنځه که څه هم په بیلو بیلو ژبو خبرې کیږي مګر دغه ژبې عموماً سره ورته دي او په خبرو اترو کښې یو تر بله سره پوهیږي »(۳) د همدغه روایت په شان کټ مټ بل روایت بل چیني ګرزندوی (څیان خانشو) په « دخان دلویې کورنۍ تاریخ » کښې لیکلي: «...که څه هم ددغو خلکو په لهجو کښې لوی توپیر شته مګر

1— Paropamisad

۲- (دپا کستان او لسونه)، ۵۹ مخ.

۳-(مقد ما تي فیلو لوژی) ۱۳۹ مخ، (ایراني ژبې) ۶۳-۶۵ مخونه.

ژ به یې ښخې سره ورته او یو تر بله سره په خبرو ا ترو کښې پو هیږي» د دغه خلکو ژ به خه ر نګوه.

په دې باب دغه وروستي کرښې ځواب ور کو ي : دقبل المیلاد زرو کلونو په منځ کښې دا باسین دحوزې د لویدیځ خوا ته باختری او لسونه د معاصر افغانستان په تاریخي سیمو (با ختر یا ، ارا خوزیا، در نګیانا او ګیدروسیا) کې او سیدل چه ددوی دژ بود ورو ستی دورې څخه دسره کوتل کتیبه په باختري ژبه پاتی ده . دنو رو پاتی ژ بو کتیبې تراوسه دمحققینو لاس ته نه دي راغلی، مګر دمحققینو په عقیده ددغو لرغونو باختري قبایلو پاتی شونی تو کم پښتانه، اور مړي او پراچیان دي(۱).

دهمدغه ځای داوسیدونکو پکتیا یانو په باب هیرودوت دهندیانو دبیان په یادونه کښې داسې روایت کوي :«نورهند یان د کا سپا پیراو د پکتیا یانود زمکې په پولو کښې اوسیږي» (۲).

ددغه یونانی مؤرخ په روایاتو کښې په یونا نی لهجه (پکتویس) کلمې ته د(پښتون) سره زیاتو محققینو سمون ور کړ ی دی . همدغه مؤرخ دپښتون سیمه یاهیواد د(پکتیکا) په نا مه څو ځا یه یا د کړی دی .اوو ایي چه:

دغوخلکو(پښتنو)به دڅرمنو کالی (پوستینونه) اغوستل، غشی او لیندی او چړې به یې لرلې او دژوند په لارو چارو کښې کټ مټ دباختریانو په شان وو . دهیرودوت له روایته واضحه ده چه د باختریانو او پښتنوتر منځه دلباس وسلې اودژوند چارې یوشان وې اود شریک

۱- دپا کستان اولسونه ۵۸،۶۰ مخونه.
۲- دپا کستا ن ملتو نه ۶۱،۶۲ مخو نه .

تمدن او کلتور خاوندان وو. د هیرودوت له لیکنې څخه څرګندیږي چې په پکتیا کښې څلورو (ګندهاریان، اپاراتی (اپریدي)، ستاګیدی، داد یکی، داردي) قبیلو ژوند کاوه. د نورو تاریخی اسنادو په حواله (ګندهاریان) هم د غه د ننګرهار او پېښور لرغونی او سیدونکی دي.

د اپارتینی په باب د محققینو لکه بیلیو، میکنزي، د کیرو په (پټان) مقدمه، ګریرسون دا نظریه بېخی سمه ښکاري چې د سو جوده (اپریدي) سره سمون لري.

ستاګیدي چې د ښاغلی ګهزاد په حواله (د افغانستان تاریخ لومړي ټوك) هم هیرودوت او هم بطلیموس په دغه نامه او هم بابلیانو د (ستوګوي) په نامه یاد کړي د مؤرخینو په عقیده د اخلک د ګوملی د دری او سیدونکی دی. د ښاغلی برتل په عقیده د اخلک د پروپامیسا د (کابل) او هلمند او سیدونکی وو، دده په عقیده د اخلک (ختک) او ځینی نور وایی چې (شیتک) دي.

د هیرودوت (دادیک) چې بطلیموس بې هم په دغه نامه یادونه کړې ده چې سیمه یې د (ګندهارا) په شمالی غرنیو برخو کښې واقع وه، مؤرخینو د (داردي) سره سمون ور کړي (۱) چې بحث یې په (داردي ژبو) کښې ګتلای شو.

د دغه مطلب در انقلولو نه زما مطلب دادی چې مونږ حتی د هیرودوت له روایت نه دا معلومولای شو چې پښتو د باختري څو نژادونو ګډه ژبه وه نه د کوم یوه تو کم ژبه.

۱- د دغې موضوع یادونه په تاریخی دیرو منابعو کښې راغلې ده، د مثال په ډول (پښتانه د تاریخ په رڼا کښې ۸۸-۹۱) مخونه، همدارنګه ځینې مواد په (د پاکستان اولسونه ۵۸-۸۹ مخونه) کې وګورىء.

ACKU

همدغه موضوع مونږ دلو ید یخو محققینو په نظر یا تـه کسبنی لټولی او موندلی شو .

کله چه د شلمی پیړی په پیل په تورفان کښی دسا کودخوتن دد یا لیکت کتیبې او بیا په(۱۹۵۷) کال کښی د بغلان په سره کوتل کښی کتیبې و موندل شوې، لوید یخو محققینو ته عقیده پیدا شوه چه ددغو کتیبو ژبه باختري ده او دهغې خپلوی باید له یوې خوا د پښتو او له بلې خوا د سوغدی اوخوارزمی سره ولټول شی(۱) تولو محققینو لکه مار یک، هینینگ، بینو ینیست، لیوشیخ دنورو باختري ژ بو په څنگ کښی د پښتو سره ددغې کتیبې دژ بې خپلوي ښوولې ده .

تر کومه ځایه چه د باختري ژ بې په څیړنه کښی ددغی کتیبی لوست او تحلیل و ړاندې شوی دی، د هغه له مخې د کتیبې ژ به له نورو باختري ژ بو څخه نسبتاً لرې او یوازې د پښتو سره یې خپلوې ثابتیږي اوس نو ځکه باختري ژ بې ته کولای شو چه د پښتو مور په حیث قایل شو او د بغلان کتیبه د پښتو ژ بې لومړی بشپړه کتیبه و گڼو. هغه ژ بنی خصوصیات لکه د مطلق او استمرار ي فعل دجوړښت سیستم مثلاً په (وخوت) کښی ، ایرگاتیف سیستم په (کنیشکا- لومړي حالت) (کنیشکی-دویم حالت) لغوي شریکه پانگه (لکه کیدل،ختل) چه دغه لور (پښتو) او هغه مور (باختري) لري د اسې خپلوي له بلې هیڅ باختري ژ بې سره نه لري.

ددوی خپلوي د اسی ده لکه د نوې دری او ساسانی . ساکی ژ به هم دغه شان ده هغه خپلوي چه د ساکی ژ بی او پښتو تر منځه په گرامری او لغوي اړخونو کښی موجوده ده، دو مره د بلې ژ بې سره بشپړه خپلوي نه لري.

د(باختري) او(ساکی) ژ بو په بحث کښی لیدلی شو چه دغه ژ بی

۱- د افغانستان تاریخ لومړی ټوک ۱۹۲ مخ . همدارنگه (دپاکستان اولسونه) ۶۰ مخ .

خصوصاً (باختري) د پښتو سره نسبي خپلوي لري چه هغه د (ستهی) او (ښاخ) له خپلوی څخه لرونه ده. ساك د پښتو یوه پښه ده د پښتو لومړی مستند شاعر امیر کرور هم په ختمه ساك و .

پښتو او هندي ژبی :

اوس په دې کښې شك نه دی پاتی چه پښتو د لوید یځو آریایی ژبو په کورنی کښې داخله او په هغو کښې د باختری ژبو په جمله کښې یوه ژوندی ادبی ژبه ده . خو بیا هم د نورو لوید یځو آریایی او باختري ژبو په نسبت د هندي ژبو سره خصوصاً په لغوي پانګه کښې ډېر ملر نی ورڅکه ون لري .

د دې علت له یوی خوا د هندي ژبو سره د پښتو زرګونه کاله ګاونډیتوب او د ګډو پولو ارل دي . د سترابون په حواله یونانی جغرافیه پوه ایراتوسفین ـ eratosfen لا په قبل المیلاد دریمه پیړی کښې د هند یا نو په باب لیکی چه «... نو ر هندیان د کا سپا پیر او پکتیا نو د هیواد په پولو کښې او سیږي» (۱) .

دویم علت یې په هند باندی د پښتنو د خو پیړیو حکومتونه دي چه د هغه په اثر پښتنو ډیر څه هندی ژبو ته ورکړل او ډیر څه یې ورنه واخستل چه د هغو په نتیجه کښې هندی ژبی له پښتو او پښتو له هندی ژبو څخه متأثری ښکاری . د پښتو او هندی ژبو ترمنځه بل ګډ خصوصیت د فونیتیك په برخه کښې د سریبرال (ټ، ډ، ړ، ڼ) غږونو موجودیت دی . د محققینو په عقیده آریایی ژبو دغه غږونه نه لرل پښتو مستقیماً او یا د هندي ژبو له لاری دغه غږونه له دراویدی ژبو څخه اخیستی دي . هندی ژبو هم دغه غږونه په خپل اصالت کښې نه لرل او هغه یې له مغلو بو او شړل شویو دراویدی ژبو څخه اخیستی دی (۲) .

---

۱ ـ د پاکستان او لسونه ۶۱ ـ ۷۲ مخونه .

۲ ـ مقدماتی فیلالوژي ۳۰۷ مخ .

ACKU

له دغه ځايه وه چه يولړ نامتو محققين لکه ترو سپ په دې عقيده وو چه پښتو د هندي ژبو له کورني څخه ده .

دغه نظريه چه پښتو يوه آريايي ژبه ده نه سامي، ققتازي، البانی، دلوبري ځل له پاره په(١٨٢٨) کال کښې کلا پروت claprt او له هغې څخه وروسته م ايلفينستون M.Elfinsten سينځ ته راوړه چه پښتو يوه آريايي ژبه ده نه ايندو آريايي . دغې نظر يسې ته بيا،ب . دو رن او دهغه پسې فوسيو لر پر اختيا ور کړه .

بالاخره هوسشمن او ګيګر د دې فيصلې ته ورسيدل چه پښتو يوه مرکزي آريايي (باختري) ژبه ده چه د هندي ژبو له ګروپه نه ده .

له هغو وروسته چه کوسو پوهانو باختري نوري لکه (پاميري) ژبې د تاريخي مقايسوي ژبپوهنې له مخې وڅيړلې دا نظريه په پريکړې دول تائيد شوه چه پښتو يوه باختري ژبه ده نه ايراني او نه هندي او په دغه صورت په دغو آريايي ژبو کښې ددري څانګو پتنتيک (باختري)، پرسيک (ايراني) او هنديک (هندي) تثبيت وشو .

معاصره ژبپوهنه اوس په دې کښې شک نه لري چه پښتو يوه مرکزي آريايي (باختري) ژبه ده ،مګر د هندي ژبو سره دهغې د ګډو خصوصياتو او اړيکو خواته هم پاملر نه لري .

د تاريخ په اوږ دو پوړيو کښې پښتو د هندي ژبو سره په ګاونډيتوب کښې او سيدلې او د سانسکريت ، ويدا او پراکريتي ژبو نه طبعاً متأثره شوې چه د غه تأثر د هندي ژ وندي ژبو سره د پښتو په مقايسوي پلان کښې ښه څرګنديږي . د پښتو په اولسي او ادبي فورم کښې مطالعه دا امکان محقق ته په لاس ور کوي چه په هندي ژبو د پښتو او په پښتو باندې د هندي ژبو د اغيزې بيلې بيلې لارې و موسي . د ګاونډيتوب د مکان او زمان د شرايطو سره سم د پښتو په بيلو بيلو د يا ليکتونو د هندي ژبو اغيزه توپيرلري

دغه اغیزه په ځینو دیالیکتونو دومره زیاته ده چه ناستو نارویژی محقق یې دی ته اړ کړی چه وو ایی : «د پښتو خصوصاً د پیښور دیالیکت په فونیتیکی سیستم کښې تقریباً هندی شوی دی» (۱) مثلاً (ښ) (ځ) چه په آریایی ژبو کښې د باختری ژبو خاصه او په هندی ژبو کښې نشته د پیښور په دیالیکت کښې غالباً د (س) ، (ز) په غږ ویل کیږی . د پیښور په دیالیکت کښې د (ر) غږ ډیر ځله په (ړ) ویل کیږی او داسی نور .

دا چه د معاصرو هندی ګوښو ژبو سره پښتو زیات ګډ خصوصیات لری دا موضوع بشپړه رڼا ته نه ده وتلی . د دارمستتر په عقیده دغه خصوصیات د پښتو او هندی (هندوستانی) ترمنځه زیات دي ، مګر د مارګین سترین په خیال د پښتو او لهندی ترمنځه .

البته د دغې موضوع پریکړه په دریواړو ژبو کښې ژوره څیړنه غواړي .

دلته د پښتو او هندی ترمنځه څو ګډ لغات د مقایسې په غرض وړاندې کیږي :

پښتو هډه ـ ګیدړ ـ ګولی ـ ګړی (ساعت) ـ چاره ـ جوړه جنډه ـ ټوکری ـ تول ـ نایی ـ پالل ـ بهیدل ـ لګیدل ـ ډار ـ اتوار (دوشنبه) .

هندی : اډه ـ ګیدړ ـ ګولی ـ ګهړي ـ چاره ـ جوړه ـ جنډه ټوکري ـ تول ـ نایی ـ پالنا ـ بهینا ـ لګنا ـ ډار ـ اتوار . .

هندي چه په یولړ کلمو کښې د (ه) غږ هم لري په پښتو کښې هغه نشته لکه :

پښتو : جګړه ـ چت ـ لیکل ـ چلیدل .

هندی : جهګړه ـ چهت ـ لیکهنا ـ چهلنا .

په مونثو کلمو کښې د هندی څرګنده (ي) د پښتو په ثقلیه (ی) اوړي .

1—G. Morgenstriene, Report on a linguistic Mission to Afghanistan, Oslo 1926. P. 12.

پښتو : کړکی ـ ګولی ، تو کری ـ ګړی .
هندی : کهړکی ـ ګولی ـ تو کري ـ ګهړي .
دپښتو او لهندی ترمنځه دګډو لغاتو ښکارندوی :
پښتو : بنګله ـ دار ـ ادو (بیخی) و یجا ړ ـ کوته ـ تا پو ـ لوټ ـ تول ـ تول .
لهندی : بنګله ـ دار ـ هدو ـ او جا ړه ـ کوتهه ـ تا پو ـ لوټ ـ تول ـ تول .
پښتو دنورو هندي ژبو سره هم يو لړ ګډ لغات لري چه دلته دمثال له پاره مرهټی وړاندې کيږي :
پښتو : تيره (دپخ مقابل) ، ړوسبی (لومړي) ، بټ (بټی) ، واده والا (سوفيکس) کنګال ـ ډيوه ـ بوله (ساده)، ها (هاغه)، بلل .
مرهټی : تيوره ـ اروميه ـ بټ ـ وادو (ناري) والا ـ کنګال ـ ډيوه ـ بوله ـ ها ـ بوله .

دهندی ژبو سره دپښتو دغه ګډ خصوصيات نه يوازی دلغوي پانګی په ساحه کښی دی بلکې دمور فولوژی په ساحه کښی هم ليدل کيږي . لکه د(وال) او (والا) سوفيکسونه لکه په (ښاروال ، کور والا) کښی . همدا رنګه د (پر) کلمه په اوردو او هندی کښی د(پر) مثلاً پښتو (پرسرك) داوردو (سرك پر) . همدارنګه دپښتو (تاسو، تا سی) دجمع مخاطب ضمير دهندی د (توسی) سره سمون لري (۱) .

پښتو د پـراختيا په پوړ يو کښی :

پښتونخواته دعربو دنفوذ نه وروسته دعربی او عربی ادبياتو له خوا وروپه ورو دپښتو دادبياتو ساحه ورتنګه شوه . دپښتو ادبيات يوازې دفولکلور په ډول دعامو پښتنو په سينو کښی ساتل کيدل چه له يوه څخه

۱ ـ په دې باب «دهند، پاکستان، نيپال، سيلون ژبی» نومی کتاب دشوروی دعلومو داکاډمی ۱۹۶۸ کال په خپرونه کښی د ښاغلی دوريانکوف «دهندی ژبو سره دپښتو رابطه» مقاله ښه مواد لري .

بل ته په شفاهی ډول نقل کیدل . او په دغه صورت پښتو د پردیو ژبو د یرغلونو څخه خوندي وه . ددغه وخت دخوږ واشعارو څخه ژمونږ په لاس کښې یوازې دامیر کروړ یوحماسی شعر (ددویمی پیړی پیل) په خوږه او نګه ژبه او بل دابو محمد هاشم ابن الزید السر و انی (دریمی پیړی پیل) یوشعر چه دده داستاد (ابی العیناء) دعربی یوه شعر ترجمه ده موجوددی . البته ددغه فاضل بل اثر (دسالوو ږمه) دزمانی سیلیو ژمونږ ترلاسه نه دی راپریښی .

دسوریانو اوغوریانو په عصر کښې دالسروانی ، اسعد سوری ، ښکارندوی ، تایمنی او د پښتو دنورو پیاوړو شاعرانودروزنې او پالنې ځانګو دشاهانو دربارونه وو . په دغو دربارونو کښې پرته له پښتو په نورو ژبو خلک نه پوهیدل . په دغه موضوع یولړتاریخی اسناد شاهد دی مثلاً : دامیرمسعود (۱۱۳ هـ) له خوادغور دیوې (دورمیش بت) نومی کوټ دنیولو پیښې په بیان کښې بیهقی داسی لیکی : «..... تا امیر حرکت کرد بران جانب دانشمندې را برسولی انجا فرستاد و مرد غوری را ازان بوالحسن و شیروان تاترجمانی کنند ....» (۱) یوبل روسی مستشرق و . و . بارتولد لیکی چه دغوریانو ژبه دو مره جلاوه چه امیرمسعود دمترجم په ذریعه دهغوسره خبری کولی . بل مستشرق هولدج دغور په باب لیکی چه ددغه ځای خلکو په داسی مخصوصه ژبه خبری کولی چه دخراسان دخلکو ژبی ته ورته نه وه . همدارنګه رومودین او

---

(۱) د افغانستان لومړی ټوک دتاریخ (۲۵۹ – ۲٦۰) مخ په حواله بوالحسن خاف او شیروان په غور کښې در سوخ خاوندان وو چه د مسعود له خوا دوی تطمیع کړی شول او خصوصاً د بوالحسن د دریو زره مسلحو سپرو او پلیو په مرسته یی غور ته ماتی ور کړه او له همدغو پښتنو څخه یی دغوریانو سره د ترجمانی کار اخیسته .

مسون عقیده ښکاره کوي چه د اوخت د غور خلک په فارسي نه پوهېدل(۱)
دغسې ډېر اسناد شته چه دهغوی له مخې دسوریانو او غوریانو دربارونه
د پښتو د روزنې او پالنې ښه ځانګو او د دوی ژبه پښتو وه. د غوریانو
ژبې د سوچه والي دلیل یو دا هم و چه د دوی قلمرو د فارسي او عربي ژبو
د نفوذ نه ساتل شوی و. د سور ځینو په عقیده غوریانو د غزنویانو تر قوي
کیدلو پورې د بل هیڅ ګاونډي په مقابل کښې ماتې نه وه خوړلې، د عربو
فاتحانو لښکر د غور سیمې ته نه و ننوتی، د سامانیانو یو سر لښکر په یوه
یرغل کښې یوازې د خیسار او تولک کوټونو ته ځان رسولی و (۲) غور
یوازې د غزنویانو په مقابل کښې ماتې وخوړه چه د سوبکتګین له خوا
(د طبقات ناصري د روایت سره سم) وو هل شو، خو بیا هم نیم خپلواک و او
د سلطان محمود په وخت د غور بادشاه امیر محمد ابن سوري و نیول شو چه
په لاره کښې هغه بیا له غیرته ځان وواژه. مګر بیا هم غور د غزنویانو
تسلط ته غاړه نه ایښوده چه بالاخره د بوالحسن خلف او شیروان په مرسته چه
دواړه غوریان وو (۳) د غزنویانو له خوا د پښتنو دغه مرکز او بالاخره
د غوریانو له خوا (غزني) دواړه وران شول.

پښتنو شاهانو په هند کښې نه یوازې د هند آبادي او مدنیت ته خدمت
کړی بلکې په خپلو دربارونو کښې یې پښتو هم پاللې ده. حتی خپله یې په پښتو
ښه ښه شعرونه ویلي دي چه ښه شاهد یې د پښتو په خوا ږه نظم د شیخ رضي لودي
او نصر لودي سوال او ځواب دی. «پټه خزانه ۷۰، ۷۲ مخونه»

---

(۱) ـ د افغانستان تاریخ لومړی ټوك(۲۶۰) مخ.
(۲) ـ (تاریخ بیهقی) د افغانستان تاریخ(۲۵۸)مخ په حواله.
(۳) ـ د افغانستان تاریخ لومړی ټوك (۲۵۸-۲۶۱) مخونه.

ACKU

په هند کښې د پښتوپا لونکو شا ها نوپه جمله کښې سلطان فیروز شاه (۷۵۲) دیادونې وړدی. دده د پښتوپالنې په باب دخورشید جهان دغه لاندې عبارت کافی گڼم چه لیکی :« ......جزءوسیلهٔ پښتوو پښتو گویی در دربارفیروز شاهی احدی راپیش قدمی مقدورنبود وطایفهٔ افاغنه رافیروزشاه ازتمام شرفاعزیزترمی داشت ..... »

سلطان بهلول لودی (۸۶۰) خو سربیره پردی چه پښتو پالونکی و د پښتویوښه شاعرهم و (۱) .

د پښتو او پښتنو پالنې په باب شیرشاه دخاصې یادونې وړدی. عباس خان سروانی په خپل کتاب (تاریخ شیرشاهی) کښې لیکی: « شیر خان فرصت و موند .... اود پښتنو په روزنه یې پیل وکړ . ځینې پښتانه چه دزمانې دحوادثو په، سبب فقیراو پوستیان وو له فقیری یې خلاص کړل اودسپاهیانو په جمله کښې یې داخل کړل. اوهغه پښتانه یې ووژل چه سپاهی توب یې نه ماته گدایی یی کوله. دهویل هرپښتون چه نه سپاهی کیږی هغه به ووژنم ..... پښتنو چه واوریدل چه شیرخان دپښتنو د روزنې سره زیاته مینه لری له هره ځایه دده ملازمت ته راټول شول .... » (۲) .

بل ځای لیکی :« شیخ بایزید دشیرخان دربارته ورغی هغه غوښتل چه شیرخان ته لاس ور کا شیرخان ورته په پښتو وویل : شیخه: تر غاړه به وځو»(۳) .

۱- لاندې څلوریزه یې پټې خزانې را اخیستی ده :
ملك به زرغون کړم په ور کړه راسه- گوره اوریځی دداد له پاسه.
خول مې دعدل په درورونې دی- جهان به زیب موسی زما له لاسه
۲- شیرشاهی تاریخ ۹۵-۹۶ مخونه .
۳- (تاریخ شیرشاهی) ۱۶۶ مخ .

په تاریخ شیرشاهی کښې د شیرشاه سوري د پښتو پالنې او روزنې په باب ډیر شواهد او اسناد وړاندې شوي دي چه دلته یې ښکاره ندوی وښوول شو(۱).

هجری لسمه او یوولسمه پیړی د پښتو د روزنې او د پښتو د ادبیاتو د پرمختګ طلایی پیړی ګڼل کیږی. په دغه وخت کښې مونږ د پښتو له پاره دوه چاپیریالونه ټاکلی شو:

۱- رسمی چاپیریال چه د ستر مشر میرویس نیکه له وخته د پښتو سیاسی او ادبی مرکز کندهار (بیا کابل) ګرځی.

۲-اولسی یا غیر رسمی چاپیریال چه د روښانیانو د تحریک سره سم شروع کیږي.

دلته به په لومړي چاپیریال لږ څه رڼا واچول شی.

د پښتو د پالنې او پرمختګ د دغه دوره د ملی ستر قاید میرویس نیکه (۱۱۱۹) په ملی مبارزو کښې د بریالیتوب سره یوځای شروع کیږی.

د میرویس نیکه درنې کورنی نه یوازې د پښتو پالنه کړې، بلکې د پښتو ښه شاعران هم وو. د میرویس با با مور میرمن نازو خپله هم د پښتو ښه شاعره وه. دده په دوره کښې د پښتو ښه شاعران وروزل شول لکه سپه سالار سید ال خان ناصر، ملا پیر محمد، با بو جان با بی، داؤد هوتک، ملا نور محمد غلجی او نور.

بیا دده د زوی شاه حسین په عصر کښې د پښتو د خدمت په باب د تاریخ یوه ځلانده دوره ده چه دده دربار د پښتو ژبې او ادب ښه ځانګو ګڼل کیږی. دده په امر د پښتو شاعرانو تذکره (پټه خزانه) ولیکل شوه چه د پښتو د ادب تاریخ یې (۱۳) سوه کاله مخکښې زمانو ته ورسا وه.

۱ـ «تاریخ شیر شاهی» د عباس خان سروانی تالیف د ډاکټر د پوهنتون د ۱۹۶۳ کال خپرونه.

پښتو ژبه په ادبي لحاظ د احمد شاه بابا (چه د پښتو شاعر هم ؤ) او د ده د اولادې تیمور شاه او شاه زمان په وختو کښې پاللی شوې مگر په حقیقت کښې د تیمور شاه له خواله کندهاره د سیاسي مرکزیت لیږدول د پښتو د پرمختګ له پاره لویه صدمه وه چه جبیره کول یې گران شول.

په وروسته وختو کښې دربارونو هم پښتوته پاملرنه لرله مگر محیطي شرایطو یې د پرمختګ مخه عملاً نیولې وه.

د اعلیحضرت امیردوست محمد خان په کورني کښې د پښتو ژبې کلکه مینه پرته وه، د همدغې مینې په اثر دده دوه ورونه سردار مهردل خان او سردار پردل خان د پښتو خوږ ژبي شاعران وو.

د اعلیحضرت امیر شیرعلی خان په وخت کښې پښتو ژبې ته په رسمي ډول خدمت شروع شو. ټول عسکري او ملکي او د کابینې د غړیو القاب یې په پښتو واړول. د اعلیحضرت امیر شیرعلی خان د وخت ځینې عسکري قوماندې چه په پښتو شوې وې لاتراوسه ژوندۍ دي لکه (تیار سیء ولاړسیء، دریږ) او نور. دده په وخت کښې یو لړ کتابونه په پښتو ترجمه او یو لړو لیکل شول لکه د دوست محمد خټک (د خوشحال خټک له کورنۍ) کتاب (بحرالعلوم) په پښتو نظم (اخلاق احمدی)، (طریقه محمدیه) او نور.

اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان هم د پښتو سره بې مینې نه و. دده په امر د عبدالقادر خټک (یوسف او زلیخا) په سلطنتي مطبعه کښې چاپ شوه.

د اعلیحضرت حبیب الله په وخت کښې د پښتو په باب یو لوی گام واخستل شو او هغه دا چې د معارف په تعلیمي نصاب کښې یې ځای ورنیوا او د ښوونځي په درسي پروګرام کښې رسماً داخله شوه. مولوي صالح محمد درسي (لومړی پښتو کتاب) ولیکه چه دغه کتاب بیا په لاهور کښې هم چاپ شو. په سراج الاخبار کښې د پښتو د مضامینو خپریدل شروع شول.

د اعلیحضرت امان الله خاصه توجه پښتوته ګرځیدلې وه. دوی د پښتو د زده کړې او تعمیم په غرض (پښتو مرکه) نومې ټولنه جوړه کړه، چه د هیواد د ټولو قومونو فاضلانو او عالمانو ور کښې گډون کړی و. دا وخت د پښتو د پاره گرامري قواعد ولیکل شول، لغوي پانګه او د اصطلاحاتو

ACKU

ذخیره یې راټوله کړی شوه، نوی نومونه او اصطلاحات یې هم جوړ شول، د پښتو درسی کتابونه(یوازینی پښتو)، (پښتو پښویه)و لیکل او چاپ شول. طلوع افغان ورځپانی چه په دری یې مضامین خپریدل د پښتو د مضامینو په خپرولویې هم پیل وکړ چه ورو په وروټوله پښتو شوه.

داعلیحضرت نادرشاه په وخت کې پښتو مرکه په(پښتو انجمن)و او بیا مرکزته را نقل او د«کابل ادبی انجمن» په ګډون په (پښتوټولنه) واوښت . په دغه وخت کی د پښتو دپراختیا دپاره کارشروع شو .

پښتانه لیکوال راویښ او دخپلی ژبی دتعمیم او پراختیا دپاره یې هڅې شروع کړی . ددوی په زیار او کوښښ پښتوژبه په(۱۳۱۵) کښې درسمی ژبې په حیث اعلام اوزده کړه یې په ښوونځیو او دولتی دفترونو کښې هم اجباري شوه.د(۱۳۳۳) کال په اساسی قانون کښې پښتو د(ملی او رسمی)ژبې په حیث و پیژندل شوه، داد ب، فنونو ،علومو په ساحه کښې په ترجمو او تصنیفو بدایه ، دراډیو ، ورځپانو او مجلوژ به او په دولتی دفترونو کښې تریوې اندازې دافادې او استفادې ژبه شوه(۱).

داو، د پښتو حال په رسمی چاپیریال کښې. په اولسی چاپیریال کښې د پښتو دپالنې او داد ب دپرمختګ شروع د روښانیانو په مذهبی رنګ کښې د ملی او سیاسی حرکت سره یو ځای شروع کیږي.

د پښتو ژبې په لمن کښې د روښان تالیف خیرالبیان لومړی تقریباً (۹۷۰) کـال بیا دهغه نقل په (۱۰٦۱ھ) کې . دالومړی بیشړ کتاب دی (۲) چه په مقفا نثر لیکل شوی دی . له دغه کتا به ترمخه

۱-په (پښتو پراختیا په پوړیو کښې) زیاته استفاده د (کابل کالنی (۱۳۲۲) دښاغلی بېنوا له مقالې (پښتو د شاهانو په دربار کښې) څخه شوې ده.

۲ - په دی ورو ستیو وختو کی چه « روښانی منظومه رساله » موندل شوی زما په خیال د خیرالبیان نه ترمخه لیکل شوی ده.

پرته د شیخ سلی له دفتره (چه ورک دی) او د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء (چه څو پاڼې موندل شوې) مونږ د کوم بل کتاب خرک نه مومو.

راورتی وایی: «چه له ما سره د پښتو د اسې زړې نسخې شته چه د مغولی اکبر بادشاه نه ترمخه یا د هغه په زمانه کښې لیکل شوې» مګر را ورتی د هغو کتابو او د هغود مؤلفینو نوم نه دی اخیستی او نه یې ورنه اقتباس کړی دی(۱). نو ځکه خیرالبیان په پښتو کښې لومړی بشپړ کتاب ګڼل کیږي.

د پیرروښان ژوند په یوه داسې وخت کښې و، چه په پښتنو کښې د پیری او مریدی بازار تود و. د یوه (کامل پیر) په حیث د مغولو سره په مبارزه کښې د پښتنو د ملاتړ د جلبولو په غرض د ه د پښتنو د پوهولو له پاره د دوی په ژبه خیرالبیان و لیکه. د ده سنت او طریقې د ده د پیروانو (ارزانی، مرزا، دولت واصل) او نورو په بشپړه دیوانونو کښې ژوندی و ساتل شول. او په د غه صورت مونږ ګورو چه په روښانی تحریک کښې نه یوازې په مذهبی جامه کښې سیاسی مبارزه روانه وه بلکې د پښتو ادب د ښه نهضت دوره یې ګڼلی شو.

د پیرروښان د مبارزې په مقابل کښې د پښتو ادب دویمه مرحله د درویزه او د هغه د پیروانو دوره ده چه د روښانی تحریک د ماتولو په غرض د کورګانیانو له درباره یې سرچینه اخیستې وه. د درویزه مبارزه کورګانیانو په مقابل کښې د پښتنو (روښانیانو) د سیاسی ماتی سبب شوه خو د پښتو د مقفا نثر (او کمزوري شعر) په لاره کښې یې خدمت و کړ. مګر تر دغه وخته منظوم نثر او شعر د ژوند له چارو په ځنګ او یوازې د عقاید و او علم کلام په خدمت کښې بوخت وو.

د پښتو د ادب روښانه دوره یوازې د خوشحال ختک د منځ ته راتللو سره سمه شروع شوه چه دده د قلم په قوت د پښتو شعر د عذاب قبر او د

۱- د خیرالبیان مقدمه ۵۷ مخ.

دوزخ له لمبو خلاص شوا ودژوند دتولو اړخونه په خدمت کښې ولویده دی په حقه و ، چه ویل یې:

دزویزه مې له مخزنه سره و نغړ-پیرروښان مې یاوه گوی سره ماننده کړ (۱).

دخوشحال دقلم په قوت نه یوا زې پښتو د ننني اد بی ژبو سیاله شوه بلکې د پښتنو د مليت دژوندي کولوساه یې بايدوگڼو . خوشحال د لوړي ځل له پاره په پښتو کښې ادب ، سياست (دستار نامه) طب (طبنامه) او نور علوم ځای کړل چه دا کارنه مخکې چا کړی او نه وروسته.

دخوشحال دغه سپيڅلی ميراث ددهد کورنی (عبدالقادر، صدرخان، هجری ،شيدا) او نورو له خوالا پسې بشپړ شو.

دخوشحال په عصراو له هغه وروسته په پښتو کښې غښتلی او نازکخيا له شاعران منځ ته راغلل لکه رحمان بابا، حميد ماشوخيل، حسين، مصري خان او نور چه دنولسمې پيړی ترپيله پورې يې دوام و کړ او په پښتو کښې يې اخلاق ،تصوف، بشر دوستی ځای کړل.

دنولسمې پيړی په پيل کښې خارجی استعمار چيانو (لوړی سيکانو او بيا انگريزانو) ددورانی دولت دمشرانو له اختلافه استفاده وکړه او د پښتنوخاوره يې په دوو (بلکې دريو) برخو وويشله چه دا ستعمار دغه ميراث لا اوس هم په خپل حال دی .دا استعمار په مقابل کښې دلرې پښتونخوا پښتنو په يوه لاس کښې توره او په بل کښې قلم و اخيستل چه په دوا ړو مبارزه ترننه روانه ده.

۱- دا بيت د خوشحال دکلياتو دلوړی قلمی نسخې څخه چه په په جان کوړه کښې ليکل شوې و اخيستل شو، په چاپی نسخو کښې نشته. بيت په دې قصيده کښې دی:

(په پښتو شعرچه ماعلم بلند کړه ...).

د پښتو دلیکدود تاریخچه :

د پښتو موجوده توری (الفباء) دعربی تورو په اساس جوړ شوی دی. چه سبب یې د اسلام در اتګ سره سم دعربی ژبی نفوذ دی .

د اسلام نه ترمخه دمعاصرافغانستان او هغه ته په ورخیرمه سیمو کښې دوه ډوله الفباء زیات عمومیت درلود : الف خروشتی ب : یونانی (آرمی الفبا د پښتوله پاره دومره اهمیت نه لری.)

دمعاصر افغانستان او هغه ته په ورخیرمه (خصوصاً لویدیځو) بیلو بیلو سیمو کښې دموندل شویو کتیبو او سکو په استناد مورخین وایی چه ددغو سیمو د بیلو بیلو ژبو له پاره خروشتی الفباء مروجه وه . په لرغونی ګندهارا (دافغانستان ختیځی سیمی - دهند دنیمی وچی په شمال لویدیځ) کښې دقبل المیلاد دزرو کلونو په منځ کښې یو لړ او لسونه او توکمونه اوسیدل چه دهغوی ژبی سره ډیرې لرې نه وې. دغه ژبی یو لړ محققینو د (ګند هاري) په نامه اصطلاحاً یادی کړی دی . ددغو توکمونو په تشکیل کښې باختری، داردی اینډو آریایی او حتی ما قبل اینډو اروپایی عناصر او توکمونه شامل وو . خروشتی لیک او ددغو توکمونو ژبه داشوکا (۲۷۳- ۲۳۲ ق.م) دیو لړ کتیبونه مشهوره ده . همدارنګه یو لړ نوری کتیبی هم په خروشتی لیکل شوی چه د لیکلو تاریخ یې له دغه وخته وروسته دی، الفباء یې خروشتی ده(۱). داشوکا په هغو کتیبو کښې چه دمعاصرافغانستان په جنوب او جنوب لویدیځ کښې موندل شوی دیو شمیر محققینو (د. شلومبیرګیر) او(ی. بینوینیست) په عقیده دلرغونی آریایی ژبې یو شمیر لغات لری او دبرتیلس په عقیده ددغه ځای دخلکو ژبه اویستاته نژدې وه (۲) .

۱- دپاکستان اولسونه ۵۵-۵۶ مخونه .

۲- دپاکستان اولسونه ۶۰ مخ .

دخروشتي الفباء په باب انگريز محقق سرويليام جونز وايي چه د خروشتي ليک ژبه دآريانا ژبه وه او که چيرته په پښتو کښې پوره څيړنې وشي نوښايي چه يووخت ددغې ژبې په مرسته ډيرې خروشتي کتيبې ولوستلې شي (۱) . دغه الفباء (ه.ه.ويلسون) دآريانا دالفباء په نامه ياده کړې ده چه ددې دپيدا ښت اوله منځه تللو سيمه دآريانا خاوره ده .

په هرصورت دلته بايدوويل شي چه خروشتي ديوډول لرغونې الفباء نوم دی، نه د کومې ژبې او دکتيبو له تاريخي څيړنې څخه څرګنديږي چه خروشتي الفباء له دريمې (ق.م) پيړۍ څخه ترپنځمې ميلادي پورې په دغو سيمو کښې موجوده وه. په خروشتي الفباء له اسونه تر ارغنداوه، له کنډهاره ترتکسيلا، په هډه، دورد گوخوات، باجوړ، شاهباز گړۍ او نورو بيلو بيلو سيمو کښې ډيرې کتيبې او سکې موندل شوې چه کله کله په دويمه الفباء (آرمی يا يوناني) هم ليکنې ورسره موجودې وې .

دخروشتي الفباء رواج د کنيشکا او هغه داخلافو په ذريعه په تدريج سره له منځه لاړ او ځای يې يوناني الفباء ونيو (۲) .

دمقدوني سکندر له راتګه وروسته ديونانيانو دنفوذ دټينګيدلو په اثريوناني الفباء وروپه وروعموميت وموند .

چيني سياح هيون تسنگ چه په ميلادي (۶۳۰) کال کښې افغانستان ته راغلی ؤ په تخارستان، باميان، کاپيسا، شوغنان او چترال کښې ديوناني الفباء دعموميت روايت کوی (۳) .

۱- ژبپوهنه ۶۵

۲- تاريخ خط ونوشته های کهن افغانستان ـ سنگ نوشته های خروشتی پوهاند حبيبي، په دې باب دعکسي خيرالبيان په مقدمه کې دپوهاند رشاد مقاله ښه مواد لري .

۳- ايراني ژبې داوړانسکي تاليف ۹۵ مخ .

له‌دغه ځایه یقین کولای شوچه د مقدونی‌سکندر د راتګ سره سم یونانی الفباء دافغانستان په‌خاوره کښې مروجه‌وه چه بیاد کوشانیانو او ګریکو باختر په دوره کښې زیات انکشاف ور کړشوی‌دی . د پورتنی روایت اودیولړ کتیبو او مسکو کاتو په شهادت یونانی الفباء په‌دی سیمه کښې د میلادی اوومی پیړۍ ترلومړی نیمایی‌پوری عامه‌وه .

داسلام په اوایلو کښې دیونانی الفباء په اساس دپښتو دخا صوتورو جوړول دعربی الفباء په اساس لکه دروزګان په یوه کتیبه کښې د یونانی الفباء په اساس د(ځ) له‌پاره د عربی الفباء په اساس د(ځ)



توری په‌همدغه شکل جوړ شوی دی . په همدغه کتیبه کښې دآرمی الفباء په‌اساس هم دپښتو څو کلمې لیکل شوې‌دی (۱) .

دپښتو موجوده لیک دعربی الفباء په‌اساس جوړ شوی . د عربی الفباء په چوکاټ کښې دپښتو دخاصو غږونو دپاره‌توری غالباً ډیر پخوا جوړ شوی ځکه چه پښتو ژبه وه‌او لیک به‌یې‌هم‌و،خوپه ځینو روایاتو په‌هجری، څلورمه پیړی کښې جوړشوی‌دی .په دې باب قاضی‌خیرالله په‌خیراللغات(۲) کښې‌داسی لیکلی‌دی چه: دسلطان محمود په

۱ـ تاریخ خط و ۱۱۸،۰۰۰،۱۳۷ مخونه .

۲ـ خیر اللغات (پښتو اردو قاموس) دقاضی خیر الله تالیف په‌لاهور کښې د ۱۹۰۶ کال‌د چاپ سریزه.

زمانه کښې دده دیوه وزیر حسن میمندی (۱) په خاصه اشاره قاضی صیف الله د پښتو د خاصو غږونو له پاره توری جوړ کړل چه هغه (ځ، څ، ډ، ړ، ږ، ښ، ګ) دی او دغه ترتیب خاص رواج و موند. ژب پوهانو د نه هم د لیک دود په بحث کښې د (مرأت الانساب) په حواله د سلطان محمود د وزیر حسن میمندی په اشاره د پښتو د خاصو غږونو د جوړوونکی قاضی صیف الله کښې.

قاضی خیرالله د (ټ) په باب لیکلی چه پښتنو تاجرانو بیا وروسته په سیند او پنجاب کښې د مروج (ت) ور باندې د پاسه (ط) توری په نوې بڼه (معاصره- ټ) واړاوه.

د دغو روایتونو سره سم د پښتو د خاصو غږونو له پاره خاص توری ډیر پخوا جوړ شوی دی، خو د هغو د جوړولو نسبت کله پیر روښان، کله درویزه او کله خوشحال ختک ته کیږی. ښایی د دې علت به یاداؤ چه دوی ته به پخوانی لیک نه وی رسیدلی یا به یې په هغه قناعت نه درلود، نو ځکه د دوی په آثارو کښې دغه لیک دود یا بیخی او ښتی (لکه په خیرالبیان کښې) او یا لږ څه بدلونونه پکښې لیدل کیږی (لکه په مخزن او د خوشحال په آثارو کښې) د عربی الفباء په اساس د پښتو لومړی اثر د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء دی چه د کندهار په ارغستان کښې په (۶۱۲ هـ.ق) کښې لیکل شوی او یوازې اته مخه ورنه پاتی دی. د دغی تذکرې لیک دود د معاصر لیک دود سره ډیر تفاوت نه لری یوازې (ځ) په هم دغه بڼه چه یوټکی د (ج) په شان ورلاندې هم لری لیکل شوی او د (ی) د ډولونو ترمنځه ور کښې توپیر نه لیدل کیږی.

له دغه ځایه لیدل کیږی چه د غه تذکره د پښتو په یوه بشپړ او پر مختللی لیک دود لیکل شوې وه او امکان لری د قاضی صیف الله لیک دود یې مؤلف ته رسیدلی وی (۲).

داسی شواهد هم موجود دی چه د پښتو د خاصو تور و جوړ و ل

۱- په پښتانه شعرا لومړی ټوک کښې د تذکرې عکاسی شوی مخونه و گوری.

۲- غالباً دا کلمه (میوندی) دی چه نسبت یې (میوند) ته شوی دی.

پیر روښان ته منسوبوی چه دلته وړاندې کیږی:

د پښتولوسړی بشپړ اثر د پیر روښان کتاب خیرالبیان دی چه په (۱۰۶۱ هـ ق) کښې دویم ځل د پیرروښان له مرګه (۴۳۰) کاله وروسته د بهارتوی په قلم لیکل شوی دی.

دخیرالبیان له لیکنې څخه څرګندیږی چه د پښتو خاص توری د پیرروښان له خوا جوړ شوی او یا یې پوره انکشاف ورکړی دی. په دې باب دخیرالبیان داعبارت شاهد نیول کیږی.

«او بایزیده! وکښه هغه حرفونه چه په هره ژبه سازیږي دفایدې دپاره دادسیانو» (او بایزیده دحرفونو کښل په تادی، دحرفو نو څرګندول او نومونه (نمون) او ښودل) په مادی، وکښه زما په فرمان په مانند دحروسونو دقرآن او کښیږده په ځینې حروفونوتکی یا غړوندی اویانورې نښانی بی له حرفونو....»(۱)

له دې وروسته د عربی د تورو په شمول په خیرالبیان کښې د پښتو تورو لیکل هم په ځانګړی او هم په مرکبډول وړاندې کیږی، په دغو تورو کښې د(ځ، ړ، ژ) د موجوده تورو سره سمون نه لری په دې معنا چه (ځ) د(د- ورلاندې تکی)، (ړ) د(د- په منځ کښې تکی)، (ژ) د موجوده (ړ) په بڼه لیکل شوی دی.

دولت لوانی (۹۸۰ هـ ق په حدود کښې) هم داخبره تائیدوی چه پیرروښان د پښتو دپاره توری جوړ کړی دی لکه چه وایی:

افغانی لفظ مشکل و لوست کویښ نه شو ـ ورته و شوه کننده دیار لس حرفونه.

دلوانی له وینا څخه معلومیږی چه پیرروښان د پښتو دپاره (۱۳) خاص

۱- دخیرالبیان ۲-۳ مخ ، د پیښور چاپ او د کابل د پوهنتون فوتو کاپی چاپ څلورم الف مخ .

نوی توری جوړ کړی دی ، حال داچه د (ی) نه پرته چه توپیر یې په خیر البیان کښې نه لیدل کیږي) (۱)

په پښتو کښې یوازې (۱۲) خاص غږونه دعربی په نسبت اضافه دی. دیار لسم توری زما په خیال د پیررو ښان په لهجه کښې یوغږدی چه په کانیگرامی اورمړی کښې موجود او د (ږ) (ښ) تر منځه غږ ور کوی (۲). په خیرالبیان کښې ټول توری یویو ځل لیکل شوی دی مگر (ګ ـ ګ) دوه ځله تکرار شوی دی (۳) نو ځکه زه یقین لرم چه د (ګ ـ ګ) تکرار د دې له پاره دی چه یو توری یې ددغه خاص غږ له پاره وضعه شوی دی .

په مخزن الاسلام کښې د پښتو د خاصو تورو یوه برخه (پ ـ ټ ـ چ ـ ځ ـ ډ ـ ړ ـ ښ ـ ګ ـ ڼ) دخیرالبیان دلیکنو سره سمون لری ، مگر د مخزن الاسلام په پخوانیو نسخو کښې د (ځ) په ځای (څ) په خیرالبیان کښې (د ـ ور لاندی ټکی) (ژ) په همدا بڼه (په خیرالبیان کښې د (ږ) په بڼه) او (ږ) هم په همدا بڼه په خیر البیان کښې (د ـ په منځ کښې ټکی) په شکل لیکل شوي چه دغه دري توري دخیرالبیان سره توپیر لري .

د پښتو د خاصو تورو یادونه په مخزن کښې داسې راغلې ده :
« و دیگر معلوم باد که چون حروف در الفاظ افغانی و هندو ی ثقیل می آیند بنا بران علامتی بران آورده میشود تا معلوم گردد که این همان حرف ثقیل است . چنانچه : (ب) چون ثقیل شود سه نقطه در تحت او ایزاد گردد (پ) میشود و گاهی (ت) چون ثقیل شود جز مک در تحت آن داده (ټ) میشود و ...» (۴) .

مخزن د پښتو د (ځ) د پاره توری نه لاره د مخزن ډیره لرغونی قلمی نسخه چه لومړی په (۱۱۱۲) کښې د کریمداد د نمسی له خوا بیا د عبد الغنی کاسی

---

۱ ـ بوازې (ی) غالباً د (يې) په بڼه لیکل شوې ، لکه (پیی، زمیی)
۲ ـ دا ورمړی فونیتیک و گوری .
۳ ـ خیرالبیان څلورم مخ .
۴ د مخزن وروستی بحث و گوری .

ACKU

په لاس په ملتان کښی په (۱۱۴۲) کښی لیکل شوی (۱) د (ځ) په ځای ګاه (ځ) لیکی لکه (نمونځ، پنځه) او ګله (ز) لیکی لکه (زکه، راوزي) د (ځکه، راوځی) په ځای . داخون درویزه دمخزن په دغه ردیف کښی د (ڼ) یا دو نه هم نه ده شوي خو په ځینو نسخو کښی په (ڼ) او په ځینو کښی په (نړ) لیکل شوی دی . په دغه زړه نسخه کښی هم د (نړ) په بڼه لیکل شوی ښایی دلیل یی داوي چه ددرویزه په عقیده د امر کب (ن+ړ) توری دی .

د پښتو دلیکدود دخاصوتورو له پاره خوشحال ختک او دهغه کورنی بیل سیستم لاره .

د پښتو ټولنی په کتابخانه کښی دخوشحال ختک داشعارو دري قلمی نسخي موجودي دي چه ټوای یوډول لیکدود لری . ډیره لرغونی نسخه یي په (۱۰۹۹ هـ . ق) داپرید یو په جانګوړه کښی لیکل شوی ده .

په دغه نسخه د (او نورو) کښی د پښتو توري په دی ډول دي : (پ ، ط) (ورلاندی ټکی د ټ) دپاره . چ (ورلاندي همزه غوندی نخښه د (څ، ځ) له پاره . په دریمه قلمی نسخه کښی (ح) ورلاندی همزه د (ځ) له پاره، (د ، ر) (ور باندي دهمزه غوندي نخښه) د (ړ، ډ) له پاره (ژ، ش) د (ژ ، ږ، ش، ښ) له پاره . (ك) د (ك ، ګ) له پاره ، ن (ور باندي همزه غوندي نښخه) د (ڼ) د پاره .

دخوشحال په لیکدود کښی چه یو نوی شی لیدل کیږي هغه د ثقیلی (ی، یء) موجودیت دی . ثقیله (ئ) کله په (یء او کله په (ه+ي) لیکی . دغه لاندي دوه غزلی :

۱ ـ داوله په سرجوړه کادړی ـ بیا ټیکه په ورځو کیږدي خونړی
۲ ـ په ښایست کښی دي څوك نشته د سیالی ـ که دي څه خو مهر هم وای نتیالی .

چه څنګ په څنګ (۲۷۳-۲۷۴) مخونو کښی لیکل شوی لومړی ردیف په (ه+ی) او دویم په (یء) لیکل شوی دی . په پټه خزانه کښی ددرویزه د مخزن لیکدود تعقیب شوی دی . داچه هوتکیانو به د پښتو دلیکدود دپاره څه کار کړی وی په دي باب ماته معلومات نشته . د (خ) توری

---

۱ ـ دغه نسخه په (ادبی ستوری ـ لومړی ټوك) کي معرفی شوي ده .

چه د(ج) په شان ورلاندې تکی هم لری دسلیمان ماکو په تذکره کښې موجوددی خوداميرعبدالرحمان په وخت کښې د(ځ) په شان ليکل کيده چه ددوو غږونو مشترك توری و (۱) .

داميرحبيب الله خان په وخت کښې چه پښتوتدريس دحبيبی په تعليمی نصاب کښې داخل اودمولوی صالح محمد له خوا ورته (لومړی پښتو کتاب) وليکل شو ، په هغه کښې د (ځ) دپاره داسی توری جوړ شوچه د(چ ،خ) په شان يې يوټکی پاس او بل يې لاندې لاره - دمخزن په څينو وروستيونسخو کښې هم دغه توری په دغه بڼه ليدل کيږی او(پښتوسر کی) هم دا توری همداسی وسانه .

مولوی صالح محمد دزور کی د پاره (زور) ليکه اود (زور) په صورت کښې يې حرکت نه ليکه .

ترمخه وړاندې شوه د ثقيلی (ی) توپير دخوشحال په لرغونی(۱۰۹۹ ه،ق) قلمی نسخه کښې ليدل کيږي چه کله په (ه + ی او کله پهٔ ی ء) ليکله شوې . دپښتو ادبی انجمن په (۱۳۱۱ ه) کښې منځ ته راغی او ثقيله (ی) يې په (ی ء) ومنله .

دتانيث (ی) په دغه بڼه کښې بیا وروسته منځ ته راغلی‌ده . دپښتو ادبی انجمن د (ځ) له‌پاره هم‌همدغه شکل‌ومانه . دپښتوادبی انجمن دپښتو دبشپړ ليك دود بنسټ کيښود چه بيا وروسته دپښتو ټولنی د غونډی په اساس په (۱۳۲۱ ه،ش) کال په لومړی فيصله او بيا په (۱۳۲۷ ه ، ش) کال کښې په‌دويمه فيصله کښې لږلږ ترميمونه ور کښې‌وشول اودپښتو موجوده‌ليك دود په‌لومړی فيصله کښې يوازې دافغانستان دليکوالو له‌خوا اوپه‌دويمه فيصله کښې دټولی پښتونخوا دليکوالو له‌خوا ومنل شو .

---

۱ - داميرعبدالرحمان په‌امرپه‌سلطنتی مطبعه کښې‌دعبدالقادرخټك (يوسف اوزليخا) چاپ‌شوی کتاب وگوری‌ء .

ساکی ، تخاري ، يفتلي
ژبې

د شلمې پېړۍ تر پیل پورې د ساکي او تخاري ژبو په باب د علمي پلټنو په لمن کښې څه معلومات نه وو. د دغو ژبو ویونکو چه په دویمه قبل المیلاد پېړۍ کښې د امو د جریان په پاسنۍ ساحه، باختر، درنګیان، آراخوزیا او خوا او شا کښې لویه وا کمني لرله. همدارنګه د هیون (hyon) یفتلیا نو د ژبې په باب هم څه مواد د پوهنې په واک کښې نه وو. د دغو ټولو قبایلو د ژبو په باب معلومات د هغو سکونه په لاس راغلي دي چه د دوی او د ساکو شاهانو د عصرو نو پورې مربوط او په یوناني الفبا لیکل شوي دي لکه: (شاو، شا، شاو نا نو شا) (۱) او خوتای ـ Xvatay (۲). له د غو سکو څخه د لوسړي ځل له پاره داعقیده پوهانو ته په لاس ورغله چه ساکي تخاري او یفتلي قبایل آریایي ژبې وو.

1— Sha, Shao, Shaunanu sha.

(۲) ـ دغه رېښه چه په (خدای، خاوند) کښې لیدل کېږي هم د بادشاه په معنا ده.

د شلمې پیړۍ په پیل کښې (خصوصاً د ا ، ستین) دعلمي پلټنو په ذريعه پهخوتن او د چینی تورکستان پهځینو نورو حوزو کښې یولړ کتیبې و موندل شوې چه په براهمنی لیک لیکل شوی او بودایی مضامین یې لرل .

ددغو متنونو دلیکلو تاریخ چه میلادي (۷-۱۰) پیړیوته رسیږي له سانسکریت څخه زیات ترجمه شوي دي . ددغو متنونو ژبه دهغو سکو دژبو سره یوه وه ، چه په باختر ، تخارستان او ورڅېرمه نورو سیمو کښې موندل شوې وې .

دغه متنونه د (ساکي خوتني) ، (خوتني) او په نورو نومونو اوس یادیږي . ددغو متنونو په جمله کښې داسې متنونه هم شته چه رسمي ، نظامي ، دنیوي مضمون لري اویا شخصي لیکونه دي ، همدا رنګه بودایي منظومې قصیدې هم لري .

د خوتني متنونو څخه سربیره دچیني تورکستان دیار کند او قاشقار نه داکسو پهلاره کښې دمرال باشي پهحوزه کښې هم یولړ کتیبې په ساکي ژبه موندل شوي چهد شخصي لیکنو خصوصیت لري .

ډیر وخت پهدې باره کښې مشاجره روانه وه چهتخاري ژبه په کوم نامه باید یاده شي .

دې نظریې لا په ۱۹۰۸ کال کښې ډیر پلویان لرل چه تخاري ژبه دباختري خلکو ژبه وه چه په (۸-۹) پیړیو کښې دچیني تورکستان په تورفان کښې خپره وه (او کهدساکي ژبې سره یووه نه ګڼله شي) نو دهغې ساکي سره به ډیره خپلوي لرله چه متنونه یې په خوتن او مرال باشي کښې موندل شوي وو .

ساکي ، تخاري ، هیوني (یفتلي) قبایل چه له قبل المیلاد دو یمې پیړۍ څخه د میلادي (۳-۵) پیړۍ پورې دافغانستان او دمنځنۍ اسیا نورو سیموته راغلي وو دهغو باختري قبایلو یوه برخه وه چه په چیني

تور کستان کښې او سيدل. ددوی بله برخه چه په دغو مهاجر تو کښې ددوی سره نه وه د (تاريم) په حوزه کښې ميشته وه .

دا نظريه چه ساك ،تخاريان او هيو نيان باختري قبايل دي له نويو اركيالوژيکو کيندنو او موندنو نه وروسته تائيد شوه چه يو لړ کتيبې ديوناني الفباء په اساس وموندل شوې (۱) .

داوو سی پيری په لومړی نيمايی کښې چه چينی زاير سيوان څزيان دامودجريان پاسني برخې ليدلی وې دتخارستان دالفباء په باب يې داسې ليکلي وو: «دتوخولو (تخارستان) ليکدسولی (سوغد) (۲) دليک سره ډيرتو پير لري او (۳۵) توري لري. افقی له کيڼې خوا نه ښې خواته ليکل کيږي» (۳)

ددغه روايت له مخې څرگنديږي چه تخاريانو لا په اوومه ميلادي کښې ديوناني الفباء په اساس ليك ښلیو او دخپلې ژبې دغږونو دافادې ورپې گرزولیو. په يوناني کښې چه د کوم غږ (ش) توری نه و هغه يې ورته په خپله ژبه کښې جوړ کړیو ديوناني الفباء (توري ۲۴) دی او اودغه چينیزايرد (۲۵) تورو روايت کوي .

دتخاري ژبې ليکلی آثارد څرسر والی له مخې لږدي او متأسفانه ښه نه دي ساتل شوي ، اکثره ښه نه دي لوستل شوي او دژبې دمطالعې له پاره ډيرلږ مواد لری او هغه دادي :

۱- مقد ماتی فيلا لوژي ۲۰۵-۲۰۷ مخونه .

2-tu—xo—lo,suli

۳- ايراني ژبې ۹۵ مخ ، همد ار نگه مقد ما تی فيلا لوژي ۱۶۰-۱۶۱ مخو نه .

۱- د کوشانې او يفتلي شاهانو په سکواو ټاپو باندې افسانې ،

۲- د کتيبو هغه ټوټې چه په (۱۹۱٦) کښې ا ،ستين دچينې تورکستان په لوېلان کښې موندلې دي .

۳- هغه درې ورې کتيبې چه دفرانسوي لرغون پيژندونکې هيئت له خوا دلرغونې باختر په خاوره کښې په (۱۹۵۴) کښې موندل شوې (يعنې دسره کوتل کتيبې) .

۴- ديفتلي کتيبو ټوټې چه په تورفان کښې المانې لرغون پيژندونکې هيئت له خوا موندل شوې اودو . هانس له خوا خپرې شوي دي .

۵- هغه دوه کتيبې چه دافغانستان په اورزگان کښې په (۱۹۵۳) کال کښې موندل شوې او د ا.د.ه. بيوار له خوا په لندن کښې په (۱۹۵۴) کال کښې خپرې شوي، دغه کتيبې په ميلادي (۵۰۰) کال کښې ليکل شوي دي .

٦- په يوه قبر کښې دخوم د کتيبې ټوټه چه په دوشنبه (۱۹۵۱) کال کښې موندل شوي او په لومړي يادو يمه ميلادي پيړۍ کښې ليکل شوې .

۷- دسوغدي بادشاه ديواشتيچ په بوه سند باندې ليکنه چه داتمې ميلادي پيړۍ په سر کښې ليکل شوې .

ددغو ټولو اسنادو له هغو کلمو څخه چه لوستل شوي دي داثابتيږي چه ددغو ټولو اسنادو ژبه دباختري (ساك - تخاري) ژبو،د باليکتو نه دي. دساكي تخاري ژبو د محققينو په جمله کښې دنارو يژي محقق ستين کونو (۱) آثار ديادوني وړدي (۲) .

تخاريان چه دامو دمنځنۍ جريان په سيمه کښې دگريکو باختر دبادشاهۍ په گاونډ سيمه کښې ميشته شول په چيناۍ ماخذونو کښې

---

۱ - S. sten konow

۲- مقدماتي فيلالوژي ۲۰۷-۲۱۰ مخونه .

د(یوې چژي- ue chzhi) په نامه یادیدل . (لکه چه تر مخه وویل شول ددغو قبایلو یوه برخه هماغلته په چینی تورکستان کښې پاتې شوه. دلرغون پیژندونکو له خواچه په چینی ختیځ تورکستان کښې دنولسمې په پای او دشلمې په سر کښې پلټنې شوې هغوی د تکله مکان - (takla Makan) دلویې دښتې دشمال ختیځ په حوزو کښې دمیلادي لومړیو پنځه سوه کلو نوپه جریان کښې دد اسې قبایلو له خوانیول شئ چه ژبه یې اینډو اروپایی ژبوته نژدې وه. (۱)

ددغو قبایلوله پاره لومړی دوه اصطلاحگانې وضع شوې:

تخار، الف: (چه په تورفان او کره شار کښې اوسیدل)

تخار، ب: (چه د چینی تورکسان په کرشا راو په کوچې کښې اوسیدل). مگر ددغه گروپ ژبوته د(تخاری) نوم ورکول درست نه وو. ددغه نوم په ځای په (۱۹۲۵) کال کښې دا کادیمسین ولادیمیر څوف له خوا (کوچانی کره شاری) نوم ورکړ شو. په دغه گروپ دلیکلو کتیبو تاریخ د(۵-۸) پیړیوتر منځه دی. دادا اینډو اروپائی ژبو خاص گروپ و چه اوس له منځه تللی دی(۲)

دساکی ژبی دیوې کتیبې یوه ټوټه چه په میلادی (۷-۸) پیړی کښې لیکل شوی دیوه جنگیالی (کهوچا) نوم ساو لس ځبرور کوي چه خوتن یې پرېښود، دځینو محققینو(۳) په عقیده امکان لری چه (کهوچا) د(کوشان) سره نژدیوالی ولري. تخاریان چه کله له خپل اصلی ټاټوبی نه جنوب ته لاړل دساکو سره گډ شول اویوه لویه اتحادیه یې جوړه کړه.

۱- د پاکستان او لسو نه ۸۴-۸۹ مخونه

۲ - « « « ۵۴-۵۸ مخونه .

۳- داعقیده دو. س. ره بییف دسیاتو فسکی ده. همدغه کتاب ۸۶ مخ .

دو.ب .هیننګ په عقیده کله چه دوی په باختریا نوېرې وسوند تخاریا نود هغو ژبه خپله کړه .دا نظریه ډیرو پوهانو او مؤرخینو تائید کړې چه د تخاریانو (او کوشانیانو) دو، اکمنوژ به باختری او دخوتن او مرال باشی د کتیبو دژبې اودسا ګود دیالیکتو نوسره نژدې خپلوي لرې.

چینی زایر (سیویان څزیان چه تخمیناً په میلادی (۶۳۰) کال کښې تخارستان تـه راغلی ود تخاري ژبې په باب داسې خبرور کـو ی: «د تخارستان ژبه او لیک د نورو باد شاهیو سره تو پیر لري. لیک یې افقي دی، د کینې خوا نه بنې خوا ته لیکل کیږی اودا د بیاتو حجم یې له سوغدی څخه همزیات دي» دغه چینی زیراد همدغه تیپ الفبأ او لیک دود یادو نه په باسیا نو، کا پیسا، شو غنان اوچترا ل کښې کو ی. په دی کښې پوهان شک نه لري چه همدغه لیک دود په کوشانی دوره کښې مروج و. او حتی له همدغه لیک څخه په اوومه میلادي پیړ ی (اوغالباً له هغې وروسته) هم استفاده کیدله (۱).

یفتلیان :

دهیو نیتو یفتلیانو دتوکم په باب موضوع پوره روښانه نه ده د ځینو محققینو په عقیده یفتلیان د تورکی توکم څخه دی .

دجرمنی پـوهاند ا لتهیم وا یی : چـه یفتلیا ن او کید اریـان یوشی دي چه د معاصر افغانستان په شمال کښې یې دڅلور مې میلادي پیړی په دریمه نیمایی کښې دولت جوړ کړی و .دده په عقیده (کید یر) یا (کید ار) دلوید یځ معنا ور کوی ، نو کیداریان تورکی ژبی ګونیان دي چه د باختر ی هیون - (Hyon) قبایلو د اتحاد یې مشرتوب یې په غاړه و .

دس.پ. تولسوف په عقیده یفتلیان د بومی باختریا نو (لوی سالک) (مساګیت) او تور کی ګون د ګلهو ن په اثر تشکیل شوی دی. د-پ ګیر شمن په عقیده هیون چه د اتحاد یې مشرتوب یې په غاړه لاره د کوشانیانو سره دتوکم له مخې خپلوان و و.

---

(۱) -ایرانی ژبې ۹۵ مخ .

ف. ماك گاورین ،س . کنوو، ك. اینوکی(۱) او ځینی نور پوهان عقیده لری چه یفتلیان د باختری قبایلو د اتحادیی نوم دی. ددغی موضوع د اثبات له پاره دوی ځینې شواهد راوړي چه ثابتوی دیفتلیانو ژبه آریایی باختريوه.

پهوروستیو وختو کښی دغی نظریی دزیاتو محققینو د تأئید ملاتړ حاصل کړی دی. دغه اتحادیه دڅلورمی پیړی په لومړی نیمایی کښی جوړه شوې وه چه د کوشانیانو د امپراتوری سقوط او ددغی اتحادیی جوړولو ددغی سیمی د باختري قبایلو په قلمرو کښی کوم بدلون رانه وست او هماغه باختري قبایل وو چه خپل مملکت یی اداره کاوه.(۲).

د باختری ژبو څانگی :

باختريژبی (اودیالیکتونه) چه د پښتیك ژبو(۳) په نامه هم ځینو محققینو یاد کړي د د شت لوت او د شت کویرلوید یځ ته د معاصر افغانستان په سیمه او هغه ته ورخیرمه د منځنی اسیا په نورو برخو کښی تاریخی لرغونی موقعیت لري او ځینې یی لکه (ساکی) له همدغه ځا یه لیرو سیمو ته خپرې شوې دي.

دغهژبی پهخپلو ار پهدوو څانگو ویشل شوې دي :

۱- جنوبی څانگه .

۲- شمالی څانگه.

دجنوبیی باختري ژبو په څانگه کښی باختری، ساکی، پښتو، پامیري مونجانی، اورمړي او پراچی ژبې شاملیدي همدغه د افغانستان معاصره سیمه (باختريا) اوهغی ته ورخیرمه ددغو ژبو اصلی ټاټوبی دی.

I-F. Mak gavren —S. Konow —K. Enoki

۲ - دپاکستان اولسونه ۸۹-۹۱ مخونه.

۳-دهند، نیپال، سیلون... ژبې ددوریانکوف مقالهو گوری.

او په دی باب د (پاکستان اولسونه) ۶۱ - ۶۲ مخونه.

له دغه ځایه بیا چینی تورکستان ته هم خپرې شوي چه هلته او دلته په لرغونو عصرونو (قبل المیلاد دویمه پیړۍ کښې) ساکی-تخاري ژبې او دیالیکتونه خپاره شول .

ژوندۍ ژبې دهمدغو ساکو - تخاري ژبو اود یالیکتونو بقایا او پاتې شونې دي (۱).

په منځنیو پیړیو (له څلورمې ق.م نه تر میلاد دي اتمې ، نهمې) کښې دلته، باختری ساکو-تخاری او یفتلی ژبې خپرې وې چه له هغو څخه یوازې دساکی (خوتنی) ژبې کتیبې په تورفان او دباختری ژبې کتیبې دبغلان په سره کوتل کښې موندل شوې دي.

دباختری شمالي ژبو گروپ له سوغدی، خوارزمي، سکیفی، الانی، او سیتی او یغنوبي څخه عبارت دي چه دغوژبوته سکیفی ځانگه هم ویل کیږي. له دغوژبوڅخه اوس یوازې یغنوبي او سیتی ژبې ژوندۍ دي.

دباختری جنوبي او شمالي ځانگو ترمنځه دویش یولږ خصوصیات شته چه یو له هغو څخه دادی چه په شمالي گروپ کښې داسم د جمع نخښه (ت) (ته) (۲) ده مثلاً سوغدی: (ورترت= ورونه)، (پریشتیت=پرښتې).

یگنوبي: (غرت = غرونه)، (ژو توت = زامن).

او سیتی: (سرته = سرونه)، (دورته = ډبرې).

په خوارزمي کښې دغه د(ت) غبر په (څ) اوښتی دی.

خوارزمي: (نیغوسیځ = نغوږ ونکی) اوریک (وروځی) (۳).

دلته لومړی باختری جنوبي ژبې وړاندې کیږي .

۱-(مقدماتی فیلالوژي) ۳۴۶ - ۳۴۷ مخونه همدارنگه (ایرانی ژبې) ۱۷۵ - ۱۷۶ مخونه . داور مړی او پراچی موضوع لا بشپړه نه ده روښانه شوې خو دهمدغې خاوری لرغونی ژبې دي.

۲- t, ta

3 Wr,trt, pryshtyt- zhutot, sar-ta, dur-ta-nighusic,awric.

ACKU

باختر
او باختري ژبه

ACKU

(باختر) یا (باختریا) دافغانستان دیوی لرغونی سیمې نوم دی چه دامو په پاسنی او منځنی جریان کښې واقع د شمال له خوا دغیسار ترڅو کی او دجنوب له خوا دهندوکش پوری غزیدلی ده ، چه د ننني تخارستان، کندز ، بغلان ، بلخ او ځینو ور څیرمه سیمو سره سمون خوری . ددغې سیمې مرکز دافغانستان لرغونی تاریخي ښار بلخ و ، چه د باختر، باکتریا ، باختریش ، بخدای او با لهیک ذیس په بیلو بیلو نومونو په اسلامی او داسلامي دوری تر مخه یونانیانو، عربو، هندیانو او پارسیانو یاد کړی دی .

ددغې لرغونې سیمې نومونه هم په اویستا او دزړی پارسی په لیکنو او دلرغونو یونانی جغرافیه پوهانو په آثارو کښې قید دی .

له دغو ټولو لیکنو څخه څرگندېږي چه ددغې تاریخي سیمې اوسیدونکی آریایان دی مگر داسې تاریخي لیکلی موادنه وو چه ددغو خلکو ژبه تری په څرگند ډول معلومه شی چه په آریایی ژبو کښې کوم موقعیت لری .

په دغه سیمه کښې په قبل المیلاد دویمه پیړۍ کښې ساک ـ تخاری قبایل میشته شول چه یوه برخه یې خاصه د تخار (تخارستان) په نامه یاده شوه .

خلور پنځه پیړۍ وروسته دغی سیمې ته دهیونیت (یفتلیانو) بل گروپ راغی . دساک ، تخاري توکم ځځه ځوشاهـی کورنی منځ ته راغلی چه یوه ډیره مشهوره یې دکوشانیانو کورنۍ ده . دکوشانیانو په عصر کښی دبوسې ژبو دلیک له پاره یونانی الفباء ومنله شوه . چه په یونانی الفباء دکوشانی او یفتلي شاهانو دعصر ډیری سکی ، تونې او نورلیکلی آثار موندل شوی چه اوس هغې ته (تخاري لیک) اصطلاحاً ویل کیږی . مگر دالیکلی مواد دومره زیات نه وو چه دهغوله مخې ددغو لیکل شویو آثارو ژبه (یا ژبې) وتها کل شی .

کله چه (۱۹۵۱ ع) کال کښی دفرانسوی لرغون پیژندونکی هیئت له خوا په اتفاقي ډول دسره کوتل کتیبه وموندل شوه . محققین په دې قانع شول چه دا یوه باختري ژبه ده چه دپیرسیک گروپ سره هیڅ ډول نسبی خپلوی او نژدیوالی نه لـری .

ټول ختیځ پیژندونکی په دی متفق دی چه ددغو کتیبوژبه دافغانستان بومی ژبه ده او په بشپړ لوستـیـې کـښـې هم تراوسه نه دی بریالی شوي خوپه مقدماتي ډول یې هغه دافغانستان یوه داسی لهجه بللې چه دژ بنیو موادو په لحاظ له یوی خوا دپښتو او مونجانی (ایدگا) او له بلی خوا دسوغدی ، خوارزمی ، اوپارتیانی ترمنځه واقع ده .

هینینگ یې د (باختري ژبی) او ماریک (دکتیبې لوسړی مفسر اوخپرونکی) یې دالبیرونی (یولسمه پیړی) اوچینی سیاح (هیوان ځانگ) (اوومه پیړی) په استناد د(ایتوتخاري حقیقي تخاري) په نامه یادوی (۱) .

---

۱ - دماریک مطلب د (ایتیوتخاري = حقیقي تخاري) نه هغه تخاري الف او تخاري به نه دی چه ویونکی یې دچینی تورکستان نه راغلی دی اودساکو تخار په نامه یادیږی اودچین په [تور کستان] (کوچی) او (کره شار) کښی یې کتیبې موندل شوی دی ، بلکی دماریک مطلب دتخاري نه یو باختري (شرقي آریایی) دیالیکت دی چه په همدغه سیمه کښی لرغونی موجود و . په دی باب (ایرانـی ژبی) داو رانسکی تألیف (۲۲ او ۹۷) مخونـه وگوری .

هینینګ او ماریک په دې متفق دي چه داد باختریولرغونی دیا لیکت دی چه کوشانیانو پری خبری کولی او د کتیبو دلیکلو تاریخ میلادي .و یمه پیړی ګڼی .

یولړنورختیځ پیژندونکی هم ددغی کتیبی په لوست او تحلیل کار کوی ، خودهغوی د کار نتیجه متاسفانه لاتر اوسه لاس ته نه ده راغلی مثلاً جرمنی او اتریشی نامتوپوهان هیلیموت هومباخ اورابرت ګیوبیل په دې باب لیکی : «دفیلالوژیکی شواهدو سیستماتیک چوکاټ یوازینی میتود دی چه دهغه په واسطه دسره کوتل د کتیبو اکثری پوښتنی په علمی صورت حل کیدای شی» .

دبغلان دکتیبې لومړۍ نسخه - دکابل په موزیم کښې

له مونږ سره د منځنۍ اسیا ټولې یوناني کتیبې د شواهدو په حیث شته خو ځینې یې لا نه دي خپرې شوي . مونږ فکر کوو چه دغه کتیبې که څه هم مشکلې دي خو مونږ یې په حل کولو بریالي شوي یو . دغه کتاب چه مونږ یې چمتو کوو داسې ټول شواهد لکه سکې ، ټاپې ، متنونه او کتیبې به ولري دا اسناد په هماغه ژبه لیکل شوي چه د سره کوتل کتیبې پرې لیکل شوي دي ... (۱) .

دغه ژبه چه په هرنامه چا بللې خو بیا یې هم هغه یوه باختري ژبه بللې نه بله .

تر کومه حده چه ما د کتیبې لوست او تحلیل ته پاملرنه کړې ده، دې نتیجې ته رسیدلی یم چه کتیبه په پښتو لیکل شوې ده یوازې دو مره توپیر شته چه د دغو دوو زړو کلونو په جریان کښې لکه چه په ژبو کښې طبیعي قانون دی څه لغات یې له لاسه ور کړي او لږ څه نوري او بښتنې ور کښې منځ ته راغلي دي . دا اوښتنې او تغیرونه له هغو لږ دي کوم چه د فارسي او ساساني پهلوي تر منځه موجود دي .

دکتیبې الفباء :

د کتیبې دلیک الفباء یوناني ده یوناني الفباء د پیکتو ګرافیک (تصویری) او ایډیو ګرافیک (په نښو لیکک) نه وروسته د لرغوني مصري ، اسوري ، زړې هندي ، عبراني او فینیکي پسې په فونو ګرافیک لیک کښې وروستۍ مرحله ده چه لرغونو یونانیانو پرانیستلې ده . لرغوني یونان دغه الفباء له فینیکیانو څخه اخیستې او د خپلې ژبې د غږونو د غوښتنې سره سم یې په هغې کښې یو لړ تغیرونه راوستل : مثلاً غږیز توري فینیکانو ویل خو لیکل یې نه ، د هغو د پاره یونانیانو خاص توري وټاکل یوناني الفباء ورو په ورو د لاتیني ، سلاو یاني او نورو اروپایی ژبو د الفباء مور شوه .

د مقدوني سکندر د تهاجم نه وروسته داسې شرایط منځ ته راغلل چه

---

۱ - دختیځ پیژندونکو کانګرس (۱۹٦۳) کال نوی ډیلی .

دهخا منشیا نو د دولت دقلمرو په ځینو سیمو کښې یونانی کلتور او لیک ومنل شول.

لومړیو پارتیانی شاهانو (فیلیلین) د(میلادی لومړی ترنیمایی)خپلی سکی په یونانی الفباء ضرب کړې.

ددریمی میلادی پیړی دساسانی شاهانو څخه داسی کتیبی شته چه په آرسی لیک دپهلوی دلیکنوسره متوازی یونانی ترجمی په یونانی الفباء ور کښې موجودې دی.

دیونانی الفباء دترویج ښه سیمه (ددریمی نیمایی نه دقبل المیلا د دویمی نیمایی پورې) په گریکو باختری دوره کښې دباختر سیمه شوه. په باختر کښې دیونانی فاتحاتو پاتی شونی نظامی قوه دومره زیاته نه وه، نویونانی ژبی په باختری ژبې (ژبو) دومره اغیزه ونه کړای شوه مگر دبومی ژبود پاره یې الفباء ومنله شوه، انکشاف ور کړ شو، د سیمی دژبو دخاصو غږونو دپاره ور کښې خاص توري ورو په وروجوړ شول چه دغی عنعنی دگریکو باختر ددولت له سقوط وروسته هم دوام و کړ.

دکوشانی امپراتوری اوله هغې وروسته دیفتلی شاهانو په دورو نو کښې همدغه الفباء مروجه وه. دکوشانی او یفتلی شاهانو په سکو او لیکلو اسنادو دیونانی الفباء دتوریو دتاریخی سیر څیړنه محقق ته داعقیده ور کوی چه دافغانستان په معاصره خاوره کښې وخت په وخت دیونانی الفباء په تدریجی پراختیا او عمومیت باورولری.

چینی زایر هیوان څنګ Hiuen Tsiang د میلا دی اوومی پیړی په لومړی نیمایی کښې دافغانستان معاصرې خاورې ته دوه ځله په(۶۳۰-۶۴۴)راغلی ؤ ددغی سیمی دژبو، ادبیاتو او الفباء په با ب دا سی روایت کوی:

دتخارستان لیک دسوغد دلیک سره بیخی توپیرلری او(۲۵)توری لری.دغه لیک افقی له کینی خوانبی خواته لیکل کیږی.

دغه زایر دهمدغه ډول الفباء یادونه علاوه پرتخارستان په بامیانو،

کاپیسا ، شوغنان او چترال کښې هم کوی. په دغه لیک یولړ لیکلی اسناد دافغانستان په مرکزي، جنوبي، او ختیځو برخو کښې هم موندل شوی. که څه هم ددغه چینې زایرله روایته معلومیږي چه د دغو سیمو خلکو د یونانی الفباء په توریو کښې یوازې یوتوری اضافه کړی چه هغه د(ش P) توری دی ځکه چه دغه زایرد (۲۵) توریو روایت کوی حال دا چه په یونانی الفباء کښې اصلاً (۲۴) توری دی مګر دوروستیو لیکلو اسنادو دلوست او تحلیل نه معلومیږي چه باختریانو په ځینوغږونوله پاره ځینی توری سره مرکب کړیوی، مثلاً (غ) د یونانی (ګک) په تکرار یا بالعکس(د بغلان په کلمه کښې).د پښتود (ښ) له پاره ورته د (XP) مرکب توری اوداسی نور.

په باختر کښې لومړی یونانی لیک دخپل اصل په شان لیکل کیده، خوتر څوچه وربا ندی وخت تیریده. خپله بڼه یی وروپه ورو اړوله او مات لیک (۱) منځ ته راته چه د خپل اصل (پخوانی لیک) سره یی ورته والی له منځه ته او سر بیره پردې دبومی ژبو دغږونو له پاره ور کښې خاص توری جوړ شول لکه: دروزګان او توچی په کتیبو کښې چه لیدل کیږی او حتی داسی هم لیدل کیږی چه له ښی نه کینږی خواته کتیبې لیکل شوی دی(۲).

دغه وخت چه د باختر په خاوره کښې یونانی لیک عام ؤ، د معاصر افغانستان په شمال (سوغد) کښې سوغدی لیک (د پهلوی یوډول) او په لویدیځ (معاصر ایران) کی پهلوی لیک مروج ؤ. په لویدیځ کښې لومړی خروشتی او ورپسی د پنځمې میلادی له پیله برهمنی لیک مروج ؤ.

محققین یقین لری چه دا لساماني (میلادی دولسمه پیړی) په دغه روایت کښې به یونانی الفباء مطلب وی چه وایی چه دعربو دفتوحاتو په دوره

1—Cursive

۲- وروستی مطلب په(تاریخ نوشته های کهن افغانستان) مولف پوهاند حبیبی ۱۵-۱۶ مخونه وګوری.

ACKU

کښې په باشګیر د(معاصرفیض آباد) او قوبادیان (جنوبي تاجکستان) کښې خاصه الفباء موجوده وه (چه په هغې کتابونه لیکل کیدل)(۱).
له دغو ټولوتاریخي اسنادو څخه داسې معلومیږي چه یوناني الفباء هم د پښتو او هم دنورو باختري ژبوله پاره داسلام ترپیله موجوده وه چه بیا دعربي الفباء په اثر له منځه لاړه.

دغه چیني زایر ددغې سیمې داد بیاتو په باب هم روایت کوي چه داد بي(لیکلو) آثارو حجم یې لوی او له سوغدي څخه زیات دی. دده د روایت له مخې د باختر (تخارستان) ژبه د نورو باچا هیو دژ بې سره زیات توپیرلري مګرد بامیانو دژبې سره یې توپیر بیخي لږدی.
همدارنګه د شوغوني (پامیري) ژبو سره هم دغه باختري ژبه توپیر لري اما چترال (شانګ مي) ژبه د باختري نه بیخي لرې وه.

دلته یوناني الفباء دلاتیني ترانسکریپسیون او په تخمیني ډول د عربي الفباء په اساس د پښتو دتوریو سره وړاندې کیږي:

ګڼه	یوناني الفبا	لاتیني	پښتو	ګڼه	یوناني الفبا	لاتیني	پښتو
1	A	A·Ă	آ·ا	13	Γ	g	ګ
2	b	B	ب	14	ΓΓ	g	ګ
3	Π	P	پ	15	[illegible]	L	ل
4	Φ	F	ف	16	M	M	م
5	T	T	ت	17	[illegible]	N	ن
6	X	X·X̌	خ·ښ	18	Ш	W	و
7	[illegible]	D	د	19	O	O	و
8	[illegible]	R	ر	20	Y	H	ه
9	[illegible]	[illegible]·J	ج·ز·ځ	21	[illegible]	E	ې
10	C	S·Ċ·C	س·ج·څ	22	h	Ě	ی
11	[illegible]	Š	ش	23	I	I	ۍ
12	K	K	ک				

۱ـ د مقدماتي فیلالوژی (۱۶۰-۱۶۱) مخونه، همدارنګه ایراني ژبې ۹۵ مخ څخه پورتني مطالب اخیستل شوي دي.

دلته‌دسره کوتل د کتیبې دیوی زیاتی برخی‌لوست اوتحلیل وړاندی کیږی‌اوو به لیدل شی چه‌داژبه دپښتوسره دو مره نژدیوالی‌لری لکه دمورا و لورترمنځه :

دسره کوتل کتیبې لومړی جمله :



تشریح :

۱- (Eido) - آیده-دا ،دغه) داپه‌دویم حالت کښې دا شاری ضمیر لرغونی فورمه ده .

دغه ضمیر که څه هم په اینډو یوروپی ژبو کښې ژوره ریښه‌لری مگر یه‌زیاتو باختری او دهغوپه جمله کښې نسبت نوروته په پښتو کښې‌ژوندی اوډیره عامه ریښه‌لری‌لکه (دا، دغه دغسی،دي،دې،دوی) او نور .

دلته یی‌دمقایسې‌دپاره‌لومړی په‌ځینو باختری او بیا په اینډو یوروپی ژبو کښې وړاندی کوم :

شوغنانی(ud, yud(دمتوسطدپاره‌اشاره)

روشانـی Ad-Ed متوسط Ud-Ida دلرې د پاره
بارتنگی od ad, ud
سریکولی du, duk ewd
یازگولـیامی day dim دقریب د پاره(اذ=جمع)
مونجانی day, daf (متوسط جمع)
اشکاشمی id, don,(دقریب د پاره)
سوغدی yd, ed
پارتیانی yd, ed
اوستی adom (دوی)جمع.
دا کلمه په دی معنا په پیرسیکوژبو کښې د (د) له‌غږه‌بې برخې ده :
زړه پارسی ـ ایتـه
پهلوی- ایـن En
پارسی- این
تـالیشی I
په ‌ایندو یوروپی ژبو کښې د پښتو ددغه اشاری ضمیر لټو نه او مطالعه ژبپوهنی ته‌اجـازه ورکوی‌چه داضمیرپه‌دوه توکوو یشی:
(الفـې —e)ب (دا لوسړی‌توکی‌تقریباً په ټولو ایندو یوروپی ژبو کښې داشاری دپاره موجوددی : په‌سلاو یانی‌ژبو کښې د(e) په بڼه لکه‌په زړه‌سلاو یانی کښې(ese)داسی،زړه‌روسی ـe-ce) (دا) نوی روسی (eta ـ دا) سانسکریت (a—sau ـ هلته) (a-das هغه) a—sya ـ هسی (لا تینی (e-quidom) ، کرتی(Li—dai)زړه‌جرمنی
.(oda-I—do

دغه اشاري‌ضمیر ددویم توکی‌جوړښت نسبت ټولوایندو یوروپی ژبوته (لکه چه‌په‌مقایسه کښې وړاندې‌شوه)په باختری‌ژبو کښې عام دی. ددغه اشاری‌ضمیر(ارکیتیب لوسړی بڼه)په‌ایندو یوروپی ژبو

کښی د(ی-E) په غیر تثبیت شوی ده. پښتو کښی دخپلواك متصل غایب ضمیر (یی) په فورمه دغه ضمیر ډیر عام دی لکه په دی جمله کښی :
(زه یی وینم) (۱)

په پاس ډول سود پښتود اشاری ضمیر لرغونی ریښه راوسپړله چه د کوشانیانو له وخته ییتراوسه خپل لومړیتوکی له لاسه ور کړی دی.

دغه اشاری ضمیر دیونانی الفبا په(O) ختمیږی چه کله دمعاصری پښتود مجهول واو کله دزوره کی سره (لکه چه په الفبا کښی ورته اشاره وشوه) مقابله خوری .

دلته په دویم حالت کښی واقع دی . دمعاصر فونیتیك په حکم دغه(O) دزورکی غیرافاده کوی لکه په معاصر اشاری ضمیر(ده ـ دغه) دویم حالت کښی مثلاً : (ده وویل) (زمونږ په گرا مری اصطلاح کښی اوس دا ضمیر دشخصی په نامه یادیږی) .

۲ ـ ملیزه (ما لیزه) Malizo دا دا شاری (ییده) ضمیرمشار الیه دی . دمقا یسوی ژبپوهنی دامکا ناتو سره سم ددغی کلمی تحلیل ته

۱ـ په دی باب له لاندې منـابعو استفاده شوی ده :

الف :(دروسی ژبی ایتمولوژیك قاموس) دویم توك مؤلف ا، گ، پری ابریژنسکی مسکو ۱۹۵۹ کال ۱۲۶۵ـ ۱۲۶۶ مخونه .

ب :(پامیری ژبی) مولف ت. ن پخا لینه دشوروی دعلومو دا کاډمی خپرونه مسکو ۱۹۶۹ کال .

ج :(دیاز گولیامی او شوغنانی ژبو دگروپ تر منځه دخپلوی رابطه) مولفه و. س سوکولوفه دشوروی دعلومو دا کاډمی خپرونه لیننگراد ۱۹۶۷ کال .

د: (او سیتی تاریخی ـ ایتمولوژیك قاموس) لومړی توك مؤلف و.ی ابایف دشوروی دعلومو دا کاډمی خپرونه مسکو ۱۹۵۸ کال .

له دوو لارو وړاندی کیدای شو . په اشاری ضمیرسره به مطلب دغه حصار او کلاوې چه کتیبی پکښی سوندل شوی دی (ختیځ پیژندونکی همدغسی خیال کوی) او یا به دبغلان سیمه وی چه په کتیبه کښی یی هم نوم یادشوی دی . په لومړی صورت کښی دې کلمی ته دپښتو د (ملل - پریملل) سره او په دویم صورت کښی د (مال) سره ربط ور کوو په لومړی صورت کښی د کلمی تحلیل داسی دی :

(ملیزه) نکه پښتو کلمه اوله دوو توکو (مل+یزه ،یځه) جوړه ده چه دمسکن او استوګنځی معناور کوی . دسکونت، او سیدلو ، میشته کیدلو په معنا د (ملل ، پریملل) اودسکونت ور کولو په معنا (ملول) کلمی اوس په پښتو کښی ژوندی نه دی . خو دپښتو په کلاسیک ادب کښی په همدغو معناو زیاتی استعمال شوی چه دلته یی څو مثالونه راوړو :

ملل - دخوشحال په اشعارو کښی :

دخوشحال خاطر په مثل کاروان سرای دی
اند یښنی پری کار وانونه ملی ، لیږدی
کله دی دزړونو ستادمخ په لور روانی
واړه ملک بوستان دی په هرځای یی ملوه
ښه مخ مثال دګل شو زړه زما لکه بلبل شو
شیدا بلبله هرچیرته چه ګل وی هوری ملی

همدارنکه دپریملل فعل :

ښه ښا دی به یی دغم په غولی پر یملی
کل اشیا بهوی دده په ذوق رقاص
(انصاری)
په هرملک چه زمری پریملی نوریی خپل کا
په جوار یی روبا کله ږدی قدم
(ګګیانی)

د صورت له ګوره ګله بېګانه شم
د معنو په سینه پریملم یګانه شم
(نیرنګ عشق ۲۱۰ مخ)

که نظر دې د محبوب په جمال پریملې
په دیدن به څېنې ګوښې نه پائېږي
(انصاري)

دغه فعل په همدغه معنی پخوانیو ډیرو شاعرانو استعمال کړی چه معنا یې (میشته کیدل ، قرار کیدل ، او میدل) دی . په (خملاستل ـ څه دي ملی ، څه به ملم ، ملاست) کښې همدغه ریښه ژوندۍ ده .

د کلمې دویم توکی (یزه ، یځه) دی چه په معاصره پښتو کښې د د(یز ، یخ) په بڼه ژوندی ور وستاړی او دنسبت او ځای په معنا لري لکه (اړخېز) او (دریځ) دار روستاړی په پامیری ژبو کښې هم په لاندې ډول موجود دی :

یازګولیامی (ـایچ) شوغنانی (ـایځ) سریکولی (ـ ییځ) واخانی (ایچ) (۱) د پیرمیکو ژبو له جملې نه په تالیشی ژبه کښې د (ایز) په بڼه زما په نظر راغی .د(ملیزه ـ ملیځه) د کلمې معنا استوګنځی دی چه د کلاو حصار په صورت جوړ شوی دی .

د ملیزه تحلیل دورشو او څر خای په معنا په دویم صورت کښې په دی ډول دی :

مال : زموږ په ژبه کښې دوه معناوی لري : یوه د ملکیت او شته په معنا چه دا یوه عربی کلمه ده . دویمه د څاروی (غوا، میږو او

---

۱ ـ په دې باب له (پامیری ژبې مؤلف پخالینه) او (شوغنانی ژبو د ګروپ سره د یازګولیامی دخپلوی رابطه ـ مؤلفه سوکولوفه) استفاده شوې ده .

نورو) په معنا . همدغه په دویمه معنا د ماليزه کلمه د لته ژ مو ږ د څيړنی مورد ده چه په اینډو یوروپی ژبو کښی ژوره ریښه لری اود (یز- یخ) د ور وستاړی سره د خړخای او ورشو معنا ور کوی .

په دویمه معناد (مال) د کلمی ریښه په اینډو یوروپی ژبو کښی د لږ څه او ښتنوسره د څاروی ، واړه مال او بوله معناوې ور کوي .

پښتو (مال) فارسی (مال) ارمیانی (مال= میږه، پسه) زړه یونانی (ملیون - Melon واړه څاروی) لرغونی ایرلینډ ی (میل - mil واړه څاروی) . تقریباً په ټولو سلاویانی ژبو کښی دغه کلمه او له دغی ریښی جوړشوی کلمی د (واړه ، اولږ) معنا ور کوی چه محققین یی له همدغی ریښی بولی . همدارنګه په زیاتو جرمنی ژبو کښی همدغه کلمه د (واړه) په معناده چه د (س) غږ په سر کښی لری : لرغونی پاسنی جرمنی (سمال - Smal وړوکی) انګریزی (سمال ـ SMAL وړوکی) ، همدارنګه دلاتینی (مالوس - malus بوله - بیړا) ته هم د اینډو یوروپی ژبی د مقایسی ژبپوهان د (مال=څاروی) د کلمی سره رابطه ور کوی (۱) .

او په دې صورت (ما+ یخه) د مالخای ،ورشو، څرځای په معناده.

۳-(مو- mo) دادجمع متکلم اضافی نا حپلواك منفصل ضمیردی چه د(ملیزه ، مالیزه) مضاف الیه واقع شوی . او س هم په پښتو کښی د جمع د اضافی مفهوم د افادې ژوندی وسیله ده لکه: (کورمو، زړه مو) د مفرد متکلم د پاره د(من) په بڼه دا ضمیر لرغونی اینډو یورو پی ریښه لری چه جمع یی هم له همدغی ریښی ده.

سانسکریت (می- me) لرغونی پاسنی جرمنی (می- (ن) - men) ارمیانی (ایم im) لاتینی (مییوس- meus) پروسی (مویس- mais)

---

۱ - دروسی ژبی ایتمو لوژیك قاموس اوسړی ټوك ۵۰۵ - ۵۰۶ مخونه د (مال) کلمه و ګوریء .

زړه یونانی (یموس- emos)او په سلاویانی ژبو کښې د (موی moy) په بڼه.

د مقایسوی ژبپوهنی محققین د دغه اضافی ضمیر لومړی ریښه (میس- mes ستاسو، ستا) او (موس mos زموږ ، زما) بولی (۱).

۴- کنیشکه: داخاص تاریخی نوم او د راتلو نکی فعل (وانده)د پاره صریحی مفعول واقع شوی دی. د کتیبی په دې جمله کښې دا نوم (په الفباء کښې د روړاندې شوی فارمول سره سم) په زور کی ختم شوی دی. په دې باب به حکم اله وخته پخوا وی که وو ایو چه دو خت په تیریدو د مجهول (واو) غږ په معاصره پښتو کښې په (زور) یا (الف) او ښتی او که په لرغونی پښتو کښې داویستا او نور لرغونو اینډو یورویی ژبو په شان د صریحی مفعول - accusatibe د پاره د غسی خاص حالت موجودؤ. د کتیبی بشپړ او ژور تحلیل همدارنگه د کوشانیانو د دورې د نورو کتیبو موندل به په دې باب مرسته راسره و کړی.

۵- و انده: دا فعل د (انندل) د مطلق فعل صیغه ده چه د اطلاق معنا یی په (و) سره افاده شوی ده. (انندل) د مصدر په صورت د پښتو قاموسونو نه دی راوړی خو (انند) یی د (مسرت) (شادمانی) (بی‌غمی) (خوشالی) (شکر) په معنا ذکر کړی دی . د پښتو په ادب کښې دایوه ژوندی کلمه ده، خوشال ختک وایی:

هوښیار انو سره ډیرې اندیښنی وي - چه ملنگ د مصلی هغه انند کا .
څه به غم د مال، د ملک د دین او دل کړم- چه دا ستا له غمه روغ کرځم انند دی.

عبد القادر ختک وایی:

مونږ ته څه ناحق عالم وایی پندو نه
په خپل عقل هر سړی کا انندو نه

۱- د روسی ژبی ایتمولوژیک قاموس دویم ټوک ۶۴۵ مخ.

ACKU

دپښتو د (ننداره) او (نندره = دواده دښانک زومته دسوغات په معنا) کلمی له همدغی ریښی جوړې شوی ښکاری. په سانسکریت کښی د (انند) کلمه دخوښی او مسرت په معنا یوه له هغو کلمو څخه ده چه د نوو هندی ژبو په ادبیاتو کښی راژوندی شوې .

(وانند ه) مطلق فعل دی چه دغه د اطلاق د معنا افاده یی په (و) سره شوې ده . ددغی معنا دافادې دپاره دپښتو په ګرامر کښی (و) سیستماتیک او قانونی آدات دی . بی ځایه نه ګڼم چه په دې باب لږ څه مفصله رڼا واچوم :

د مطلق او استمراری فعل کتیګوری په ارغونو اینډو یوروپی ژبو کښی موجوده وه .

خو په دغه کتیګوری ویش په بېلو بیلو فعلی ذریعو کیده . په یولږ ژبو کښی دا کتیګوری د وخت په تیریدو له منځه لاړه او په نورو ژبو کښی داوظیفه فعلی اداتو ته وسپارل شوه چه پښتو هم له دغی جملی ده .

دالړی ژ بی که دغه فعلی آدات و نه لری استمراری معنالری او د ادات سره مطلقه . دغه ژبی له پښتو او سیتی ، سلاویانی ، لاتینی، جرمنی ، کلتی او بالتیکی ژبو نه عبارت دی خو دغه فعلی ادات په ټولو کښی یو شان نه استعمالیږی. البته په پښتو او سلاویانی ژبو کښی دیوه ګرامری سیستم حیثیت لری . دغه فعلی ادات داطلاق د معنا دافادې دپاره په پښتو کښی (و) په اوسیتی کښی (فه ـ fa) او په سلاویانی کښی (پو ـ po) او بالتیکی ژبو کښی (په ـ pa) په سوغدی کښی (په ـ pa تخاری الف او تخاری ب کښی د (په ـ pa) او (پ ـ P) په بڼه وجودلری (۱) په جرمنی ژبو کښی دغه ادات که څه هم سیستما تیک

---

۱ ـ په باختری کښی هم ، کټ مټ دپښتو په شان (و) دی لکه په (وکید ، وخوت) کښی .

حیثیت نه لری بیا هم مثلاً په (کوتی) کښی لیدل کیږی. په لاتینی کښی دا آدات چه د (وی ـ ve) بڼه لری د اطلاق د معنا، دافادې سره تینګه رابطه نه ساتی. په اویستا او زړه پارسی کښې د مطلق او استمراري په کتیګوری ویش اصلاً هماغـه دفعل پـه اساس کیده. سربیره پردی یـو لـږ زیات ادات موجود وو چه د مکان، زمان او نورو له لحاظـه یـی دعمل د معنـا لـه تـیا کالـو عـلاوه ضمناً د مطلق او استمراری معنا هم افاده کوله.

دژبپوهانو ترمنځه په دی باب ژور اختلاف موجود دی چه آیا په زړه پارسی او اویستا کښی د مطلق افاده دفعل په اساس کیده او که دآدات په ذریعه. دلته ددغه اختلاف تفصیل راوړل موضوع او ږدوی. اما په پښتو کښی دا کتیګوری په سیستماتیک ډول دفعلی ادات (و) په ذریعه کیږی. (۱).

مشهور ژبپوه، و. ای. ابایف په دی کښی شکمن دی چه (و) د پښتو په ګرامر کښی د اطلاق د معنا دافادی دپاره سیستماتیک خدمتی ادات دی. دی لیکی چه په پښتو کښی نه یوازی (و) د اطلاق د معنا افاده کوی بلکه یولږ نور آدات هم شته لکه (کښی ـ کښیوتل) (پری ـ پریوتل) (را ـ راوستل) (ننه، ننه وتل) او نور چه اصلاً دفعل د معنا دیوی برخی (مثلاً د سمت دښودلو) د معنا تعیین کوی او د اطلاق د معنا افاده یی ضمنی ده. له دغه ځایه عقیده ښکاره کوی چه په پښتو کښی د اطلاق د پاره (و) سیستماتیک ادات نه دی. بی ځایه نه ګنم که دابایف په ځواب کښی څه و لیکم. پښتو کښی فعل په دوه ډوله دی. ۱ ـ بسیط ۲ ـ مرکب.

۱ـ په دی باب دزیاتو معلوماتو دپاره لاندی منبع ته مراجعه وکړی ء (داینده و یورو پی ژبپوهنی پرابلمونه) نومی کتاب دشوروی دعلومو دا کاډمی خپرونه مسکو ۱۹۶۳ کال دو. ای. ابایف مقاله ۹۰ـ۹۹ مخونه.

د بسیط فعل د مطلق او استمراری کتیگوری په سیستماتیک ډول یوازی او یوازی د(و)پوری ربط لری .

کوم چه مرکب فعلونه دی چه شمیر یی په پښتو کښی نسبت بسیطوته ډیر لږدی په هغوی کښی دغه کتیگوری دخچ دځای پوری تعلق لری . یعنی که خچ د مرکب فعل په لومړي توکی وارد شی فعل مطلق او که په دویم توکی وارد شی فعل استمراری دی .

لکه (پوری وتل ، پرېوتل ، کښېوتل ، پا څېدل او نور (را ، در ، ور) له دغی قاعدی وتلی دی (لکه را ـ راتلل ، راکول) یوازی په (راو ستل) کښی د مطلق په صورت کښی باید (و) موجود وای . له پا سنی قاعدی ډیر لږ استثناآت شته دی چه ز مونږ د پا سنی گرامری قاعدی مانع نه شی کیدای لکه د (کول او شول) کومکی فعلونو په ذریعه د اسم ذات څخه د عمل د معنا جوړول مثلاً (ماروغ کړ ، ماروغاوه) او (ژمی شو ، ژمی کیده).

په هرحال د پښتو د بسیطو فعلونو د اطلاق د معنا د افادی د پاره (و) سیستماتیک گرامری آدات دی چه په (وانده) کښی د(انندل) فعل یی مطلق کړی دی او په دی کتیبه کښی د همدغه غرض د پاره خوځا یه راغلی دی ، لکه (و کیده) (وخوت) او نور .

وانده متعدی فعل دی مفعول یی کنیشکا دی او څه رنگه چه کنیشکا مفرد مذکر غایب دی او په پښتو کښی فعل د مفعول تابع دی . څکه نو فعل په زوره کی سره ختم شوی دی . همدغه گرامری قاعده په پښتو کی کته مته ژوندی ده (لکه ما مکتوب ولیکه).

یو بل شی ته چه دلته باید اشاره و شی هغه دا چه په کتیبه کښی د کلمو په منځ کښی د(ای —i) غږ او س غالباً د معاصرې پښتو د زوره کی سره سمون خوری (لکه وانینده ، وکیرد ، نیست).

(په او به نیست وخوت) کښی چه اوس (وانده ، وکړ ، نست) و یل کیږي .

له وخته به تر مخه و ی که په دی باب په قطعی ډ و ل څه وړاندی کړوچه دیونانی الفباء (ی —i) په داسی موارد و کښی دزوره کی د افادی له پاره استخدام شوی وه او که داغبږیز بدلون په پښتو کښی د وخت په مرورسره راغلی دی.

د پاسنی جملی معنا داسی ده:

«دغه استوګڼی (حصار یا ورشو) مو کنیشکا خوشال، مسرور کړ».

د کتیبی دژ بی ګرامر په تړوله معنا د پښتو د ننی ګرامری اصل سره هیڅ توپیر نه لری :

داشاری اضافی او فعلی ترکیب کومه بڼه او کیفیت چه مونږ په معاصره پښتو کښی ګورو د کتیبی په دغه جمله او همداسی نورو کښی هماغه شان لیدل کیږی .

ګرامری خپلوی دژبو ترمنځه دخپلوی اساس او لوسړی شرط دی. که مونږ داسی جمله واورو چه (احمد فوق العاده متفکر موثرحسین الخلق شخصیت دی) حکم کوو چه دا جمله پښتو ده، که څه هم دلغت له مخه د پښتو یوازی دارتباطی حکم نښه (دی) ور کښی لیدل کیږی نوره له سره تراخره عربی ده او نوری ژبی هم په دی قیاس.

بله جمله:



تشر یح :

۱-(بغه لاگ - بغلان). د بغلان دغه لرغونی نوم لکه چه لیدل کیږی له دوو توکو (بغه=لاگ) نه مرکب دی دغه دواړه توکی په پښتو کښې لرغونی ریښې لری چه دلته یی وړاندی کوو :

الف :(بغه) د(لوی، خدای، خاوند او پاچا) په معنا په پښتو او نورو آریایی لرغونو ژبو کښې ثابته ریښه لري :

(بغه . بغ . بگه . بگ)د پښتو او نورو آریایی ژبو په خاصونومونو کښې(لکه . بگرام ، بغرا، بغداد هم د (گ) او هم د(غ) په غږ وجود لری . د پښتو(باگه - فخراو ویاړ)د همدغی ریښې پوری اړه لری .

عبدالعظیم رانیزی وایی :

چه حاصل راته دولت د عاشقی شو راښایی یی او س که کړم وز باندی باگی

دا کلمه په اویستا کښې (بغه= خاوند ، خدای) په زړه هندی کښې بهاگهه - نیکمرغ ، خاوند په زړه پارسی کښې(بگه-خدای).

په سلاویانی تقریباً ټولو ژبو کښې دا کلمه د(بوگ bog خدای ، بلهای) په بڼه موجوده ده. د قاموسونو دغی کلمی لومړی معنا (سپارونکی ، برخه، بلهای)ښودلی ده چه د(خدای، ښښتن ، لوی) معنا یی وروسته پیدا کړې ده.(۱)

ب. د بغلان د کلمی دویم توکی(لگ، لاگ. Lagge)دی-دغه ریښه

---

(۱) د روسی ژبی ایتمو لوژیک قاموس د شانسکی تالیف د مسکو د پوهنتون چاپ همدارنگه (د روسی ایتمو لوژ یک قاموس) مولف پرېابریژ ینسکی د بوگ کلمه .

په اينډو يو روپي ژبو کښې د(لږ ، ټوټه ، سپک و ړو کی) په معنا مو ندلی شو:

پښتو (لږ ـ کم) (۱) او سيټي (لک، لخ = ټوټه، پارچه) زړه ايرلنډي (لوگو ـ Lu gu لږ، خراب) زړه يوناني (لخيه ـ Laxea لږ، کمکی).
په سلاويانی تقريباً ټولو ژبو کښې د(ليگ ـ leg) ريښه د(سپک او اسان) معنا ورکوی. په ځينو سلاويانی ژبو کښې د(ل) دغږ په ځای د (ژ) غږ موجود دی لکه په پولنډی کښې(لژيه ـ Lzhea سپک، اسان)چه دغږ له مخې (لږ) ته ډير ورته دی .

مقا يسوی قامو سونو ددغی کلمې لومړی اينډو يـو روپی بـڼه (archetype) ليگهه ـ legh د (لږ ټوټه ، سپک او اسان) په معنا ښودلی ده (۲)

دلرغونی آريايی (گ) دغږ ځيرنه مونږته دا اجازه راکوی چه دهغه مخرج په باختری ژبو کښې د(غ) (گ)او(ژ) ترمنځه غير ثابت وټاکو ځکه چه دا غږ په زياتو مواردو کښې نه يوازې دپښتو د لوبديځ او ختيځ په لهجو کښې په تقريباً (گ ـ ننگرهاری لهجه) او (ژ ـ کندهاری لهجه) کښې تغيرخوری بلکې په ځينو نورو باختری مثلاً پاميری ژبو کښې هم دغسی او ښتنی په نظر راځی مثلاً :

اويستا (گنتومه ـ غنم) شوغنانی (ژيندم) اشکاشمی (غندوم) واخانی (ژديم، مونجانی، غودوم) پښتو(غنم). پښتو (خوږ ـ خوندور) شوغنانی (خيغ) روشانی (خوغ) سريکولی (خيگ) . پښتو (غوا، غوی)

---

۱ ـ د ډارمستترد(لږ) مقايسه دسانسکريت د(لغو) سره کړی دپښتوخيړنی دډار مستتر تاليف د کابل چاپ ۳۳ مخ .

۲ ـ په دې باب (دروسی ژبې د ايتمو لوژيـک قاموس) دپـرې: ابريژينسکی تاليف ۳۸ - ۳۸۱ مخونه وگوریء .

ACKU

اوسيتي (غوگ) شوغناني (ژوو) رو شاني (ژوو) يازگولياالي (غيو) واخاني (غيو) اشکاشمي (غو) بارنګي (ژاو) سربکولي (ژيو) سونجاني (غوا) .

داسي زښتي ډيرې کلمې پيدا کولای شو چه د لرغوني آريايي (ګ) غږ په باختري ژبو کښې د(ګ،ژ،غ) ترمنځه سره اوړي را اوړي چه مخرجي زما په عقيده اصلاً د مرکزي پښتو د(ږ) غږ ته نژدې دی .

بی ځایه نه ګڼم چه په اینډو یوروپي ژبو کښې د (ګ g—) دغږ په باب د يوه نامتو ژبپوه و . ای . ابایف د نظريي يوه برخه وړاندې کړم (۱) .

«...... د سلاو ياني ژبو په يوه خاص ګروپ کښې کټ مټ لکه د آريايي ژبو په يوه خاص ګروپ کښې د اينډو يوروپي د (ګ - ګهه g—gh) غږ د (غ) په غږ اوښتی دی .

په لرغوني آريايي کښې کټ مټ لکه په لرغوني سلاو ياني کښې د اينډو يوروپي د(ګ-ګه g—gh) غږ د(ګ) دغږ سره سمون کاوه خو بيا په تو او ختيځو ايراني (باختري) ژبو : سکيفي - سرماتي ، خوارزمي ، سوغدي ، پښتو او پاميري ژبو کښې دغه د(ګ) غږ د(غ) غږ ته واوښت دغه غږيزه اوښتنه ډيره لرغونې ده او په هر صورت په قبل الميلاد دور کښې واقع شوې ده د(ګ،غ) ترمنځه دغه بدلون په باختري ژبو کښې يو فونيټيکي خصوصيت دی او هغه وخت منځ ته راغلی دی چه دوی سره په نژدې ګاونډيتوب کښې واقع وی او يوه محدوده سيمه يي نيولې وه .....»

د ابايف نظريه که څه هم زما د مطلب بشپړ ملاتړ نه کوی خو بيا هم ديوې نظريي په حيث وړاندې شوه .

پاسني پلټنه او په ريښه کښې بدلون دا امکان راکوی چه د باختري

---

۱ - د (اينډو يو روپي ژبپوهنې پرابلمونه) د شوروی د علومو داکاډمي خپرونه مسکو ۱۹۶۴ کال - ۱۱۵ - ۱۱۷ مخونه .

د(لگک، لاک) ـ په(بغه لگک) کښې ، کلمې سره د پښتو (لږ) د او سیتې لگک (په زوره کې) او (لوخ — lux) تەرابطه ور کړو چه معنا یې (توته ، برخه اویوه حصه) ده او پەدې ترتیب د(بغه لگک) معنا (خدای یا پاچا یې توته کمکه او سیمه) ده . داچه د (بغه لگک) نه کله او څنگه (بغلان) جوړ شوی دی پەدې باب د مستشرقینو کومه نظریه زما له نظره نسه ده تیره شوې .

له پاسنې ریښې نەجوړې شوی کلمې په سانسکریت کښې د(ک) یا (ژ) غږ نه لری :

په سانسکریت کښې (لو — lu) او (لاو —lau) د (توتې کولو، غوڅولو او پرې کولو) معناوې ور کوی . په پښتو کښې (لو ـ د فصل اوونبو ریبل) هم لەدغې ریښې ښکاری .

همدارنگه په سانسکریت کښی له دغې ریښې نورې جوړې شوې (لو اکه ـ Lavaka = لوکری ، ریبونکی) همدارنگه دغوڅولویوه آله (لور) لەدغې ریښې‌دی . په اوسیتې کښې ددې ریښې لرغونی بڼه (لاو ـ Lau) ښودل شوی‌ده چه پاسنی معنا ور کوی . (۱) .

۲ ـ (چه ـ ci) وصلی بیانی خدمتی کلمه‌ده چه‌د فارسی د (که) سره سمون خوری .

دغه‌د(چ) او(ك) دغږ مقابله په باختری او پیرسیکوژبو کښې زیات موارد لری.دلته یې په پښتو او فارسی کښې‌څو مثالونه وړاندې کوم.

پښتو ـ چاړه‌ـچرگه‌ـ چا (څوك) (۲) . چه .

---

۱ ـ پەدې باب (دا وسیتې ژبې‌په‌باب یادونه) مؤلف فرانسوی ختیځ پیژندونکی « بینو ینیست په روسی ترجمه مسکو ۱۹۶۵ کال ۴۴ مخ .

۲ـ په پاسیری ژبو کښې‌په‌لومړی حالت(څوك) کښې‌د (ك) او په دوهم حالت (چا) کښې د (چ) (چای،چوی)پەغږ داضمیرمند اول‌دی بڼه لری .

فارسی ـ کارد ـ کرك ـ کی ـ که. په سلاویانی ژبو کښې د پښتو دغه وصلیه بیانی کلمه د (چتو ـ ctho) په بڼه موجوده چه معاصر تلفظ یې (شتو) دی .

۳ ـ دی :(doi) نگه پښتو کلمه ده چه په حالیه اسمی جملو کښې خبر واقع کیږی او له مبتدأ سره په ټولو گرامری اړخونو (مفرد، جمع، مذکر، مؤنث) کښې سمون (دی، ده، دي) لری .

په دغه متن کښې څه رنگه چه (بغه لگ ـ بغلان) مفرد مذکر دی نو (دی) هم ورسره مطابقت لری .

۴ ـ (بغه): د (اوی ـ غټ او عظیم) په معنا دی (د بغلان د کلمې لومړی توکی و گوری ۰.) دلته د راتلونکی (شاو ـ شاه) او د پښتو د گرامری غوښتنې سره سم پر موصوف مقدم دی .

۵ ـ (شاو ـ شاه) : د کتیبې په لومړی نسخه کښې (شاو) او په دویمه کښې (شاه) دی (۱) .

که څه هم دا کلمه او س د (شاه) په شکل لیکل کیږی خو له یوی خوادا کلمه په خپله ریښه کښې د (ه) غږ نه لری او له بلې خوا د کتیبې په لومړی نسخه کښې (شاو) د کلمې د جوړښت په لحاظ پښتو ته نژدې دی ځکه چه د (الف) نه وروسته د (و) غږ د نوم د جوړولو د پاره په پښتو کښې ژوندی وروستاړی دی: (کړاو، چلاو «چلید ل» جړاو، خرخلاو، پړاو او نور) .

د (شاو ـ شاه) د کلمې ریښه که راو سپړو د نورو ټولو آریایی ژبو په نسبت په پښتو کښې ډیری نیلې او اشتقاقونه لری .

په لرغونو آریایی ژبو کښې د (خش ـ ښن) له ریښې جوړې شوی کلمې د (ښه ـ د بد مقابل) (ښی ـ د کیڼ مقابل) دوا کمنې او چلواو معنا وی ورکوی (۲) .

---

۱ ـ مادر زبان دری ۵۰ ـ ۵۱ مخونو په حواله .
۲ ـ (ایرانی ژبی) داورانسکی تالیف ۳۰ او ۵۸ مخونه .

ACKU

اویستا (خشه‌ـ xsha) اوزړه پارسي (خشي xshay) زړه هندي (کشي) په پورتني معنا .

له همدغې ريښې داويستا او زړې پارسي (خشاذره) دزړې هندي (کشاتره، هيواد، مملکت) دفارسي (شهر) اودپښتو (ښار) هم جوړ شوي دي.

همدارنګه دغه ريښه (ښ) په غير په پښتو کښې ديوزيات شمير کلموپه سر کښې د (مختاړي prefix) په حيث په نظرراځي لکه: (ښاغلي‌ـ ښه ، اغلي) (ښاپيرۍ، ښه پيرۍ) ، (ښايسته‌ـ ښه ايسيدونکی) همدارنګه د (ش) په غير:
(شازلمی، شاکاسه اوداسې نور) ، دګرامرله نظره دلته (شاوـ شاه) د (ښغه) موصوف دي .

په کتيبه کښې توصيفي ترکيب کټ مټ د پښتو دمعاصر توصيفي ترکيب په شان دی چه صفت له موصوفه ترمخه وي. دپيرسيکوژبو په خلاف دا ګرامري قاعده په ټولوباختري ژبو کښې لکه پښتو، سوغدي ، ساکي، اوسيتي ، خوارزمي او پاميري ژبو کښې جاري ده او داهم يوله هغو تيپيکو ګرامري اختلافونو څخه دی چه آريايي ژبې په دوه ګرو په (باختري او پيرسيکو) ويشي (۱) . دغه (ښغه شاو) دراتلونکې (کنيشکي) دپاره دپاسني، ګرامري اصل سره سم مجموعي صفت واقع شوي دي .

٦ـ کنيشکي: داپه دويم حالت کښې د کنيشکاخاص نوم دي چه دراتلونکې کومکي فعل (کيردـ کړ) فاعل دی. په کتيبه کښې د پښتو دموجوده ګرامري سيستم سره فعل دصريحي مفعول تابع دي نه دفاعل . له دغه ځايه په لومړي جمله (دغه ملڅی، مالخي مو کنيشکه خوشحاله کړ) کښې (کنيشکا) په لومړي حالت کښې واقع دي چه صريحي مفعول دی او په دغه جمله کښې په دويم حالت کښې واقع دي چه فاعل دی .

د ګرامر دغه سيستم چه په جمله کښې متعدي ماضي فعل

۱ـ په دی باب دزياتو معلوماتو د پاره ايراني ژبې مولف اورانسکي ۱۸۰-۱۸۱ مخونو ته مراجعه وکړیء .

صریحی مفعول تابع وی نه د فاعل. په بل عبارت په هغه صورت کښی چې فعل په دوه پیلو پیلوزما نو کښی د فاعل دوه بنی غواړی د ژ پوهنی په اصطلاح (ایرگاتیف ergative) سیستم ویل کیږی. دغه سیستم د پښتو، زړی پارسی په شمول د اویستا او سانسکریت په استثنا په زیاتو آریایی (قفقازی، کامچاتی، دلاتینی امریکا د اینډیانو په ژبو کښی شته دی چه زیات تفصیل به یی هم وروسته راشی.

۷- (نامه برغه - نوم بری، نوم اوړی): دا مرکبه کلمه ده چه د توصیفی ترکیب (نامه + برغه) په لاره جوړه شوې ده او د راتلونکی کومکی فعل (کیرد - کړ) د پاره صریحی مفعول واقع شوی دی. دا سی توصیفی ترکیبونه په پښتو کښی ډیر دی لکه: (سرلوړی، سرتور، پښی ابل، زړه خوړین) هیننگ هم دا کلمه له پاسنیو دروتو کو مرکبه بللی او د (مسمی) معنا یی ترې اخیستی ده (۱)

د دغی کلمی دواړه توکی نه یوازې په پښتو بلکی په اینډو یوروپی ژبو کښی ژوری ریښی لری.

الف: (نامه په زوره کی): پښتو (نوم، نامه) فارسی (نام) په سانسکریت او یسنا او زړه پارسی کښې (نامه، نامن) لاتینی (نومین - nomen) په کوتی، زړه جرمنی او ارغونی ساکسونی کښی (نامو- namo) په تقریباً ټولو اینډو یوروپی ژبو کښی له دغی ریښی جوړې شوې کلمی موندلی شو (۲).

ب: د کلمی دویم توکی (برغه، برگه) دی. د دی کلمی رابطه د فارسی د (بردن) د پښتو د (وړل) له ریښی سره نه شو ور کولای ځکه چه د کتیبی ژبه لکه چه په تیرو مقالو کښی وښول شوه د پیرسیک ژبوله گروپه

۱- مادر زبان دری ۱۵ مخ.

۲- (د روسی ژبی ایتمولوژیک قاموس) د پرې ابریژینسکی تالیف د (ایمیه) کلمی ته د زیات تفصیل د پاره مراجعه وکړئ.

نه بلکې د باختري ژبو له ګروپه ده. په باختري ژبو کښې د فارسي د (بردن) ریښه یوه له هغو ټیپیکو کلمو څخه ده چه د (ب) د غږ په مقابل کښې ئې باختري ژبې د (برادر) د کلمې په شان د (و) غږ لري (۱).

د دغې کلمې ایتمولوژیک تحقیق موږ ته دا امکان را کوي چه د دغې کلمې د خپلوۍ رابطه د پښتو د (بر، برې، بریالی) سره ولټوو:

مقایسوي ایتمولوژیکو قاموسو د دغې کلمې (ار خیتیپ – archetype) لـو ړ ی بـڼه (بـېر ګهه ـ Bhergh ـ ختل، هسکېدل ښودلی او په نورو ژبو کښې یې داسې مقایسه وړاندې کړې ده: پښتو (برز ـ Barz) فارسي (بـلند)، اویستا (بـرز) دب په زوره کې، کوردي او تالیشي (برز Barz) سـوغـدي بـرز، بـرزك، او سیتي (برز ـ Barz) بلوچي (بورز Burz بوزرګ ـ burz, Burzag) پارتیاني (بوزر ـ Burz) په نورو اینډو یورو پې ژبو کښې هم له دغې ریښې جوړې شوې ژوندې کلمې ډېرې دي:

جرمني (بیرګ ـ غر) ارمیاني (بیرج ـ Berj لوړ هسك) کیلتي (بیرګ ـ Birg berg غر) ایرلنډي (برې ـ Bri غر) په سلاویاني ژبو کښې دا ریښه د (بیرګ، بیریګ ساحل، غر) په معنا موجوده ده (۲).

د دغې کلمې ارخیتیپ او پاسنې مقایسه موږ ته دا اجازه را کوي

۱ـ (ایراني ژبې) داورانسکي تالیف (۱۸۰-۱۸۱) مخونه.

۲ـ په دې باب د (اوسیتي تاریخي ایتمولوژیك قاموس) مولف ابایف د (برز ـ برزند) کلمې او همدارنګه (د روسي ژبې ایتیمولوژیك قاموس) د شانسکي تالیف د (بیریګ) کلمه وګورئ.

د پارسي (د برازنده) (برین) او له دغې ریښې نورې کلمې د باختري ژبو نه غالباً اخستل شوي چه بیله پلټنه غواړي.

د دغه (برغه، برګه) د خپلوي رابط د پښتو د (بر-پاس، هسک) سره و لټوو او حکم وکړو چه د دوه زره کاله په عمر کښې یې وروستي غبر (غه، ګه) له لاسه ورکړی دی. داسې تاریخي ایتمولوژیک تخفیفونه د نړۍ په هره ارغونې ژبه کښې زښت ډیر دي.

۸-(کیرد - کړ): داد (کړل) له مصدره د ماضي متعدي مفرد مذکر صیغه ده چه د کومکي فعل وظیفه اجرا کوي. فاعل یې (کنیشکي- کنیشکا) په دوهم حالت کښې او صریحي مفعول یې (نامه برغه- نوم بری او مسمی) په لومړي حالت کښې دی: داټول بیا د نیمګړي جملې په حیث د (چه) وصلي بیان په مرسته د (بغه لګ- بغلان) د پاره خبر واقع شوی دی.

د غه جملې د ستیل stylistec له مخې په پښتو کښې ژوندی مثالونه لري چه د یوه خاص معنوي تاکید د افادې د پاره استعمالیږي مثلاً:
(احمد چه دی د محمود ورور دی)، (کابل چه دی د افغانستان مرکز دی) (زلمی چه دی ما خوشاله کړ) که د پښتو د معاصرو او لرغونو ستیلونو په باب پلټنه وشي داسې مثالونه به بنایي ډیر وموندل شي.

د (کړل) فعل په آریایي ژبو کښې ثابته ریښه لري. د دغه فعل آریایي ریښه (کړ- کر - Kar—Kr) ده چه په ځینو مواردو کښې یې (ړ، ر) لویدلی (لکه په پښتو کښې (کول، کیدل) په خوارزمي کښې (که) په (مه که Ma Hka = مه کوه) او په ځینو کښې یې د (ن) غبر په ریښه پورې نښتی دی لکه د فارسي په (کند) کښې.

دا ریښه په لاندې ډول په آریایي ژبو کښې موجوده وه: پښتو (کړل - کول) فارسي (کردن - کند) کوردي (کیرین) بلوچي (کنګ- Kanag) پارتیاني (کن - Kan) په پامیري ژبو کښې د (کن- Kan کون- kun کن په زوره کی) په سوغدي کښې (Kwn) چه د پښتو د (کول) سره ډیر نژدې ښکاري او یستا (کرنو)

د(ک) او (ړ) په زوره کې زړه پارسي (کرته Karata) او (کونو Kunu) زړه هندي (کړنو Kuna) کړته Krta او داسې نور(۱).

په پښتو کښې ددغه فعل لوی خصوصیت دادی: کله چه د کومکي فعل په حیث استعمال لیږی لکه: (زلمی کور جوړ کړ) په داسې صورتونو کښې لکه چه څرګنده ده خپله د(کړل) فعل د اطلاق معنا افاده کوي او د(و) ادات ته ضرورت نشته او د استمرار په صورت کښې دغه کومکي فعل له منځه ځی لکه (زلمی کور جوړاوه.) او که په جمله کښې د کومکي فعل وظیفه نه اجرا کوي په هغه صورت کښې د نورو افعالو په شان د اطلاق او استمرار ګرامري قاعده پرې جاري کیږي لکه: (زلمی خبره وکړه) او (زلمی خبره کړه، کوله).

دلته د (کیرد- کړ) د فونیتیکي اوښتنې په باب غواړم څه وړاندې کړم: لکه چه د مقالې په دویمه برخه کښې ورته اشاره وشوه دیو نانی الفبا (یې-) د کښې په زیاتو برخو کښې د پښتو د موجوده زوره کی سره سمون لری لکه چه: (وانینده- واننده، نیست، نست په او به نیست وخوت) کښې. همدارنګه (کیرد- کړ) او نورو کښې. په پښتو کښې ز ښتی ډیرې ژوندی کلمې شته چه هم د (ی) او هم دزوره کی په غږ افاده کیږي لکه (اخیستل اخستل، ځینې، ځنې، نیسل، نسل نیشته، نشته) او نور.

د(رد) او (-ړ) داوښتې په باب دا امکانونه موجود دی:

د لرغونی آریایی بلکې اینډو یوروپی (رد- رت) دغږ په مقابل کښې معاصره پښتو د (ړ) غږ لري. مثلاً په لاندې مقایسه کښې:

۱- د(اوسیتی ژبې تاریخی ایتمولوژیک قاموس) دابایف تالیف ۵۷۹ - ۵۸۰ مخونه.

ACKU

پښتو (زړه) اویستا (زردهٔ (ر) او(ز) په‌زوره کې) سانسکریت (هرده)، په‌تقریباً ټولو سلاویانی ژبو کښې دا کلمه د (سیر دـ څه‌ـ زړه) په بڼه موجوده ده لیتوانی شزیر دیس ـ Szirdis Serd—ce زړه) لاتینی (سیر دس Sirds) لا تینی (ـ Cordis زړه) ارمیانی (سیرت‌ـزړه) او په‌دغه شان داینډو یوروپی ژبو په‌ټولو گروپونو کښې داریښه‌د(زړه) په‌معنا موجوده ده.(۱) .

دویم مثال: پښتو (چاړه) (زړه روسی (کورد ـ Kord یوډول چاړه) زړه‌سلاویانی (کورده Korda) سانسکریت کرتی (Karti) چاکو‌ـ‌چاړه) کرتري Kartari ښکاری چاړه، لیتوانی (کیرتی (Kirta) او یستا (کرینه ـ Kareta) فارسی (کارد) او سیتی (کهارد) چاکو توره) .

د دغې کلمې اینډو یوروپی اسو مـړی بڼه ار خیتیپ ښوو ل شوې‌ده‌چه دپریکولو او غوڅولو معنا ورکوي (۲) .

دریم مثال: (گړ، گړی) د کلااو حصار په‌معنا. دا کلمه تقریباً په‌ټولو اینډو یوروپی ژبو کښې‌د (ـرد) په‌غږونوثابته ریښه لري. پښتو (گړی، کړ، انگړ) په‌سلاویانی ټولوژبو کښې‌د (کراد، هراد، کوراد (grad, hrad, gorad) د(ښار او میني) په‌معنا دا کلمه موجوده ده. لیتوانی (کرداس‌ـ gardas شپول، منډو) پروسی (گردیس‌ـ gardis دیوال)

۱ـ دروسی ژبې ایتمولوژیک قاموس دپریب ابریژینسکی تالیف د(سیردڅه) کلمه .

۲ـ همدغه قاموس د(کراتیک کلمه).

ACKU

کوټــی (گــر د س ـ gards کــو ر ، محله) لر غو نــی سا کسو نی (گر اد ـ grad منلو ، استو گنځی) انگله ـسا کسونی (گیا ر د geard محله، منلو) او په دغه ډول ټولو ابنلو یورو پی گرو پونو کښې دا ریښه په همدغو معناو موجو ده (۱) .

په دغه ډول مونږ ډیر مثا لونه پیدا کولای شو چه داینلو یو رو پی د(رد ،رت) دغږو نو په مقا بل کښې په پښتو کښې د(ړ)غږ موجود وي . په دغه ځا یه مونږ دوه امکا نو نه په نظر کښې نیولی شو :

لومړی داچه دغه او ښتنه وروسته منځته راغلې ده اودوه زره کاله پخوا دا او ښتنه نه وه .

دو یم دا چه څه رنگه چه په یونا نی الفباء کښې د (ړ) دپاره خاص توری نه ؤ . نوله دې کبله ددغې لرغونی مقا یسې په رڼا کې د (رد) توری د (ړ) دغږ په مقا بل کې وضع شوی ؤ .

ایرگاتیف سیستم :

لکه چه تر مخه ور ته اشاره وشوه (کنیشکا) په لومړی جمله کښې په لومړی حا لت کښې دی ځکه چه د (وانند ه) فعل دپاره صریحی مفعول واقع شوی دی . په دغه دویمه جمله کښې (کنیشکی) په دو یم حا لت کښې دی ځکه چه د (کیرد ـ کړ) کومکی فعل دپاره فاعل واقع شوی دی او د پښتو په گرامری غوښتنه د ماضی متعدي فا عل په دو یم حا لت کښې واقع کیږی . او صریحی مفعول یې په لومړي حا لت کښې . د فعل دغه گرامري سیستم ته چه فاعل یې په دو یم حالت واقع کیږی دژبپو هنې په اصطلاح (ایر گا تیف) سیستم ویل کیږي ، چې ځا یه نه گنم

۱ـ همدغه قاموس د (کور د کامه)۱۸۶-۱۸۷ مخونه .

چه ددغه گرامري سیستم په باب لږ څه مفصله رڼا واچوم (۱) .

ایرگاتیف سیستم یا جوړښت په آریایی لرغونو منځنیو او یولړ معاصرو ژبو کښې خاص اهمیت لري . کله چه دزړې پارسی مواد مطالعه کوو دمتعدی ماضی فعل په هغه صورت کښې لیدل کیږي چه فاعل په دویم حالت کښې یعنی دمفعول په حالت کښې ذکر کیږي . ددې په ځای چه دمتعدی ماضی فاعل په لومړی حالت کښې یعنی د (ادم ـ زه) په بڼه ذکر شی هغه دمفعول (منا mana من ـ ما) په بڼه ذکر کیږی . لکه په دې جمله کښې (ایمه، تیه(منا) کرتم ـ ima tya mana kartam داهماغه دی (چه) ما و کړ) .

دغه سیستم په منځنی پارسی ، سوغدی ، پښتو، دبلوچی په خواساسی لهجو دکوردی په زیاتو لهجو ، دتالیشی په زیاتو لهجو ، په مونجانی اورمړی، پراچی، یگنوبی او په ځینو پامیری ژبو کښې موجود دی او په دغو آریایی ژبو کښې نشته :

فارسی (دری) اوسیتی ، تاتی ، مازندرانی ، ییدگا، مونجانی ، دکوردی په لاکسی لهجه دبلوچی په یوه لهجه او په یو شمیر پامیری ژبو کښې .

په کومو ژبو کښې چه ایرگاتیف سیستم موجود دی هغه یوشان نه بلکې په ډول ډول تیپونودی : آریایی دغه ژبې دلرغونو ژبو (سیندو) زیږنده ده . دمیراثی تغیر سره سم دغه سیستم په دوی کښې هم په بیل بیل ډول دی .

---

۱ ـ په دې باب زیاته استفاده له (دهندوایرانی ژبوپه موادو کښې دایرگاتیف سیستم اساسی پرابلمونه) نومی رسالې ه. ق ف : ل-۱-پیریبکو دشوروی علوموداکاډمی خپرونه مسکو ـ ۱۹۶۸ کال نه شوې ده .

ددغه سیستم کوم عمومی صفتونه چه په دوی کښی دی او هم ددوی ترمنځه د نژدې کولوتکی ګټل کیږی هغه دادی :

۱ ـ ایرګاتیف سیستم ددې ټولو ژبو د متعدی فعل په ماضی هغه فورمه جوړدی چه په لرغونی مفعولی اساس بناء وی .

۲ ـ صریحی مفعول د ګرامری فاعل په بڼه یعنی په دویم حالت کښی ذکر کیږی .

۳ ـ فاعل د ګرامری مفعول یعنی په دویم حالت کښی ذکر کیږی (له ډیرو لږو ژبو پرته چه غالباً حالت نه لری) .

۴ ـ د فعل وصلی ضمیرونه د صریحی مفعول سره سمون خوری نه د فاعل سره . ژبپوهان داسی عقیده وړاندې کوی چه د متعدی ماضی صیغی اصلاً مفعوای لرغونی صفتونه دی مثلاً په داسی جملو کښی لکه (ما احمد لیدلی دی) اصلاً (احمد) مبتداء (لیدلی) مفعولی صفت خبر، (دی) د حکمی ارتباط کلمه (ما) آله او ذریعه ده . یعنی (احمد زما په ذریعه لیدل شوی دی) . د زمانی په تیریدو د جملی مفهوم داسی او ښتی چه د منطق په لحاظ (ما) فاعل (احمد) صریحی مفعول او لیدل فعل شوی دی اما د ګرامری تطبیق په لحاظ (احمد) فاعل دی له دغه ځایه دغه سیستم ته څوك اکتیف او څوك پاسیف وایی .

دایرګاتیف سیستم ډیر واضح نیپونه د ختیځو آریایی ژبو په لړ کښی پښتو او د لوید یځو په لړ کښی د کوردی، کورمانجی لهجه او بلوچی ژبه دی:

ددغه سیستم په باب د پښتو کوردی او بلوچی لاندې مثالونه وګوریء :

په پښتو کښی: (دهزه و لیدم په کـور دی کښی (اوی ازدیتم) یعنی (دهزه و لیدم) په بلوچی کښی پاسنی جمله په کټ مټ پاسنی صورت نه جوړیږي چه فعل د خپلو وصلی ضمیرو نو په لحاظ د مفعول سره سمون و خوري .

بلکی په داسی مواردو کښی فعل بیطرفه (نیترال) وضع غوره کوي چه

ACKU

نه د فاعل او نه د مفعول سره سمون خوري ، بلکی دغایب مفرد په بڼه ذکر کیږي لکه :

(پادشاهه منارا کوشتک، پاچازه ووژلم) دلته فاعل (پادشاهه) په دویم حالت کښی دی او مفعول (منارا) په لومړي حالت کښی او فعل (کوشتک) دغایب مفرد مطلق فعل په صیغه چه د ماضی صفت سره سمون خوري. په بلوچی کښی دغایبی جمع په صورت کښی د صریحی مفعول سره دو صلی ضمیرو نو سمون واضح دی. مثلاً من پروشتک ـ ما ـ (هغه) مات کړ) دا په هغه صورت کښی چه صریحی مفعول مفرد وي او که جمع وی هغه به داسی وي د من پروشتکنت ـ ما هغوي مات کړل) .

د کوردی او بلوچی په ځینو دیالیکتونو کښی ایرگاتیف سیستم نشته. خود پښتو په ټولو دیالیکتونو کښی دغه لرغونی آریایی سیستم بیخی واضح دی. همدارنګه په بلوچی کښی چی د جنس (تذکیراو تانیث) تمیز له منځه تللی دی او په کوردی کښی یوازې په نومونو کښی پاتی دی د ایرګاتیف سیستم بشپړ انعکاس ور کښی نه شی کیدلای. دا سیستم په پښتو کښی نظر ټولو ژبو ته څرګند او له هره اړخه واضح دي. او په دغه صورت په آریایی ژبو کښی دایرګاتیف سیستم یوشان نه بلکی لږاو ډیر توپیر سره لري چه نسبت ټولو ته ښه څرګند تیپ یی یوازې پښتو ده .

د بغلان د کتیبی ګرامري تحلیل مونږ ته یقین راکوي چه د ګرامر د نورو خواوو په شان دایرګاتیف سیستم په معاصره پښتو او زړې پښتو (باختری) کښی له هره لحاظ یوشان دی او د بغلان کتیبه په زړه پښتو لیکل شوې ده .

توصیفی او اضافی ترکیب :

یو بله ګرامری موضوع چه په کتیبه کښی په عام او په دغه پراګراف کښی په خاص ډول باید ورته پاملرنه وشی، هغه د توصیفی (همدارنګه) اضافی ترکیب څه رنګو الی دی .

Kabul University Library
Kabul, Afghanistan

مونږ چه دآریایي ژبو ویش په باختري اوپیرسیکو(یاختیځ) گروپونو کوو په ویش کښې له تاریخي موادو علاوه دیر ژبني سواد په نظر کېږي نیسو.یوله دغوژبنیو موادو څخه دتوصیفي (همدارنگه داضافي) ترکیب څه رنگوالي دی. باید وویل شي چه دآریایي ژبوپوهان عقیده لري چه داسمي او ښتنواوتغیرونو په باب باختري ژبودارغوني آریایي(اسمي خصوصیات - flexio)نسبت پیر سیکو ژبو ته زښت دیر په ځان کښې ساتلي دي . دغه لویه گرامري خاصه نه یوا زې په منځنیو آریایي ژبو کښې موجوده و. بلکې په معاصر و ژبو کښې هم موجود ده (۱) . په دغه لړ کښې ټولي باختري ژبې گرامري یو لو ی خصوصیت د ا ري چه په توصیفي او اضافي ترکیب کښې صفت او مضاف الیه په موصوف او مضاف مقد م وي . اما د پیر سیکو ژبو ا کثریت بالعکس دی .یعنی صفت له موصوفه ا و مضاف الیه له مضا فه و ر و سته راځي او دا ضا فت مخصو صه نښه و رسره مو جو ده وي . د پیرسیکوژبو په جمله کښې په بلو څې،تا لیشي او د کاسپین دغاړې په دیالیکتونو کښې دتوصیفي او اضافي ترکیب څرنگوالي دباختري په شان دی،په پار تیا نی کښې دواړه تپیونه متداول و و .

۱- (ایراني ژبې) داورانسکي تالیف ۶۳ او ۱۸۰ مخونه.

دادی په‌باختری او پیرسیکو ژبو کښې دتوصیفي‌او اضافي ترکیب ښوشالونه:

باختری ګروپ :

پښتو- پوه سلګری - دزلمی‌قلم ،باختری(زه‌پښتو) - بغه شاه(لوی‌شاه) ،خوارزمی-خو بام‌دوغد -(ښه لورمی) ،سوغدی - (پریه مث -pryh math ګرانه مور) . اوسیتي -مامد- mu mad زمامور ، یګنوبی‌شووغرshuo garتورغر-بادوان‌ی‌آواز (دبا دوان غږ) .شوغنا نی - مو خا لک- mu xalak زماماما . روشانی . مومود-زمامور، بارتنګی.مون‌ورج (زماآس). اوداسی‌په نوروباختری‌ژبو کښې.

پیرسیک ګروپ :

منځنۍ پارسی - کو نیشن خویش (خپل اقدام).

معاصره فارسي (دری) مادرمن (زمامور).

کوردی (هسپی‌من) (زماآس) .

تاتی -دادای‌من (زماکا).

بختیاری-چشمی باز (دپاز ستر ګه) .

او د اسې په نورو ژبو کښې (۱).

څو مره چه دبغلان کتیبه دزیات تحلیل لاندې نیسو هماغومره د اړ ه کیږ و چه دغه کتیبه په یو ه داسې ژبه لیکل شوې ده چه دنورو تولو باختر ی ژبو په نسبت دپښتو سره دلرغوني خپلوۍ رابطه لري (۲).

✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦

۱ـ په دې باب دزیات تفصیل دپا ره (ا یرا ني ژبې) او رانسکې ۶۳-۱۸۰ مخو نو ته مراجعه وکړیء.

۲ـ دسره کوتل د کتیبې دورپسې څو نورو پراگرافو نولوست اوتحلیل د کا بل مجلې د(۹ م ۱ ۳) کال په(۳،۲) او (۴) گڼو کښې و گوریء .

ساک
او دهغوژبه

ACKU

دساکو لنډه پېژندنه :

دساکي قبايلو يلو اصلي ټاټوبي لرغوني افغانستان (د هندوکش خواوشا) دی. ددغو قبايلو يولوی ګروپ دميلادنه ترمخه دزروکلونو په خوا ا وشا کښي له خپل اصلي ټاټوبي افغانستان نه د شمال خواته وليږديده او توري بحيری له غاړو څخه دچين ترسر حدونو خپاره شول . مګر بله څانګه يې د مرکزی آريا يانو (يعني باختريانو ، پارتيانو ، سوغديانو ، خوارزميانواونورو) تر څنګه په خپل اصلي ټاټوبي کښې پاتې شوه . له دغه ځايه ده چه ساکي قبايل ددوو زروکلونو په جريان کښي يعني دقبل الميلاد زرو څخه ترميلادی زروکلونو پورې په يوه بيخي پراخه سيمه کښي اوسيدل.

په تاريخي بيلو بيلو روايتي مأخذونو کښي دغه باختري قبايل په دو ل

دول نو سونو بلل شوي دي. دزړې پا رسي به کتیبو کښې د (سا که- saka)
د زړې یو نانې په‌اسنادو کښې د (سکیف) ، په چینا یي‌اسنادوکښې‌د(سك-د«س»په
زوره کي ،(سه د(س) په زوره کي)، سای - sai) او دزړې هندي په‌اسنادوکښې
د(شاکه) په نامه یاد شوي دي.(١)

مګر په پاس نومونو یاد شوي ساك پخپل وسیع مفهوم لري چه په زمانه او
سیمه کښې د کومې خاصې قبیلې نوم نه دی . له دغه ځایه ده چه په‌علمي‌حلقو
کښې(سکیف) او (ساك) دوه نومو نه سنځ ته راغلي دي . کوم چه دمیلا دنه
زرکاله پخوادخپل‌تاتو بي‌نه‌لیږیدلي اودتورې بحیرې‌له غاړو دچین ترسرحدونو
میشته شوي وو، د زړې یو ناني په اسناد و کښې د سا تل شوي(سکیف) په
نامه اوپه یولړ نورو تاریخي امنا د و کښې د (سیت) په نا مه سر ه یا دیږي .

دساکو بولړ په‌منځنۍ اسیا او په چینې‌تورکستان کې‌هم‌میشته‌وو خو د هغوی
دژبې او دیا لیکتونوپه‌باب‌دهغه‌لږ شمیرخاصونومونوڅخه پرته چه دزړې‌پارسي‌په
کتیبو اودلرغوني یونان د مؤرخینو سره ساتل شوي دي نور کوم ژبني اسنا د
دعلم په لاس کښې نشته.

١- په زړه پارسي کښې ساکي په داسې عبارتو یاد شوي دي:

1—Saka tigraxauda	تیره خولي ساك
2—Saka tyraiy para sugdam	دسوغدنه پوري ساك -
3—Saka haumavarga	دهوما(دخښاك) جوړوونکي سا ك
4— Saka tyraiy paradraya	دسین پوري ساك .

په قبل الميلاد دويمه پېړۍ کښې دسا کو يوې ډلې (داسې ښکاري چه ددوی د خپلوانو تخار يانو يوې قبيلې) په با ختر ، درنګيا ن (سيستان) آ را خو ز يا باندې خپل تسلط قايم کړ او له هغې وروسته يې د خپلې واکمنۍ لمن د هند شمال لو يديځ ته هم وروغزوله چيرته چه د سا کو ديوه ديالیکيت آثار په خروشتی او بر همنی ليك په‌ميلادی لوسړ يو پېړ يو کښې ليکل شوی‌اوهلته يې آثار پاتې دی.

کومو ساګو چه د هيلمند وادی اود هامون وادی‌ته مخه وکړه اوهلته‌سيشته شول دغه سيمه‌ددو ی په‌نامه (ساکستان) و بلل‌شوه چه نن د(سيستان) په نامه يادېږی . دساك دتوکم نوم دچيني تورکستان په يولړ اسناد وکښې هم ليد ل کيږی . د (تاريم) دسيند دشمال او د(قشقار) دلو يد يځ په‌لو يه سيمه کښې دساکو تاريخي موجوديت له چيني تار يخي منا بعو څخه هم تائيد يږی (۱).

تار يخي باوری اسناد دهند په‌وادی کښې هم ځای په‌ځای دسا کومو جوديت ښئی . تار يخی‌اسناد په دې‌شا هدی‌ور کوی چه‌دخپل اصلی ټاټو بی (معا صر افغانستان) نه‌دهند وادی ته‌دسا کی قبا يلو مهاجرت په‌ميلادی لو مړ يو زرو کلو نوکښې شوی دی .

ديو لړ محققينو په عقيده‌دآر يا يی او هندو آر يا يی‌ژ بواوديالیکټو نود و يونکو قبا يلوترمنځه طبيعي پولې‌او بريدو نه دقبل الميلادز رو کلو نوپه‌دويمه نيما يی کښې دسليمان دغرونو څوکې‌وی جنو بی‌لو يد يځ بر يد يې‌د(خاب) سيندتشکيل کړی‌ؤ ، چه‌دمعاصری کراچی جنوب ته تقر يباً په‌پنځوس کيلو متری کښې پـه

۱ - (ايرانی ژ بی) اورانسکی ۹۰-۹۱ مخونه.

بحر العرب کښی تو ئیږی .

د د غو بر یدو نه د هند پخوا د باختری او د هغو پهلړ کښی دساکی قبـا یلـو نـفـو ذ قبل ا لمیـلا د ز ر و کـلو نـو پـه نیـما یـی (احتمالاً په لوړی نیما یی) کښی شروع شوی دی (۱) .

ساك په پامیر کښی:

په ارکیالوژیکو پلټنو کښی لاس ته راغلی اسناد په دی شاهدی ورکوی چه ساك په د پاسیر سیمو ته په قبل المیلاد اووسه شپږمه ، کښی کو چیدل اوله هغه ځایه په یی د هند شمالی بر یدونو ته نفوذ کاوه (۲). هلته په وروستیو وختو کښی د دوی په موجودیت باندی دلرغونو مؤرخینو روایات شاهدی ورکوی .

په ختیځ پامیر کښی دقبل المیلاد پنځمی څلورسی پیړی سر بوط دساکو په هدیرو کښی موندل شوی هندی آلات اوشیان دد ې شاهد دی چه حتی لاډیر پخوا د هند دوادی داوسیدونکو اودباختری قبایلو اودهغو په جمله کښی د.ساکو تر منځه نیغ تما سونه موجودوو .

دقبل المیلاد دزرو کلو نو په نیمایی کښی د پامیر اوهغه په و رخیر مه سیمو اوسیدونکو یوه باختری (مرکزی آریایی) دیوه کلتور لرونکی واحده تولنه جوړه کړه . داسی تصور کیږی چه د دغو ساکو یووالی به د هغه ساکوسره سم ؤ کوم چه ددارا په نقش رستم کښی د (ساکه ها وما ورگه -Saka-Haumavarga)

(۱) ـ په دی باب د (پاکستان اولسونه) نومی کتاب ۱۶ مخ وګو ر یء.

(۲) ـ په دی باب (په ختیځ پامیر کښی ارکیا لو ژ یك کشفیا ت)د ب.الف لیتو نیسکی تالیف ته مراجعه وکړیء.

(۱) او په‌نورو کتیبو کښې په‌داسې نورو نومو نو یادشوی دی او کوم چه هیرودوت د (اموړګی سکیفیانو) په‌نامه یادکړی او استوګنځی یی ورته دسکیفی قبایلو جنوب ختیځو سیمو کښې ښوولی دی. دلته هیرودوت ز یاتوی چه سکیفیا نو په ساك (داموړګی سکیفیا نو) په‌خاص نامه یادول. دسترابون دروایت له مخې ساك د هغو وګړو نوم و، چه د سکیف په‌ییخی ختیځ کښې واقع وو.

دمؤرخینو په خیال د (ساك ـ هاوسو رګه) په‌اتحادیه کښې پرته له‌باختری قبایلو هغه غیر باختری بومی قبایل هم داخل وو کوم چه د جنوبی پامیر او د هند وکش دختیځې خوا په سیمو کښې دساکوله راتګه پخوا دلته او سیدل.

په‌دغه‌موضوع انترو پولوژیك اوارکیا لوژیك مواد شا هدی‌ورکوی او هم یی دلرغونو مؤرخینو په‌آثارو کښې څرك لیدل کیږی (۲). د ساکو د هیو ا د داوسید ونکو قبایلو په لړ کښې بطلیموس نومی‌مؤرخ د (بیلت -Bilt) نومی قبیلې نوم هم اخلی د (بیلت) نوم‌د (با لستا ن) دنوم سره ربط لری چه داوسیدو نکو اکثریت یی داردیان دی او وروسته یی د ساکو ژبه او کلتور منلی‌اوساك شوی دی.

دقبل‌المیلا د زروکلونو دساکو دژبی په‌باب‌اوس دعلم په‌لاس کښې کوم

---

۱ ـ د کلمه د تحلیل له مخه یی معنا (له هوما څخه دڅښا ك جوړو ونکی ساك) ده. دا کلمه دوه‌تو کی‌لری: (هاو مه ـ هو ما ورګه‌ـوریت) «اورانسکی».

۲ ـ په دی باب دمثال لپا ره د ۱.م ساندیشم (دپا میر او دپامیر دورخیرمه‌خوا او تاریخی جغرافیو بنه) نومی اثر ۷۱ ـ ۷۲ مخونه وګورئ.

سهم اسناد نشته . یوازې څه قبایلي او جغرافیوي خاص نوسونه له هغه وختهٔ ځنې دي چه هغه هم دهغو ډېرو وروستیو روایاتو، سکو او متنو نو په ذریعه توضیح شوي ، چه په خر وشتي او براهمني لیك لیکل شوي دي .

دد غو تولو اسناد وڅخه دانتیجه لاس ته راځي چه ددغو ساکو ژ به دباختري (دمرکزي آریایانو) دژ بو له ډلې څخه وه . (۱)

دقبل المیلاد دو یمې په نیما یې او قبل المیلاد دلومړي په سر کښې ساکود هند دټیمې قارې په شمال لوید یځ یرغل وکړ اوهغه سیمې یې دخپل لاس لاندې کړې.

دغه یرغل دهغو تار یخي لو یو پېښو نتیجه وه کومو چه په مرکز ي آسیا کښې دقبل المیلاددو یمې په نیما یې کښې سهم رول ولو با وه .

اکه چه تر مخه وړاندې شوه د قبل المیلاد زرو کلو نو په نیمایي کښې دساکې قبا یلو د (مس سا کیت - Massakit = لو ی سا ک) (۲) په ګډون لو یه اتحادیه جوړه شوې وه. دوی دجنوب خواته نفوذ وکړ اودپار تیانا اودګریکو باختر ترقلمرو نو پورې یې دوا کمنې نیلې وغزولې ، دجنوب خواته دد غو یر غلونو عامل غالباً دهغو ترکانو (ګون)فشار و، کوموچه دقبل المیلاد زرو کلونو په لومړۍ

---

۱ - په د ی با ب دپا کستان اولسونه نو مې کتاب ۲ ۶ - ۵ ۶ مخونه وګورئ.

۲ - د کلمې تحلیل داسې کیږي: (مس = مشر، لوی = سا ک - قوم دی او « ت » په شمالي باختري ژ بو کښې دجمع علامه ده) دیو لړ «شوروی» محققینو په عقیده « مس سا کیت » اوساک له یوه توکمه نه وو .

ئېماېې کښې په هغوساکي او سرساکي قبايلو سخت يرغلونه کول چه د (سيان شان) په ختيځو او شمالي سيمو کښې د کوچيانو په توګه ميشته وو. (۳)

جنوبي ساکو چه پارتيا ته سخته ساتي ورکړه د ايران ختيځو سيمو ته هم ورننو تل همدا رنګه يې د رنګيان (معاصر سيستان) او معاصر افغانستان جنوبلو يديځي سيمي ونيولي. دغه ځاى ددوى (ساکستان) په نامه يادشو چه اوس د سيستان په نامه ياديږي.

تخاريانو د کوننيد راسيون له خوا چه دګريکو - باختر دولت ته ما تي ورکړه شوه او هلته د تخاريانو واکمني قايمه شوه دغه ځاى د تخاريانو (يعني تخارستان) په نامه يادشو.

د تخارستان په شمالي هغو سيمو کښې چه د کاشيك او زرآفشان له سيندونو خړو بيدل د تخاري مشرانو په واکمنيو واړه واړه دولتونه جوړشول. هلته د تخاريانو د فشار له امله د پاميراو (تيان شان) ساك د پامير په سختو لارود کابل وادي اودهند پاسنيو سيمو ته تير شول او يولړ نوي ځمکي ئي ونيوي او يو څه شمير يې په خپلو واکو ييو کښې پاتي شول.

---

۳ - په دي باب دن. يا. بيروچين تاليف چه نوم ئي «په لرغونو زمانو کښې د منځني آسيا داوسيدونکو راتول شوى مشاهدات» د و يم توك ۱۷۴-۱۷۹-۱۸۳ مخونه وګورىء.

دغه خپریږ ل دد ې سبب شول چه د ساکي قبايلو يوه څا نګه له بلی څخه ليرې پر يوځی او قومی زوابط یې سره وشکیږی، د يری ځانګی يې د ځايی و ګړو سره ګډې وړې شي او خپل ځانګړيتوب او کلتو ر له لاسه ور کړی .

دساکودوا کمنی مرکزدغه وخت يعنی دقبل الميلادلوسړی پيړی په نيمايی کی ګندا هارا شو چه ختيځ مرکز يې تاکسيلا وګر ځيد .دغه وخت دساکو پا چا ماويس ؤ چه د پنجاب په زياته برخه يې هم خپل تسلط قايم کړی ؤ .

په قبل الميلا د لوسړی پيړ ی کښې د پارتيانو دفشار له امله د سا کستا ن (سيستان) وا کمنو د افغانستان دجنوب او بلو چستان د شما ل له لاری د ختيځ خواته د هند دمنځنی جريان په لور هڅه و کړه او بيا د هند په لا ند ېنی بر خه ګوجرات کتهيا وار او دهند نوروشمالی اولويديځو سيمو ته و رسيد ل .

ساکی، خو تنی ژ به او په با ختری (مر کز آر يا يی) کښې د هغی موقعيت

پکتيايانو (پښتنو)چه په قبل الميلاد شپږمه او پنځمه پيړی کښې د هيرودوت او هيکاتی دروايا تو له مخی په ګند اهارا کښې لوی دولت جو ړ کړی ؤ،ددغه دولت سرحدی پولی دساکو او پاميريانو دسيمو پوری غز يدلی و ی .(١) د لر غو نو ليکلو

١- (د ا فغا نستا ن تا ر يخ)لو مړ ی تو ك ٦٧-٦٨ مخو نه همدا رنګه (د پا کستان اولسونه) ٦١-٦٢ مخو نه وګو رئ .

اسناد وله مخې په آرا خوزیا (۱) کښې په قبل المیلاد د څلورمه‌او دریمه پیړۍ کښې یوه باختری (مرکزی آریا یې) ژبه مروجه وه‌چه داو پستاسره یې نژدې خپلوی لرله. یو لړ دیالیکتونه‌لکه‌باختری، درنګیانی‌اونور هم‌دلته موجودو و (۲).

د مؤرخینو اوژبپوهانو په‌عقیده‌همدغه‌د یالیکتونه او توکمونه د معاصری پښتو نځواد ژبو اوتوکمونو منبع ګرز ېد لی دي. دد غو ژ بو او لهجو په لړ کښې دتاریخی‌فونیتیك اوعلامولەمخې‌مؤرخین اوژبپوهان‌حکم کوی‌چه باختري‌له‌یوی خوادسوغدی، خوارزمی اوپارتیانی اوله‌بلی‌خوادمعاصری‌پښتوترمنځه‌موقعیت لاره (۳)

---

۱ -«آراکوزیا» یا«آرا خوزیا» دارغونی افغانستان‌هغه‌سیمه‌وه‌چه د هیلمند دمرستیالانو خصوصاً دارغنداوله‌سینده خړوبیده. دسکندر په وخت کښې ددغی سیمی اوسیندونکو ځان د(پختون) په نامه یاد کړی دي. دد غی سیمی مرکز دکندهار ښار دی‌چه‌یونانی‌سکندرجوړکړی‌دی. په‌دی‌باب‌دنجیب‌الله‌تالیف‌د کابل چاپ «۹۸»او«۱۰۶» مخونه وګوری.

۲- دبیرشتم تالیف «تاریخی-ارکیالوژیك یاد داشتونه» ۸۸ ۲-۳۱۷ مخونه‌وګوری.

۳ -یادونه- دمحققینو داحکم زما په خیال تر زیاتی اندازی دسره‌کوتل دکتیبی په‌لوست او تحلیل بنادی، ددغی کتیبی د یو مهم پراګراف‌لوست او تحلیل دکابل مجلی د«۱۳۴۹» کال په‌دویمه، دریمه‌اوڅلورمه ګڼوکښی ورانه‌دی شوا دا وښو ول‌شوه‌چه سره کوتل کتیبه په پښتوليکل شوی ده «لیکونکی».

ساکی اتلان:

کله چه سونږ دمعاصر افغانستان لرغونیتاریخ مطالعه کوو- دیو لړ ساکی اتلانو «هیرویانو» له نامه سره هم اشنا کیږو. یوله دغوا تلانو څخه افسانوي هیرووساکیملکه «زرینه» ده چهدقبل المیلاد د او و می په پای کښی اودشپږمی پهلوسری نیمائی کښیئی دلرغونی افغانستان پهخاوره کښی دساکی کو چیانو یوه لویهاتحادیه جوړه کړه اوبیایید «پا رتها»له لاری دا یرا نیا نو «ماد یانو» پهضد یرغلونه شروع کړل.ددغو کوچیانو په مقابل کښیددفاع له پارهپهمرغاو، باختر او سوغد کښیتاریخی لوی دیوالونه دتاریخی اسنادو په لحا ظ بنه شاهد دی (۱).

دساکی اتلانو اودهغو پهلړ کښی دساکی ملکی زرینی یادونه دلرغو نوسؤر خینو په آثار و کښی زښته ډیرهلیداله کیږي.دهیرود وتد روا یت له مخی دسا کو او ایرانیانوپه لوسړی جګړه کښی ایرانیانوپه ساکوچل و کړاو د وی ته یی ما تی ورکړه اودساکو سرلښکردزرینی زوی «سپارګاپیس »یی اسیرکړ. زرینی لهپارسیانو څخهغوښتنهوکړه چه ددیزوییبیرته ورخوشی کړي او په هغه صو رت کښی به ورسره سوله وکړي -اود پارسیانو واکمن«کوریش » تهیی ولیکل:

«که ته داکارونه کړی دسا کو په خد ای «لمر» سوګند خو رم چه زه به ساتنده پهوینوماته کړم که څه هم تهٔ سوړیی!»

۱- «د افغا نستا ن تاریخ» لومړیټو ك «۵۲-۵۳»مخونه وګوریء.

ساکو په پارسیانو له بله هره وخته سخت یرغل وکړ. کوریش په دغه جګړه کښې ووژل شو. زرینې د وګړوله وینو یوژی ډك کړد سرو په لړ کښې یې د وریش سر ی وموند دهغه سر یې دوینو په ژی کښې واچاوه او په سلنه ویې ورته وویل: «که څه هم په جګړه کښې ما پر تا بری وموند خو تا لو یه خوا شینې زما په زړه چه دزوی نه دی محرومه کړم خو زه تا په وینو د اسې مړوم لکه چه رته ویلې وو» (۱) هیرودوت په خپل تاریخ کښې دساکو افسانوی پید ایښت په دې ډول څرګند وی: ساکې «سیتی» وایې چه «ددوی دهیواد په وچ ډاك کښې د«ترګیتای -Targitai) په نامه لو سړی سړی پیدا شو پلار یې آسمان او مور یې دسین لوروه. دهغه دری زامن پیدا شول چه مشر یې «لوراکزای Loraksai او منځنی یې (ارپوکزای Arpoksai) او کشر یې (کولکزای Kolaksai) ؤ. ددوی په وخت کښې ددوی په ځمکه طلایې شیان: ایوه، تسکوره او کاسه له آسمانه راولویدل. دوی چه دغه شیان ولیدل مشر ئې ورنږدی شو چه هغه راواخلی خوطلایی شیان داورپه سره لمبه بدل شو هغه بیرته ورنه ستون شو منځنی چه ورنږدی شو د هغه سره هم دا پیښه تکرار شوه. کشر چه ورنږدی شو هغه دا شیان را و اخیستل مشران ورونه په دې معجزه پوه شول او ټوله پاچایـی کشرته و رپر ښبو دله.»

دسیسل اوسید ونکی (دیودر Diodor) قبل المیلاد لو مړ ی پیړی» په لړ څه تو پیر سره هم دغه افسانه ذکر کړی ده.

دیودرد ساکی ملکی زرینې په باب هم روایت وړاندی کړی دی او لیکی چه دساکی ښځی ډیری زړه وری دی، دوی په ټولو جګړو کښې دخپلو میړو نو سره ګډون

۱- دتاجیکی اولسی اشعارو تا ریخچه سوالف ای-س. براګینسکی ۱۲۹-۱۳۳ مخونه.

AQKU

کوی . مگر زرینه د ساکو دټولو ښځو په نسبت زیاته زړووره وه، هغی خپل اولس دگاونډ یو توکمونو دغلامی نه خلاص کړ، ډیر ښارونه یی ودان کړل او دخپلو تبعه ؤ تکلیفونه یی کم کړل . ددی له مرگه وروسته ددی دیاد گارد نما ښځنی په غرض ساکو دهرم په شکل په دی اوی قبر جوړ کړ چه څلویښت قدمه وه ساکو دخپلوقهرمانو اخلا قو په نسبت ددی زیاته نما ښځنه کو له (۱)

دساکی قهرمانو «اتلانو» په ډ کښی یویل چه په ټوله منځنی اسیا کښی شهرت لری مشهور اتل رستم دی .

په اویستا کښی درستم نوم نه دی ذکر شوی ـ مستشر قین (۲) عقیده لری چه زردشتی دین روحانیونو ته درستم نوم اودهغه په باب ژکلونه څرگندول خو له دی کبله چه هغه دزردشتی دین پیروانه ؤ او دمحلی معبودانو عبادت یی کاوه زردشتی روحانیو نو دده نوم نه دی اخیستی او په ساکی حماسو کښی د رستم په باب دقهرمانی قصی په اویستا کښی په بل ډول ښو ول شوی دی .

په سوغدی حماسی متنونو کښي درستم یا دو نه څوځا یه راغلی ده .

درستم نوم په پارتیا نی قصیدو : « یادگار زریران » او «درخت اسوریك» کښی

۱ـ دزرینی په باب زیات معلومات «دتاجیکی اولسی ادب له تار یخه » س، براگینسکی ۱۲۹-۱۳۳ مخونه وگوری.

۲ ـ لکه جرمنی عا لم ت. نیلدیك اوف. شپیگیل . د« تاجیکی او لسی اشعارو تاریخ »۱۲۹ مخ په استناد .

هم‌را غلی دی. دمنځنی پارسی «ددری‌پارسی دمور» د میلا دی شپږمی ا تمی پیړی په آثاروشلا «شهرهای ایران» کښی رستم د(ر وستا تهم- Rostatham) په‌نامه‌دسیستان‌دوا کمن ، دفراه او زابلستان‌دښارونودجوړوونکی په‌صفت په‌یوزیات شمیر آفسانوی‌قصو کښی یاد شوی‌د ی.

فردوسی‌په‌خپله‌شهنامه کښی‌رستم‌دیوه‌لوی‌اتل په‌صفت‌یادوی‌په‌یوځای کښی‌وایی:

کـه یك نیمه ا زعمر خو د کم کنم - جها نی پر ا ز نا م ر ستم کنم .

دسا کی‌اتل رستم‌نوم په‌ټوله‌منځنی ا سیا،افغانستان اوایران کښی دیوه نه‌ماتیدونکی پهلوان په‌حیث‌شهرت لری .

درستم په‌شان قصې دهغه دلمسی سهراب په باب‌چه‌په پامیر کښی‌زیږیدلی دی هم زیاد شهرت لری (۱) .

دپښتو اوساکی خپلوی:

دنړی مؤرخین اوژبپوهان دتاریخی‌اولینګو یستیکواسنادوله‌مخی‌عقیده‌ښکا ری کوی‌چه معاصره پښتو اوسا کی دیالیکتونو یوتربله سره‌نژدی خپلوی لر له .

دجنوب ختیځو باختر ی‌ژبود ژوند اورواج ساحه‌دمعاصر افغا نستان سیمه او څه‌یی دچینایی تر کستان پوری غزیدلی‌وه‌ددغه‌ځا ی‌تاریخی‌ژبی‌له‌باختری،سا کی هفتالی اونوروڅخه عبا رت دی د دغو ژبو لیکلی ا سنا د یو ازی به با ختر ی (د سره کوتل کتیبه) اوپه‌سا کی، خوتنی کښی‌پاتی‌دی .

---

۱ - دپاسنی موضوع د تفصیل له پاره (دتاجیکی اولسی اشعاروتا ریخ) له (۹ ۲- نه‌تر ۱۲۶) مخونه پوری اثر ته‌سراجعه و کړی‌ء .

همدغه ژبی دمعاصری پښتو ، مونجانی اوپامیری ژبو سیندی دی(۱) د نړی دژبو محققین لیکی چه پښتو دمونجانی اونوروپامیری ژبوتر منځه موقعیت لری(۲). ناستو ژبپوه (ي.م.اور انسکی) عقیده لری چه د غه تو لی جنو بی باختری ژ بی (پښتواو پامیری) دلرغونوسا کوتخاری ژبوپاتی شونی دی(۳) دناستو عالم مارگین ستربن په نظریه مرکزی آریایی هغه دیالیکتونه چه پښتو اوسا کی-تخاری ورنه راوتلی دی که څه هم سره ډیر نژدی وو، خو بیاهم دوی دیوی ژبی زیږیده نه بلکی د هغو بیلو بیلو لرغو نو باختری دیالیکتو نو پاتی شونی دی کوم چه دمعاصر افغانستان په تاریخی خاوره اودمرکزی اسیا په جنوبی سیمو کښی دقبل المیلا ددریمی نه دمیلادی اووسی اواتمی پیړی پورې ژوندی وو (۴) .

---

۱ - په دی باب دزیات تفصیل له پاره (ایر انی ژبی) اورانسکی تا لیف (۱۷۵-۱۷۶)مخونوته مراجعه وکړیء .

۲ - په دی بابد(ي . زاروبین) (دمونجانی ژبی خصوصیت)نومی کتا ب (۱۲۹) مخ وگوریء.

۳ - ي .م. اورانسکی (دایرانی ژبپوهنی مقدمه)۳۴۶ مخ اود پاکستان اولسونه۱۳۳ مخ .

3—Morgeenstriene, Report on linguistic mission to Afghan istan PP. 38—39.

په هرصورت ټول تاريخي اسناد د پښتواوساکي د خپلوي شاهد دی، زما په خيال معاصره پښتو د تاريخي پکتيانو، دساکواوباختريانو (دسره کوټل د ژبې) مخلوطه ژوندی مجموعه ده.

دلته ددې خبرې يادونه هم په زړه پوری ده چه په قبل الميلا دشپږمه څلورمه پيړی کښې د پښتنو د (پروپا ميساد- Paropamisad) (۱) اوگندا ها را لويد يځی سيمې دساکود نړی سره گډی پولی لرلې او امکان لری چه دغه وخت يا له دغه وخته ترمخه هم ساکو دغوسيمو ته لاره موندلې وه (۲).

په دې باب په قبل الميلاد پنځمه او څلورمه پيړی کښې دساکي دژبې د (کنت- ښار، کلی) نوم دافغانستان او هغه ته دورځيرمه سيمو په نوموکښې هم په زړه پوری دی. لکه په (کندبش- کوندوس) تا شکند، يار کنداو په نوروکې (۳) او همدارنگه د پښتو (کندی- قريه، ناحيه).

۱- «پر و پا ميساد» يا «پروپا ميزاد» دلرغونی افغانستان هغه سيمه وه چه يوه مهمه دره يې «کوفن» معاصر «کابل» وه داسيمه «کابل» او دهغه خوااوشا په تاريخي داسې موقعيت کښې واقع وه چه دشمال په خوا ورته يوه لويه لاره دباختر، جنوب ته يې دکندهار اوختيځ ته يې دهندلويي لاری غزيدلې وی ددغې سيمې دهغه وخت مشهور ښارونه «ارتوسپان- دکابل معاصر ښار» «کارتانا» «ستروزيا» او «کادروسی» وو «آريانا افغانستان» دښاغلی نجيب الله تاليف «۱۰۸»مخ وگورئ.

۲- دف .تو ماس «ساکستان» نومی اثر.

۳- دافغانستان تاريخ لومړی ټوك ۲۹ مخ دمثال لپاره وگورئ.

ساکی ژبه:

په معاصری ژبپوهنی کښی چه کله (دساکی ژبی) نوم اخستل کیږی مرادورنه هغه باختری (سرکزی آریایی) ژبه ده چه متنونه اولیکلی مواد یی په هندی بر اهمنی لیك لیکل شوی اودشلمی پیړی په پیل کښی په خوتن اودچینایی تورکستان په نوروبرخو کښی سوندل شوی دی.

ددغو متنونو او کتیبو دلیکلو نیټه د پنځمی میلادی نه دلسمی میلادی پوری تاکل شوی ده. ددغو متنونو زیاته برخه (په نظم اونثر) دهغوبودایی آثاروژبارونه ده، چه دسانسکریت نه ترجمه شوی دی. دغه متنونه کله د (ساکی، خوتنی) او کله یوازی په [خوتنی] سره یادیږی په دغوسوندل شو واسنادو کښی دغه ژبه د (هوتنه Hvatanau. Hvamna) خوتنی په نامه یادیږی، همدارنګه دخوتنی ژبی خپلوان دیا لیکتونه په چینایی تورکستان کښی خوتن ته په ورنژدې (مورشوك) او (شوم توك) نومی سیمو کښی خپاره وو چه دهغوی په موجودیت په دغو سیمو کښی سوندل شوی کتیبی شاهدی ورکوی. تردی چه دغسی دیالیکتونه لا په یوه ولسمه عیسوی پیړی کښی هم په کاشقار کښی ژوندی وو.

---

۳ – «دافغانستان تاریخ» لومړی ټوك ۹ ۲ مخ دمثال له پاره وګوریء.

دچینایی تورکستان په دښتو کښې موندل شوي کتیبې په دې شاهدي ورکوي چه په لویدیځ (باختر ،ماوراءالنهراوسیستان) باندې دساکوتخاریانو-له مکرروپرغلونو وروسته باختری(مرکزی آریایی) ژبه دلوسړیو زرواو وروستیو زرو میلادی کلونو تر منځه موجوده وه .

په معاصر وخت کښې د خوتنی کتیبو په لوست کې محققین د وه ژبې یادژبې دوه مرحلې تا کی :

الف: زړه خوتنی - Older Kho Tanes

ب : نوی خو تنی - Loter Khotanes

لرغونې ساکی یې دفعل اواسم په فریکاتیف سیستم Inflexional (دا دا تو له مرستې پر ته دمعانیو په افاده) بدای وه اسم یې اووه گرامری حالتونه لرل چه په بودایی څینو متنونو کښې هم داسې لیدل کیږي .

وروستنی خوتنی نسبت لرغونی خوتنی ته دفونیتیك په پراختیا دشمیر «مفرد تثنیه او جمع» په اختصار اوداداتو په مرسته دگرامری حالتونو په افاده بیلیږي .

دفونیتیك په لحاظ خوتنی دلرغونی آریایی نه ډیره په ځنگ شوی ده. دساکو نورو «توسشوك »دیالیکتونو ترزیاتی اندازی پوری دفونیتیك په لحاظ خپل لرغونی خصوصیات په ځان کښې ساتلی دی .

په دې لحاظ چه دخوتنی متنونه دسانسکریت نه ډ بودایی متنونو ترجمه ده په خوتنی کښې که څه هم هندی لغات «بودایی اصطلاحات» زښت ډیردی مگر

ACKU

بیا هم دلغاتو اصلي ذخیره یی آریایی (۱) ریښه لري لکه :

خو تنی (اسه - Assa) پښتو «اس» زره پارسی «اسه او یستا «اسپه»

خوتنی «ازوپښتو «زه»اویستا «ازم» زره پاریسی «ادم» .

خوتنی غره-Ggrara (۲) او یستا گیری - gairi سو غدی «غر» پښتو«غر»

خوتنی(پوره-Pura زوی) اویستا (پو تره) زره پا رسی(پو تره)پارتیانی(پو هر) دا کلمه دپښتو په(تربور، بوره) کښې ریښه لري.

خوتنی(شو)اویستا(خشب)زره پارسی(خشب) پښتو (شپه).

خوتنی(خرمن- Tcarman) اویستا(چرمن)زره پارسی (چرمن)پښتو(خرمن) او دامی نور.د فعل دتصریف له مخې هم خوتنی دباختری مرکزی آریا یی ژبو سره نژدی خپلوی لری،دلته دمثال په ډول د خوتنی د(پولس — Puls —پوښتنه)تصریف د حال په زمانه کښې وړاندې کوم:

دمفرد حال صیغې:

مفرد متکلم- پولسیمه Pulsima پوښتم

مفرد مخاطب - پولسی Pulsi پوښتی.

مفرد غایب- پولسته Pulsta پوښتی.

---

۱ - کله چه مونږ د«آریایی» کلمه استعمالو ومطلب موورنه هند وآریایی نه بلکی مطلب مو پیر سیك اوباختری «مرکزی آر یا یی» دی چه کله کله په مشهو رغلط ډول د «ایرانی» په نامه یادیږی .

۲ - د «گگ» تکرار غالباً د«غ» دغږ دافادی له پاره دی «لیکو نکی»

دجمع د حال صیغی :

جمع متکلم پولسمه Pulsama پوښتو

جمع مخاطب پولسته Pulsta پوښتی .

جمع غایب پولسوند Pulsinda پوښتی.

دلته دساکی د(توم شوك)دیوه متن دیوې توتی ترانسکرپسیون دترجمی او تحلیل سره وړاندې کیږي: (۱)

asu Dhermadāsi bērsā saraṃga
Cchami, dāsā śaraṃga cchami, saṃgā
Śaraṃga cchami, vitana dritana krāmami

تحلیل :

ازو(زه): د مفرد متکلم شخصی ضمیر د ی چه تفصیل بی څو کرښی ترمخه تیرشو.

(دهارما داسی):مفرد خاص نوم دی په لومړی حالت کښې .

بارسه(بودا): خاص نوم دی په مجروری حالت کښی.دا سم اصل حالت بارسه (بودا) او(زور) دمجروری حالت علامه ده.

ساراتیه(پتون، پناوړنه) :مفرد د خاص اسم دی په ظرفی حالت کښی. غالباً به دپښتو ڐ(سوري) د کلمی سره دریښی لهسخی خپلوی و لري.

۱ ـ متن اوتحلیل ئي له(ایرانی ژبی۹۳)مخ نه اخستل شوی.

ACK

ځی(ځم) دحال دفعل دمفرد متکلم صیغه ده چه د(تللو) معناورکوی.دفعل ریښه (ځه-تلل دي)دپښتو دحال صیغی(ځم،ځو،ځی او نو رې)هم ددغی ر یښی سره خپلوی لري.

داریښه په او ر سړی کښی (ځ) په او سیتی کښی (ځـو) او په کو ر دی کښی (چون)ده.

دا ته (دود،قانون):اسم ذات دی دپښتو(دود)دمنځنی پارمی(داذ) دنـوې پارسی(داد)له همدغی ریښی سره خپلوي لري.دغه ریښه په لرغونی آریا یي کښی (دا- (dh) په زړه هندی کښی(دها- dha))د(جوړولو،رغولو) په معنا موجوده وه.

سنګا(ټولنه): مفرد اسم ذات په دویم حـالت کښی.

ویتانه(دوه ځله،دوه واره) عدد دی.دویتانه (درې ځله، دری واره)عدد ددی. اصل عددئی(درې)دی چه په اویستا کښی(ذرایه)او په پښتو کښی (درې) دي.

هوا ناسی(وایم): دحال له فعله دمفرد متکلم صیغه ده ر یښه یی(هون-ویل) ده.

ترجمه:

زه (دهار ماداسی)ځم دبودا پناه ته(بوداته پناه وړم)ځم دقانون پناه ته ځـم د ټولنی پناه ته-دا دوه ځله درې ځله وایم.

یادونه:-د دغې مقالې په لیکلو کښې له راتلونکو ماخذو نوځخه زیاته استفاده شوې ده:

۱-(د افغانستان تاریخ) لومړی ټوك د و.م.مسون او و.ا لف رومودین تالیف د مسکو د (۱۹٦٤) کال چاپ.

۲- (ایرانی ژبې) دې.م. اورانسکی تالیف د مسکو د ۱۹٦۳ کال چاپ.

۳ - (د پاکستان اولسونه) دیو. وگانکوفسکی تالیف د مسکو د ۱۹٦٤ کال چاپ.

۴-(دتاجیکی اولسی اشعا روله تاریخ ځخه) مؤلف ي.س. براگینسکی مسکو د ۱۹٥٦ کال خپرونه.

۵- د پښتو نخواه څو تاریخی نومونو په تطبیق کښې د ښاغلی نجیب الله د اثر نه چه (آریانا-افغانستان) نو مېږې هم لږه استفاده شوې ده.

٦- ایرانی مقدماتی ژ بپوهنه-اورانسکی.

اویستایي ژبه

اویستا یوه له لرغونو آریایي ژبو څخه ده چه د پوهانو په عقیده دزاړه بلخ ژبه وه .ددغو پوهانو له جملې نه الماني ژبپوهان کلکه عقیده لري چه ددې ژبې ویونکي د لرغوني بلخ اوسیدونکي وواوله همدې کبله د(زاړه بلخ دژ بې) په نامه هم یادیږي .

نامتوختیز پیژندونکي او ژبپوهان رستیتنه کلکه عقیده لري چه(پښتو) یا (پختو) دلرغوني اویستا خورایوه ژوندۍ او څرگند خلف الصدق دی. (۱)

که موږ دغه رستیتنه ددې نظر سره موافق یوو اومنو چه د اویستا او پښتو ترمنځه دخلف او سلف مناسبت د ی نودا خو باید په جرئت ووایو چه دا دواړه ژبې لکه دوه زړې خویندې یو تر بله پوره گرامري او فونیتیکي مناسبت لري چه وروسته به واضح شي.

---

(۱)تاریخ ادب ایران جلد اول دپرفیسر ادوارد برون تالیف دعلی پاشاصالح ترجمه. ۳-۵۳مخونه دتهران چاپ (۱۳۳۳ کال) وگوریء.

اویستاله یوې نیمې پیړی نه را په دې خوا نه یوازې دآریا ئی ژب پوهانو بلکې دا ندو یورو پی ژب پوهانو او محققینو د پلټنې او تحقیق مورد گرځیدلې ده.

اویستا د زردشتی دین مذهبی ژبه وه چه په هغی کی ځو مذهبی متنونه دمحققینو په لاس ورغلی دي. ددغه مذهب بقا یا داسلام په ذریعه له منځه لاړل او دېره لږه اندازه یې په ایران او هند کی اوس هم شته دي.

د اویستا لاسته راغلی متنونه له ۱۳۰۰ پیړیو نه زړه نسخه نه دي (نسبتاً د پخوانی متن تاریخ ئی ۱۲۷۸ عیسوی کال ته رسیږي).

دزردشت دین:

(دزر دشت)، د کلمی په ایتما لوژیك تحلیل کی امکان لری چه د (زرد) کلمه (زوړ) «اوشت» د «اوش» په معناوی چه د تولې کلمی معنا «زاړه اوښا ن لرونکی یا دزړو اوښانو څښتن» ده (۱) زما په خیال د «زرښت» د کلمی سره رابطه لري، لکه «پیر» چه احتراماً دمذهبی مشر لقب دی. د لرغونی «رد» بدل په پښتو کی «ړ» دی.

دزردشت تاریخ دقبل المیلاد «۷» پیړی های اود «۶» پیړی لومړی نیمائی ته رسیږی. باختر «بلخ» دزردشت د دین دخپرولو او روزلو مرکز و. دطبیعی قوتونو د ارتبا طارلو په ساحه کی زردشت ځو معبو دان یا ارباب الانواع خلکو ته معرفی

۲- د افغانستان تاریخ لومړی توك «۲ ۵-۳ ۵» مخونه، مؤلفین ماسون او رومود ین.

کړل لکه «میترا» دمیوورب النوع «اناهیته» دکرونډ وهالونکی اودا سی نور د دغو ارباب الانوا عوپه باره کی دسندرو مجموعه اویستا ده .

زردشت کوشش وکړ چه ددوالیزم او تنویث زړو مذهبی عقید و ته خاتمه ورکړي اوخلك ئې دخپل مذهب دمرکز «اهور» یا«اهورمزد (۱) پالنې ته راوبلل.

هغه تواننه چه دغه مذهب په کیوده کوله د قبیلو تر منځه اختلافونه او جنګونه ورکی موجودوو-تر ټولو زیات دا اختلافونه دکلیو او سید ونکو او هغو کوچیو قبایلو ترمنځه موجود وو چه دزردشت دد ین حما یه او پیر وی ئې کو له.

داقبا یل د افغانستان په غربی میمو کی اوسیدل اود آریا، باختریا، مارګیانا، خوا رزم سوغد، پارتیا، آراخوزیاانواونو رو په نامه ئې شهرت درلود .

کوچی قبایل چه د غرو په لمنو ، دشتو او په آبادوهرځا یو کی اوسیدل، د کلیو په اوسیدونکو به ئې حملی او یرغلونه کول او د هغوی ر سی اوکو رونه به ئې چور چپاو کول .

۱-دا هور »یا«اهورمزد» دزردشت دمذ هب مرکزدی. غالبه داده چه لومړی کلمه یعنی «اهور» د پښتو «اور» وی او دوهمه کلمه «اهورمزد » له دوو کلموڅخه مرکب نوم وي چه معنائې «محترم اور». په پښتو کښی «مزد ک» د «معبد » معنا ورکوی. په دی اساس د«اهو رمزد» معنا کیدای شی چه د« او رعباد ت » شی څینو ژبپوهانو په هو بنیا ر باد ار تر جمه کړ یدی.

دقبل المیلا د «۷» پیړی په پای او د«٦» پیړی په سر کی دسا کو «سیستان»
دکو چیانو هغی اتحاد یې خوراډیر اهمیت پیدا کړ چې د افسانو ی مشری زرینی نومی
ښځی په واسطه لوموړی تول کوچی قبایل په خپل منځ کی سره یو او بیا د خپلو
کلیو داوسیدونکو سره متحد شول او بیاد «پارتیانو» په طرفداری د «مادی» نومی
قبیلی سره په جګړه بوخت شول

د کلیو اوښارونو اوسیدونکی یعنی سوغدیان ،مارګیان او باختریان د حمله
کوونکو او یرغل ګرو دیرغلو نو نه سخت په عذاب او نارام شول مجبور شول چه
له خپلو ښارونو او هستوګنځایونو څخه کلاګانی او پاخه دیوالونه تاو کا .

دمعاصرافغانستان د سیستان په نادعلی کی دلاسته راغلو لرغونوآثارو کشفیات
داویستاد یرولرغونو هغو توصیفاتو سره مطابقت لری چه دلرغونو ښاهی حصارونو
په باب ئی په یاښته کی بیان راغلی دی .

دنادعلی په کشف شووخرابو کی یوه ۳۱ متره لوړه غونډۍ پرته ده
ددغی غونډۍ په سرد یوه داسی عظیم الشان حصار کنډری او بقایا موندل شوی
چه خواوشاېی دخاسواو پخوخښتو هستوګنځایونه واقع وو .

ددغه حصار نخښی او توصیفونه بیخی د هغو نخښواو توصیفونو مصداق دی
چه دښاهي حصارونو په باب ئی داویستا په یوولرغونی برخه یاښته کی ذکر راغلی دی.

داویستاپه دیلرغونو برخو کښې څو محله دیوی د اسی نو لنی یادونه کیږی چه‌له څلور و طبقو جوړه شوی وه.

تر ټولو ټیټه طبقه دسر یانو او ټیټو خلکو وه چه د نمنا –nmana(۱) په نامه‌یادیدله. ددی طبقی له پاسه ددوی‌دځښتن کورنی واقع وه‌چه دنمنا پای‌تیش namnapaitish په نامه یادیدله (۲) .

دحصار په چاپیر پیاده خانوکی ټیټه طبقه‌او په‌سنځ کی ئی‌د هغوی د رئیس کورنی یعنی منا پای‌تیش‌دیوه واحد په حیث اوسیدل . داسی‌و احدپه‌اویستا کی د ویس –Vis په‌نامه‌یادیږی‌چه‌معنائی‌په‌خیل، ټپه او قبیله شوی‌ده(۳) . (دویس) مشر ی د«ویس پای تیش» په‌غاړه وه .

دریمه طبقه په او یستا کی د زانتو –Zantu په نامه یاده‌شوی‌ده‌مګرپه‌ګټی کی د (ایر یه من – Airyaman) (۴)په نا مه ذ کر شوی ده‌چه معنا ئی قا م یااولسوالی‌ده .

۱–دا کلمه دمعنا په‌شکل اوس هم په پښتو کی«منا»ژوندی‌اود کورهغی فرعی‌برخی‌ته و ائی چه په هغی کی دځا رویواذوقه ساتل کیږی .

۲– په‌دې کلمه کی‌د «منا»اود « په »خدستی‌توری‌ریښه واضحه ده.

۳– لیری په نه‌وی که دلوی‌میرویس بابا دنوم وروستی بر خه له همد غی ریښې و ی٬ یعنی د قبیلی مېر.

۴– دلته د(ایره) کلمه د زردشت دمذهبی اصولو په اسا س د احترام په‌توګه (قا) لپاره ئی ښائی‌نوم ګرځیدلی وی.

ځاورېه طبقه‌په او یستا کی د (داهیو- Dahyu) په‌نامه‌ذکر شوی‌چه‌معنائی هیواد اوسلکت‌دی. دهیوادمشر د (داهیواد پای تیش) په‌لقب یادیده (۱).

د او یستا تاریخ :

افسانوی‌او حماسی داستانونه‌اوسند ری‌په آریائی‌قبایلو کی‌چه‌لاپه‌یوه‌ټاټو بي کښی اوسیدل موجود وو . بیادقبایلی‌مهاجر تو نوسره سم دغه‌سندری‌اوداستانونه پراخ اومتنوع شوی، او په تدریج سره‌ئی دمذهبی متنو نو اوعباد تی دعارنګ‌ځوره کړی و . مثلاد (ویدا)سند ری په هندي‌قبائلو کی لومړی‌روایتاً او بیا کتابتاً له یوه‌نسل‌نه‌بل‌نسل ته نقل اومذهبی رنګ یی‌سو ند لی‌دی .

دغسی مذهبی‌سند ری‌او روایات غالباً هغو باختری قبایلو هم‌درلودل‌چه پخپل اصلی‌ټاټو بي کښی‌پاتی یا یی‌دغرب خواته‌مهاجرتونه کړی‌وو ، مګر دزردشت‌ددین ظهور په اوسه او شپږمه قبل المیلاد پیړی کی هغوی‌ته خاتمه‌ورکړی‌او په‌مقابل کی ئی د (ګاتی) داسی نظمو نه جوړشون چه خلک د (اهور مـوزد) یـا د (اورمزد) نومی‌خدای عبادت ته‌رابلل کیږی .

د زردشت دین‌له‌خپل ټاټو بی په تدریج‌سره دغرب خواته خپورشوا و د یر وروسته یی (مادیا) دمرکز په‌حیث وګرځیده اودمذهب مشری د ماد یا یوی قبیلی‌دمغانوپه غاړه شوه . د زردشت دمذهب دپراختیا سره سم په تدریج سره

۱- پورته مطالب (د افغانستان تاریخ لومړی ټوک) ۵۲-۵۳ مخونو څخه اخیستل شوی دي.

دزردشتي‌دين د (مقدس کتاب) قانون تکمیل‌اوجوړ شو، چه په‌هغه کی‌داحترام او اهمیت په‌لحاظ (گاتی) غټ‌مقام لري‌چه‌ر وا یتاً له یوه نسل نه‌بل‌ته نقل شوی دی . څرنگه چه د او یستابرخی‌په‌بیلو بیلو زمانو اوسکانو کی منځ ته‌راغلی له یوه دیالیکته بل‌ته اوله یوې‌پیړی نه‌بلی ته روایتاً نقل‌شوی‌ـنو طبعاً څه نا څه بدلون او تغییر ورکی منځ‌ته راغلی دی، خصوصاً په هغو متنونو کښی چی څپله دمذهب مؤسس زردشت سره ربط نه‌لری . مگردغه‌بدلون دیوه‌دیا لیکت نمو نـه څکه نه‌گڼل کیږي چه‌بل دیالیکت ته‌دنقل په‌صورت کی خپل خصوصیات نشی ساتلای‌ـ بلکی په‌لږه یا ډیره‌انداز ه‌هغه‌دبل دیا لیکت خصوصیات‌قبلوی . همدارنگه دکتیبو ژ به په‌تدریج سره‌دعامی افادی او محاوری نه لیری شوی او یو ا ز ی دمذهبی‌چارو داجراء‌دپاره استخدامید له اوڅرنگه چه‌دمذهبی چارو اجراء د پاره همدا یوه‌ژ به وه‌نود وختو نو په تیر یدو چه په‌وروستیو وختو کی‌د مؤلفینو له‌خوا کوم نوی‌مذ هبي متنو نه لیکل شوی،هغه هم‌په‌دغه ژ به‌وو . له‌دغه ځایه‌گرانه ده چه‌په‌دغه سره ژ به تر نور ولومړی متنونه تشخیص‌شی .

د او یستامتنونه امکان لری دلومړی‌ځل‌د پاره سل کاله‌قبل المیلاد‌د(ارشکانو) په‌عصرکی دآرامی‌الفبا داساس په‌یوه ډو ل لیکل‌شوی چه‌په هغو کی دو ا و یل دپاره توری‌نه وو او دکا نسو ننتو دپاره هم یوه توری کو لای شول چه د ز یا تو غږونود پاره استخدام‌شی . په‌دغه‌اساس‌لیکل شوی متنونه زموږ لا س ته نه دی راغلی اوحتی ځینی‌پوهان له‌دغه‌حقیقته اصلاً منکر د ی. بی‌اختلافه ر اتلو نکی قا نو نچه د (ساسانیانو) په‌و خت کی‌دخلورمی په‌آخریادشپږمی پیړ ی په‌منځکښی جوړه شوی‌ده . هغه‌په استثنا ئی دول شفاهتاًاو یادارشکانودمتن‌په‌ذر یعه‌دشفاهي

عنعنی داغیزی لاندی تردغه وخته را رسیدلی ده .

د(مقدسو متنونو) دپاره دپهلوی الفبأ په اساس خاص توری په کاراچول شوی وو چه هر توری یی خپل تلفظ په بشپړه اندازه ادا کاوه . د دغو متنو مجموعه او یستانو میدله چه معنا یی (اساس) او (بنسټ) ده ، په زړه پارسی کی ورته (اپستاک) ویل کیده او دهغو ترجمه اوتفسیر په پهلوی ژبه (زند -Zand نومیږی چه معنا ئی « علم » او « پوهنه » ده ، اود پښتو د « پی + ژند »سره یی رښینه یوه ده. له دغه وخته وروسته داو یستاد لیکنی دوهمه دوره شروع کیږی مګر په منځنی اسیا کی داسلام خپر یدل اودعر بی الفباء منځته را تلل یوه داسی ضر به وه چه دزردشت مذهب ، الفباء او هر څه ته ئی تقر یباً آخاتمه ورکړه ،دمذهب پیروان ضعیف او تا ر په تار شول ، (مقدس متونه) وړو په وړو هیرشول ، یوا زی تعبدی برخه یی پاتی شوه چه په عباداتو کی استعمالید له . له همدی امله تراوسه را رسیدلی متنو نه دخپل لومړی حجم له دریمې څلورمی برخی نه زیات نه دی.

داو یستا ترکیب :

او یستا چه تراوسه په کوم شکل اوصورت سا تل شوی له را تلونکو برخونه سر کبه ده:

«یاسنا» معنا ئی خضوع اوقربانی ده اود زردشتی د ین تعبد ی متنو نه دی .

دغه برخه خورالرغونی او په څو سهمو برخو لکه (هوم یاشت)(کاتی) اونورو مشتمله ده.

«ویسپرات» داد یاسنا تکمله ده. «ویدیودات» یعنی «دد یوانوضدقانون» «یاشتی» دادبیلو بیلو اربابِ الانواعو په باب سندری او ترانی دی چه نسبت نوروته پخوانی بنه لری «خورتاك اپستاك» دا د ا و ر،نمر ،سپوږمی میترا اونورو ته ددعا اوداسی نورو عبادت دی .

ACKU

علاوه پردغو له اویستانه ځینې اخذشوي متونه په زره پارسي کې هم موجود دي چه یو له هغو نه مشهور یې (نیرنگیستان) نومیږي .

داویستا کتیبې :

دوه ډوله کتیبې ماتل شوي دي: یوډول ئې ساده او بل ډول یې د پهلوي د ترجمې اوتفسير سره. دغه کتیبې په هند، لندن، کوپن هاگن، اکسفورد د اوځینې قطعا ت يې دلېننگراد دسلتیکوف شید رین په کتابخانه کې موجودې. د کوپن هاگن کتیبې د تولو هیواد ودمحققینو له پاره داستفادې مورد گرځیدلی دی

اویستایي ژبه (یااویستا) دیوې لرغونې آریایي ژبې نوم دی چه د(اویستامقدس) کتاب ورباندې لیکل شوی دی .

اویستایي ژبه دایوه اصطلاح ده چه په تاریخ اوژبپو هنه کښې استعما لیږي ځکه چه اویستا(کتاب) دخپل تالیف له مخې یوشی نه دی: دغه بیلې بیلې برخې دبیلو بیلوسولفینو له خوا په بیلو بیلو وختونواو بیلوبیلو سیمو کښې تالیف شوی دی او ددغه تالیف ددغه ځرنگوالی له مخې دغسې بیلتون په ژبه کښې هم طبعاًمنځ ته راغلی دی.

ددغه کتاب ډیرې پخو انې برخې(چه دباختري ژبو خصوصیات یې لرل) لا په قبل المیلاد یوزر اوپنځه سوه کلونو کښې منځ ته راغلې وې چه په شفاهي ډول موجودې او دیو نسل نه بل نسل ته نقلیدلې. داویستا دلوړیو برخوتالیف دهخامنشیا نو له عصره ترمخه شوی دی- په دې باب علاوه پرنوروشواهدو یوداهم دی چه په اویستا کښې دپیسو، مالیاتو، دپوستي دلارو دسیستم، ولایتونو(ساتراب) اونورو د و لتي تشکیلاتو یاسوسویادونه هیڅ نه ده شوی چه دهخامنشیانو په عصر کښې موجودوو

بله داچه په اویستا کښې دمالدارو، کوچیانو ژوند اود هغو دود اود ستور ترسیم دی، حال دا چه په بلخ، سارګیان، باختر او د د غو سیمو په ملحقاتو کښې وروستیو ارکیالو ژیکو پلټو نو ثابته کړی ده چه د قبل المیلاد د زرو کلولو په دویمه، غلو رسه کښې په دغو سیمو کښې صنعت، له اوسپنې څخه استفاده، تجارت اود ښاری ژوند شر ایط موجود وو. حال دا چه په اویستا کښې د هغو هیڅ یادونه نه ده شوی(۱).

داویستا دلرغونی کتاب مذهبی نغمی اود مراسمو روایات غالباً په میلادی لوسړی پیړی کښې د زښتو دیروتحریفاتو او اوښتنو سره دلوسړی محل لپاره لیکل شوی دی. لا په همدغه وخت کښې اویستائی ژبه عملاً مړه وه، یوازی د مذهبی مراسمو ژبه وه زردشتی مذهب دهخامنشیانو په وخت کښې رسمی مذهب وګرزید.

دساسانیانو په عصر(میلادی ۳-۷) پیړی کښې داویستاله جنسه یو کتاب جوړ شو چه دوخت دزردشتی مذهبی رسمی دین دولی ګڼل کیده چه هغه هم دعربو دفتوحاتو په اثر له منځه لاړ. دلرغونی اویستاییځی لږی بر خی دمحققینو لاس ته ورغلی چه دهغو دلیکلو تاریخ هم ډیر لرغونی نه دی یعنی په(۱۳-۱۴) میلادی پیړیو کښې نیک شوی دی.(۲)

دزده کړی آثار یخچه: داویستایی مقدس کتاب په باب معلومات دلرغو نو یونانیانو، اسوریانو، ارمنیانو اودعربو په تالیفاتو کښې موجودوو. مګرلوسړی کتیبی

---

(۱) مقدماتی فیلا لوژی (۹۱-۹۲) مخونه.

(۲) مقد ماتی فیلا لو ژی(۲۴-۲۵ مخو نه)

چه داو یستا بیلی بیلی توتی پکښې لیکل شوی وی هغه یو ا زی په (۱۷-۱۸) میلا د ی پېړ یو کې پـو ها نـو تـه خـرگند ې شوې .

مگر په هغو پوهان لانه پوهیدل. داتلسمې میلادي په دوهمه نیمایی کښې یو زلمی فرا نسوی انکیتل د و پیر و ن (۱) هند ته مسا فرت و کړا و هلته یې د اویستا په خپرنه پیل و کړ. ده په هند کښې دزردشتي پیروانو سره نژدې او هلته یې دمقدسو متونو (چه په اکسفو رد کښې ورسره اشناشوی و) دلوستلو راز کشف کړ او د غه متنونه یې بیا په پاریس کښې په (۱۷۷۱) کال کښې چاپ کړل چه له دغې وروسته ورته دلوید یځوا وختیځو محققینو پاملرنه اوښتې ده.

څـه رنگه چه دغه فرانسوی عا لم دژبپوهنې ضروری معلومات نه لرل. البته کاریې بشپړ نه و، له دغه خپله داو یستامتن او په نځنې پارسې دهغه ترجمه اوتفسیر (زند) هم ګډوډ شوي وو.

ددغه فرانسوی له خوا چه کله د او یستا متنو نه او تحلیل خپور شو ـ زیات شمیر پوهانو دمتنونو د اصالت او دتحلیل په سمو ن کښې شك درلود. کله چه تقریباً نیمه پیړۍ وروسته دسانسکریت پوهنې په ساحه کښې بر یالیتوبونه د پوهانو په برخه شول او داینډ واروپایي ژبو دمقایسوي تاریخي ګرامر اړخونه څرګند شول د اویستاد متنونو په اصالت عقیده حاصله شوه.

دمقایسوی تاریخی ژبپوهنې بوه وسس دنم رکی راسموسس کریستیان رسك د اویستا لرغونتیا اود سانسکریت سره دهغې خپلوی ثابته کړه (۲).

له دې وروسته نورو پوهانو دا ژبه ښه وځېړ له لکه (ف. بوپ، راسك بورنوف) اونور.

1—Anquetel du perron (1731-1805).

۲-ایرانی مقدماتی فیلالوژي (۶۸-۷۷) مخونه.

د ۱۹ پیړۍ په منځکی داویستا په باب دوه ډلې منځ ته راځی:

۱ .-دشپیګل اوډوستی ډله چه اویستا په عنعنوی ډول د منځنی پارسی او زردشتی ادب په رڼا کی څیړي .

۲ .-دوهمه ډله د(ر.روت) او نورو ده. دوی د تاریخی مقایسوي اساس او د ژبپوهنی د نورو اصولو په رڼا کیږد اویستا څیړنه کوی او خصوصاً دلرغونی هندی کتیبو دحقایقو سره دهغی مقا یسه کوي .

د ۱۹ پیړۍ په آخر کښی د او یستا په تکسونو باندې په کارکولوکی د دوا ړو خوا ویریالیتو بونه ولیدل شول .د دوی په لړ کی د ګیلد نیر، دار مستتر او ځینونو رونوسونه د یاد ولو وړ دي .

په شلمه پیړۍ کښی د او یستا زده کړی ته دوام ورکول کیږی او په ډول ډول پرابلمونو یی کار کیږي چه د هغوی په جمله کی په جرمنی کی ریخلت او نور، په فرانسه کی بینوینیست او نور، په انګلستان کی هینینګ او نور، په سکاندو نیاویی هیوادو کی مارګنستیرین، په شوروی اتحاد کی فریمن او داسی نور پوهان په نورو هیوادو کی په او یستا کار کوي .

او یستا څرنګه چه اوس ژوندی ژبه نه ده، د هغی دوا قعی فونیتیکی او غږونو پیژندل البته اسان نه دي، بلکی د هغوي مبدأ یوازې الفباء او د کتیبو دژبو سره مقایسه ده .

منځنی فارسیك الفباء چه د(آرامی)الفباء په اساس بناوه خاصیت یی داؤ چه ډیرلږ غږونه یی لرل: که له هغو مجموع(ټکی لرونکو) تورو تیر شو چه په اختیاري ډول استعمالیدل کتابی پهلوی الفباء چه ترمونږه را رسیدلې ده، یوازې(۱۶) توری یی لرل.

د او یستالیك چه د پهلوی په اساس جوړ شوی د غږیزو د پاره یې(۱۴)او د بې غږو او نیم غږو دپاره یی(۳۵)توري لرل .

دلته پهلومړی تابلو کښی هغه الفباء چه اوېستاپری لیکل شوې اوپه‌دوهمه تا بلو کښی دهغی ترانسکرېپسیون چــه پــه بین المللی صورت ورته غـوره شوې وړاندې کېږي :

Таблица 1

Авестийский алфавит

غږیز توری دتابلو په ترتیب په لاندې ډول دی :

1. a	2. ā	3. ę	4. ē	5. ə	6. ə
7. o	8. ō	9. ā̊	10. ą	11. i	12. ī
13. u	14. ū	15. k	16. x	17. g	18. γ
19. č	20. ǰ	21. t	22. ϑ	23. d	24. δ
25. ṯ	26. p	27. f	28. b	29. w	30 ṇ
31. ŋ	32. ŋ́	33. m	34. n,m	35. y	36. y
37. v	38. v	39. r	40. s	41. z	42. š
43. š	44. š	45. ž	46. h	47. ḣ	48. x̌

ACKU

اویستا — پښتو

۱-زور(a)= Ashta — اته(عدد)

۲-الف(A) وافره — واوره

۳-مجهوله اوږده ې(Gqitha) گیثه — گیډه

۴- مجهوله لنډه (ې) (د وی) duya د وی (د مو نث عدد)

۵- لنډ زور کی(ə) جنی — جلی(جنی ،نجلی)

۶ -اوږد زو رکی(ə) azem ازم — زه(مفردمتکلمفاعلیضمیر)

۷- مجهو ل لنډ کی و (O) اوجو (لوسړی و او) زور ، قوت

۸- مجهول اوږد(O) Skəndo سکندو — سکنل(اورانول)

۹- شو نډیز (الف)

۱۰- غنه یی الف

۱۱- اوږده معروفه(ي -ی) جیو — ژوند

ACKU

پښتو	اوستا	
پر(خدمتی کلمه ئکه پرمیز)	اوپری	۱۲ـلنډه کی معروفه(ی)
دبلول،له ریښی نه	Banu بانو(رڼا)	۱۳ـلنډه کی معروف(u - و)
پسه	پوس	۱۴ ـ اوږد معروف(u ـ و)

لنډه مقایسه :

داو یستا د کلمودهغه (الف ـ په مقابل کښی چه دتأ نیث له) پاره‌نه‌وی اود کلمی په آخر کښی راشی د پښتو زورکی وجود لری لکه:

اویستا	زړه هندی	لاتینی	یونا نی
اشته Ashta	استه asta	اکتو octo	اوختو oxto
زرده zərda	هرده hərda	کو ر د یس cordis	

پښتو: اته(اسم‌عدد); زړه (قلب)

کله د او یستا دلنډ (الف-) په مقا بل کښی پښتو مجهو له (ې)لـری:

اویستا	زړه هندی	لاتینی	پښتو
وزیتی vazaiti	وهتی vahati	ویهیت vehit	ویسی(یوسی)(۱).

کله کله دا ویستا دلنډ الف په مقابل کښی پښتوزور کی لر ی :

او یستا	زړه هند ی	یونانی	لا تینی	پښتو
اوپری upari	او پری upari	او پیر uper	سو پیر و س suprəus	پر

او کله بالعکس یعنی د پښتودلنډ(الفـ)(زور)په‌مقابل کښی‌او یستا زور کی‌لری‌لکه:

---

(۱) په دې فعل کښی داویستاد (ز) دغږ په مقابل کښی دپښتو(س) غږ موجود دی . په پامیری ژبو کښی دافعل دپښتو په شان‌د(س) په غږاستعمالیږی.

اویستا	زره هندي	پښتو	فارسی
برزنت bərəJant	برهنت Brhant	بر	بلند

بی غږه توری:

بی غږه-۳۵ توری دتابلوپه ترتیب:

توری	په اویستا کښی	په پښتو کښی
ك (k)	کنه kana	کنل
خ-(x)	خشوست	(خوشت لوند-مایع)
ګ-(g)	ګریوه	ګروه (ګریوان)
غ-(hg)	ګري (۱)	غر
چ-ch	چتور Chator	څلور
ج- j	جفر	ژور (ز و ر- جو ر)
ت- ti	تنه tana	تن، تنه
ث- th	ثرایه thrayah	دری(اسم عدد)
د-d	دوه dva	دوه(اسم عدد)

ذ(د کلمی په منځ کښی (dh) پوخذه puxdh پنځم تر تیبی (اسم عد د)

---

(۱)دلته د (ایره) کلمه د زردشت دمذهبی اصولو په اساس داحترام په توګه دقام لپاره ښائی نوم ګرځیدلی وی .

۲-اعتذار - څرنګه چه زموږ په مطبعه کښی داویستاله پاره دبین المللی -ترا نسکر یپسیون له پاره توری نشته زه دځینو غږونو له پاره دلا تینی په ا لفبا دانګلیسي په فورم کار اخلم .

ACKU

(ت)داد (ت) فریکاتیف ور یا نت (ډول) د ی چه په غږ کښی (ث) او (ذ) ته نژ دې د ی .

پ (p)	پس — pas		پسه
ف — (F)	وافراه		واوره
اودانګلیسی (w)	ګریو Garew		نیو ل
ب — b	بغه	Bagha (۱)	خدای
ڼ — n	نافیه	nafya	ناوې،خپلوان

(ګ) داد اګ یو وریانت (ډول) دی چه مخرج یی غنه او سخت اد ا کیږي .

ګ — داهم د (ګ) یو وریانت دی چه مخرج یی‌غنه‌یي‌اونرم‌ادا کیږي .

م — m	مرغه	mərəgha	مرغه (الوتو نکی)

---

۱ — په آر یایی ژبو کښی هغه کلمی چی ریښه یی‌لوړی د (ب)اوبیاد (خ) یا (غ) یا (ګ) له غږه‌مر کب وي معنا یی یاسعادت او نیکمرغی ده لکه‌بخت،باغ ،بګی، بګوان داویستا بغه (خدای دسلاویاني ژبو بوګ ـ Bog (خدای) بګاتی (بډا ی) او یا یی معنا د خوف اوډار ده لکه‌همدغه داویستا (بغه) دسلا ویا نی ژبو (بو ګ ـ Bog)او دپښتو (بګوه)دغه‌مطلب دروسی ژبی په ایتما لو ژ یك قا موس دمسکو دپو هنتون (۱۹٦۵) په خپرو نه کښی لید لای شیء.

(ن م) دځینو علامو دبدلون له پاره :

ي — y (لو یه (ي) د کلمې په سر کښې) لکه (yazata ایزد)

ی — y وږه (ی) د کلمې په منځ کښې لکه (مشیه- mashya (انسان) مخ .

و — v (لوی(و) د کلمې په سر کښې) وره- vara وریدل، ورښت

و (v) (وړوکی (و) د کلمې په منځ کښې) - tuvam ته (مخاطب مفرد).

اویستا				پښتو
ر -	r	روچه	Rochah	روځ ، ورځ
س —	s	سپین	span	سپی
ز —	z	زرەده	Zrədəh	زړه (قلب)

ب - په تابلو کښې د (ش) (۳۲) (۳۳) او (۳۴) توري په یوەلرغوني وخت کښې دخپل ایتما لو ژ یك اساس له مخې سره بیلیدل، مګر د لیك په عنعنه کښې یې دا امتیاز له لاسه ورکړی ؤ .

امکان لري د پښتو د (ش) د (ښ) او (خ) په شان په وو (مبحث یې ددې مقالې د همدې برخې په پای کښې راځي) .

			اویستا	پښتو
ژ -	zh	ژنو	zhnu	زنګون
ه -	h	هوچ	huc h-	وچ

ه (دتا بلو ۳۷ توري) د (ɵ) نرم وريانت (ډول دی).

خو ـ xv　　　خوفنه ـ xvafna　　　خوب

لنډیز فونیتیکی مقایسه :

داو یستا د (خش) په مقابل کښې کله یوازې د (خ) غږ وجود لري لکه : خشوست (او یستا) ـ خوشت (پښتو) او کله یوازی د (ش) غږ لکه خشین (ا و یستا) ـ شپه (پښتو) یا لکه خشو یپته (ا و یستا) ـ شو د ه (پښتو) (۱) .

داویستا دف دغږ په مقابل کې پښتو دواوغږ اري:

اویستا	پښتو
وافره	واوره
جفر	ژور
نا فیه	ناوې
تاف	تاو (حرا رت)

داویستاد (چ) دغږ په مقا بل کښې په پښتو کښې د (څ) غږ لکه : پنچه (او یستا) پنځه (پښتو) رو چه (او یستا) ورځ (پښتو) او کله د(چ) غږ مقابل وي لکه هوچ (او یستا) و ڃ (پښتو) داو یستاد(ث) دغږ په مقابل کښې په پښتو کښې کله د (ډ) غږ مقا بله خو ري لکه :

---

۱ ـ په پامیري اکثر وژبو کښې دا کلمه د (شود) په شکل اوپه تالیشی ژبه کښې د (خښت) په شکل موجودده .

او یستا		پښتو
ګیثه ـ — gaitha		ګیډه (۱)
هثه ـ hatha		هډه (۲)

او کله د (د) غږ سره مقابله خو ري لکه :

اویستا		پښتو
شیو ثنه shyauthna		ښو ونه

او کله یی هیڅ په مقابل کښی نه وي لکه :

اویستا		پښتو	فارسی
میثنه maithna		هستو ګنځی،مینه	میهن

۱ـ داو یستا (ګیثه)دشته وا لی او هستی معنا و ر کوي، د ې کلمی په پښتو کښی د (ګیډه)او په فا ر سی کښی د (ګیتی) په‌شکل ځان‌ساتلی دی.

۲ ـ داو یستا(هثه) په زړه هندي کښی‌د (سد ه —sadha) او کله (سهه —saha)) په شکل مو جود ده . معنا یی اصل اسا س او حقیقت د ی دا کلمه په پښتو کښی هم د زړې هندی لهجه (سده) دخاصواسمو نوپه‌حیث مو جو ده ده او هم داو یستا په لهجه دپښتو په لاندې کلمو کښی دغه ر یښه او معنا لیدل کیږ ي چه داصل اساس او حقیقت معنا لري . هډه (دا نګلیسی ـ headسر او راس)بنا یی‌له‌دغی ریښې وي ، هډي ،هډ، هډ دیر ه(هدیره)هډو کی هډو (دپښتو نستان په لهجه د (اصلاً) په معنا) .

دماڼي کلمه هم ښایي له دغې ریښې جوړه وي .

داویستاد (ثر—thr) په مقابل کښې په پښتو کښې کله(د—ر—r— d) او کله یوازې د (ر) غږ وجود لري مګر په فارسي کښې د (س) غږ مثلاً:

او یستا	زړههندي	پښتو	فارسي	زړمسلاویانی
ثری	تري	درې	سه	تري

دوهم مثال:

اویستا	زړهفارسي	پښتو	فا رسي
پو ثره	پوچه	بو ر (لکه تر بور)او بوره)	پسر

داویستاد (و ـ او (او ـ) دغږونو په مقابل کښې په پښتو کښې د(غ) او په فا رسي کښې د (ګ) غږونه کله کله لیدل کیږي :

اویستا	پښتو	فارسي
او ش ush	غوږ	ګوش
وره vara	غوره	
و یل vil	ګل (جنډ ی)	ګل

مګر کله داویستاد (و ـ v) دغږ په مقابل کښې پ ښتو هـم د (و) غږ لري، مګر په فا رسي کې یې په مقا بل کښې د (ګ —g) غږ مقابله خوري لکه :

او یستا	لا تیني	پښتو	فارسي
ولک ـ vk	و کس vox	ویل	ګفتن

ACKU

مګر په اکثرو صورتو کښې پښتوداو یستا په شان دځپلو ډیرو کلمو په سر کښې د (و) غږ ساتلی چه په فارسی کښې یی په مقابل کښې د (ب) غږ موجود دي لکه :

او یستا	پښتو	فارسی
و ره - wara	وریدل(ورښت)	باریدن(بارش)
وافره	واوره	برف
وایتی	و له	بید
وره شه (ځنګل)	ورشو- واښه	بیشه (۱)
و اين — wain	وینل (لیدل)	بیند
وا نګ	وو نګ(دخره‌وونګ)	بانګ

داو یستاد (ز) دغږ په مقابل کښې په هغو کلمو کښې چه په معاصره فارسی کښې یی د (د) غږ موجود دی پښتو هم‌داویستا په شان دغه‌لرغونی د(ز) غږ ساتی.

اویستا	زړه هندي	پښتو	فارسی	ملاویانی
ازم	اهم	زه	من	آز

۱ - دا کلمه په زړه‌هندي کښې‌ده(ور کشه vrksha) د(ونی)په‌معنااو په منځنی‌فارسی کښې‌دویشك - veshakپه‌تالیشی‌ژبه‌کښې‌د (ویشه — vesha) په شکل موجود ده .

ACKU

زمستر	داماد	زوم	زیات
زنتی	دانستن	پی زندل (پیژندل)	زنت(۱)

داو یستاد (ج) دغږ په مقابل کښې پښتو کله د (ج) غږ مګر فارسی د (ز) غږ لري :

او یستا	پښتو	فارسی	سلاویانی
جنسی	جلی(نجلی)	زن	ژینه- zhena

او کله یې په مقابل کښې د (ژ) په ځینو لهجو کښې د (ج ،ز)لکه:

او یستا	پښتو	فارسی	سلاویانی
جیو	ژوند	زیستن	ژیزن
جفر	ژور		

دپښتو په ډیرو کلمو کښې چه زور کی لیدل کیږي هغه په اویستا کی هم موجود نیږي . دلته یی سونږ د (زړه) کلمه مثال راوړو او څه رنګه چه دا کلمه په ډیروانډ ویورو یی ژبو کښې یوه ریښه لري دلته یی په څو ژبو کښې دمقایسې په ډول وړاندی کوو:

---

۱ ـ د (پیژندل) دکلمې تحلیل به وروسته راشی .

پښتو	اویستا	لاتین	شوغنانی
زړه (۱)	زرد، Zərəda	کور دیس ـ cordis	زورد ـ zord
روسی	چیشی	مجارستانی	سلوواکي
سیرد ـ څه	سرد ـ څه	سریو	سر ـ دڅه
بلغاري	پیر به خرواتی	البانی	پولنډي
سیرڅه	سرڅه	زمر ـ zemer	سیرـڅه
زړه هندي	انګلیسی	جرمنی	
هرده ـ hrda	هرت heart	هیرز ـ herz	

داویستا د (د) دغږ په مقابل ګښې ګله ګله په پښتو ګښې د (ل) غږ او زیدل ګیږي :

او یستا	زړه هندی	پښتو
دسه dasa	دچه daca	لس
ګده kada	ګده kada	ګله
یده yada	یده yada	هله، ها له (ظرف)

د اویستا (ك)د غږ په مقابل کښې په پښتو کښې د(غ) غږ کله کله مقابله‌خوري:

---

۱ ـ (زړی) هم ښایي له دغی ریښې نه وي ،له دغی مقایسی‌معلومیږي چه د (زړه) کلمه په اندوریو روپی ژ بو کښې د (ز ړ)،(ز رد) یا(س‌رد) (س، ر)اود(ه، ر)ریښې لري، دفارسی(ګرده) هم غالباً له دغی ریښې‌ده .

اویستا	زړه هندي	سلاویانی پښتو
کري gara ـ	کيري ـ giri	کرم gari غـر

پښتو دوصل د کړی په حیث :

د تایخ په استناد دآریایی قبایلو مهاجرتونه دمعاصرافغانستان دباختر (بلخ) له خواوشانه د ختیځ اولویدیځ خواته شوی په دغه نسبت پښتودلرغونوهند یك اوفارسیك ژبودوصل د کړی په حیث پاتی شوې، کله کله دتولو خصوصیتونه په ځان کښې ساتی او کله د ختیځواو کله دلویدیځوچه دلته یې مثالونه ښودل کیږي. مثلاً دا ینډوآریایی (هنداوفارسیك) لرغونو ژبو تر منځه د (س) او (ه) دغږ ونو ترمنځه اوښتنه یومشهورحقیقت دی.

دلرغونو فارسیك ژبو د (ه) دغږپه مقابل کښې په لرغونو هند یك ژبو کښې د (س) غږموجود دی . پښتو دوصل دکړی په حیث دغه دواړه غږونه په ځان کښې ژوندي سا تلی دي.

اویستا	زړه همدي	دپښتو
هوه hva	سوه sva	هو یه ، هکی ـ سا
هذه	سده	هډه ، هلې ـ سده

ها (په غیرمستقیمو حالتو نوکښې) سه، سوها ـ س (په سر کال کښې) لومړی جزء د (اشارې) دپاره

کله د هند یك ژبوفونیتیکي خصوصیت په ځان کښې ساتی :

اویستا	زړه هندي	پښتو
هخه ،	سکهه	سکه (لکه ـ سکه ورور)

سچنده	سکنده	سکنېل (۱)
بسته	بدهه	بده (د پرتا°که بده)

اوکله داویستا فونیتیکی خصوصیت د(ز ـــ س)او(ه)په باب پهٔان کښی ساتی:

او یستا	زړه هندي	پښتو
وزیتی	وهیتی	ویسل ،بوزل (ویسه، بوزه)
ازم	اهم	زه (سفر دمتکلم)
زرده	هرده	زړه (قلب)

اوکله بالعکس یعنی داویستاد(ه)غږد هندی د(س)دغږ په مقابل کښی ساتی لکه:

اویستا	زړه هندي	پښتو
هوما	سوما	هومه ، اومه (دیوتی نوم دی)
هچتی	سچتی	هخه کول (تالاش کول)
هم	سم	هم (دعطف آد ات لکه محمود هم راغی)
همو	سو	هو

دپښتو (هو) (د ایجابت د کلمی) په باب باید وویل شی چه په لرغونوآریایی ژبو کښی دوه مقابل پریفکسونه (سختا ړی) لیدل کیږی.

---

۱ ـ له دغی ریښی دجوړوشویو کلمو معنی په دریواړوژبو کښی (ماتول اوخرابول) ده .(سکنېل) مثلاً د کالیو دجوړ ولو په غرض دتوکر سکنېل ،ورانول ،سکنېه هم له دغی ریښی څخه ده اوهغې الی ته وایي چه دیوال پرې سوری کوي .

ACKU

۱ ـ د(دوش) پریفکس چه د(بد، ناسقبول اوسنفی)معناور کوي.د اپریفکس په اویستا کښې (دوش) په‌زړ هندي کښې (دوس ـ dus) اوپه‌یو نانی کښې (دو ـ duo) د ی .

د پښتو (دښن) یا(دښمن) دفارسی (دشنام) داویسـا (دوشتراو ه) یعنی (ددښمنی خبر ه) دد غه پریفکس په‌سرسته جوړې شوې کلمې د ي .

۲ ـ د (دوش) ستقابل د(هو)پریفکس د ی چه معنا یی(ښه ،مقبول،مثبت)ده په لرغونو فارسیك ژبو کښې د(هو ـ hu) په زړه هندي کښې د(سو ـsu) اوپه یو نانی کښې د ایو ـ eo په شکل وجودلري . غالبآ د هو سا سوسا، هو سید ل ـ هو ساو داسې نورې کلمې ددغه پر یفکس پرمرسته جو ړې‌شوې دي چه د ښه و الی‌ا و ثبوت سعناور کوي.د پښتو هو! همدغه‌دثبوت سعناور کوي .

په‌او یستا کښې د(خ)او(ش)دوه لهجې :

داویستا په ځینو کلمو کښې دوه (کله خ او کله ش) لهجې لیدل کیږی‌مثلاً : هخه haxa او هشه hasha) په دوه لهجو یوه کلمه دملګری او اوسکه په سعنا ده .

ددې کلمې په مقابل کښې دآریایي‌ژبود(س)او(ه)دمشهور تبدیل‌سره سم په‌زړه هندي کښې د(سکهه ـ sakha) کلمه‌سو جوده ده .

داویستادغه‌د(خ) او(ش)دوه لهجې په کندهاري اوننګرهاری لهجو پښتو د (ښ) دغږ په‌شا ن‌د ی :

د پښتو د(ښ) غږ که څه هم دعربی الفباء د(ش) او(خ) ترمنځه دمخرج په لحاظ یودریم غږ دی، مګر د کندهار په لهجه د(ش) اودننګرهارپه لهجه د(خ) غږته مایل دی .

د«ش» او«خ » ترمنځه همداد(ښ) غږ په ځینو معاصرو آریایی ژبو مثلاً پامیري (رو شانی ،شو غنانی ا و اشکا شمی)ژبو کښی موجو ددی .

دمثال په ډول : په شوغنانی ژبه کښی مونږ دری ډوله غږونه‌مومو ..

۱ — دعربی الفباء د «خ» غږ چه مخرج یی وړه‌ژبګی اودتا لوورو‌ستی‌برخه ده لکه‌د (خیغ =خوږ) په کلمه کښی .

۲ —دعربی الفباء د«ش» غږ چه‌مخو یی سرا ودتالولوړی‌برخه‌ده‌لکه(روشت= سوررنګی)په کلمه کښی .

۳- د پښتو د «ښ» غږ چه مخرج یی دژبی منځ دتالوپه امتداد لکه: د(ووښ= واښه) او(واښ،واښی)په کلمو کښی .

په‌دې باب باید زیاته شی چه د «ش» او « خ» دغږونو همدا رنګه د«ګ » او«ژ» دغږ ونو یو تربله اوښتنه په نورو ژبومثلاً په لرغونی سلا ویانی اولرغونی روسی ژبو کښی دخاصو ګراسري اونورو شرایطو په صورت کښی عام‌اوسروج‌ووچه دهغو اثرونه په معاصر وسلاویا نی‌ژبو کښی لااوس ژوندی دی مثلاً شو شیت سوخیت (وچول) سلیشت — سلیخت « ا وریدل»اوشی «غوز ونه »-اوخه «غوز»

دانهو یورو پی ژبوتر منځه هم د(خ)او(ش) دغږ ونوبدلون لیدل کیږی ، مثلاً :
داویستااولرغونی یونانی‌ترمنځ په‌لاندې مقایسه کښې :

پښتو	زړه یوناني	لاتیني	زړه‌هندی	اویستا
اته	اوختو	اکتو	استه	اشته

مورفولوجی :

اسم :

په‌اویستا کښې‌دلفظی‌علامو‌به‌اساس‌اسم کیدای‌شی‌چه‌په‌راتلونکوڅلورووویشل‌شی:
۱-اسم ذات اواسم صفت -۲- ضمیر ، پرته‌له‌شخصی ضمایرو ۳-شخصی ضمایر
۴ - اسم‌عدد .

اسم‌ذات او صفت :

اسم ذات اوصفت دتصریف‌په‌اساس کوم توپیر نه‌لري .صفت په‌خپل‌منځ‌کښې
د جنس په‌بیلو بیلو فورمو او دمقایسې په‌درجه سره بیلیږي .

لفظی او ښتنې :

داویستا په اسم ذات اوصفت کښې په‌راتلو نکی‌ډول‌لفظی‌اوښتنې لید ل کیږي.
دریښې‌دجهز یه غږ ونوترمنځه بدلون مثلاً :
پد—پا د « پښه » دالف‌او زور ترمنځه بد لون
(برز— bərz برز barz) (بریالی ، (بر)دزورکی او زور ترمنځه‌بدلون

په ځینو کښې داړول بدلون نه را ځي مثلاً :

اویستا	زړه هندي	پښتو
خشپ	کشپ	شپه
زرده	هرده	زړه

داسم عام سوفیکسونه :

اویستا	پښتو	زړه‌هندي
زور ـ A : پده ـ Pada	د پښې پل (د «ل» او «د» په‌بدلون	پده
ي ـ i : ګري	غر ـ	ګیري
او ـ u : تنو	تن	تنو

د مئځنی جنس داسم سوفیکسونه :

آس ـ As روچس Rauchas رڼا د (روچه ـ Rauchah)

له کلمې نه‌چه معنایې (ورځ) ده .

ایش ـ Ish (سناثلیش (وسله) دسناثه (ضربه) له‌کلمې څخه .

من ـ Man لکه : د (دا + من) (ژوندی ، مخلوق) په‌کلمه کښې .

نه ـ Na لکه : د (یاس + نه) (نمانځنه) په کلمه کښې .

تره ـ Tra (وس + تره) (وستره) (بستره ، پوښاك)

د مذکراو منځنی جنس دعامیانواو دصفتسوفیکسونه:

تر : دا ـ تر (خالق پیدا کوونکی)

وان (اون ـ Un) رتا + وان ((زاهد ، متقی)

که ـ ka هوش + که (وچ ، وچه)

یه ـ Ya کیث + یه (دنیایی)

ره ـ Ra سوخ ـ ره (سور)

ات ، نت ، انت : برزنت (لوړ ، هسك)

وت ـ Vat ونت ـ امت ـ ونت Vant (بدنی)

منت ـ Mant : خراتومنت (هوښیار ـ دفارسی خردمند)

دمؤنث داسم عام سوفیکسونه :

تی ـ Ti ، تی ـ : رتي (انعام ، پاداش ـ اجرورکول)

تات ـ Tat اسرتات (بی‌سرگی ، نه سرینه)

په اویستا کی د (الف ـ A) سوفیکس په قیاسی ډول دهغو حقیقی مؤنثو کلمو دجوړولو له پاره استخدامیده چه په خپل مقابل کښی یی مذکر یا منخنی جنس درلود او په (زور ـ a) ختمیده لکه : اسپه (آس) او اسپا (اسپه).

په صفت کی دمؤنثو صیغوله پاره (که مذکر یی هر ډول سوفیکس ولري) د (الف ـ a سوفیکس قیاسی دی لکه :

مؤنث	مذکر
سورا ـ Sura (غښتلی زوروره)	سوره ـ Sura (غښتلی ، زورور)
اکا ـ Aka (بده ، ناوړه)	اکه ـ Aka (بد ، ناوړ)

داسم تصریف :

او یستا لکه نوري لرغونی اندوییوروپی ژبی دری جنسه (مذکر ، مؤنث او منځنی)

لري د رېصيغی (مفر د ، تثنيه ا وجمع) ا و ا ته حالته لري. اته حالته په لاندې نوسونو یاد يږي چه دمثال سره وړاندې کيږي :

فاعلی حالت : جنيکه Janika نجلکی خچ په سوفيکس .

مفعولی خالت : جنيکم ـ Janikam

اضافی حالت : جنيکس ـ Janikas

مفعول له (dative) حالت : جنيکيات ـ Janikayat

منعول عنه (Ablative) حالت : جنيکی ـ Janikai

دآلی حالت : جنيکه Janika

ظرفی حالت : جنيکی ـ Janikai

ندايی حالت : جنيکی ـ Janikai

شخصی ضمیر و نه :

په اويستا کښې دمفرد متکلم فاعلی حالت له پاره د (ا زم- Azam) په شکل ضمير موجود دی چه په زړه فارسی کښې (ادم ، زړه هند ی کښې (اهم ، په کوردي ژبه کښې (از ـ AZ) (دالف په زور کی) په پاميري ژبو کښې (از) په سلاويانی کښې (از) اوپه زړه روسی کښې (ياز) د ی . د نورو کلمو مثلاً د اشا رېضميرونو د هرتصريف اود ژبنی مقايسی نه پوهان داالهام اخلی چه په اويستا کی ددغه ضمير ريښه (از) دی ا و (م ـ — m)لاحقه ده .

دمفرد مخاطب له پاره په فاعلی حالت کښې (تووم— Tuvam) ، دمتکلم جمع له پاره (وايم — Vayam) اودجمع مخاطب له پاره (يوشم— Yusham) دي.

اسم عدد :

۱ ـ مقداری اسم‌عدد :

د اویستا سره د مقایسی په غرض دپښتو (همدا رنګه د فارسی) شمېر وراندې کوو :

اویستا	پښتو	فارسی
ایوه	یو ، یوه	یك
دوه	دوه ، دوې	دو
ثرې	درې	سه
چتور	څلور	چهار
پنچه	پنځه	پنج
خشوش	شپږ	شش
هپته	اوه	هفت
اشته	اته	هشت
نوه ـ Nava	نهه	نو
دسه	لس	ده

دترکیبی اعدادو ترکیب په‌اویستاکې دپښتو په‌شان دی‌چه‌احاد پرعشراتو ترمخه دی لکه (پنچه ـ چه ـ ویستی = پنځه‌ویشت)

خدمتی کلمې:

دپښتو او اویستا خدمتی کلمې ډیر سره ورته او په انهو یورو پی ژبو کښې

لرغونی ریښه لري . دلته یې دمقایسې له پاره څو آدات ښودل کیږي :

او یستا	زړه هندي	یونانی	پښتو	فارسی	مثال
اوپري ـ Upari	اوپري	اوپیرـ Uper	پر	بر	(پرېز)
پری Pari	پری	Peri	پېری، پوری سره	با	(د چا سره)
هده ـ Hada	پیري ـ	Peri	سهمه	تر تا	(تر کوره پوري)
هچه ـ Haca	. .		له ، د ـ	از ،	(له کوره)
اوپه ـ	اوپه	ایپو ـ Epo	په	در، از	(له، څخه)
پتی ـ Pati	پوتی ـ	Poti	په (۱)	به	(په غره ختل)
پره ـ Para	پورس ـ puras	پره ـ Para	،		پر پرې
ابی ـ Ab	ابهی ـ Abhi	لاتین (بیس)	بیا	باز	(بیاراشه، بیاموند)
اوته	او		و		(دعطف دپاره)(۲)

قید :

په اویستا کښې ځینې قیدونه د پښتو دقید ونو سره لفظی شباهت لري او

---

۱ ــ دپښتو د (په) خدمتی توري په سلاویانی او پامیري ژبو کښې په همدغه فورم او معنا وجود لري دپښتو ځینې کلمې ددغه ادات په سرسته جوړې شکاري لکه (پا ـ څیدل) (پی ـ ژندل) .

۲ ـ دسره کوتل په کتیبه کې دعطف دپاره هم (Uta) کلمه ده .

اکثریی دفونیتیکی قانونی تغییر سره سم د پښتو د قید و نو سره تقریباً له یوه اصله اخیستل شوي ښکاري . مثلاً :

د (د ـ ل)دمشهور بدلون په رڼا کښی داویستاد قیدونـو اکثر یـت د (ده) اودپښتو د (ـ له) دسوفیکس په مرسته جوړیږي .

اویستا	زړه هندي	پښتو	فارسي
کده ـ Kada:	کده	کله	کی‌چه وقت
ادا ـ Ada	ادا	هله	همان وقت
ایدا ـ Ida	ایها	دلی ، دلته	درین جا
اوده ـ Avada		هلته	درانجا

داو یستابله سلسله قیدو نه د(ـ ذره) وروستاړی په سرسته جوړ یږي لکه (هذ ره) چه معنایی(هملته) د ه . (ذره) په‌قیدو نو کی د ځا ی مکا ن او ظرف معنا و ر کوي ـدار یښه په‌پښتو او حتی‌په‌ځینو نو رو هندیک ـ پارسیك ژ بو مثلاً تا لیشی ژ به کی د(ـ و را) او (ـ ر ی) په شکل لیدل کیږ ي اودپښتوپه (چیرې،چیرته ـچه +ر) کې هم ژوندی ده ؛

ACKU

اویستا	زره هندي	پښتو	
کوذره ـ Kudra	کوتره	چیړي	(سوا لیه)
یذره ـ Yadra	یاتره	چیر ي	(چیر ته) نکره
اذره ـ	اتره	دو ړي	
اوذره ـ Avadra	ساتره	هو ر ي	

د متن ښکار ندوی :

دغه متن د (هوم یاشته) یوه ټوټه ده چه دا و یستا د (یا سنه) یوه ارغونی برخه گڼله کیږي. دامتن د پهلوی د ترجمی او تفسیر سره د کوپن‌ها گن دپوهنتون په کتابخانه کښی سا تل شوی دی .

دا متن په ۱۳۲۳ عیسوي کال کښی دمهر وان او کی خوسرو نو سی نا قلینو له خوا نقل شوی او د اویستا یو مشهور او دنړیوا لو داستفادي وړ متن گڼل کیږي ،دلته اصل متن ، د هغه ترانسکر یپسیون ، ترجمه او تشر یح وړاندي کوو .

لومړی تابلو اصل متن :



دو همه تابلو دمتن ترانسکریپسیون :

ΘRĀ:AH HAΘYAM ṚTAVANAH
ĀFRĪVAČAHĀH ZAVANTI
GĀUŠ-ČA ASPAS-ČA HAUMAS-ČA
GAUŠ ZAUTARAM ZAVATI
UTA BUYĀH AFRAZANTIŠ
UTA DAUŠ-SRAVĀH HAČAMNAH
YAH MĀM HVĀSTAM NA-IT BAXŠAHAI
ĀT MĀM TUVAM FŠAUNAYAHAI
NARYĀH VĀ PUΘRAHYA VĀ
HUVAYĀH VĀ MARŠUYĀH
ASPAH BARTĀRAM ZAVATI
MĀ BUYĀH ARVATĀM YUXTĀ
MĀ ARVATĀM ABIŠASTĀ
MĀ ARVATĀM NIΘAXTĀ
YAH MĀM ZĀVAR NA-IT JADYAHI
PARUMATI HANJAMANAI
PARU-NARAYĀH KARŠUYĀH

ترجمه :

درې هم و غوره
ښیرا کوي : غوی، اس
او هوما .غوی کاهن
ته ښیرا کوي:میراث
شې (له اولاده محروم
شې) دناوړ وکلمو
ملګری او سې ، ته
هغه څوك یې چې ما ته
خوړه ونه را کوي
او دښځې، زوی او د خان
دکیلې دپاره مې
تغذ یه کوي .
اس سپاره ته ښیرا کوي :
(بیادې چټك بو ل (اس)
و ملرې ، په چټك بولو ور مه شې،چټك بول دې په لاس در مه شه.ته
هغه څوك یې چه له خلکو نه په ډك هیوا د له ما نه د زور ښوول نه غواړې.

تفصیل :

په متن کې لاندې تشریح شوې کلمې په بیلو بیلو احوالو کې ذکر دي چه دهغې په اثر بیلې بیلې لاحقې لري . موږ یې د لته له احوالو صرف نظر کووا و د کلمو تشریح یې کوو :

دریه drayahدرې (عدد)

هدیم Hadyam هډو،اساسي(دهډ،هډو کې ، هډې هډه له ریښې نه)

رتوانه Rtavanah (رتا ـ Rta)د ښه ، غوره ،منظم او خیر په معنا دي

او (ـ وان ـ Van ـ) لکه په (ګریوان ،باغوان) کې سوفیکس دی . د پښتو (ار تینه)یعنی سیرمن ښایي‌له دغې ریښې وي (که‌له عربي ـ عوارت) شخه یې وانه خلو)

افري وچه ـ Afrivacha ښیرا کول ـ د کلمې ریښه(فري) په زړه هندی کې (پري) په پښتو کښې (پرې) دي ـددې کلمې دو همه برخه (وچه) په لاتیني کې (وکس ـ Vox) په پښتو کښې (ویل)دي. دتولې کلمې (افري وچه) معنا (پرې ویل) ده چه‌تعبیر په (ښیرا)ورنه شوی دی.

زوانتي Zav—a—nti (بولی) ددې کلمې ریښه (زو ـ Zva) په روسي کښې(زوت Zvat او په‌پښتو کښې کېداې‌شي)(زوږ)وی.دلته‌یې‌معنا (بلل)ده .

ګو۔ Gau غوي

چه ۔ cha اتصالی داتحاد عطف د ی

اسپه : اس

هوما ۔ Hauma د هومه بوټی . زړه هند ی سوما ۔ (دآریا یانو په عقیده مقد س بو تی) ریښه یې (هو ۔ Hu) ده چه د (د و ش) یعنی (بد ، نا وړه) مقابل د(ښه ، مقبول) په معنادی . دپښتو د ا یجا ب کلمه (هو !) هم‌له دغه ځا یه ده .

زو تر۔ Zau, tar بلو نکی ، سوْ ذن . ریښه یې (زو۔ Zav) د (بلنی) په معنا او(تر۔ Tar) داسم صفت د جو ړ و لو د پا ره سو فیکس دی.د کلمې معنا (منادي ،مو ذ ن او بلو نکی)ده.زوتی۔ Zavati (بو لی) د(ز و ۔ Zav) له ریښې .

او ته ۔ uta او (دعطف ادات) چه د سره ګوتل په کښېه کې هم په‌دغه ډو ل‌او معنی د ی

بو یه ۔ Buyahدفارسی د(بو دن)او پښتو د (وول) کومکی فعل یا د (با ید ه)نه‌ښیرا ، په صو رت د (بو یه) په شکل مستعمل د ی .

افر زنتي۔A, fra, zan, ti,(بی‌اولا دي) په دې کلمه کی (آ ۔ A) دنفی دپاره (فر ازن) د فر زند په معنا ا و(تی ۔ ti) لا حقه ده دټولی کلمی‌معنا (بی‌اولادی) ده.

دو ش سر‌او ه daushsravah (ناوړه وینا ، ښکنځله)، (سر ا وه)

د کلمې او خبرې په‌معنا ا و(د و ش ـ Daush) په زړه هند ی کښې (دو س ـ Dus) پـه یـونـا نـی کـسی (د و ـ Duo) د ا یـو مختاړی (پر یفکس) د ی چه‌د (بد) او(ناو ړه) معنا و رکوي .لکه‌د پښتو په (دښن،د ښمن) او دفارسی په(دشنام)کی-په مقا بل کی یی د (هو) د (ښه‌او ور) په‌معنا پر یفکس موجود دی .

هچا منه ـ Haca, Mnah (ملگر ی ، هغه من) د کلمی ر یښه په او یستا کی (هک ـHk) په زړه هند ی کی (سچتی ـ Sachate په لاتینی کی (سکو تیو ر ـ Sequitur)ده دسو فیکس په مرسته یی معنا دملگري ړده .

یه ـ yah (یی)نسبتی ضمیر دی .

ما م ـ Mamماته مفرد متکلم ضمیر دمفعول په حالت کی .

نا یت ـ Nait نه ، د نفی ا د ا ت .

هوستم ـ Hvastam ،دخار و یو خو را که .

بخشهی ـ Baxshahai بخښی ! د (بخښل)له فعله‌دمفر د مخاطب دحال صیغه

ا ت ـ at او .دعطف ادات دنوې جملی په پیل کی

توا م ـ Tuvam ـته .دمفرد مخاطب شخصی ضمیر .

فشا و نیاهی Fshaunayahai خر و ل 'مړ ول ' خربول . د دې کلمی ر یښه ـ پسو ـ pash د پسه ا و څا روي په معنا، په ز ړ ه هند ی کی

ACKU

(پچو Pachu) کنی په لاتیې (پیکوس ـ Pecus) ده . (فشویه ـ Fshuva) له دغی ریښې دي چه د (څرول) او (حراست) معناورکوي. دلېږي او ښتنی په مرسته د پښتو (شپون) او (شپول) له دغی ریښی نه په نظر ښکاري .

نریه ـ Naryah نر ـ مذکر ، په زړه هندی کی (نر ـ Nar) مذکر ، نره ـ Nara) مؤنث

و ا ـ (Va ـ یا) دعطف ادات دتر دید دپاره .

(پو ثره ـ Putra) اولاد . په زړه هندی کی پوتره ـ Putra (زوی ـ لور)

هوه ـ Hava خپل . اضافی ضمیر .

مرشویه Marshuyah ـ کیډه نس (مرشو) او (مرشوي) دګیډې په معنا د (مړ ښت) (مړ یدل) د کامی سره یې قرابت لیدل کیږي .

برترم ـ Bart aram و ړونکی ـ ریښه یې (بر ـ Bar) د (وړلو) په معنا او (تر ـ Tar) صفتی سوفیکس دی چه د تولی کلمې معنا (وړونکی) ده .

مه ـ Ma: مه . د نهی آ د ا ت .

اروا تم ـ Arvatam: رسیدل . ریښه یې (ر ـ R) ده د حرکت په معنا .

په زړه فارسی کی (رسه ـ Rasa) په پښتو کی(رسید ل) او په نوې فارسی کی رسیدن‌و رنه جوړ شوی دی.(وات ـ vat)اویا(ونت ـ Vant) دصفت دجوړولولاحقی دي چه په پښتو کی دوهم شکل د (و ند ـ wand) لکه(مړ وند ،غړوند +ي ،وندر) په کلمو کی لیدل کیږي . د کلمی معنا (رسیدو نکی) ده مطلب ورنه (چابك آس) دی .

یوخته ـ Yuxta : مُغا ستل مُغلل. ددې کلمی ریښه(یوغ ـ Yug)ده . داویستا د(ی ـY) په‌مقابل کی چه دکلمی په سر کی‌وي په پښتو کی کله د (چ) او کله د (ځ ـ ز)غږلیدل کیږي‌لکه داویستا د(یاتو ـ Yatu ـ یوخشته) په مقابل کښی په پښتو کی(جاد و ،جو خت) کلمی موجود ې دي‌ـهمدا رنګه دفارسی د (یوغ) د پښتو د (مُغ) غږ ونه مقا بله خوري .مګر کله په پښتو کی د (ي ـ) غږ پاتی کیږي مګر په فارسی کی په(ج) بدلیږي لکه :

او یستا) ییش Yaish پښتو)ایشیدل) فارسی (جوشیدن) . همدا رنګه زړه فارسی(و و یه ـ uvya ، پښتو (و ـ یا له ، اوفارسی ، جوي ، ابی سا د تر avi—sab-tar بیا سپیریدونکی.ریښه (سد ـ Sad)ده چه په پښتو کی (ـ ست) په (نا ـ ست ـ ملا ـ ست ـ) کی داویستا (د) په (ت) بد لیږي . (tar) صفتی لاحقه او(ابی ـ abi) د(بیا) په‌معنا دي .(نی دنګتر ـ Nidangtar سمول) ددې کلمی ریښه(دنګ lang) ده چه د سمولو ،اصلاح کولو او نیغولو معنا ور کوي ،د پښتو په (دنګ ،دنګر

ړا نګ) کی دا ریښه او معنا لید ل کیږي .

ز و ر ـ Zavar زور ، قـوت

جا دیه ـ Jadya ـ هیله ـ آرزو ، پو ښتنه کول

پرو ـ Paru ـ ډک ، پر یمان

هم جمنه ـ Ham, Jamana ـ ټولنه، انجمن. د (انجمن) کلمه ژبپوهان دا سی تحلیلوي :

(هم + چم + نه) یعنی (هم) په ز ړه هندی کی (سم) د (یو ځای) په معنا . (چم) دچم ګاونډ په معنا او (نه) لکه په (پو هنه، ټولنه) کی لاحقه . په دې ملحوظ ددې کلمی ټول اجزاء په پښتو کی ژو ندي د ي .

پرونر یه ـ Parunarya لهنرانوډ ک.

کرشویه ـ Karshuyah— هیواد کروند هریښه یی (کرشی ـ Karshi) د ه چه د (کرلو، کـر ښه و یستلو) معنا و ر کـو ي ا وپه ز ړه هندی کی د (کرستی ـ Krasti) په شکل د (کر نې) ا و (یوې کو لو) معنا ورکوي چهد (ر) پهحذف د (کښت او کشـت) په شکلو نو اوړي ا و بالاخره دپښتواواویستا ددغی (کرښې) د کلمی نه د فارسی(کشو ر جوړیږي .

داو ،دپښتو او اویستا ګرامري او فونیتیکی خپلوي .

یادو نه : اویښتاپه ګر ا مر ي موادو کیدن .س .سو کو لو فه له تا لیف (اویستا ژبه)مسکو- ۱۹۶۱ کال خپروني نهاستفاده شوې

اورمړ
او
اورمړي ژبه

دافغانستان اوپښتونستان په معاصره سیمه کښې چه داباسین پورې یې لمنې غزیدلې وې دقبل المیلاد ددریمې پیړۍ یونانی جغرافیه پوه ایراتوسفین په خپل وخت کښې دراتلونکو توکمونو د استوګنې داسې یادونه کوي : «دهندوکش په جنوبی لمنوکښې پروپامیسا دیان ، ددوی جنوب ته آراخوزیان ، له هغوی څخه پسې لاجنوب ته (دمعاصر بلوچستان په خاوره کښې) ګیدروسیان ژوند کوي چه لمنې یې تراباسینه (اندوس) پورې رسیدلې دي . د پاروپامیسادسره له لویدیځې خوا دآریایانوپولې نښتې دي. اود آراخوزیا او ګیدروسیا پورې د درنګیانا پولې نښتې دي .

پدغه هیواد کښې چه په ختیځ کښې یې اباسین، په شمال کښې یې هندوکش په جنوب کښې یې بحرالعراب او په لویدیځ کښې یې میدیا او پارس پراته دي همدغه توکمونه ژوند کوي اود (آریانا) په نامه یادیږي »

دآراخوز ی ، درنګیانې اوګیدروسې د دیالیکتونو (یاژبو) کوم آثار تر اوسه

ACKU

لاس کښې نشته ،مگر دمحققینو په عقیده اورمړي او پراچې د همدغو آریایي ژبو له پاتې شونو څخه دي (۱).

دمیلادي لسمې او یوولسمې پېړۍ زرو کلونو پهلوسړی نمایي کښې د هندوکش او سلیمان غرونو ترمنځه اورمړي اوپراچې ژبې زیاتې مروجې وې کومې چه دمارگینسترین په قول دافغانستان دجنوب ختیځ (کابلستان) دلرغونوژ بوواقعي پاتې شونې دي (۲)

د پښتنو یوزیات شمیر قبایل دځینو په عقیده داورمړ له توکم څخه دي (۳) .

په دې صورت کښې د (اورمړ) مفهوم له اورمړي ژبې دو بونکوڅخه ډېرعام دی . هغه پښتانه قومونه چه ځان په ختنه اورمړ بولي کیدای شي چه دوختونوپه تیریدو سره بې خپله ژبه اړولې او اوس داورمړی په ځای په ننگه پښتو خبرې کوي.

دکانیگرام بوشمیر او درو دا کار یقیني کړی دی او اوس بې ژبه پښتو ده .

دمارگینسترین په قول د بوتخاك اورمړو دنولسمې پېړۍ په سر کښې په اورمړی ژبه خبرې کولې . له دغه وخته وروسته بې ورو په ورو ځای پښتو نیو.

د پیښور په نوښار کښې ځم اورمړو دخپلې ژبې په ځای پښتو منلې ده. همدارنگه دلوگر په برکي برك کښې چه دنولسمې پېړۍ په سر کښې تقریباً اتو زرو کورنیو په اورمړي خبرې کولې اوس بې ځای پښتونیولې او اورمړي له منځه لاړه .

۱- د (پاکستان اولسونه) (۵۹-۶۱) مخونه .

۲- مارگینسترن ،اینډو ایراني ، سرحدي ژبې ، ۳۵مخ .

۳- دپاکستان ملتونه (۱۳۶-۱۳۷) مخونه .

په هرصورت دآریانادایرة المعارف په استناد اورمړ دپښتنو دیوې لویې قبیلې نوم دی چه د کسې دغره په لمنو کښې اوسیدل. ددوی اصلی ټاټوبی همدغه ځای دی. خودزمانی په تیریدو سره ځه یې په لوګر او ځه یې دآزاد پښتونستان دو زیرستان د کانیګرام په سیمو کښې اوسیږي.

دنواسمې پیړی په سر کښې دلوګر د اورمړو د کورنیو شمر اته زره او په کانیګرام کښې د شلمې پیړی په پیل کښې ددوی د کورنیو شمیر له ځلورو نه تر پنځه سوه پورې رسیده. ه.و. بیلیو د افغانستان د اورمړیو د کورنیو شمیر حتی لس زره ښوولی و (۱).

زمونږ دد ایرة المعارف په استناد اورمړ دشرخبون په پنځو زامنو کښې کشرزوی دی(۲) اورمړي خپله نسبی سلسله شرخبون بن سړبن بن قیس عبدالرشید ته رسوی.

دځو کنو سیاعمرصاحب داورمړ دشلو زامنو نومونه داسې یاد کړی دي :

منګوي،مستوی ، منګور ، شګوی،زیق، ستوي،جاوپان،دهر ي، کا نی ګرام ، حران ، کولیځ ، حضران ، رنوك ، دالچا ، ملانی ، سیدانی خان ، دوه ستو ی ، سین ، خلیل ، او بو کښی .

ښایی د کانیګرام دغره نوم د همدغه کانیګرام له نامه ځخه چه داورمړنیکه نهم زوی دی اخیستل شوی وی .

۱- مقدماتی فیلالو ژی (۳۳۹) مخ .

۲- آریانا دایرة المعارف د(اورمړ) کلمه وګوریء .

داورمړ دقبيلې دغه پنځه څانگې په کانيگرام کښې ميشته دي .

(۱) خيگنې (۲) خرم جانې (۳) ملاقانې (۴) بيگنې او (۵) حرانې .

داورمړو په باره کښې لومړي يادونه دمغولي بابر په ياد داشتونو کښې ليدل کيږي. دي دپيلوبيلو تپو دنومونو ديادولو په لړ کښې د کابل په ولايت کښې داورمړو يادونه هم کوي . اود (برکی) په نامه يې يادوي ضمناً وايي چه دوی په يوه بله خاصه ژبه خبرې کوي (۱) .

ايلفنستون ليکي چه دنولسمې پيړۍ په سر کښې اورمړی هم په لوگر او هم په بوتخاك کښې ميشته وو. بوزبات شمير يې دوزيرستان په کانيگرام کښې اوسی .

داورمړی پخوانی سيمه داوسنی په نسبت ډيره پراخه وه . دغه ژبه ډيروخت دهند وكش په لمنو (د باميانو او غوربند ترسيمه) اودهندوکش په شمال (کندوز) کښې ژوندۍ وه . ديو لړ او رمړ يو په روايت دوی دا ند خوی نه خپاره شوي دي .داند خوی په جوب کښې اوس هم يوځای د(برکی) په نامه سوجود دی (۲).

داسې اسناد هم شته چه دمغوله سخې ويل کيږي چه او رمړي دکابل په خوشحالي سيمو کښې هم او سيدل او يو شمير يې د پيښور په نوښا راو څه يې د پنجاب په بها ولپور کښې ميشته وو.

۱- بابر نامه (۱۵۵) مخ .

۲- د پاکستان اولسونه (۱۳۶)مخ.

په غالب گومان دغه ټول او رمړيد لوگرد برکی برك نه خپا رهشوي دي (۱)

د اورمړيو په باره کښی ختیځ پوهانو ډیرڅه لیکلی دي چه د هغو د اکثرو نظریا تولنډ یز د جارج سارگین سټرین د هغه کتاب په مقدمه کښی وړاندې شوي دي چه دا ورمړی او پراچی په باب لیکل شوی دی . دکتاب نوم (هند و ایرانیسرحدي ژبی) دي(۲) د ختیځ پیژندو نکو دنظر یاتوپه لړ کښې دا سي نظر یې هم شته چه دمنلو وړ نه ښکا ري اوخپله ښا غلیسارگین ستر ین یې ضعف ته گو ته نیسی .مگرلوستو نکو ته د ز یا تومعلو ما تو د و رکو لو په غرض دد غې مقدمې د متن دلنډ یز تر جمه د لته وړاند ې کو م اوهغه داده :

۱- د او رمړي یابر کی ژ بې دلو مړ یو معلو ما تو په باب، مونږ د بابر د احسان ممنون یو .نو سوړي د پرا چی یا دو نه هم دلو مړي ځل د باره کړې ده لیدن Leyden لو مړی ار و پا یی عالم و چه هغه په کا نیگرام کښیږد(اور مړد Vurmud) دقوم دموجودیت او دبرکی ژ بی څخه خبرو .الفنستو ن د کابل د سلطنت په باب دمعلو ما تو په کتاب کښی دا سیلیکی :

۱- مقد ما تی فیلا لو ژي (۳۳۹)مخ .

۲ - Indo—Iranian Fornt ier languages—Oslo—1929.

دا نگر یزی نه په پښتو ددغه کتاب د مقد مې د تر جمې کو لو له ا مله د دوکتور نور گل حمزا خیل د ز یار او سرستی مننه کوم(لیکو نکی) .

د تاجکانو دویمه برخه برکیان (Burrukees) دي چه هغوی دلوگر او د بتخاک په یوه سیمه کښې اوسېږي، دوی دغلجیا نو سره گډ ژوند کوي، دوی له نورو تاجکانو څخه تو پیر لري ځکه چه دوی د خپلو مشرانو په مشری یو قوت سمت جوړ کړی او دعسکر وېه صفت یې خو رازیات شهرت پیدا کړی دی. دوی خپلې ځانگړې ځمکې او کلاګانې لري حکومت ته ډیر عسکر ورکوي پښتنو ته په عادا تو کښې ورته او دنورو تاجکانو په نسبت ډیر سپیڅلی او درانه خلک دي.

او س د دوی شمېر اته زره کورنیو ته رسېږي. د ټولورو ایا تو څخه دا سی معلومېږي چه دوی د سلطان محمود په عصر کښې د یوولسمې پیړی په سر کښې او سنیو سیمو ته راغلی دي. د دوی اصلی ټا ټو بی معلوم نه دی. د وی وا ئی چه د عربو څخه را غلی دي لا کن نو ر خلک وائی چه دوی له (کو ر دا نو) څخه را غلی دي.

بر نس Burrnes وا ئی هغه بر کی یا کا نه گرامی ژبه چه دلوگر خلک یې وا یی د فا رسی خوا ته میلان لري سره د دې دوی ادعا کوي چه له عربستان څخه را غلی دي او داهم وا یی چه دوی د سلطا ن محمود په ذ ر یعه او سنیو سیمو ته را و ستل شوي د ي.

۲- دلیچ -Leech په حواله نوموړی قوم په دوه برخو و یشل شوی دی. یعني

د(را جا ن) بر کیان چه دلوگر پهولایت کښی او سیمري چه دهغو ژ به ؤا رسیده. اما برك Barak بر کیان په برکی ژبه گړ یږي چه ددوی د هستوگنی ځای هم د ز و مو ړی سیمیشاو خوا کښی د ی. ددوی یوه برخه دو زیرستان په کانیګرام کښی او سیږي او ددې ځای او دبرك بر کیا ن په برکی خبرې کوي.

۳- بیلیو Bellew دیوه روایت په اساس وائی دپښتنو ور کزائی، اپریدي، منګل، وزیر، ختك او خوږیانی قومونه داورمړ وله تو کم څخه دي . وائی چه او ر مړ یا نود اورپرستش کاوه اود مذهب خصوصی دود وبه ئې دراودل په هفته کښې یوځل دوی نر او ښځې د پرستش دپاره سره را تولیدل او د عبادت په اخر کښی د مذهب لارښوونکی او رمړ کاوه او په عین و خت کښی په ئې نا ره وهله (او رمړ) . اورمړ دپښتو یوه کلمه او او ر مړ یا نو بهدا و ر مړه کولو د پا رهاستعمالو له. (۱)

۱- د (او رمړ) دکلمی په باب چه ما پخپله دلوگر دا ورمړ وخینو سپین پیرو څخه پوښتنه کړې ده هغویویل چه زمونږ نیکه (میر برك) په پښتنو قبا یلو کښی یو محترم شخصیت و. چیر ته بهچه دقومونو یا او لسونو تر منځه دجګړې اوربل شو ، زمو نږد نیکه دمنځگړ یتوب په صورت کښی به هغهمړ کیده، ځکه بهنوپښتنو زمو ږ نیکه ته (اورمړ) وایه او او لادیی هم په دغه نامه یادیږي(لیکونکی).

دافغا نستان دنژاد پیژند نې په با ب بیلیو د هرودوتس Herodotus په حواله وا ئی چه برکی او برکیا ن دلیبیا څخه د(باختر یا) دکندوز کلی ته لیږل شوي دي . هغه ددې نظر یې دحما یې دپاره د(آرین) دیوه نا خرگند عبا رت څخه استفا ده کوي. دبیلو دیر ه په زړه پورې خبر ه دا ده چه و ا یی :

اورمړی برسیره پر دی چه په کندز اولوگر کښې کورونه لري په پېښخاك . دوزیرستان په کانیگرام اودهندوکش دباسیانو اوغوربند په سیمو کښې هم میشته د ي . بیلیو زیاتوي چه داورمړ ودقوم څخه برکیان یوه مخصوصه لهجه استعما لوي او دا لهجه داسې بکاري خه دیوې هندي ژ بې څخه به اخیستل شو ې وي . دوی ښه لو ړا و ډیر فعال خلك دي اود راند ه صفات لري . دوی دافغانستان په توکم پیژ ند نې کښې برخه نه لري اودتاجکانو سره یو ځای شمیرل کیږي . بیلیو عقیده څرگندو ي چه دپښتنو دبا رکزائی قبیله دبر کیانو څخه منځ ته راغلې ده .

۴ ـ دمولیفینوله ډلې څخه لیچ اورا ورتې داور مړو ژ بې (دلوگرد یالیکت) لږ څه لغات ذکر کړي دي لیچ یو څو جملې دترجمې سره راوړي راورتې اکثره لغا ت دلیچ څخه اخیستې دي .

۵ ـ داور مړي ژ بې لوسړی مکمل شکل اوتشریحات(سر جارج گر یر سن)

دبنګال داسیائی ټولنې دخاطراتو په کتاب اوورومته ئې دهند دلنګو یستهیکې سروې په کتاب کښې لیکلې دي :

دهغه معلومات دوزیرستان دکانیګرام دډیالیکټ په باره کښې دي. دامعلومات اکثر دغلام محمدخان د(قواعدبرګستا) لهمجموعې اوپه وزیرستان کښې دبرتانیې دمامورینو لهخوا لاس ته راغلي دي .

داپه زړه پورې معلومات ددېرې یادونې وړ دي اوپه اورمړي کښې دقواعد و مجموعه دسر جارج ګریرسن دخدمت نتیجه ده .

٦ - داورمړي ژبې دلوګرددیالیکټ په باب زموږ معلومات دلېچ اوراو رټې په اړو لغاتو تکیه لري ماپه (۱۹۲۳) کال په کابل کښې دځېل تم کېدو په وخت کښې هغه وګړه چه دلوګر داورمړو سره په تماس کښې شم . داګست دمیاشتې په شروع کښې کله چه ماغوښته برکی برک ته لاړشم کابل ته خبر راغې چه داړو دوړ اوشورش لمن لوګرته پراخه شوې اودخوست لهخواشورشیان دالتمور دکوتل څخه اوګرته راننوتل لاکن ددغو مشکلاتو سره دافغانستان خارجه وزارت یو زوړ سړی دین محمد دبرکی برک څخه کابل ته راووست . هغه لهماسره دیوې هفتې دپاره کار وکړ لاکن هغه ددې سودې څخه زیات دځېل کور څخه بهر پاتې کېدای نهشو .

۷ ـ دین محمد وویل چه دی د برګی برك دیوځو هغو وګړو له ډلی څخه دی چه په خالصه اورمړی ژبه خبرې کوي او دا خبره زما دلوسې یو معلوماتو سره برابره وه .

د هند د لنګو یستیکی سروې په حواله اورمړ اولس په کانیګرام کښې د ځلورو څخه تر پنځوسوو پورې کورونه اري (۱) په بتخاك کښې چه د کابل د ختیځ په لس میلی کښې پروت دی ځینو خلکو وویل چه دوی د اورمړو د قوم څخه دي لاکن دوی ټولو په پښتو خبرې کولې او هیڅ پوور کښې په اورمړی ژبه نه پوهیده .

کوم اورمړ چه د پېښور د سیمې په (خاصې پرګانې) د نوښار په سیمه کښې اوسېږي ټول پښتو وایی . ما هیڅ وانه وریدل چه ګوندې اورمړ په غوربند ، بامیانو یا کندوز کښې هم اوسېږي او یا هم غیرممکن بریښی چه دوی به په نورو ځایو کښې خپله ژبه ساتلې وي .

۸ ـ د دین محمد له خولې د اورمړي طائفه سیدان دي او د دوه ورونو یعنی میري برك اوسېري بر کت اولاده ، ده چه هغوی د بریمن (یمن) څخه ترکستان ته راغلی او لوسړی ورور په اند خوی او دویم ورور په مزار شریف کښې خښ دی .

۹ ـ هغه روایت چه اورمړ کودیان او الفنستون ذکر کړی دی د هغه روایت سره چه دوی د یمن عرب معرفی کوي سمون نه کوي او بیا له لنګو یستیکی حقایقو څخه دا کار فیصله کیدای نه شی .

---

۱ ـ په اوسنی وخت کښې د کانیګرام د اورمړو د کورنیو شمیر (۵ - ۶) زروته رسیږي . (لیکونکی)

ACKU

داخبره ډېره احتمال لري چه دوزیرستان کانیګرام اورمړ دبرکي بر ک څڅه کوچیدلی وي .

د(برکي) نوم ښکاره کوي چه برك ددوی زوړ دااصلي تاتوبی و. داهم ممکنه نه بریښي چه اورمړي د(اور عبادت کوونکي وو) داخبره په زړه پورې ده چه اورمړي ژبه یوازېنی معاصره آریایي ژبه ده کوم چه داور پرستانو دمذهب د (مطالعې) او (لوست) تخنیکي اصطلاح ساتلې ده . داورمړ دلغت تحلیل چه د پیلیو له خوا شوی دی تریوې اندازې پورې خیالي بریښي .

۱۰ - داور مړودقوم دتار یخي اشخاصو په لړ کښې یوبایزید انصاري پیرروښان وو . دمخزن الاسلام په حواله ویلی شو چه بایزید دکانیګرام یو اورمړ و . دلیدن په قول هغه په دې متهم وو چه د(چراغ مړه کوونکو) مذهبي ډله بې منځ ته راوستلې وه. داخبره ممکنه بریښي چه دبایزیدارثي میلان تریوې اندازې پورې په هغومذهبي روایاتو اواعمالو متکي وکوم چه دده په قوم کښې موجود وو .

۱۱- دوزیر ستان دکانیګرام اود لوګر دبرکي برك اورمړي دوه بیلې بیلې لهجې دي او دکانیګرام لهجه یې عموماً لر غونې بڼه او خصوصیتو نه لري .

دغږ پېژند نې Phonetic له مخې کوم تو پیر چه د دواړو دیالیکتو نو ترمنځ موجود دی هغه دادی چه دلوګر د یا لیکت (sh) ساتلی دی لکه په shv, shtv xshy, shy لکه لوګری (غواښه) کانیګرامي (غواسه) او بل داچه لوګری ژبې (ژ) ساتلې ده .

په لوگري اورمړی کښی ورځ ته (روژ) او په کانیگرامی ورته ریو زوانی . دنورو ژبو څخه اخیستل شوولغاتوکښی دوار د یالیکتونه (sh) اری د مثال په ډول : کانیگرامی او ر مړی شامته Shasta او لوگری اورمړی شاسته یو له بله سره نژدې دی او په همدې ډول په دواړو لهجوکښی لا نورې (sh) لرونکی توری گورو :

کانیگر امی لهجه		لوگری لهجه	معنی
شیطا ن ـ	shaitan	شیطان	شیطان
شور ـ	shor	ښا ر	ښار
اوشیار ـ	Hushyar	اوښیار	هوښیار

ددواړو د یالیکتو ترمنځ دلغاتو تو پیر دنوروژ بو څخه دا خیستلو په نوټه پورې اړه لری. پا سنی لغات دپښتو یا دری څخه اخیستل شوی دی. دکانیگرام ددیالیکت ـــZ دلوگرپه (g) باندې بدله شودی. کله کله دکانیگرام دش (sh) غږ په (څ) (ch) باندې اوړی.

۱۲ ـ دلوگر ددیالیکت سارفو لوجیکی سیستم ډیر بسیط شوی دی دد وا ړو دیالیکتونو جغرافیوی حالت دا ایجابوی چه ډولړ تغییرات ورکښی و لیدل شی . کانیگرامی لهجه دیوه نسبتاً قوی اولس له خواچه دوزیرستان په یوه گوښه غرنی برخه کښی پرته ده ویل کیږی او دپښتو کلتوری او اجتماعی غیرمهمو دیالیکتوله خوا احاطه شوې ده . له بلی خوا دلوگردیالکت په ډیره چا بکی سره له منځه ځي. دلوگراورمړیان په یوه پراخه دره کښی چه له کابل څخه لرې نه ده اوسیږی.

ACKU

دوی همیشه دفارسی ویو نکو سره په تماس کښې دی اودهوېرېو را هیسی ئې په عسکري چاروکښې خدمت کړی دی. داخبره دتعجب وړنه ده چه لوګری لهجې دجنس (تذکیراوتانیث) توپېر له لاسه ورکړی‌دی اوداسماو ودجمع حالت ورکښې خورا ساده شوی دی . په همدې‌ډول د غیرو منظمو ما ضی افعا لوشمېر ور کښې خو را لږ شوی دی .

دضمایرو سیستم دکا نیګرا سی اور مړی په نسبت په لو ګری لهجه کښې خو را ساده شوی د ی .

۱۳ـ دکانیګرام اورمړی دوزیری پښتوځخه په آ زادانه ډول لغات‌اخیستی دی او دلو ګر اورمړی د پښتو او فارسی څخه هم ډیر ه متا ثر ه شوې د ه ـ یو شمیر اصلی او رمړی لغات دکانیګرام په د یالیکت کښې موجود دی اوممکنه ده چه نوسوړی لغات په لوګری لهجه کښې هم ژوندی وو :

مثلاً :

کانیګرامی اورمړی			لوګری اور مړی		
ړ و ند	hond	هو نډ	kor		کو ر
ا یږ ه	hing	هینډ س	xirs		خیر س
نر م	nors	لور س	arm		نر م
لیکل	pis	پیس	nawishta		نویشته
او سپنه	ro	رو	ain		این

روبا	roba	رواس (۱)	rawas	ګیدړ
خرګوش	xargosh	سیکك	sikak	سوی
کایك	kaik	ساك	sak	وزره
خالي	xail	توسك	tusk	تش
راست	rast	خوارینځ	xwarindz	ښي
خاکیستر	xakistar	یانك	yanak	ایرې

۱۴ـ دلوکرد یا لیکت دهغه و خت څخه چه لیچ په ۱۸۳۸ کال کښې دهغه یوشمیر لغات چاپ کړی وو تغیر کړی نه دی . هغه ډولونه چه دده دلغاتوپه ذخیره او جملو کښې لیکل شوی دی او کوم لغات چه راور تې لیکلی دی دهغو لغاتو سره چه ما اوریدلی دی یو شان بر یښي .

۱۵ـ داور مړی اوشمال لوید یځو ایرانی ژبوتر منځ مشابهتونه دپراچی او دشمال لوید یځو ایرانیو ژبو په اندازه نه دی . دا چه اورمړیان دکورد یا نوله اصله دی هیڅ ډول یو سمه یکی حقیقت نه لری، یوازینی ځینې شباهتونه چه مادرك کړی دې دادی چه په اورمړی کښې دهګی کلمه د وروستاړی لری . دمثال په ډول کانیګرامی اورمړی هنولك hanwalk د لوګر اورمړی وولك wuldاو کردی hilka (دهګی په معنا).

۱ـ اوس په کانیګرامی لهجی کښې ګیدړ ته دپښتو نه اخیستل شوې (ګیدړ) کلمه استعمالوی (لیکونکی) .

۱۶ - دا ورمړي او پر اچی ژبو ترمنځ دهر اختلا نو نه شته دي د مثال په ډول د(ft) او (max)ضما یر په پراچی کښې د متکلم شخص ضمیر جمع - xt او په اورمړي کښې (ma)را ځي .

۱۷ - ماو یلی وو چه بلوچی سمکن ځینې دا سې لغات ولری چه دیو ې آر یایی ژ بې څخه چه په هغه مملکت کښې د بلو چا نو د منځ ته ر ا تګ څخه پخوا معمو له وه اخیستی و ی .

ختیځه با ختري ژبه چه او رمړي ورسره دد پر وهیږ یورا په د پخوا په تماس کښې ده او د او ر مړی ژ بې په انکشاف کی‌لو ی تا ثیر کړ ی‌د ی پښتو د ه اورمړي د پښتوژبې‌څخه‌یو ز یات‌شمیر لغات اخیستی دي او دد وار و ژبو تر منځ را بطه ډیر اما سی بنسټ لري او ماته دامې په‌نظر نه‌راځی چه ګو ندې دو وارو ژ بو تر منځ تما س دمحمودغز نوي له وخت څخه شروع شو ی‌دی .

دد وار و ژبو ځینې دامې لغات شته چه یو له بله مخصو صه را بطه لری ا ما دغږ له نظره څه ناڅه اختلا ف ور کښې شته دی، دتلفظ اختلا ف څر ګند وی چه او ر مړي د پښتو څخه نو مو ړ ي لغات د یر پخوا اخیستی د ي دا ورمړي او پښتو د او ږ ده تما س په رڼا کښې ویلی شو چه او رمړي د لو یډ یزا یرا ن څخه را غلی نه د ه .

دا وه د پرو فیسر مار ګین ستر ین د کتا ب مقد مه تر کو مې اند ازی چه ما دا ورمړی په دو ار و (لو ګري) او (کانیګرامی) ژو ند یود یا لیکلو نو کښې

مواد را ټول کړي او څېړنه مې ورکښې کړې ده (۱) د دې عقيدې ته رسېدلی
يم چه او رمړي د پښتو يوه داسې لهجه ده چه څو سوه کاله پخوا له پښتو څخه
جلا شوې ده. البته د پيلتون د نيټې معلومول اړ ی باید د تاریخ او د مقایسوي
ژبپوهنې په رڼا کښې اټکل شي البته مقايسوي ژبپوهنه خصوصاً د ګرامر په
مقايسه کښې ما ته ډاډ را کوي چې او رمړي د پښتو يو ملرې تلې لهجه وګڼم.
ګله چه مونږ دا ورسره د ګرامر د ټولو آړخيو ژونديو او مطالعه شو يو مړو
ژبو د ګرامر سره مقايسه کړو بلهبه هيڅ داسې ژبه پيدا نه کړو چه د پښتو نه
زياته خپلوي ورسره ولري د پښتنو سره چه او رمړ کوم اېتنوګرافيك (د توکم
د تشکيل) روابط لري هغو ته د پروفيسر مارګين ستيرن د کتاب په ترجمه شوې
مقدمه کښې اشاره شوه چه هغه هم زما د نظر يې ثبوت ځي.

۱- زما د تحقيقاتو منبع داده :
الف- په لوګر ی او رمړي کښې علاوه پر نورو اورمړي ژبو ښاغلی خليل الله
او رمړ د کلنګار دلیسې پخوانی ښوونکی.
ب: ربات خان د شکر داد خان زوی د کانيګرام او سيد ونکی دد پر ۀ اسماعيل
خان د پوهنتون داد بيا تود پوهنځي محصل چه د پښتو د ښوونکي زردل خان
په لاس يې ليکل شوي او ټايپ شوی مواد زموږ لاس ته را غلی دی.

(ليکوونکی)

په هرصورت زه‌به داورمړی ددوارو دیالیکتونو په ژ بنیو ارخونورنیا واچوم او دونو اوستونکو ته‌به خپله دانتیجه په‌لاس‌ورشی چه‌پښتو او اور مړی دوا ړه ژ بی څومره سره خپلوي لري .

دوه لهجی :

دپښتونخوا په‌دوو سیمو کښی‌اوس اور مړی ژبه ژوندی ده :

الف : دلوګر دولایت دبرکی برك په‌سیمه کښی چه‌تقریباً (۱۰۰) کورنی یری خبري کوي .

ب : دوزیرستان په کانیګرام کښی چه‌دتقریباً (۳۵) زرو وګړو ژبه‌ده.

دلوګر اورمړي متاسفانه دپښتو اوفارسی څخه‌ډیره متاثره شوي ده چه دغه اغیزه هم‌د فونیتیک هم‌دلغت‌اوهم‌دګرامر په‌برخه کښی لیدله کیږي .

دکانیګرام په‌اورمړی دلغت په‌ساحه کښی څه‌ناڅه‌دپښتو اغیزه لیدله کیږي مګر دیوې مستقلی ژبی‌په صفت یی خپل ارغونی خصوصیات ساتلی دي . څکه چه‌له‌یوې خوایی دخپلو ویونکو داکثریت دقوت له‌امله اوله‌بلی‌خوا له‌دې کبله چه‌هلته داور مړی په سیمه‌نورې ژبی نشته داژبه‌تر زیاتی‌اندازې سوچه او نګه پاتی شوې ده

دلو ګر اورمړی اودکانیګرام اورمړي ددوو ځانګړو لهجو په صفت په یو لړ ژبنیو خصوصیاتو سره بیلیږي چه‌څومره تکی به یی وروسته وړاندې شی .

فو نیتیک :

داور مړی په‌دوارو لهجو کښی لاندې غږونه موجود دي :

الف : زور ، زوره ګی ب، پ، ت، ټ، ج، چ ، ث ، څ (کانیګرامی) . د، ډ، ر ، ړ ، ز ، س
ش ، سخت ش(کانیګرامی) ښ، غ ، ف، ك ، ګ، ل، م، ن (۱). و(مجهول او معروف)
ښ، ه ، ي (مجهوله معروفه نرمه او ثقیله.)

په کانیګرامی اورمړی کښی یو خاص ډول غږ شته چه په آریایی نور و ژبو کښی مانه دی موندلی . تلفظ یی د پکتیا په تلفظ د(ږ) او (ښ) ترمنځه کیږی (۲) دا په هغو کلمو کښی وجود لری چه دلوګر په اورمړی ، کله په پښتو کښی په (ښ) (ږ) او (ش) سره تلفظ کیږی . ددغه غږ په مقابل کښی زه ددوار و غږ و نو له لیکلو وروسته د(؟) نښه ږدم لکه په لاندی لغاتو کښی :

کانیګرامی	لو ګری	معنا
ږی ، ښی (؟)	شو	د ری
ښیس ، ږیس(؟)	ښیس	دیار لس

۱ - پروفیسر مارګین سترین د(ڼ) غږ هم ښوولی دی لکه د (هونډ - ږونډ) په کلمه کښی، مګر کوم موادچه ما ته لاس ته راغلی دی په هغو کښی ماد (ڼ) غږ نه دی موند لی .(ږوند) ته اوس په کانیګرامی لهجه کښی د(او نډ - duwa غږ موجود دی (لیکو نکی)

۲ - په خیرالبیان کښی د پښتو دتوریو دښوولو په لړ کښی پیروښاند(ګ) غږ دوه محله تکرار وی د تکرار سبب یی ښایی دروښان په ژبه کښی ددغه اورمړي خاص غږ موجودیت وی (لیکونکی).

پواړ، خواښ(؟)	شمړن	غوړ
ړوك ، ښوك(؟)	ال ـ شوك	ورګول
وړ یوښن ، وسیوښن (؟)	شینو ك	اخیستل
سوړ ، سوښ(؟)	سوش ـ	سور (رنګه)
غوړاو ، غوښاو(؟)	غوښه‌و	دارول

په یو لړ کلمو کښې دغه‌مقابله په‌نظر نه راځي لکه :

پك ، ښکه (؟)(۱)	ګیك	وړو .
پیو ، ښیوا (؟)	سیل	نیز ، سیلاب

فونیتیکي مقایسه :

لکه څرنګه‌چه په پښتو کښې‌د(ښ) غږ په (ختیځواولوېدیځو)لهجو کښې په دوه دوله‌ویل کیږي دغه‌شان توپیر دګانه‌ګرام اولوګر په‌اورمړي لهجه کښې هم‌شته داتو پیر خصوصاً په‌هغو کلمو کښې لیدل کیږي چه‌په‌لرغو نو آر یا ئي ژبو کښې یې غالباً د(خش ـ xsh) غږ درلود .

دلته سونږداو پښتا سره دیولړ کلمو مقایسه وړاندي کوو ضمناً باېدووایو چه دلوګري (ښ) دېکتیا په تلفظ نرمه ویل کیږي :

---

۱ ـ دغه کلمه لکه‌چه‌ترمخه تیره شوه مارګین ستر ین دسك sak په بڼه قید کړی ده .

ACKU

کانیګرامی		لوګري		اویستا		پښتو
شین	shin	ښین	uɪx	خشینه	xshaena	شین
شیو	shyu	ښو	xo	خشپه	xshapa	شپه
شیپی	shipi	ښیپی		خشویپته	xshvipta	شوده، شېدې
شه	sha	ښو	xo	خشوش	xshvash	شپږ

دلوګري اورمړي او کانیګرامی اورمړي ترمنځه یو فونتیکی هرګند توپیر دادی چه د کانیګرامی د (س) دغږ پهمقابل ګښی لوګری د (ش) غږلري :

کانیګرامی		لوګري		معنا
سن	san	شن	shan	نن
سر د « (س) پهزیر »		شر د « (ش) پهزیر »		ښه
سندس	sandas	شندس		یولس
سوروا		شوروا		ښوروا
سون	sun	شون	shun	وینه
ګس	gas	ګشی	gishi	غابښ

مګر دا قاعده عامه نهده یانکی ډیرځله د اورمړی دواړه لهجی د (س) غږ یوشان ساتی :

کانیګرامی		لوګری		معنا
تیوس	tyos	توس	tos	تاسو
ستوري		ستژي	stazhy	ستوري

سپېو	سپېو	سپېن
ستور	ستور	ستر، لوی
سپوك	سپوك	سپی
سپوی	سپوی	سپیره

داورمړی په‌دواړو لهجو کښی د پښتود (ړ) دغږ په مقابل کښی د (ړ) غږ موجود دی خو کله کله د (ل) په غږ لبدل کیږی :

کانیګرامی	لوګری	پښتو
زال (۱)	زال	زوړ
زلی zli	زلی	زړه (قلب)
خولوك	خولوك	خوړل
مالی	مالی	میره

دفونیتیک په هغه برخه کښی چه اورمړی له پښتو (کله کله له باختری ژبو) څخه لري کیږی هغه داده ی : دکلمو په سرکښی (غ) دغږ په مقابل کښی اورمړی ژبه د (ګ) غږ لری :

۱- په پښتو کښې دلرغوني ریښې د موجودیت له مخې ویلای شو چه دفارسی په کلاسیک ادب کښې د (زال) کلمه د (بوډ ی ، بوډا) په معنا له پښتو اخیستل شوې ده (دار یښه په‌زلی‌اونیم ز اله) کی همدا رنګه‌دداسې‌بداون قیاس په‌نورو لغاتو کښی هم کولی شوا‌کړه(نواله ـ نوړی ، شال ـ شړی)

کانیګرامی	لوګری	پښتو
ګنم	ګنم	غنم
ګس	ګیشی	غاښ
ګیوی	ګوی	غوښی ، غوا
ګری	ګری	غر
مورګه	مورګه	مرغه (الوتونکی)

د کلمو په سر کښی چه پښتو د (ل) غږلری اورمړی‌یی د (د) غږ په مقابل کښی ساتلی دی:

کانیګرامی		لوګری		پښتو
دووه	durwa	دووه		لور (دزوی په‌مقابل کښی)
دره نک	dranak	دره نوك	dranok	لرل ،در لودل
دس		دس		لس
		دوبن		لبن
دراغ		دراغ (او ېړ)		لارغه ، لرغونی

دپښتو د (خ ، چ) دغږونو په‌مقابل کښی اورمړی کله کله‌د(ك)غږ لری:

کانیګرامی		لوګري	پښتو
کوك	kok	کوك	خوك
کیږژي		کیږژي	چرګه

ACKU

که	ka	که	چه،چی

داقا عده کلیه نه ده د(چ ،څ) په مقا بل کښې د (چ ، څ) غږونه هم راځي:

کا نیکر اسی		لوګري	پښتو
څا		(وا ی)	څله(ولې)
څر و ك		څروه ولك	څرول
څښیس		څریس	څوراس

د پښتو د زو ره ګی په مقابل کښې اورمړي پیش اري دامې په نظر راځي چه داله پښتو څخه اخیستل شوې کلمې دي:

کا نیکر اسی		لوګر ي	پښتو
پوټ	pot	پوټ	پټ
مو خ	mox	موخ	مخ
ستو ر	stor	ستور	ستر، لوی
ستو ړ	stor	ستوړ	ستړی
با لو ښت	Balosht	با لو ښت	بالښت

د پښتو د هغو کلمو په سر کښې چه د(و) غږ و ي په او ر مړی کښې کله د(غ) او کله د(ګ)په غږ او ړي . دا پیښه په نور و معا صر وآ ر یايي ژ بو کښې هم ایدل کیږ ي .مګر پښتو له د ي کبله چه خپل لرغو نی خصوصیات یې ترزیاتی اند ازې سا تلی دی د هغو په اړ کښې یې د (و) لر غو نی غږ هم سا تلی د ي

مگر په او رمړي کښې دنو روآریا یي ژ بو په شان په(غ) او کله کله د (گ) په غږاو ښتي دي. دادي ځوښنا او نه:

کانیګرامي		لوګري		پښتو
غوا سه		غواشه		واښه
غیځن		غوك (ووك)		ویل
کیستك	Gistak	گوستوك	Gustok	وستل(راوستل)

دا پیښه له هر څه زیات په پراچي کښې تیپ‌که بنه‌اري چه په خپل ځای به‌یي و راندې کړو:

دا ورمړي د دوا ړو ورا شو (لهجو) تر منځه یو څرګند فونیتوکي توپیر دادی چه دلوګري د کلمو په منځ کښې دو(مجهول او معروف) نه ترمخه‌په کانیګرامي کښې د (ي) غږ زیاتیږي:

لوګري		کانیګرامي		معنا
پوز	poz	پیوز	pyoz	خوله
روژ	rozh	ریوز	ryoz	ورځ
شوك	shuk	شیوك	shyuk	شو
ووك	ok	ویوك	wyok	ج
توس	tos	تیوس	tyos	تا سو
دو	do	دیو	oʌp	د وه

ACKU

دپښتو سره دا و رمړی فو نیتیکی خپلولی څه ناڅه دلته وښوول شوه په او رمړی کښی د باختری ژبو د خاصو غږونو (ځ ، څ ، ښ)موجودیت داثا بتوي چه دا ژبه یوه باختری ژبه ده او بیا په هغی د پښتو د غږونو (ټ ،ډ ،ړ، او ڼ)دغږو نو موجود یت دا ښئی چه او رمړ ی د پښتو یوه لر غونی بیله شوې لهجه او یا ورسره بیخی خپلوانه ژبه ده .داژبه د پښتو سره گر امری زیاته خپلوی لری چه د نو روژ بو سره همغو مره په دی با ب خپلوانه نه ده.

ددې ژبی دد وا ړو لهجو گرامر په مفصل ډول د کابل مجلی د (۱۳۵۰) کال په (اوو مه او اتمه)گڼو کښی وکو ری.

دلته داو رمړی یو وړوکی متن د ما رگینسترین په استناد دښکا رند وی په ډو ل دتر جمی او تحلیل سره وړا ندې کوو :

Šė faqir arzāk šē bárri nė zut karānuk būk

شی -(یو) مقد اری عدد دی .

فقیر - (فقیر) عربی کلمه دمبتدأ .

ار زك -(راغی) دما ضی لازمی د مفردغایب صیغه ده.دا کلمه له دووتو کو (ار -زك) جو ړه د ه .لو مړی توکی (ار) سمتی ضمیر دی چه د پښتود(را) متکلم خو اته د عمل سمت ښئی) په معنا دی .

ACKU

ا و د و یم تو کـی (زك) د (تلل) معنا و ر کو ی ا و د پښتو د حا ل او ماضی په صیغو کښې د (ځم،ځي،ځی) اونورو په بڼه موجودد ی،دواړه توکی د خبر ځای لری.

بر- (ور) دا کلمه د(و) په غږ همد ارنگه کله کله د (د-و)په غږونوپه با ختری ژبو کښې ثابته ریښه لری: او سیتی dwar فارسی (در) یغنوبی (د یو ر divar موغدی (ذور) پار تنگی (دیو ور Divor یا زگو لیا می (دوور- د (د) په زو ره کی) په غږ و نو وجو د لری. دا کلمه په او یستا او زړه پار سی کښې د (دوره) Dvara او (-نی -) دور وستا ړی د ی چه دعمل سمت ښئی.

زوت -د یر زښت) دقید و ظیفه اجرا کوی .

(خرونو ك -وړی) اسم صفت د ی چه ر یښه کښې (خوراك) ده.

بو ك - (و)د ماضی لاز می مفر د غایب صیغه ده.

تر جمه :

یو فقیر (دیوه کور) یو ه وره ته راغی هغه زښت ډېر وږی ؤ.

ACKU

پراچګان
او
پراچي ژبه

دافغانستان د خوړا ډېرو لږو ژبو څخه یوه پراچي ژبه ده. (ترمخه داورمړی په پیل کښې وښوول شوه) چه پراچګان دهغو باختري آریایي تو کمونو پاتې شوني دي چه لا په قبل المیلاد دریمه پېړۍ کښې یې یوناني جغرافیه پوه ایراتوسفین یادونه کړې وه.

پراچي ژبه داوږدو پېړیو په جریان کښې د دریو ژبو (پښتو، فارسي او پشه یي) سره په ګاونډیتوب کښې اوسېدلې، نو ځکه د همدغو دریواړو ژبو نه زیاته متاثره شوې ده.

ځای په ځای یې لاساحه د دغو ژبو له خوا ورتنګه شوې هم ده (لکه په شوتل کښې د فارسي له خوا) د م. س. اندریف او مارګین ستر ین له تحقیقاتو نه څرګندېږي چه پراچي ژبه د شلمې پېړۍ د تېرو د برشو کلونو پورې د پنجشیر په څېنو برخو (شوتل، کوروب) کښې ژوندۍ وه، خو اوس د دغو خلکو مورنۍ ژبه بېخي اوښتې ده.

سربېره په خپلو یادداشتونو کښې لا هاغه وخت د پراچي ژبې ویونکي په کابل کښې

یاد کړي وو . دا باسون په حوزه کښی همدغې ژبې یادونه مؤرخین کوي مګر ددغې ژبې اصلی ټاټوبی همدغه دنجراو ساحه (پچه غان) دی . غالباً ددغې ژبې دژوند ساحه پخوا ډیره پراخه وه خو اوس یوازې دنجراو دولسوالی په څو محدودو برخو (د پچه غان دره ځینې د نجراو ددرې سر - غوچولان) کښې ژوندی ده .

دپچه غان په‌دره کښې تقریباً لس زره وګړي ژوند کوي چه زیات یې پراچی ویونکی او لږ یې پښتانه (ساپیان) او پشه یان دي . څرنګه چه په دغه دره کښې دپراچې ویونکو شمیر زیات دی پراچی ژبې خپل زیات خصوصیات ساتلی دي . په (۱۳۵۰) کال کښې ما ته فرصت پیدا شو چه د پراچی په باب خپلې پلټنې دپچه غان په‌دره او څه یې د نجراو او په غوچولان کښې وکړم .

دپراچی ژبې دخیړونکو په جمله کښې پروفیسر مارګین سترین د زیات شهرت خښتن دی .

دلته غواړم د ده دهغه کتاب د ترجمې لنډیز چه داورسړی او پراچی په باب یې لیکلی دی دهغو لوستونکو د استفادې له پاره وړاندې کړم (۱) .

---

۱ - د کتاب نوم : Indo Iranian frontier languages.

د انګریزي نه په پښتو اړولو له کبله دپوهنیار حمزاخیل نه ممنون یم (لیکوونکی) .

ACKU

دلته باید ووایم چه دپروفیسر سارګین سترین تحقیقات اصلاً دشوتل ددرې له پرا چګانو څخه شوي دي ، په‌شوتل کښې د پراچګانو نفوس بیخی لږ او ژ به یې دفارسی داغیزې لاندې زیاته را غلی وه تر دې چه اوس له منځه تللې ده. نوکه زما او دپرو فیسر سار ګین سترین د نظر یاتو داختلاف کوم تکیې وي ـ منشأ به یې دتحقیق دځایونو په ا ساس وي .

په پچه غان کښې د پرا چګانو شمیر بیخی زیات دی او ژبه یې د زیاتې اغیزې لاندې نه ده را غلې .

د پرو فیسر سار ګین سترین دمقد سې لنډ یز دادی :

۱ ـ پر اچي ژ به‌دلوسړي ځل د پاره با بر په خپلوخاطراتو کښې ذ کر کړې‌ده د کابل دشاو خوا ډیرو کلیوا و سیمو کښې‌پشه‌ئیان ، پرا چیان، بر کیان او پښتانه میشته دي په کابل کښې یوولس یادولس مختلفی ژبې ویل کیږي لکه :عربی فارسی ، ترکی مغولی ، هندي ، پښتو ، پشه‌یی ، پر ا چی ګبري ، بر کی او لمغانی .

په شپاړسمه پېړ ی کښې ترکی منصبدار سیدي علی ویلی وو چه د(فراچی) قو م دپروان په شاو خوا کښې چه(شو تل) ته نږدې دی او سیږي .

(ا یلفنستون) وایی چه پورانچیان Puraunchehs چه د هند کیانو یوه قبیله ده دبابر په وخت کښې ځا نګړي خلک‌وو، اوس دو ی د کار وانو نوبیونکی او لارښو ونکی‌دي .

دماسون په حو اله دپرانچه Perancheh ژبه په‌یو څو کورنیو کښې چه په پنجشیر یا پنجشیرته نږدې سیمه کښې او سیږي ، و یل کیږي . پرا نچیان

پراچگان او پراچي ژبه

پرته له پنجشیره چه خپله ژ به یې ساتلې ده ددغه هیواد پهزیاتو برخو کښې پیدا کیږي او اسلام ته د دوی او ښتنه په تیر لنډ وخت کښې شوی ده.د کابل په ښار کښې ځینې ډیرلوی تاجران پراچیان دي ، دوی په کامه کښې یولوی کلی نیولی او دوی داباسیند په مکاد Makkad کښې هم اوسیږی . په اټك کښې هم پیدا کیږي او په هغو ښارونو کښې چه داټك او جیلم د سیند تر منځ پراته دي هم میشته دي په هر حال ددوی شغل تجارت دی .

د تیرلنډ وخت پورې همدومره معلومات دپراچی په باب موجود ووا و د بابر د خاطراتو پهیوه باد داشت کښې سرجارج ګریرسن د (پراچی) نوم د (ختیځ) په معنا تشریح کړی اوویلی یې دي چه داژ بهدختیځ هندځخه کابل تهدپربایسانو۔ Purbyas پهذریعه چهلوی تاجران دي ، راغلی ده .

۲ - کله چه زه په (۱۹۲۳) کال کښې دناروی‌دبشري کلتو رد مقایسوي ر یسرچ دانستیتوت لهخوا په کابل کښې دیوه هیئت په حیث دژبو په مطالعه بوخت وم ماد پراچی پهباب دبابر اوساسون دلا ریښوونو پهاساس چه یوه محلی ژبه یې ګنلې وه پوره څیړنه وکړه .

ددغه کال دجولای په اخر کښې یوه پښه یی سړی چه ماله ځا نهسره د کوه۔ نادرسا تا له کلی ځخه چه ګلبها ر تهلنډ دی اودهغه اصلی هستوګنځیۀ راوستیو ماته یی وو یل چهدده یوملګری چهدشوتل پهدره کښې او سیږي پهیوبل ډول ژبه چهپاراچی Paraci نوسیږي ، ګړیږي ـ اود هغه دنو مو ړی ژبې یوځو جملې هم زده وې . دمثال په ډول : خـوریـمـن او تیریمن ـ یعنی خـورم ، اوچښم۔

کان جات ـ د کوم ځای یی ـ ایستی پریمن ـ پاڅه ځو. بل پشه‌ئی سړی چه د تګاو څخه راغلی ؤ ساته یې وویل چه دنجراو په پچغانی ژ به کښی ډوډ ی ته (نغون) و یل کیږي .

دغو معلوماتو ساته واضحه کړه چه پراچی یوه نا معلومه آریایی ژ به ده او تیر (Ter) چه دچښلو معنی‌لري داورسړي (تر ـ Tr) یی‌ساته‌رایاد کړ. بیا یوبل سړی لاس‌ته راغی چه‌په پراچی پو هیده — دستی راته معلو مه شوه چه پراچی دپشه‌ئی‌شمال لویدیځ دیالیکت‌دی کوم‌چه سالـه‌مخکښی‌څخه مطالعه کړی‌وه.

له‌بښه سرغه دشوتل ملك د کوهستان دنوروسلکانوسره په‌همغه ورځ کابل‌ته راغلی‌ؤ . ما په فارسی حروفو دپراچی کلمات دترجمې سره چه اوریدلی مې وو ، ولیکل اودسلکانو څخه می‌دیوه استازي په‌ذریعه پوښتنه وکړه چه‌آیا دا ډول ژبه په‌شوتل کښې ویل کیږ ي ملك دنوسوړي ژبی دویلو تصدیق وکړ اود پراچی‌ژبې دځینوو یوونکونوسونه یی واخیستل .

استازی نوسو ړی سیمی ته لاړ اونهه ورځی وروسته د یوه پرا چی و یو نکی شپانه‌سره بیرته راغی. کله‌چه‌د هغه څخه‌سی‌وغوښتل چه په‌خپله ژبه‌شمتیرو کړی‌نواوسړیو اعدادو یي داثابته کړ ه‌چه پر اچی یو ه‌آریایی‌ژبه‌ده‌څه‌نا ځه یومستقل‌حیثیت‌لری.

۳ ـ ددې شپانه کو ر د شوتل دپاسه په رود دره کښی‌ؤچه‌دده دیوې هفتی دتم کیدوپه وخت کښی ماد پراچی‌ژبی‌دسهموخصوصیاتوپه‌باره کی‌نظریه پیدا کړه.

دنوموړی کال‌سپتمبر کښی زه ددوپر اچی مستخد مینو سره چه‌د شیر پو ر په چونړی کښی ئی کار کاوه په تماس کښی شوم ددوی‌نوسونه غلام محی الدین

اوتوکل‌شاه وواو دواړه تقریباً دیرش کلن‌وو . توکل شاه دروددرې ؤ. دپراچي ژبې ښه شاعر هم ؤ ،غلام محی‌الدین‌دشوتل دده کلان اوسیدونکی ؤ. اوهغه ویل چه‌دشوتل اصلی نوم جوتل د ی . هغه زما دژبنې تحقیقاتو سره ډیره مینه وښووله اویو خوشال طبیعته سړی ؤ .

هغه له‌څه‌ناڅه‌بر یالیتو ب سره کوښښ وکړ چه د فا رسی ژ بې د الف با په اساس خپله ژبه ولیکی زمادلار ښوونی په اساس هغه دپښتو ژ بې ځینې مشخص توری دخطی ژ بی په لیکلو کښی شامل کړل دوی وویل چه په شو تل کښی دپراچي ژبی یو کتاب موجود ؤچی د حضرت علی ځینې قصې یې در لو دې . مګر ماته دنو موړی کتا ب لاس ته راوړل‌غیر ممکن‌وو .

ماد وی د و ا ړو سره هره ورځ یوساعت دیوی میاشتی دپاره کاروکړ . دری واړو تنوچه مخکښی ذکرشول تقریباً یوډول‌لهجه ویله .

دنجراواو پچغان‌دیالیکت‌خالص /الف/ لری اودشوتل‌دیالیکت واوته‌مایل الف لری په همدی ډول نجراوی اوپچغانی ژبی(و ـمجهول)اوخ لری حال د ا چه شوتلی‌دیالیکت‌واو ـمجهول‌ی‌ته‌مایل‌اوچ‌لری‌په همدی‌ډول دپچغان‌اونجراوی‌دیالیکت لغات دشوتل څخه ډیر توپیر او د پشه‌ئی ژبی څخه‌ډیراخیستل‌شوی‌لغات‌لری .

۳ — په /۱۹۲٦/ کال کښی پنجشیر ته د ر و سیې یوعالم پرو فیسو ر م. س. اندریف‌ولاړاوپه‌ر و سی ژ به‌یې د خپل سفر مقد ما تی ر یپور ټ و لیکه . هغه د پر اچی په با ب ځینې موا د را ټو ل کـړی و و خو د نو موړې ژبې په‌باب‌بې لاتراوسه کوم تشریحات لیکلی‌نه دي .

د اندریف لەقوله پراچی دنجرا و د کوروبه (Kuroba) په کلی کښی اودشوتل ددرې داتوکلیو څخه پەدرې کلیو کښی ویل کیږي یعنی ده کلان (۱۰ کورونه) سورا (۲۰ - ۳۰ کورونه) اواندوسوت (۴۰ کورونه) دشوتل نور کلی پەفارسی خبرې کوي .

دشوتلیانودروایاتو پەاساس ددوینیکەشوتل دنجراوڅخه د کوروبه اوسالنګ سرەیوځای نوسوږې سیمی ته کوچ کړی ؤ سالنګ دپروان څخه لوړی درې تەلاړ اواوس په هغه ځای دده نوم ایښودل شوی دی . لاکن دهغه اولاد پەفارسی خبرې کوي . دشوتل اونجراو دیالیکت تقریبا یوشان دی، دوی خپلو ځانو ته تاجك وایی ، هغوچه خپله ژبه ساتلې ده نوکله کلەځانوته پراچیانوایی .

۵ - هغه چاچه ماته د پراچیانو د شمیر په باب معلومات راکړی دی نود پاسنی تخمین څخه توپیر لری .

دیوه تن لەخولی دوی تول سلوتنو تەرسیږی بلویلی ووچه پەشوتل کښی له (۲۰۰) څخه تر (۳۰۰) پورې کورونه دي اوله دې جملې څخه سل کورونه پراچیان دي اماتوکل شاه څرګنده کړې وه چه دده قوم په شوتل کښی (۴۰۰) اوپه نجراو کښی (٦۰۰) کورونه لري، یوه بل تن راته ویلی ووچه پەنجراو کښی دپاراچیانو (۱۰۰) کورونه شتەدی،محمدغنیاوغلام محیالدین دشوتل ددرېداتوکلیو څخه پەدرې کلیوکښی دا خبره منلی وه چه پراچیان دنجراو څخه خوپیړی پخوا راغلی وو (یعنی تقریباً له (٦۰۰) څخەتر (۱۰۰) کاله،پخوا اودقوم دواړو برخویوله بله سره ودونه کړي دی او یو خلك ګڼل

کیږي . دیوه تن دوینا په اساس دوه نسله پخوا پراچي ژ به د پنجشیر د فراج زامنکور اودستوخیلو په کلیو کښې و یل کېده. داهم باید وویل‌شي چه دپغمان په سیمه کښې چه د کا بل د لو یدیځ پنځلس میلي کښې پر وت دی یو کلی دپراچي په‌نامه یادیږي .

۶ ـ داخبره مشکو که ښکاری چه‌ایانوسوږي پر اچي و یوونکی بزگران ا و غرني خلك‌دهغو تاجرانو سره‌چه‌الفنستون اوماسون ذکرکړی د ی را بطه لر ی او که‌نه،په‌دی‌باره کښې دوسره ویلی‌شوچه په‌پښتوژبه کښې پر ا چه د تو کرا نو دخرڅوونکی یا‌بنجاره معنی لري .

په وزیري لهجه کښې‌پاراچه هغه هندوته وا یي چه مسلما ن شوی وی . په‌پنجابي ژبه کښې پراچه هغه مسلمان ته‌وایي‌چه‌په‌بنجاری کاروبوخت وی په‌هرحال غرني پر اچیان اوس له‌دادول شغل سره اشنایي نه‌لري .

۷ ــ څرنګه چه‌دپراچي ژبې په‌باره کښې کوم تاریخي معلومات نشته د ی مونږمجبور یوچه په لنګو یستیکي شواهد واتکاوکړو تر څوچه د آ ر یا یي ژ بو په کورني کښې دهغې موقعیت څرګندشي . لکه چه زما په یوه ر یپو رټ کښې ویلی شوی دی پر اچي له‌ډیرو څواوو دپېرسیکو لهجو سر ه مو ا فقت کوی او د باختري لهجو سره نا موافقه بریښي یوسهم‌تکی دادی چه پر ا چی ا ولو ید یځ (ایراني ژ بی)لومړني‌غږلرونکي(گ ، د ، ب ، ج) لري‌بالمقابل‌باختري‌دیالیکتونه

د (غ ، ذ ، و ، ژ) فریکا تیفونه لری(۱) .

داخاصیت دجنوبی (لویدیځ اوجنوب ختیځ) اوشمال ختیځ آریالی ژبو ترمنځ یوډیر لرغونی توپیر ګڼل کیږی . دجنوبی آریایی ژبو پهخیر د پراچی لوسرنی اودغږ لرونکو تورو ترمنځ د(تر) غږدلویدیځوآریایی ژبو پهشان دی .

د شمال لویدیځوآریایی ژبو (سید یک ګروپ) سره پراچی (پههمدې ډول واخی) د dvandva حالت یوشان وښیی . یعنی د mp اوا زد (q) پهخیر دی . ددوه غږلرونکو تورو ترمنځ د (d·t) له منځه تلل دپراچیاومعاصروشمال‌لویدیځوآریایی ژبوګډخاصیت‌دی.

مونږ دا تغیر دشمال لویدیځ ترفان turfan— پهستنونوکښی نهګورو. لاکن مشترك میلان یی‌ممکن ډیر لرغونی وی . د (ثر) اړونه په (ش) باندې په پراچی اودشمال لویدیځ ایران پهسنګسا ری کښی لید ل کیږی. برسیره پردې مونږ دشمال‌لویدیځ دیالیکتوسره داپراچی‌مشابهت د لغا تو د جوړښت له نظره لید لسی شو ، دشمال پهډول د پراچی اعداد

---

۱ — د پییرسیك او باختری ژبود ویش پهصورت کښی‌داتوپیر ماپهخپلو پلټنو کښی څوځله وړاندې کړی دی .

دباختری ژبو پهجمله کښی پښتوا وسونجا نی د (ذ) د غږ پهځای د (ل) غږلري . (لیکو نکی).

د ترفا نی د (ا یوا ند س (zumas d (u) was — زو س، د وس) دواندس — durandas evandas) سره مشابهت لری. په همدی ډ ول د پراچی (آ) (ها) چه د (هغه) معنی لری د ترفا ن د (ها و —hau) سره نژ دې برېښی .د پر اچی ډیرې کلمی دلویدیځ ایران دمختلفو ژ بو سره نژدې دي. د پرا چی‌اودیوې شما ل‌لو ید یځی آریا یی ژ بی ترمنځ نژ د یوا لی په لا ند ې ډ ول دی .

پاراچی		سمنانی		پښتو
نهین-	nhin	نین	nin	کښیناستل
نهشت	nhasht	نیاست	niast	ناست
پیس، پیستی	pes pesti	پستی	pasti	پس،وروسته

۸-د پړاچی او اور مړ ي ژبو تر منځ دشباهت ټکی زما په یوه رڼو رت کښی ذ کر شوي دي. دفو نو لو جی(غږ پوهنی) له نظره ډیر مشخص ټکی دادي چه (و- w) په (غ، ګ) با ندې اوړي. د (ثر) اړونه دپړاچی ژبی په (ش) او داورمړي ژ بی په (ش) او د اورمړي ژ بی په (س+ر-) په دواړو ژ بو کښی یو موازی حیثیت نه لري. په همدې ډول دد ووغږ لرونکو تورو تر منځ د (ت) او (ز) دله مینځه تګ ا و د dw-b-nt-rr اړونه په نو رو دیا لیکتو کښی هم پیدا اویږي.

یو شمیر لغات ددواړو ژبو (پړاچی) او اورمړي) تر منځ څه نا څه مشابهت لري:

ACKU

اورسړي		معنی	پراچي	
اوندریو	underew	کنډل	اندرف-	andarf
ګمپ (تیږه)	gap	نغري	ګپر-	gapar
متت	matat	منډته	میندوت-	mindut
مات	mat	رژیدلی،وژلی،مات	مات	mat
نیس، نغوك		و تل	نی نرغو-	ni, nargo
نور ،نوه‌لوك —	nawar— nawalok	ویستل	نیر،نوت	ner, not
پره وك	parawak	خرڅول، پلورل	پهارف	pharaf
ریو	rew	اوسپنه	رو	ru
تُر،تتک	tr, tatak	چنبل	تیرتهور	ter: thor
زیمك،	zemak	ژمی	زیمه	
زوت ،څوت	(d) zut	ډیر	زوت	zut

څینی‌پاسنی لغات له‌نورو ژبو څخه اخیستل‌شوي ښریښی، له بله پلوه پراچي او اورسړي‌ژبی‌په ډیرو‌سهموخواو کښی‌دفونولوجی‌او مورفولوجی‌له‌نظره‌یوله بله‌توپیر لري(د مثال په‌ډول داورسړي ژبی د کلمو په پای کښی د(ك) ساتنه .

۹- په (ړ-r) باندې د پر اچی د(ر ت-rt) او (ر د-rb) اړو نه د پښتو په څیر ده او په همدې ډول د(srt) اړونه په(s) باندې په څوختیځو آریایی‌ژبو کښی لیدل کیږي. په لاندی مثالو کښی د پراچي ژبی مقایسه دنورو باختری مربوطو ژبو سره لیدله کیږي:

ACKU

پښتو معنی	د مقايسوي ژبې نوم	دمقايسوي ژبې لغت	پراچي	تلفظ
اغوستل، اغوندل			اغون، اغوست	(۱)Agun—agust
منه			اسر	amar
پړدن	مونجی	yurzen	اغزون	agzun
ستوري	شوغناني	sterg—	ستېچ	stec
	سونجی	wusk	استر	astar
پورته کول، هسکول	مونجی	wust	اوست	ust
کوچنی	اشکاشمی	stunuk	ستېن	sten. stenuk
سوړ	شوغناني	bes	ستاو	staw
پاتې کېدل	ايدګا	uzaiyah	اوزه	uzeh, uza
بیاسته (پړی اورسی) پښتو			بس	bas
بیاسته،	اورسړي	bes		
څو	پښتو	co		(۲)caڅا

۱- یادونه: څرنگه چه مونږ په مطبعه کښې دلا تینې (غ) دترانسکرپیسیون له پاره خاص توري نه لرونود(غ) دافا د ي له پا ره هم د(g) نه‌استفا ده کوو او د(ښ) له پاره د(c)نه کار اخلو.

۲- پروفیسر ما رگین سترین دمقایسی په غرض زیات شمیر لغات وړاندی کړی زه دلته‌ورنه تېر شوم.

ACKU

دسونجي ژ بی سره چه دشمال ختیځ ژبه ده پراچی دد و یم گروپ rt بی غیره تورو حالت کډ خصوصیات‌لری .د پراچی ژبی (zito) او د سونجي ژبی (zit) چه‌د ز یږ معنی‌لری. داویستا (zairita) څخه‌اخیستل‌شوی‌دی(کن-kan) او(کار kar) له ریښی څخه اخیستل شوی کلمی چه‌د(کولو)معنی لری اودشما ل‌لویدیځ اریایی ژبوسره بردی ده په پراچی اوسنجانی‌ژ بو کښی پیداویږي.په همدی ډول‌نوسوری ریښه په‌باختری ژبو کښی هم لید له کیږی. بر سیر ه پرد ی د پرا چی د څانگو جدائی د (آغه) (زی-ze)دریښوله سخی‌چه‌دراتلوسعنی لر ی د (agaya—agta) په بنه‌سو نجی کښی هم سیندل کیږی . اوځانله په شما ل 'ويد یځو آ ریا یی ژ بو کښی دا حالت موجودنه د ی .

۱— دا سروی ښکاره کوی‌چه پرا چی داریایی ژبو په منځ کښی‌یومر کزی حیثیت لری .دباختری ژبو.سره د پراچی ژ بو سوافق ا ړ خو نه ممکن د یوه او بل‌ده تماس په‌اثر سنځ ته‌راغلی وی .زه خیال کوم چه‌پرا چی اواورسړی‌ژبی دا فغا نستا ن داصلی آریایی ژبوپاتی‌شونی (بقا یا) دی او د دواړوژبو تر منځ د مشا بهت تکی په‌اسانی سره تشر یح کید ا ی شی . په خینو حا لاتو کښی د دو اړو ژبو تر منځ فوق‌العاده اختلاف ځرگندوی چه دواړه‌ژبی په یوډیرلرغونی وخت کښی سر ه جلا شوی دی . سمکن دلو یځ خواته دهندی آریایانو دبراختیا په‌اثر دا کار شوی وی او پرا چیان ئي په‌تگاو او نجر اوکښی خوندی‌ساتلی وی‌او دپرا چیا نو د بنجار ه طبقی په‌حیث دسنځ ته راتگ سبب گر ځیدلی وی .

پراچي ژبه

۱۱-د هغه قوي هندي تاثير څخه چه په پراچي کښي ليدل کيږي داسي ښکاري چه د غه ژبه اوږدوخت ورسره په تماس کښي وه اوياد هند د ځينو ژبو څخه اخيستل شوي لغات ممکن پراچي ژبي ته د پښتو او فارسي په ذريعه رسيدلي وي. لکه چوري (غلا) گهانه (گانه - پسول) اونور .

پراچي ته دانگر يزي ژبي لغات د هند څخه راغلي دي دمثال په ډول کرنيل اردلي، پتلون، واسکټ .

هغه کلمي چه هندي دي اوپراچي ته يې د راتگ منبع معلومه نه ده په دي ډول دي:

معنی	لغت		معنی	لغت	
ليدل	بوچه	buch	آسمان	اغيس	ages
لويدل	چهر	char	تندر، غرغر	بومبورو	bumburu

ځيني کلمي لکه (کانو- kano روندواغرـ نځا) چه ورته ډيري نژدي سوازي کلمي په (نورستاني) ژبو کښي پيداويږي دا امکان شته چه ځيني هغه لغات چه پاس ذکر شوي د نورستاني ژبو څخه اخيستل شوي وي. اوداهم ډيره ممکنه ده چه ډير دا ډول لغات د پښه ئي څخه که څه هم په موجوده وخت کښي ئي نه لري پراچي ته نقل شوي وي . مونږ پوهيږو دمثال په ډول چه د غوږي - liwon او دانه (حبه، ميوه) phor— کلمي د پشه ئي يو اسر غوني حالت څخه اخيستل شوي دي . لاکن د هغو لغاتو شمير چه د پشه ئي څخه اخيستل شوي او لا تر اوسه په نسو موري ژبه کښي معمول دي ځوراز بات دي

۱۲ - په پراچې باندې دپښتو ژ بې تا ثیر یوا زې په لغا تو منحصرنه دی دډیر وپښتو دیالکتو په څیر دپاراچې (y) توری په (z) اوړی او دابدلون چه په گوا ر باتی ژبه کښې (Y—i) او ترا یکو ما و یکلی کښې ((z—u))لیدل کیږی ښکاره کوی چه دپښتو څخه منځ ته ر اغلی دی .

۱۳ - که چیر ته مونږ دپاراچې مورفولو جی ته توجه وکړو مونږ گو رو چه دی ژبې دپښتو څخه د جمع پساوند dal اونور دوه پساوندونه kun او —wano هم ا خستی دی .

د پراچې ځینې شکلونه لکه :—baweha) چه د پلا راوزو ی معنی لری دپښتو منبع څخه منځ ته راغلی د ی .

په ځینو حالاتو کښې مونږ دپراچې اوپښتو تر منځ مشابه فورمونه گو رو لکه دپر اچې an(زه) او دپښتو (آ-زه) همدا رنگه د پراچې اوپښتو یـی(آ) هغه او دپراچې اوپښتو مشتر ک (بین Dien) (هغه ؤ) په هرحال، که چیرته مونږ په ځانگړی ډول وگورو یو تربله مشابهت یی ممکن موازی اوپه عین حال کښې مستقل وی. ددې ډول مشا به مو رفو لوجیکی تکو شمیر چه په پاراچې اوپښتو پورې خا صه اړه لری څرگندوی چه دا کار اتفا قی جنبه نه لری. دپښتو دسرد شمیر زیاتوالی او په پراچې کښې دپښتو دیر لغات مو نږ ته موقع را کوی چه ووا یو د نو مو ړو کلمو منبع پښتو ده .

په هرحال دپراچې (س+ت-) (st) چه د (موجود) معنی ور کوی اود (ton)

پساوند دپشه ئي څخه ا خستل شوي دي. د لته سو نږ و يلي شو چه پشه ئي په پراچي باندې څومره ژور تاثير کړی دی .

داسې معلومېږي چه پشه ئي په پراچي باند ې يوه پخوا ني ا جتما عي او کلتوري لر غونتيا درلوده اوپه عين حال کښې ديوه اوږده وخت دپاره ددواړو ژبو ترمنځ يوه نږدې رابطه موجو ده وه .

دفارسي تاثير او دهغې دلغا تو زيا توا لی په پر ا چي کښې خوراښه معلومېږي په هغو لغاتو کښې چه ماراتول کړی دفارسي منبع لغات دپراچي په اصلي لغا تو زيات ښکاره شوي. که څه هم دفارسي يوشمېرلغات چه دپراچي په شعر کښې استعما لېږي په معمو له ژبه کښې دومره استعمال نه لري . پراچي اوس په داسې حالت کښې ده چه دفارسي تاثير ور باندې خورا ډېر دی

زياتره پراچيان په دواړوژبوپوهېږي اوهرلغت ته چه په پراچي کښې ضرورت پيداشي نو هغه دفارسي څخه اخلي (۱) .

ددې خبرې فيصله چه د پراچي يولغت له نوروما بعو څخه اخستل شوی او که نه غالباً غير ممکن بريښي په ا کثرو وختو نو کښې سره ددې چه د پراچي خپل لغت موجودوي فارسي لغت استعما ليږي . دمثال په دول دپا راچي (ما نيش ـ سړی) د کلمې په عوض دفارسي (ادم) د (خو سور xusor يا (خپل سر) په عوض (سر خود) ا و د

---

۱ ــ دلته با يد و وايو چه دشوتل پراچي دنفوسو اقليت لری څکه دپا رسي اغيزه پرې ډېره ده، خود پچه غان پراچي ترزياتی اندازې خپل استقلال ساتلی دی .

(غوس — کور) پەعوض (خانه) استعما لیږی .

لەدې څخه معلومیږی چەدپراچې ژبه یوې داسې مرحلې ته رسیدلې دەچه د دری عناصرو دمنځ ته راتګ سره هیڅ مقابلەنه شی کولی .

پەشوتل کښې دپراچیانونه ګردچاپیرەفارسی ژبې خلك پراته دي اوددې ځای خلك تقریبا دپراچې پەاندازه پەفارسې هم خبری کولی شی اودفارسی تلفظ پەامانی سرەاداکوی.

دپراچې سورفولو جیکی سیستم تقریبا پەخپل حال پاتې شوی دی، لاکن داضافت استعمال چەداخستل شو لغاتو څخەراغلی دی۔پوره دول قایم دی۔دمثال پەدول (بند دست) یوداسې پردی ترکیب دی چەاضافت ورڅخه معلومیږی .

دپراچې پەخیر یوەژبه پەهمدې دول اورمړی او پشایی ځینې دیالکتونه پەخپل ذات کښې کافی نەبریښی اودمتمد نو ژبو پەشان مکملې نه دي. پە همدې دول دا ژبې د نو رستا نې ژ بـو پە شا ن یـو مستقل حیثیت نـه لـری ، ځکه چەنورستانی ژبیو دتیرلند وخت پوری خپل یوځانګړي تمدن دراود اودافکارو پەاظهار کښې داصلی لنګو یستیکی عناصرو څخه استفا دە کولې شی .

دا خبرە ممکنه نه دە چە پرا چې د فا رسی یو د یا لیکت وګڼو ځکه چـه پـرا چـې یـو مستـقل سـو ر فـو لـو جیکی سیستم سـا تـلـی ا و د لغاتو یوه داسې ذخیره لری چە دفارسی څخه دیرتوپیر لری لاکن پراچې دفارسی یو کلتوری دیالکت بلل کیدا ی شی .

داو دپروفیسر مارګین ستیرین دمقدمې لنډیز :- زەبه پە وروسته فو نیتیکی څیړ نو کښې داوښیم چەپراچې ژبەیوه باختری ژ به دەاود باختری نورو ژبوسره د یره خپلوی اود (پیرسیك) ژبوڅخه دیرەلری دە - دغەلر بوالی دګرا مر پە ساحه کښې

ACKU

هم موجود دی.

فونیتیک:

په پراچی کښې دغه لاندې غږونه موجود دي:

الف: (ما-مور) زور -(هه-هه، ههو کی) زور کی (سامړ-منی)، ب (بالو-ماشوم).

پ: (پون-(مجهول واو)-پانه) ت (سندوت-مندته) (نیشت-پوزه)

ج (جینج-میرمن) چ-(چړو-لویدل) څ- (پهینڅ-پنځه) ځ-ا ډ یره لیره

لیدل کیږی لکه: (ا ینځو-شا ر بل) خ (خا-میره)

د (دی-دوه) ډ (کینډ-پتی) ر (رغام-پسرلی) ړ (میړ-سړی) ژ (ژو-یو).

س (سړ-کال) ش (کاشتی-نجلی) غ (اغو-راتلل) ف (افتیر-ترور) ك (غوزوك-وړوکی) ګ (ګنیم-غنم) ل (سالو-ساما) م (مانیش-انسان) ن (زبان-ژبه)-

و (معروف) نغون-ډوډی-نغن) و (مجهول) کوړو-کړل) ه

(هان-هو) ي (معروفه) (غونډي-غونډی) (مجهول ی (لیړی-هلك) نرسه‌ی (آیر-وریځ)

زیږ (کر-کار).

په پراچی کښې سر بیره پردغو غږونو یولړ داسی غږونه هم شته چه دسا کن توری پسی د (ه) غږ لری لکه:

چهو (تلل ، کيدل) دهاړي (پيره) پهينځ (پنځه) پهر تو (پلورل) دهار (غر) بهانډې (بانډه) (۱) .

په پراچي کښې دباختري ژبو دخاصو غږونو (ځ ، څ) موجوديت دمدارنګه د پښتو، دارد و اوهندي ژبو د (ټ ، ډ ، ړ ، ڼ) دغږونو موجوديت دا احتمال پیاخي له منځه وړي چه دغې ژبې ته دي سيلک کړ وپ دژبو سره دخپلوۍ کوم نسبت ورکړو پراچي د پښتو (او نورو باختري ژبو) سره خاصه خپلوي لري، چه دلته يې فونيتيکي مقايسه د پښتو سره وړاندې کيږي .

دپراچي يو لوى خصوصيت دادی چه دپښتو دهغه (و) په مقابل کښې د (غ) غږ لري چه د کلمو په سر کښې واقع شي لکه :

پښتو : واښه ـ واوره وازده ـ وږو کي ـ ورښت ـ و يخ .

پراچي (غيش ـ غرب ـ غازد ـ غوږوک (زوی لکه خسي غو ږوک = خو ربي) غار ـ غيخ .

د پښتو د (ی) دغږ په مقابل کښې کله کله پراچي د (ژ ـ ج) غږ لري .
پښتو ـ اينځه ـ ياله (وياله) ـ يو :

پراچي ـ جينج (ميره‌ن) ژې ـ zi ـ ژو ـ zu)

د پښتو دزور او زورکي په ځای پراچي کله کله دمجهول يامعروف (واو) غږ لري:
پښتو ـ پانه نغن ـ سرـ تنه ـ تن ـ مخ ـ مړ .

1— Cho, dhare, phaenc, pharto, dhor, bhande.

ACKU

پراچی -(پون (مجهول)نغون(معروف) -سور (مجهول) -تون (مجهول) مو خ مجهول موړ(مجهول).

د پښتو د زور کی په مقابل کښی پراچی کله کله مجهوله(ی)لری .

پښتو -ژمی- په (ذریعه) زرکه -منډته -ستن (دکڼ-لولو).

پراچی- زیمه -پین -زیر یش- میند وت - سیچین .

د پښتو د(ړ) دغږ په مقا بل کښی پراچی هم د(ړ) غږ لری.

پښتو- مړ- زړه (قلب) -راو ړل - کړل -خو ړل .

پراچی -موړو - زوړ (مجهول) اوړو، کوړو (مجهول) خوړو (مجهول).

دلته دا ټکی هم د یادولو وړ دی چه د (خوړلو)ا وپه د اسی نو رو فعلو کښی چه دفارسی (ر) غږ لري هلته په کومو صیغو کښی چه پښتو د (ر) غږ لری د پرا چی هم د(ر)غږ او په کوموصیغو کښی چه پښتو د(ړ) غږلری پراچی هم د(ړ)غږلری.

پښتو -ماوخوړ-زه به یی وخورم -خوره !

پراچی -مو ن خوړ- انی خریم -خر!

پراچی دفو نیتیکی او ګرامری مقایسی په رڼا کښی له پیر سیک ګروپ نه بیخی لری ده، خو کله کله دباختری ژبوله ډلی وتای او پیرسیک ډلی ته نژدی کیږي لکه په لا ندی غږو نو کښی:

د پښتو د (ل) دغږ په مقابل کښی پراچی د(د) غږلری:

پښتو -لرل -لاس -لس -اور (دزوی مقا بل).

ACKU

پراچی ـ دیرو ـ دوست ـ دوس ـ دوت (۱) .

د پښتو د(غ) دغږ په مقابل کښی دپراچی د(گ) غږ :

پښتو ـ غنم ـ غويی ـ غوز ـ غرگی (ډبره).

پراچی ـ گنیم ـ گو ـ گو ش ـ گیر (ger) .

مگر دامقابله همیشه نه ده لکه (پښتو ـ غوښه پراچی غوش) دپښتود (و) دغږ په په مقابل کښی پراچی د(ب) غږ لری :

پښتو ـ ونه ـ وړل ـ وړ ـ و (کومکي فعل) ویریدل .

پراچی ـ بهین ـ بوړو ـ بور ـ بون ـ بهیر کو .(۲).

د پراچی بل خصوصیت دادی چه د(ش) غږیی د پښتو دلویدیځی لهجې د(ښ) په شان سخت ویل کیږی. بله داچه د(ش) له غږ ه وروسته د(ت) غږنه راځی ـ بلکی په (ټ) اوړی لکه:

کاشتې (نجلی) او شټ (اته) نیشټ (پوزه) ا شتا و (گیده) دوشټ(دیوال) کاشټ (لرگی) ووشټ (کټ) بهشتو (ستړی).

دگرامری مقایسی لهمخی پراچی د پیر سیك گروپ نه بیخی لری اوباختری ژبو ته ډیره نژدی ده لکه: اضافی اوصفتی ترکیب دمتعدی ماضی فعل تصریف اونور.

یادونه: د پراچی بشپړ گرامر او یولړ متنو نه د (۱۳۵۰) کال د کابلی مجلی په یولسمه اود و لسمه گڼه کښی وړاندی شوی دی . دلته د پرا چی دمتن

1— dero—dost — dos—dot.
2— bhin—boro—bor — bherko.

پراچې ژبه

دغرګندواو په‌غرض یوه لطیفه وړاندی کیږی :

مردسی مه غاریکه دوعا واشتي بین (۱) مکتبیان هستن خو پین برته(۲) ظر یف کهجی چی باله کها واشتین (۳) جرې تادعا کنته غاراوزکه(۴) چهی کون چی ای بې‌گناهن (۴) ایوهانه‌دعازك قبول چهمیکا له (٦) ظر یف‌جړي اګربالانه دوعا زك قبول چهي با (۷) ژومعلم مه دهرم نه‌اوزاوبا .

ترجمه :

خلك دباران دوعا ته روان وو (۱) مکتبیان یی له ځانه سره بیول (۲)تهو کمار پو ښتنه وکړه چه ماشومان چیرته بیا بی (۳) ویی ویل چه دوعا وکړی چه باران وشی (۴) ځکه چه دوی بی ګناه دی (۵) د دوی دوعا زر قبلیږی (٦) تهو کما رو ویل که د ماشومانو دعا زر قبلید لای (۷) یومعلم به‌هم په زمکه نه وپاتی شوی .

پامیری ژبې

کله چه علم دتاریخي، جغرافیوي او مقایسوي ـ تاریخي ژبپوهنې په اصولو دپاختري اوپیر سیك ژبو تر منځه بریدونه ټاکي پامیری ژبې دباختري ژبو په لړ کښې څرګند ځای نیسي .

پامیری ژبی دنغې اریایي لرغونې سیمې په غولي کښې پیدا شوي ، روزل شوي اود پامیر اودهغه ورخیرمه سیمو په غیږ کښې یې لاتر اوسه ځان ساتلی دی.

دژبنیو روابطو او خپلوۍ له مخې په یوه ګروپ کښې ټولې پامیری ژبې راټولول یوه اصطلاح ده . تر اوسه لا دا په یقیني ډول څرګنده نه ده چه دغه

ACKU

دوهم پاړکی

تولې پامیرې ژ بې دیوې لرغونې چینې (منبع)نه رازبېږیدلې ،بیا ځانګې‌ځانګې‌شوې او کەدآر یا یې لرغونو ژ بو بېلې بېلې پاتې شوې دې چه دځانګړو ځانګو په حیث یې‌ځان ساتلې دې .

د پامیرې‌ژ بو متخصص‌جارج‌مارګین‌ستر ین ددغوژ بوچینه‌یوه‌نه‌ګڼې،دې‌لیکې: (د تولوپامیرې ژ بوله پاره دواحد فونو لوژ یك سیستم پیدا کول ا مکان نلرې یوازې په‌څو فو نیټیکې خصو صیا تو کښې دوې سره ګډ ون‌لرې ، په هغې کښې هم‌دوې کله کله‌سره جلااود نو رو ژبو مثلاً پښتوسره په یو کتار کښې د رېږې(۱) دلته با ید یا د ه شې چه د ما رګین ستر ین له‌دغې‌نظر یې نه ز یات کلو نه تیر شوې‌او د ا وروستې نظر یه نه‌ده . ترهغه وخته په پامیرې‌ژ بو کښې‌مطا لعه لږه شوې او بیخې لږ مواد ورکښې‌را تول شوې وو ـ مثلاً یا زګو لا مې ژ بـه تقر یباً څیړل شوې نه‌وه ، دپامیرې‌ژ بو ترمنځه فونو لو ژ یك بر یدو نه‌نه ووتا کل شوې،خصوصاًدغر یز و (صا یتو) مقایسه‌هیڅ نه وه شوې• وروسته دژ بپو هانو اومحققینوله‌خوا په‌دې باب ډیرموادرا تول شوې‌اوغر یزبریدونه‌یې‌تا کل‌شوې‌دې.

ددوې‌ژوره مطالعه اوطبقه بندې څیړونکې ته‌داڅ ورکوې چه د وې له یوې ونې‌بېلې‌بېلې ځانګې اوله یوې‌چینې‌څخه پیداشوې و بو لي چه و ر وسته یې ځانګړې‌تکامل کړې‌دې .

---

(۱) ـ دجارج مارګین ستر ین ـ تا لیف(ا ینډ وا یر ا نین فر و نټیر ژ بې)، دو یم تو ك (۸) مخ .

ددغسی خپلوا نو ژ بو تر منځه کله کله د فو نو تیکی سیستم د سمو ن ناڅرګندوالی دخپل تکامل په وروستیو مرحلو کښی منځ ته را غلی وی.

دنورو پامیری ژ بو په لړ کښی ز یاته خپلو ی دشو غنانی ژ بو تر منځه لیدل کیږی داګروپ له څلور ژ بو څخه عبارت د ی .

۱ ـ شو غنانی ژ به (دباجووی د یالیکت په شمول) .

۲ ـ روشانی ژ به (دخو فی د یا لیکت په‌شمو ل) .

۳ ـ بار تنګی ژ به (دآروشوری‌د یالیکت په‌شمول)

۴ ـ سر یکو لی ژ به .

ددغو څلور وژ بو ستمه یوه ده چه‌د (عمومی شوغنانی) په‌نا مه‌یادیدلای شی دنورو پامیری (واخانی،ا شکا شمی ، مونجا نی ، یازګو لامی) ژ بو په لړ کښی شوغنانی ګرو پ ته یازګو لیامی ژ به ډیره نژ دی ده .(۱)

دلته باید یاده‌شی چه دنورو پامیری ژ بو په‌لړ کښی پښتو دمونجانی‌سره نسبتاً ز یات نژدېو الی لری چه مقایسه به یې پخپل ځای په‌لنډ ډول و ړاندی کړو. دآر یا یی ژ بو محققین عقیده ښکاره کوی چه‌پښتو دمو نجا نی اوپامیری نو رو ژ بو

---

(۱) ـ په‌د ی باب (دشو غنانی ژ بو دګروپ سره دیازګولا می نسبی خپلوی) نومی کتاب دسو کولو واتالیف مقدمه وګو ری.

ترمنځه موقعیت لري (۱)

د پامیري ژبو تاریخچه:

د ژبپوهنې په اصطلاح دپامیري ژبو نه داینه او اروپايي ژبو هغه اريايي گروپ مطلب دی چه په پامیراو ورشیرمه سیمه کښې پرې خبرې کیږي. داسیمی په لاندی ډول دی:

د پنج سین اوده هغه دسعاونینو پهغاړه خصوصاً د افغانستان او شوروی غرنی بدخشان په سیمه کښې اودهغوی سره د کشمیر په ګاونډی سیمه کښې، جزا د هند په شمال غرب بالاخره د سین کیان په پامیری برخه کښې.

پامیري ژبې په دی ډول دی:

۱ـ دشوغناني ـ روشاني ژبو گروپ (دشوغناني باوجووی اوروشاني ـ خوفي لهجو پهشمول چه دپنج پهدواړو غاړو اودخوف په دره کښې پری خبری کیږي). بارتنګی او اروشوري ژبې (دپنج دښی معاون ،بارتنګ سین پهغاړه) سریکولي ژبه (پهسین کیان کښې دتاشقرغان دسین اودهغه دمعاونینو ار چه او تپنزیف په غاړه ،دتغامه اودبورونگسول پهدرو کښې).

۲ـ یازگولامی ژبه (یوازیدشوروی پهپامیر کښې دپنج دښی معاون یا زگولام پهـدره کښې).

---

(۱) ـ پهدی باب د(ی. زارو بین) تالیف چه(دمونجاني ژبې خصوصیت) نومیږی ۱۲۹ مخ وگوری.

۳- واخانی ژبه (د پنج په بره خوا پــه دواړوغـاړو او د کشمیر دیرخون د سین په غاړه اودهند په شمال غرب کښی دخونزه نوسی سین په غاړه ، په سین کیان کښی دتاشقرغان دسیند په غاړه او دسریکو ایانو په جنوبی سیمو کښی پری خبری کیږی) .

۴- اشکاشمی ژبه (دپنج په هغه سیمه کښی په دواړوغاړو چه د پنج سین دلویدیځ نه د شمال خواته دخپل جریان سمت بدلوی، همدارنگه دافغانستان دسنگلیچه په سیمه کښی) .

۵- مونجانی ژبه : (دافغانی پامیر دمونج د سین په غاړه چه د کوکچی یوه سرچینه ده، همدارنگه دلوت کوه (د کونړ دسین ښی مرستیال) چه (ایدگا) دیا لیکت ور کښی موجود دی .

۶- وانچي ژبه : دا ژبه په موجوده وخت کښی دهغولږ شمیر کلماتو په برکت شهرت لری چه لومړی په (۱۹۲۴) کال کښی دا ی. ای زارو بین او بیا د ا.ر زوزینفلد Rossenfeld له خوا وړاندې شوی وی (داژبه پخوا دپنج دښی معاون وانچه په غاړه موجوده وه) .

۷- دسرکولا می ژبی دموجودیت په باب دمحققینو تخمین هم شهرت لری چه (دفیض آباد ختیځی خواته دسرگولام سین په بره خوا کښی موجوده) او د پامیری ژبو په جمله کښی گڼله کیږی .

پامیری ژبی دوړواولسونو ژبی دی .ددوی په لړ کښی خورا لوی اولس دشوغنانی

ACKU

روشاني ژبو ويونکي او واخانیان د ي. په شو غناني - روشاني ژبو دو یو نکو شمير دځلويښتو پنځو سو زرو په شاوخوا کښې دی. اودو اخا نيانو شمير (۲۵-۳۰)زر و په خوا او شا کښې د ی .

په پاتې تولو پاميري ژبو يوازې څلور څلورنيم زره کسان خبرې کو ی .

تولې پاميري ژبې ليك نه اري. دروانې پيړۍ په ديرشو کلونو کښې دشو غنا نی اوواخاني ژبو دپاره دليك دمنځ ته راوړلو کوښښ وشوخو سطلوبه نتيجه يې ورنکړ ه .

په معاصروخت کښې دشو روی پاميريان په تاجکي ژبه سريکوليان په اويگوري ژبه او افغاني پاميريان په پښتو او دري ژبه زده کړه کوی. همدغه دری ژبې د پاميري بيلوبيلو ژبو ويونکوترمينځه دافادی او استفادی ژبې هم دی، ځکه چه خپله پا ميري ژبې سره ډيری ليرې دی او ديوی ژ بې و يو نکی د بلې ژبـې دو يـونکو سره په نورو ژبو نه پوهيږی .

دپامیری ژبو دمطالعې اوزده کړې تاریخچه:

د پاميري ژبو دمطالعې اوزده کړې تاريخ لەسلو کلونو اوړی. د (۱۹) پيړ ی په دوهمه نيما يی کښې لومړی ځل په پا ميری ژ بو خصوصاً په وا خاني او بيا په سريکولي يوورو کی قاموسي لست منځ ته راغی .له هغې وروسته په (۱۸۷۶) کال کښې انگريزی محقق ر. شا و (R. Shou) لومړ ی ځل د وا خا نی ا و سريکولي ژبو دگرا مر دری متنونو ، د هغوی تشريح دواړه قاموسي لست په شمو ل يوورو کی اثر خپور کړ .دپاميري ژبوپه بابد مطا لعې دپا رهٔ ددغه محقق پلټنې دډيروخت د پاره يواز ينی منبع وه. ددغه پوه له خوا تول شوی مواد د دوی تر منځه

تاریخي مقایسوی او ایتیمالوژیك تحلیل یا دراتلونکو نوروسحققینولکه. گ. ز لیمان (K.G. Zaleman) و. گیګر W. Ge iger ای ای زاروبین I.I. Zarubin مارګین ستر ین اونوروپوهانوداستفادی ورو ګرځیدل.

په (۱۸۸۴) کال کښې چه د. ل. ایوانوف په پامیر کښې ګرزیده دشوغناني ژبې په باب یې څه یادداشتونه ولیکل، مګرڅه رنګه چه نوموړی په دې باب متخصص نه و خپل یاد داشتونه یې دجغرافیې تولنې ته وړاندې کړل او هغې یې یادعلوموا کاډ مې ته وسپارل چه په نتیجه کښې په (۱۸۹۰) کال کښې دروسیې دعلوم ود ا کا ډ مې له خوادشوغناني-اوروشاني ژبو په باب کتاب (دشوغناني ژبې د د . ل . ایوا نوف قاموس) خپور شو .

زموږ د پیړی په سر کښې دلومړی ځل دپاره یو: بله ژبه دیازګو لامي ژبې په نامه دپامیری ژبو په علمی اصطلا حاتو کښې یاده شوه. په دې ترتیب چه په (۱۹۰۷) کال کښې د. م. س. اندر ییف له خوا د(۱۸۰) فعلو نو لست جو ړ شو .

په (۱۹۱۴) کال کښې د منځنی اسیا دمطا لعې په باب د روسی او فرانسوی کډې کمیټې له خوا د ر. ګاو تیوټ —R. Gauthiot) ا و ای. زاروبین په ګډون پامیرته یو هیئت وټا کل شو چه هیئت د خپل ماموریت په نتیجه کښې دیازګو-لامي او مو نجاني ژبو په باب مواد را ټول کړل. خصوصاً زا ر و بین د روشاني، بارتنګی او اروشوری ژبو په باب ډیر ز یا ت مواد هغه و خت را ټو ل کړ ل چه په (۱۹۱۵ - ۱۹۱۷) کلونو کښې په پامیر کښې واود همده له خوا دلومړي

ځل د پاره د پاسنیو ژبونو سونه په علمی اصطلاح کښې ننوتل.

همدارنگه دنوسوړي له خوا دلــو سړي ځــل دپاره دایشکا شمی ژبی متنونه

راټول شول-نوموړی لوسړي شخص وچه دپامیری ژبو فونیتیک ته بی جدي پاملرنه وکړه.

د پامیری ژ بو په باب ډیرښه او په زړه پوری سواد په (۱۹۲۸) کال کښې

دسوید نی ژ بپوه شیلډ- H. Shold له خوا را ټو ل شول چه دغه سو ا د بیا د

مارگین سترین او نورو محققینو له خوا د پامیری ژبو د مطا لعې په باب د پراخې

استفادی سورد وگرزیدل .

دپامیري ژبو د تحقیق او پلټنې په تاریخ کښې ناروېژي ژبپوه مارگین سترین

خورا لوړ مقام لری. دغه پوه له (۱۹۲۸) کال له را په دې خواتر ننني ورځــی

پوری په دی باب ډیر ښه اثار خپاره کړ ی د ی چه تر ټولوښه او اساسی اثر يې

دسونجانی، واخانی او ایشکاشمی ژبو په با ب لیکل شوي او په (۱۹۳۸) کال

کښې چاپ شوی دی.نوسوړی پوه ډلوسړی ځل دپاره ددغو ژبو مطالعه دتاریخی

پلان په اسا س وکړه. همد غه پوه لو سړ ی ځل دا یشکا شمی ژبی یو معتبر

اوپه زړه پوری د یالیکت دسنگلیچ په نا مه وڅیړه.

پروفیسر مارگین ستر ین ددغو ژبو مطا لعی دافغا نستان او برتانوی هندپه

سیمو کښې کړی دی، همیشه نه دی بر یا لی شو ی چه خپله د پا میر ی ژ بو

سیمو ته لاړ شی-بلکی ده خپلې کتنې په دی باب دهغو پامیر یانو سره دتماسونو

په ذریعه بشپړی کړی دی، چه دځینو عواملو په اثر ښاروته تللي وو.

بل دپامیری ژبولوی محقق و.اس سوکولو واده چه لوسړی ځل یی دهغوتولو پامیری ژبو دفونیتیك دسطالعی دپاره د سمعی الاتو څخه کار واخیست چه د شوروی اتحاد په سیمه کښی واقع دی. نوموړی د روشانی، خوفی او برتنګی ژبو په باب ډیر سواد راټول او خپاره کړل. د همدی له خوا دشوغنانی روشانی ګروپ طبقه بندی وټاکل شوه.

له (۱۹۵۶) کال نه را په دی خوا د ت.ن. پخالینه له خوا دایشکاشمی ژبی په باب سواد خپریږي. په (۱۹۵۹) کال کښی دی د ایشکاشمی ژبي په باب یو سنوګراف ولیکه چه ددغی ژبی دفونیتیك او ګراسر ترسیم ته وقف او دمتن اولنډ قاموس ضمیمه همورسره وه. همدارنګه نوموړی په (۱۹۵۳-۱۹۵۵) کلونو کښی په واخانی ژبه زیات سواد راټول کړل.

نوموړی وکولای شول چه په (۱۹۵۶-۱۹۵۷) کلونو کښی سریکول ته لاړ شی او په سریکولی او واخانی زیات سواد راټول کړي او دسریکولی فونیتیك اوګرامر په باب یی یو سونوګراف هم ولیکه. د پخالینی له خوا یو روسی-سریکولی قاموس خپور شو.

په (۱۹۶۹) کال کښی دنوموړی له خوا یو اثر خپور شو چه دټولو پامیری ژبو په باب لنډ معلومات لری.

پامیری ژبې

په(۱۹٦۰) کال کښې دواخانې ایشکاشمی او سونجانی ژبولغوی مواد د افغانی پلټونکی شاه عبدالله بدخشی له خوا راټول کړل شول چه دپښتو تولنې له خوا دیوه قاموس په شکل خپاره شول. دده له خوا یونسبتاً وړوکی قاموس جوړ شو چه په هغه کښې په پامنیو پامیری ژبو علاوه د پښتو او دری کلمې هم په مقایسوی پلان کښې شوو ل شوی دی.

په وروستیولسو کلونو کښې د پامیری ژبو شوروی اتحاد دپلټونکو په لړ کښې خپله د دغو ژبو خصوصاً د شوغنانی روشانی گروپ و یونکو ځای ونیو ددغو ژبو د گرامر و نو،فونیتیك او نورو په باب یې په بیلو بیلو وختو کښې سونوگرافونه او علمی آثار خپاره کړل او په دغه ډول د پامیري ژبو د مطالعې تاریخچه تقریباً دسلو کلونو عمرته رسیږي.

✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦✦

شوغنانی
او
روشاني ژبې

دپا میري ژبو په لړ کښې دشوغنانی – روشانی ژبو ګروپ مهم ځای نیسی . په دغه ګروپ کښې دغه ژبې او دیالیکتونه شامل دي :

الف : شوغنانی (دباجووي دیالیکت په شمول)

ب : روشانی (دخوفی دیالیکت په شمول)

ج : بارتنګی .

د : اوروشوري (کله دبارتنګی د دیالیکت په حیث هم پیژندل کیږی)

ه : سریکولی .

دد غو ژبو او دیالیکتونو ترمنځه نژدیوالی او خپلوي تردې حده ده چه ویونکی یې په آسانی سره یو تر بله پوهیدلای شی . د دغې نژدې خپلوی له مخې کیدای شی دغه ټولی ژبې دیوې ژبې بیل بیل دیالیکتونه وبلل شی ، خود هغې عامې ژبې نوم نشته چه دغه ټولې یې ځانګې او دیالیکتونه وګنل شی . د غوتولو ژبو په ځانګړي او مساوي ډول

پرا ختیا سو ندلې او یوه دبلې د یا نیکت نه شو ګڼلای .

سر یکولی ژ به له خپله ګرو په لږ خه لرې شوې ده ا و علت یې هم دا دی چه تقر یباً سل کا له کیږ ي چه د خپل ګروپ سره یې تما س نه شلید لی د ي .

دپا میري ژ بو ددغه ګروپ علمی سطالعه او پلټنه دتیرې عیسو ي پیړی په د و یمه نیما یی کښې در. شا و،ا و د.ك . ګك . ز لیمان له خوا شروع شو ه .

په (۱ ۸ ۹ ۵) کال کښې دزلیما ن ا ثرچه (د ایوا نوف شو غنا نی قا سو س) نو میده خپو ر شو .

دا د هغو سوا د و سیستما تیك تجز یه ا و تأ لیف و ، چه د یوه پلټو نکی ایوا نوف نو سی‌له خوا را ټول شوي وو ، دد غې ژ بې اساسی مطا لعه ا و پلټنه په ۱۹۱۴ کال کښی زا رو بیـن شروع کـړې او په دې با ره کښی یې ددغې ژ بې دګروپ دپوره پیژند نې‌په اساسو نه کښیښو د ل. په ۱۹۲۸ او ۱۹۴۲ کلو نو کښی پر و فیسر سـار ګیـن ستـر یـن د شوغـنانی ژ بې دتا ر یخ په‌باب دو ه مقالی خپرې کړې (۱) .

1— G. Morgenstierne, No tes on Shughni, — (NOR-SK Tidsskrit for Sprogvide nskap) Bd i, Oslo, 1928th, Demonstrative Pronouns in Shughni, NTS Bd. 13, Oslo, 1942.

بیا په (۱۹۵۳) کال کښې د و . س . سوکولووه له‌خوا دشوغنانی خصوصاً د فونیتیک په برخه کښې یو د یر ښه‌اثر خپور شو . د همد غی محققې له‌خوا دشوغنانی – روشانی ژبو درسته طبقه بندي هم وشوه .

سر بیره پر دغو یادو شویو محققینو د شوغنانی – روشانی ژبود ګروپ په باب یو لړ نورو محققینو هم څیړ نې او پلټنې کړې دي چه ددغه ګروپ ژبو مطالعه او څیړ نه یې آسانه کړې ده .

دشاه عبدا لله بدخشی (دافغانستان دځینوژبو اولهجوقاموس) چه د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۹ کال کښې خپورشوی دی دپامیری نورو ژبو په څنګ کښې دپښتواو شوغنانی په لغوی مقایسه کښې ښه مرسته کوی .

ګرامرته یوه کتنه :

دشوغنانی - روشانی ژبو د ګروپ ټول د یا لیکتو نه (پرته له سر یکولی) داسم ذات مذکراو مؤنث کټیګوری لری .

دسر یکولی اووروشوری نه‌پرته ددغه ګروپ په‌ټولو دیا لیکتونو کښې دجمع علامه (ین – مجهوله‌ې + ن) ده .

داضافی او صفتی ترکیب په‌باب‌ددغو ګروپ‌ژبو ډول اوطرز دنورو باختری ژبو په‌شان دی . یعنی مضاف الیه اوصفت دپښتوپه شان‌دمضاف‌اوموصوف‌نه ترمخه راځی .

شخصی ضمیرونه دمتکلم اومخاطب صیغی لری او د غایب ضمیر په ځای اشاري ضمیر کار ورکوی.

مفرد شخصی ضمیرونه د وه ګراسري (لومړي او دویم) حالتونه لري مګر جمع یی تغییر نه منی.

شوغنانی	روشانی	پښتو
واز	از	زه
ماش	ماش	موږ
تـو	تـو	تـه
تمه	تمه	تاسو
مـو	مـو	مـا
ماش	ماش	موږ
تـو	تـا	تـا

دواتړن له مخی اشاری ضمیرونه (دنژدې دمنځنی او دلرې دپاره) درې صیغی لري:

شوغنانی	روشانی	پښتو
یو	یا	دا
واذ	واذ	دوي ، دغه (جمع)
دي (معروفه ي)	دی (نرمه ي)	دغه
می	مای	هاغه ، هوغه

نور ضمیرو نه په دې ډول دي :

چیدوم ـ (کوم)

چیز (څه ، څه شی)

چا ي (څوك) چی ـ (چا ، د چا)

ار ـ (هر)

فعل :

دشو غنانی ـ روشانیژبو په ټولو دیا لیکتو نو کښې فعل (دماضی‌اودحال) دوه اساسونه موجود دی. دلته دفعل دتصریف دښکار ندوی په ډول د(لو و) لو ول ویل ـ **لوستل** (۱) دفعل تصریف وړاندې کیږي .

دحال او مستقبل له زمانه :

لو وم	لو لم،وایم ، وبه لولم
لو وا م	لولو ـ وایو ،ویه لو لو
لو و ي	لو لې ـ وایې ، و به لو لې
لو و یت	لو لیء ـ وا یی،وبه‌لولیء
لو و د	لو لی ـ وا ئی(مفردغایب)
لو و ین	لو لی ـ وائی (جمع غایب)

---

(۱) ـ دغه فعل چه دویاو معنا ورکوي په پښتو کښې دلوول(لوستل) سره (لکه‌شاهدي‌لول)د ریښې خپلوي لري .

ماضی :

اوم لوود	مالوست
ام لو و د	مو ډلو ست

او په دغه صورت متعدي فعل په ماضی کښی یوازې دفاعل تغیرغواړي نو ر دپښتو په شان په فعل کښی تغیر نه راځی .

ادات :

۱ ـ دعطف دجمع په ځای (ات ـ او) راځی چه دبغلان دسره کوتل په کتیبه کښی د (او ته) په بڼه لیکل شوی دی مثلاً : یاپوندتیزدات‌سورلوود ـ هغه په لار ځی او سندره وایی .

۲ ـ دتابعی جملود وصل دپاره (څه ، که) راځی چه د پښتو د (چی) معنا و رکوي . لکه :

(چیر څه نه که ماش چیز خوران ـ کار چه نه کړي مو نږ به څه خورو .)

۳ ـ دتر دید له پاره (یو ـ یا) استعما لیږي .

۴ ـ دپښتو د (نو) په ځای (ته) استعما لیږي . (اید ته چیز لو ود ـ هغه نو څه و یل) .

۴ ـ اوا ـ (هو) ناي ، نا (نه ، نا) .

دلته دپښتواو شو غنانـی تر منځه لنډ ه فو نیتیکی مقا یسه وړاندی کیږي دروشانی سره هم ډیر تو پیر نه لري .

دپښتو د (ښ) غږ چه کله دفارسی د (ش) په ځای راځی په هغه صورت کښی په شوغنانی کښی د (ښ) غږ وي .

پښتو : اوښکه ـ دښت ـ ترښځ (تښځ) ـ وریښم ـ واښې

شوغنانی : یوښك ـ دښت ـ تاربښ ـ وریښم ـ واښ

کله دپښتو د (ش) دغږ په مقابل کښې شوغنانی د (ښ) غږ لري:

پښتو : شپه ـ شوده ـ شرم ـ شوی (بیستی)

شوغناني:ښهب ـ ښوود ـ ښرم ـ ښو نیځ

دپښتو د (ږ) دغږ په مقابل کښې شوغنانی د (گ) غږ لری

پښتو : ځوږ (خوند ور) ـ شپږ ـ غوږ ـ غږ که (غژ که)

شوغناني:خیگ ـ خوگ ـ غهگ ،غیگك

دپښتو د (ل) دغږ په مقابل کښې چه دکلمو په سر کښې وی شوغنانی

دنورو باختری ژبو په شان د (ذ) غږ لری او په پرسیك گروپ کښې (د)لری .

پښتو : لس ـ لوگی ـ لری (واتن) ـ لوشل ـ لور(دلوکولو)

شوغنانی : دیس ـ ذود ـ ذر ـ ذوزداو ـ ذیرو

دپښتو د (ړ) دغږ په مقابل کښې شوغنانی د (رد) ، کله د (رذ)

غږ و نه لری :

پښتو : زړه (قلب) ـ واړ (توول) ـ زیړ

شوغنانی : زارد ـ وارذ ـ زیرد

دلته د روشانی یو وړو کی متن دسو کولووه دمتن او ترجمې سره سم وړاندې کیږی

áz-um ik-day wáxt-andi wūvd-sōlá vid. yi miv az-at yi-Lávgi xawričēn-am pánd-ti nasč-ata, náqli ta kinám

تشر یح :

از – (زه) ـ دمفرد متکلم ضمیر په لوسړي حا لت کښې .

اوو م–وم ـ دکومکی (وید – وو ل) غیرمستعمل فعل د مفر د متکلم

دماضی صیغه ده یعنی (زه وم) .

ایك ـ دتائید اوفشار اچولو ادات دی .

دي ـ (د غه) دمفرد مذکر معنی ا شا ري ضمیر په د و یم حا ل کښې

لوسړی حالت یی (اید) د ی .دپښتو د(دغه) معنا ورکوی .

وخت ـ وخت زمانه دعربی(و قت)

اندي ـ دپښتو د (کښې) پهمعنا چه دعمل زمان یامکان ښیي .

او و د ـ عدد دی د (او وه په معنا)

سوله – (کلن) (سول)دنوی‌فارسی (سا ل) داویستا (سرده) اودپښتو

په (پسرلی–په+سر+ لی) کښې داریښه لیدل کیږي .

اته ـ (او) دسره کوتل په کتیبه کښی(اوته)، د عطف ادات .

ې ـ (يو) بشپړه کلمه (ييو) ده .

ميث (ورځ) داکلمه هم لرغونې با ختري ده چه په سوغدي کښې ميث (معروفه ې) په خوارزمي کښې دمېث (مجهوله ې) دورځ معنالري.

يې ـ لاو ـ کې ـ (يوځو) داله ځوکلمو مرکبه کلمه ده چه د (يو ځو) معنا و رکوي .

خاوريچين (هلکان) خاوريچ (هلك) ،(اين) دجمع وروستاړې دي .

ام ــ (وو)دکومکې(ويد) دماضي فعل دجمع متکلم متصل ضميردی.

پند ـ (لار) داکلمه چه د پښتو په کلاسيك ادب کښې زياته راغلې ده تقريباً په ټولو باختري ژبو کښې ژوندۍ اوپه اويستا کې د (پنتای) په بڼه موجوده وه .په پښتو کښې د (تللو ، سفر) په معنا ده (۱) .

تی ــ (په) په يوه شی دپاسه دواقع کيدلو دښوولوادات دی .

نقل ـ (کيسه) دعربي نقل .

---

(۱) ــ دا کلمه د اسې استعمال شوې ده :

په ريابه نيم قدم په وړاندې نه شي ـ که درست عمرلکه سودګانې پند کا(حسين)

دراستی په سپينه لار خند و خار نشته ــ په ليمه لکه حباب کوم پندونه.(شيدا)

کنیم - (گوو) ریښه یی دلته (کین) دی .

ناستچه - (ناست) د غه کلمه په پا میری ژبو کښې په همد غه ډول موجوده ده .

ترجمه :

زه اووه کلن وم په هغه‌وخت کښې-یووخت دنورو هلکانو سره په‌لاره ناست‌وو کیسه ‌مو کوله.

اشکاشمی ژبه

اشکاشم دافغانی بدخشان په شمال کښې د اولسوالی په سویه د یوې سیمې نوم دی. دغه غرنی سیمه چه د هندوکش په شمالی لمن کښې پرته ده طبیعی ښکلی منظرې او زړه وړونکی نوری اوژوری لری . علاوه پر افغانستان د شوروی اتحاد په بدخشان کښې هم یو وړوکی کلی شته چه په اشکاشمی خبرې کوی او (رن) نوسیږی چه د اشکاشمی ژبی (۴۰۰) کسان ورکښې ژوند کوی . په افغانستان کښې د اشکاشمیانو شمېر له یونیم زروګړو څخه تیری کوی. اشکاشمی ژبه په دریو څانګو (خاصه اشکاشمی، زیباکی اوسنګلیچی) باندې ویشل کیږی .

د ژبې څېړنه

داشکاشمي ژبې په باب که څه هم اوسنۍ معلومات د نولسمې پېړۍ په وروستۍ
خلورمه کښې د انګریزي محقق (ر. شاو) له خوا وړاندې شوي وو چه (۱۱۶)
لغات دده د مشې فیض بخش نومي سړي له خوا د عربي الفباء په اساس لیکل شوي
وو، خو د دغې باختري ژبې اساسي څېړنه د شلمې پېړۍ په لومړۍ څلورمه کښې
شروع شوه .

داشکاشمي د دوه ډلو (زیباکي او خاصي اشکاشمي) په باب لنډ معلومات د ګک.
ګریرسون له خوا په (۱۹۲۰) کال کښې د (اشکاشمي، زیباکي او یاز ګولامي)
په نامه خپاره شول . مګر د غو معلوماتو څه ناڅه نیمګړتیاوې او اشتباهات لرل
ځکه چه د ژبنیو موادو په راټولو لو کښې نوموړی محقق خپله اشکاشم (زیباک)
ته نه و تللی او د نورو په ذریعه یې مطلوب مواد په چترال کښې راټول کړي وو.

داشکاشمي په باب ډیرښه معلومات د ناروېژي محقق مارګین ستر ین له خوا
په (سنګلیچي ـ اشکاشمي) نومي اثر کښې، د کتاب نوم یې (اینډو ایرانین فرونټیر
لنګو یجیز) دی په دریم ټوک کښې وړاندې شول ، په هغه کښې د سنګلیچي د موادو
په ضمیمه کښې د اشکاشمي د دریو دیالیکټونو مواد هم راټول شوي وو .

مګر په دغه اثر کښې داشکاشمي په اساس دیالیکت (خاص اشکاشمي دیالیکت)
باندې دومره روښنایي نه وه اچول شوې چه او سنو نکي ته بشپړ قناعت ورکړي .

داشکاشمی په باب د شوروی محقق ی . ی. زارو بین سواد چه د شورونې اشکاشمیانو دژ بې په باب په(۱۹۱۵) کال کښې راټول شوی وو په زړه پورې وو خونیمګړتیائی داوه چه په هغه کښې دا شکاشمیانو د عامیانه خبر واترو په باب معلومات بشپړنه ووچه داهم دژ بې دیوه محقق له پاره اهمیت لری .

داشکاشمی دفونیتک دڅرنګوالی دتثبیت له پاره دو. سرسو کولو وه اثرډ یر باارزښته دی چه نوم یې د(ایرانی او باختری)ژبو دفونیتیك یاد د اشتونه دی .

په (۱۹۵۹) کال کښې دت . ن . پخالینه د اشکاشمی ژ به په نامه یوموګراف خپور شو . ددغه اثر مواد د غیر و نودتثبیت د آلې په ذر یعه ثبت شوی او دهغوی پوره خصوصیات ورکښې څرګند دی. په دغه اثر کښې د ګرامر د څیړنې له پاره دخبرواترو متنونه ثبت اوتشر یح شوي‌دي . همدارنګه دغه اثر دقاموس برخه هم لری چه دنورو تیرو قاموسونو لغات‌هم ورکښې درج شوی دی .

په (۱۳۳۹) کال کښې د پښتو ټولنې له‌خوا دشاه عبدالله بدخشی(دافغانستان د څیړوژ بو او لهجو قاموس) خپو رشو . چه په هغه کښې دا شکا شمی ، سنګلیچی ددیالیکت لغات د پښتو او څو(نورو پامیری‌ژ بو) سره دمقایسې په پلان کښې وړاندې شو ی دی .

په (۱۹۶۹) کال کښې دت . ن. پخالینه له خوا د (پامیری ژ بو) په نامه یو کتاب‌خپور شو، په دغه اثر کښې دنورو پامیری ژ بوپه څنګ کښې داشکا شمی دفونیتیك او ګرامر لنډه څیړنه اوتشر یح اودیوې افسا نې‌ترجمه وړاندې شوې‌دی.

لنډه ګرامری خوا :

داسم ذات جمع د(و ـ مجهول) پەز یاتیدلو سره کیږی مګر د خپلوانو نومونو جمع د(زور کی + ن) په مرسته کیږی لکه: ولاخ ـ غر، ولاخو ـ غرونه ـ سولوك میږه، سولوکن ـ میږونه .

ګرامری حالتونه معمولاً داداتو په‌مرسته افاده کیږی . صفت دفورم په‌لحاظ داسم ذات سره تو پیرنه لری. البته یولږ صفات شته چه هم‌داسم ذات هم دصفت او حتی هم د قید وظیفه اجراء کوی . یو ازې له قرینی څخه د هغو وضعه معلومیږی لکه :

(وژ یر)چه د(ماښام، ماښامنی، په ماښام کښې)تولې معناوې افاده کوی. صفت همیشه د موصوف نه تر مخه راځی .

دنسبت له پاره غالباً د(ین)سوفیکس استعمالیږی لکه: (شپنین ـ اوسپنیزداوسپنی) .

په شمیر کښې یوازې ترنهو پورې اشکاشمی خپل اعداد لری او له هغی پورته معمولاً د دری اعداد په کار یږی تر(نهو) پورې په‌دې ډول دی .

یو ـ ۱ دو ـ ۲ روی ـ ۳ ـ څفور ـ ۴ پونز، ـ ۵ خول ـ ۶ ـ اود ـ ۷ ـ اوت ـ ۸ ناو ـ ۹.

شخصی او نو ر ضمیرونه په اشکا شمی کښې په لاندې ډول دی :

از ـ زه، ته ـ ته، مخ ـ مونږ، ته مخ ـ تاسو، مك ـ ما، زما ، فك ـ تا ، ستا ، مش ـ زمونږ ، تمخ ستاسو .

نور ضمیرونه په دې ډول دی .

خك، خوك ـ خپل ـ ام ـ دغه، امون ـ دغه(جمع) اد ـ هاغه، ادوند ـ هماغه

(جمع) او ـ هوغه، اوند ـ هوغه جمع . همدغه ضمیرونه دغایب شخصی ضمیر په حیث هم کار ورکوی .

د فعلی تصریف د نمونې په‌ډول‌دلته د غژد ـ غږیدل، و یل په تصریف‌په لنډه ډول وړاندې کوو :

په‌حال او مستقبل کښې :

اشکا شمی	پښتو
غژم	غږیږم (وایم)
غژی	غږیږې (ته)
غژو	غږیږي (دی)
غژون	غږیږو
غژو	غږیږئ
غژون	غږیږي .

په ماضی قریبه کښې :

اشکا شمی	پښتو
غژ د م	غږیدم
غژد ئ	غږیدې
غژدي	غږیده
غژدون	غږیدو
غژدوئ	غږید ې

ACKU

اشکاشمی	پښتو
غژ دون	غږېدل .

ماضی مطلقه :

غژ دو کم	وغږېدم
غژدو کت	وغږېدې
غژ د وك	وغږېد

او داسی نور.

ماضی بعیده :

غژدوکم‌وود	غږېدلی وم (ویلی‌می‌وو)
غژدوکت‌وود	غږېدلی و(ویلی‌یی وو)

اوداسی نور.

دغه ادات په اشکاشمی کښې د خدمتی کلموپه حیث موجود دی . په(په پکښې)فر (تر)سه (له،له‌ـڅخه) پس (له پاره د . . . پسې) ات(او ـ دعطف‌له پاره) څې د(چه ـدتابعې جملو دتړون له پاره کیږی) .

دا یشکاشمی دمتن‌ښکارندوی :

Vbd nbs vbd,rů vrú-on vbd. db vru
cbůk non. ůk vru cb ůk nón-i digar.

ود ـ (و) : دا کومکی فعل هغه‌تیپیکه کلمه ده چه‌په باختري ګروپ کښې د(و) او په پیرسیك ګروپ کښې د(ب) په‌غږژوندی ده .

ACKU

رو (دری) دا کلمه په او یستا کښې (ذرایه)، ساکی (ختونی) دیالیکت (درایه) ، د ساکی توشوکی دیا لیکت (درې) ، پښتو (درې)، سوغدي (ذری)، پارتیانی (هر ي) شوغنانی ، روشانی، بارتنگی اواشوری (ارای) واخانی (تروی) اود پیرسیك جنوبیلویدیځ گروپ په معاصرواو منځنیو ژبو کښې د(سه ، سای، شی) په بڼوایدل کیږي .

ورو ـ ون (ورونه) دا هم یوه تیپیکه کلمه دهچه په با ختري ژبو کښې د (و) اوپه ایرانی (پیرسیك) ژبو کښې د (ب) په غږ ده .

د(دوه) عدد دی چه اینډو اروپائی ریښه یې شریکهده .

س(څخه) دا کلمه پهاویستا کښې(هچه) اوپهزړه هندی کښې (ساچه) ده چه په پښتو کې د(څخه) په بڼه ژوندی ده .

اوك : (یو)داعدد هم اینډو اروپائی شریکه ریښه لري .

نون ـ مور ـ پهپامیري ژبو کښې دغه ریښه زیاته ایدل کیږی .

دیګر ـ بل ـ دا کلمه له دری څخه اخیستل شوې اود (نونی دیګر) ترکیب هم د پارسي دی ځکه چه په اشکاشمی کښې دنوروباختري ژبو په شان مضاف همیشه له مضاف الیه وروسته وی اکه دغه اشکاشمی ترکیبونه (توتخون ـ دپلارخونه) (ماتوت ـ زما پلار).

ترجمه :

وو نه وو ـ درې ورونه وو . دوه ورونه له یوې مورہ اویو له بلې موره .

واخانی ژبه

واخان د افغانستان په اداری تشکیلاتو کښې یوه اولسوالی ده چه د پامیردغرو په لوړو ژورو کښې پرته ده. دافغانستان دواخان نه علاوه په واخانی ژبه یوزیات شمیروگړي د شوروي اتحاد په بدخشان او داولسی چین په سین کیان کښې هم خبرې کوي.

د واخانی یو شمیر لغات او مړی محل د (۹ ;) پیړی په سر کښې د ا. برنس ه خواخپاره شول.

بیاد عبدالرحیم نو سی سړی له خوا (د واخانی ژبی قاموس په سیمله ۱۸۶۶ ع)

کال کښې خپور شو. بیا د گرت. هایوارډ نومې سړي له خوا په لندن کښې په (۱۸۷۱)ع کال کښې څه معلومات خپاره شول. بیا د . و. بیلیو او ج. بیدولف له خوا په (یارقند ته د ۱۸۷۳ کال دهیئت راپور) نومې اثر کښې په کلکته کښې په (۱۸۷۶) کال کښې معلوت خپاره شول.

دواخانې په باب دتیرو محققینو په مقایسه «ر. شاو» ښه په زړه پورې معلومات خپاره کړل، نوموړي یې د متونو او گرامر نمونې هم وړاندې کړې چه قاموسي برخه یې هم لرله. داسې معلومیږي چه دده پښتنې په پښه سین کیان کښې شوې وي.

دواخانې په باب په (۱۹۳۲) کال کښې دمارگین سترین له خوا یو ښه اثر خپور شوچه د (اینډو ایرانین فرونتیر لانګوچیز) په دوهم ټوک کښې درج دی، په خالینه هم په (پامیري ژبې) نومې کتاب کښې په واخانې پوره رڼا اچولې ده او په دې باب د(واخانې ژبې) نومې ځانګړي اثرلري چه دشوروي اتحاد د علومو اکادمې له خوا په (۱۹۵۹) کال کښې خپور شوی دی او په دغه صورت دواخانې ژبې مطالعه دختیځ پوهانو له خوا پرمخ لاړه او ډیر آثار ور کښې وخت په وخت خپاره شول.

دگرامر لنډ لیږ:

دواخانې اسم ذات مفرد او جمعې دوه صیغې اودوه گرامري حالتونه لري. دجمع لومړی حالت د(اینست) یا (ایش) او دویم حالت د(و) وروستاړي په ذریعه جوړیږي دواخانې اضافې ترکیب دباختري ژبو په شان دی نه دپیرسیک گروپ په شان. په دې معناچه مضاف الیه له مضافه ترمخه راځي لکه (ز پترلوپ ـ زما زوی لوی دی) صفت دصیغې له مخې داسم ذات نه کوم توپیر نه لري دترکیب له مخې دنورو

باختري ژبوپه شان دی یعنی صفت له موصوفه ترمخه راځی لکه (لوپخون ـ لوی کور) .

په واخانی کښی شمیر په لاندی ډول دی:

یو ـ ۱ بوی ـ ۲ تری ـ ۳ څبر ـ ۴ پنځ ـ ۵ شذ ـ ۶ اود ـ ۷ ات ـ ۸ ناو ـ ۹ ذس ـ ۱۰ ذس یو ـ ۱۱ ذس بوی ـ ۱۲ بیست ـ ۲۰ بی بیست ذس ـ ۳۰ بو بیست ـ ۴۰ بو بیست ذس ـ ۵۰ تر و بیست ـ ۶۰ تر و بیست ذس ـ ۷۰ سد ـ ۱۰۰ .

ضمیر :

په واخانی کښی شخصی او نور ضمیر ونه په لاندی ډول دی : وز ـ زه ، مژ ـ ماته، ژه ـ ما ، زسا، تو ـ ته ' تاو ـ تاته ـ تی تا ، ستا ، سک مو ږ ، موږ ته سپو (دس په زور کی)ـ زسونږ ـ سایپشت تاسو ، ساو ـ تاسوته ' ستا سو ـ دغایب له پاره اشاری ضمیرونه استعما لیږی .

اشا ری ضمیرونه په دی ډول دی : ییم ـ دا، ییشت ـ دا (جمع) ـ ییت ـ هغه ، ـ ییتیشت ـ هغه (جمع)یاو ـ هاغه ، هوغه ـ یاویشت هغه هوغه .

نور ضمیرونه په دی ډول دی : کوی ـ څوك ، شت ـ څپل ، خپله ـ چیز ـ څه ، کوم ـ کو م ، توم ـ دومره ـ څوم ' څومره .

فعل :

د واخانی دفعلی تصریفا تو دښکار ند وی په ډول دلته د (ښت ـ ویل)دفعل تصریف په دریو زما نو کښی وړ اندی کوو :

حال او مستقبل :	ترجمه
ښنم (د«ن»ـ په زور کی)	وایم، وبه وایم

ښنی	وایی ، وبه وایی
ښند	وایی ، وبه‌وایی
ښنین	وایو، وبه‌وایو
ښنیو ، ښنیت	وایی ، و به وایی
ښنن	وایی ، وبه وایی .

ماضی قریبه استمراری:	ترجمه
ووزم ښنتیء	ماو یل
توت ښنتیء	تاو یل
یاو ښنتیء	ده ویل
یا ساکن ښنتیء	سوږ ویل
سا یشتو ښنتیء	تاسو ویل
یا ویشت ښنتیء	دوی و یل

ادات :

په‌وأخانی کښی دغه‌خدمتی کلمی‌د پریدلو ک اوپسلیلوک وظیفه‌اجرا کوی:

په ـ (د«پ» په زورکی) د پښتو د(په ،پکښی)په معنا. خوغالباً دځه‌دپاسه.

ته ،تر ـ ښکته لاندی په معنا .

ار ـ د(ښکته لاندی خواته د حرکت) معنا و رکوی .

سك ـ د«س» په زورکی- دپورته (هسك)خواته دحرکت او یاموقعیت معنا اصلاً افاده کوی مگر نوری معناوی هم لری .

تو ـ د تر ـ معناورکوی .

پوسلیلو کونه یی هم د ادی :

پرت ـ ترسخه ، پخوا ـ څبان (شاته)، سر (باندی)، بن(لاندی)پلو(ترڅنگه) بین (منځ) .

په واخانی کښی د عطف ادات :

ښه ـ د جملو د عطف له پاره د (بیا) په معنا چه د هم جنسو خبر و نو ترتیب ښئی .

یا ـ (یا) دتر دید د پاره .

کی ـ (چه) دتابعی جملو دعطف دپاره .

څه ـ (که) دشرط اونورو دپاره .

دواخانی د متن ښکار ندوی:

Tbłwáťk nəťbłwáťk, trū vrblt
Tbłwátk. bū vrblt cə i nán-ən,
i vrblt cə i nán-ən

د دغه متن تحلیل او ترجمه داشکاشمی دمتن په تحلیل اوترجمه کې وگوریء !

ACKU

سونجانی ژبه

دسونجان دره دختیځ هند وکش دشمال په تړو کښې پرته ده .دسونجان سین چه دهندوکش له اوړو څوکو سرچینه اخلی دکوکچې ښې مرستیال اوپه دغه پراخه او لوړ دره کښې دسونجانیا نو (۳۱) کلی ابا د دی ، ددغی دری (پرته له تولو پاس کلی چه کاتیان دی)ټول خلک په سونجانی خبری کوی.

دمنګناوول په دره کښې ددوو کلیو او سیدونکی په سونجانی خبری کوی.

د(۱۹۶۷) کال دتخمینی احصائیی سره سم دسونجان او منګنا وول په دره

کښی داته کلنونه پورته دنرینه وشمیر (۸٦۰) تنوته رسیږی او دټولو نفوسو شمیر یی له دو و زرو ښځه زیات دی (۱) .

دغهشمیر مارګین سترین په (۱۹۳۸) کال کښی(۱۵۰۰)تنه ښوولی و. دار غونو تو پو نیمی شوا هدو ښځه داسی معلومیږی چه دمونجانیژبیلرغونی تاټو بی همدغه د مونجان دره ده . همدغه ژبه کله دمونجانی او کله دخاصی مونجانی په نامه یا دیږی .

دمونجانی یو دیالیکت دایدګا په نامه یادیږیچه دچترال په لوتکوهنوسی دره کښی ژوندی دی. دلبیدواف درواېت سرهسم چهمارګین سترین هم هغهسم بللی دلو تکوه سونجانیان اووه نسله ترمخه هغهوخت چهدبدخشان واکمن پهدوی یرغل وکړ دوی دلو تکوه خواته والېږدیدلچه سشرېی په لاره کښی ووژلشو.

خاصه مونجانی ژبه بیا په خپل منځ کښی د جغرافیی و یش په اثر په دریو ورو و رو دیا لیکتو نو (پورتنی، منځنی اولاندینی) ویشل کیږیلاندینی دیا لیکت په شرون ،کاموند ، دشك او د یامبی نوسی کلیو کښی - منځنییی په ویلو ، ګاز ، شوی ،پر ی او سرجنګل او پاسنی یی په میینډ ی ،کلای شاه تیلی ، یوغداګك او پینیم نوسی کلیو کښی موجود د ی . ددغو د یا لیکتونو

۱- (د ختیځ هندوکش ژ بی) دګریو نبرګك تالیف دلیننګر اد د(۱۹۷۲) کالچاپ ، خلورم مخ .

توپیر له هرڅه زیات د فونیتیك له سخي څرګند دی . لاندینی دیالیکت منځنی ته ډیر نژ دې دی نسبت د پاسنی او منځنی یو تر بله (۱) .

که څه هم دسونجانی دلوسړ یومطالعو تار یخ تقریباً بوې پیړی ته رسیږی چه لومړی ځل یوه انګر یز محقق (شاو) د مو نجانی یو نسبتاً زیا ت شمیر کلمی دنوروپامیری ژبو سره په مقایسه کښی خپری کړی (2)خو بیاهم سونجانی ژ بهلاتر اوسه په بشپړه توګه نه ده څیړل شوی .

په (۱۸۸۰) کال کښی یوه بل بیدولف نو می محقق د سونجانی اید ګانژدی پنځه سوه کلمی ، یوشمیر لنډی جملی اوداسمی اوفعلی تصر یف دوه سخه تابلوګانی خپری کړی . (3)

دغوخپروشو ومواد و, که څه هم پهلړه سویه وو ، دمحققینو پاملرنه خپل پلو ته راواړوله اودوی ته یی ددی امکان ورکړ چه په دغه باره کښی یولړپلټنی وکړ ی او ددغی باختری ژبی زیات خصوصیات معلوم کړی .

ددغومحققینو په لړ کښی جرمنی عالم و . توماشیك په ۱۸۸۳ کال کښی په ګوتینګین کښی ددغی ژبی یولړخصوصیات راوسپړل چه دهغو په جمله کښی یو دادی چه دغی ژبی په خپل ځان کښی لرغونی د کلمود سر (خش—xSh) (د معاصری

۱ - دختیځ هندوکش ژ بی - مونجانی (۳۶۳) مخ .

2— R. Shaw, on the Ghalchah languages, Journal of the Asiatic Society of Bengal Vol. XIV, 1876.

3— J. Biddult, tribes of the Hindoo-Koosh, Calcutta, 1880.

پښتو(ښ) غږساتلی)، دلرغونی(د) غږورکښې (دپښتوپه‌شان ـ د(ل) په غږا وړی) اودخپلواسمونوپه پای کښې یې د(ه)فتحې غږ ساتلی‌دی نوموړی محقق دخپلې‌دغې مطالعې په‌پای کښې دې نتیجې‌ته و رسید داحکم‌یې‌وکړ چه مونجاني د او یستا ، ساکي‌اوپښتو ترمنځه موقعیت لري .

په(۱۸۸۳) کال کښې د (وان دین ګین) له‌خوا په‌بروسل کښې‌دیګنو بې او ایدګا د موادو په‌باب یوورو کې کتاب خپورشو چه په‌هغه کښې دایدګادیو لړ کلمودایتمولوژی کوشش شوی دی .

(په۱۸۸۹) کال کښې ګر یرسون د لوسړی محل دپاره‌په مو نجاني اودهغې په‌ایدګا دیالیکت متن خپور کړ . په دغه متن کښې ده دانجیل(د سور او پلار نه‌ستونکی زوی) دیوی‌قصې‌ترجمه‌اویوه‌مونجاني‌افسانه‌په کلکته کښې‌خپرې کړې.(1)

چه‌همدغه‌موادبیا په (۱۹۲۱) کال کښې دویم‌محل دهمدغه‌عالم‌له‌خوابیا په کلکته کښې خپاره‌شول . د همدغه عالم‌له‌خوا دمونجاني په باب څه ګرا سرې معلومات او یوور و کې قاموس هم‌خپاره شول .

د خپلوراټولوشوو اوخپروشو یوموادو په رڼا کښې ګریرسون دآر یا یی ژبو د تشخیص‌ولو په‌لړ کښې‌دانتیجه بیاورانده کړه چه‌د(د)غږ په‌مونجاني کښې‌د (ل)په غږاوړی، د(ثر)(ث+ ر)په‌مقابل کښې‌د(ر) غږراځی‌اود کلمودپای‌د(ت) غږچه په ځینوژبو کښې دځرګندی (ی) په‌غږاوښتی دی په‌مونجاني کښې له منځه ځي .

1— G. Grierson Specimen Translations in the Language of the North Western Frontier Calcutta, 1889.

گریرسون لهخپلې دغې مطالعې نه دانتیجه واخیسته چهگو یا مونجا نۍ د کسپین دبحیرې دغاړو اودایران دسر کزی دیالیکتونو سره خپلوی لری چه دسید یك له گروپه دی په (۱۹۱۵ ع) کال کښې د مو نجانې په باب لږخه مواد د یوه فرا نسوی محقق ر . گلتیوت له خواپه پار یس کښې خپاره شول .

په خپل دغه اثر کښې نوموړی محقق خپله زیاته پاملرنه تاریخي فونیتیك تهوا ړوله او د مونجانۍ په کلمو کښې د منځ په دغو غږ و نو (ت ـ سلینهٔی) ، (ث + ه) (ث+ر) ـ هر (ه+ر) یې څر گند کړل. د دغې څرگندونې په اساس ده خیال وکړ چه مونجانۍ ژبه د پیرسیك ژبو د گروپ دشمالي ژبوله سید یك گروپه ده .

دمونجانۍ ژبې د پلټنو پهساحه کښې ډیرښه او اساسي معلومات په ۱۹۲۶ کال کښې ی ـ ی زاروبین وړاندې کړل چه دائرنوم یې دمونجانۍ ژبې خصوصیت دی . نوموړی محقق پهخپل دغه اثر کښې دمونجانۍ فونیتیك او گرامر وړاندې کوی اوهغه خصوصیت یې څیړی چهتردغه وخته لاچانه وځیړلی .

پهدغه تالیف کښې یو منثور اوبل منظوم متن، څونهې جملې او داسې وړوکې قاموس چه دلغاتو سره یې دټولوپامیری ژبولغات په موازی ډول وړاندې شوی دی هم دضمیمې په توگه پهاثر کښې ځای شوی دی .

دمونجانۍ د ژبنیوحقایقو د تحلیل او تجزیې اوله نوروآریایی ژبوسره د مقایسې په رڼا کښې زارو بین عقیده لرله چهمونجانۍ دپارتیانۍ اوپښتو ترمینځه موقعیت لری. دهلیکلې ووچه دلرغونو آر یایی ژبود (ت) سوفیکس په پښتو کښې پهڅر گنده (ی) او په مونجانۍ کښې پهنرمه (ی) اوښتی دی .

مونجانی ژبه

دمونجانی په باب ډیر بارزښته مواد دپروفیسر مارګین سترین له خواپه اوسلو کښی په (۱۹۳۸) کال کښی خپاره شوی دی .

ددغه پروفیسر دتحقیقاتو فضیلت په دی کښی دی چه دهو کولای شول چه د مونجانی ژبی (ایدګا) دویونکو سیمې ته لاړشی او په مستقیم ډول او په غیرد کوم دریمګړی نه خپل تحقیقات بشپړ کړی .

دمارګین سترین په تحقیقاتو کښی د مونجانی فونیتیك او ګرامر خو راښه مفصل څیړل شوی دی او دتاریخی فونو لوژی ته لوی ځای پکښی ورکړ شوی دی . داثر په پای کښې ددغې ژبې اووه متونه اولوی قاموس دضمیمې په توګه ورسره خپور شوی دی .

په (۱۳۳۹) کال دپښتو ټولنې له خواد شاه عبدالله بدخشی تالیف (دافغانستان دځینوژبو اولهجو قاموس) په نامه یو قاموس خپورشوچه په هغه کښی د(پښتو . دری . واخانی او اشکاشمی) سره په مقایسوی پلان کښی دمونجانی بوزیات شمیر کلمې وړاندې شوی دی. خو څرنګه چه ددغه قاموس دعربی الفباء په اساس لیکل شوی دی فونیتیکی ډیراړخونه لوستونکی ته کټ مټ نه شی څرګند ېدلای .

په (۱۹۷۲) کال کښی دښاغلی ګریون بیرګ له خوا (دلو یدیځ هندوکش ژبې - مونجانی ژبه) نوسی اثر په لینګراد کښې خپور شوچه متنونه، ګرامر او قاموس لری او په دې باب سکمل اثر ګڼل کیږی . (او دلته ورنه زیاته استفاده شوېده) د او د مونجانی د مطالعې د تاریخ لنډیز .

مورفولوژی :

اسم ذات - اسم ذات د پښتو په شان په مونجانی کښې هم دجنس (مذکراومونث) دهم شمیر (جمع اومفرد) اوهم گراسری حالات لری .

مذکرا سمونه هغه‌دی چه په بې غږه (صامت) یاپه ملینه (ی) پای‌ته رسیږی اولږ څه‌یې په‌پای کښې‌الف اری. دملینه (ی) نه‌ترمخه په‌پښتو کښې فتحه او په‌مونجانی کښې زورکی وزمه حرکت موجود دی .

مذکر	مونث
کری (چرگک)	کرایه (چرگه)
نوس (دواو په زورکی - نوسی)	نوسه (نمسی)
غدوم (غنم)	فیسکه (پوزه)

یوزیات‌شمیراسمونه شته‌چه‌په ریښه کښې دبدلون په‌اثر ترې مذکراومونث جوړیږی .

مذکر	مونث
خره (د «خ» په زور - خر)	خره (د «خ» په زورکی - خره)
وزه (د «و» په زورکی -وز)	وازه «وزه»

اضافت - اضافی ترکیب‌دنورو باختری‌ژبو په‌شان دی‌چه‌مضاف‌الیه دمضاف نه‌ترمخه راځی لکه : وان وروی - دده ورور .

جمع :

دمفردنه دجمع صیغه د مفرد پورې د معروفی (ی) او دهغو مذکروا سمونو

پورې چه اساس یی په بی‌غږه (صامت) پای‌ته رسیږی‌د(کی) یت (ګی) دوروستاړو په مرسته جوړ یږی .

مفرد	جمع
وری (ورور)	وري (ورونه)
ایدك (وګړی ، کس)	اید کی(وګړي ، کسان)
کور په (پرستن)	کور پګی

هغه مفرد مونث چه په پای کښی فتحه‌لری دجمع دجوړولو په صورت کښی څرګنده (ی) پوری نښلی اوفتح له منځه ځی .

مفرد	جمع
لوغده (لور)	لوغدې (لوڼی)
ژینکه (ښځه)	ژینکی (ښځی)
غوا (غوا)	غوبی (غو اوې)

تصر یف : اسم‌ذات دوه‌ګرامری‌حالتونه‌لری . په مفرد مذکر کښی ددویم حالت ښوونکی د (ـ ان) اوپه مونث کښی د (ـاین) سوفیکسونه دی . او د دواړو جنسونو په‌جمع کښی د(ـاف) سوفیکس ددویم حالت ښه‌ده .

په مونجانی کښی لومړی حالت له دې عبارت دی‌چه‌اسم ذات دحال دزمانی دفعل یا دماضی لازمی فعل‌فاعل اویاصریح مفعول وا قع‌شی . همدارنګه یوشمیر خدمتی کلمی شته چه په‌اسم ذات اغیزه نه کوي همدارنګه که‌اسم ذات صریح مفعول وي هم‌کله کله په لومړی حالت‌کښی وا قع کیږي .

دویم حالت‌له‌دي عبارت دی‌چه‌اسم ذات‌دمتعدي ماضی فاعل واقع شی اویا صریح مفعول اویاد عامله اداتو معمول وگرځی .

صفت :

په مونجانی کښی صفتی‌ترکیب دباختري‌ژبوپه‌شان‌دی‌په‌دی معناچه‌صفت‌له موصوفه ترمخه راځی . توپیربی دادی چه دمونجانی صفت دجنس (نرینه‌اوښځینه) شمیر (مفرد اوجمع) اوگراسري حالت په‌لحاظ کوم تغیر نه‌منی‌لکه :

غشی میر (ښه سړی) غشی ژینکه (ښه ښځه) غشی میري (ښه سړي) غشی ژینکی (ښې ښځې) . که صفت دخبرپه ځای واقع‌شی په هغه صورت کښی داسم ذات‌په شان‌هم دجنس هم دشمیراو هم‌گراسری حالت له مخې‌تغییر خوري لکه : وامیر غشی (دغه سړی ښه دی) واژینکه غشکه (دابنځه ښه ده) وامیری غشی (داسړی ښه دی) واژینکی غشی(دابنځې‌ښې‌دي) . د مقایسې صفت د(در- ددال په‌زورکی)سره‌جوړیږی لکه اره در-خورالیری .

عدد :

په مونجانی کښی عدد په‌دې ډول دی : یو(۱) لو(معروف واو-۲) ښیرای (۳)چیفور(۴)پونج(۵) اوخشو(۶)ووده(۷)اشکیه(۸)ناو(۹) دا(۱۰) (ایدگالوس مجهول‌واو) (۱۰) لوس یو (۱۱) لوس لو(۱۲) ویستولوس(۲۰) یو ویستوالوس (۳۰) لوویست (۴۰) لوویستولوس(۵۰) ښیرای ویست (۶۰) سد (۱۰۰) .

ضمیر :

په‌مونجانی کښی شخصی اواشاری ضمیرونه‌دوه گراسری حالتونه لری اوهغه په‌دې ډول دی :

لومړی حالت	دو یم حالت
زه (زه)	من(د(م) په زور کی ـ ما)
تو(ته)	تا (تا)
موخ (موږ)	اسوخ (موږ)
توف(تاسو)	اموف (تاسو)

لکه . زه وایم = زه ځم . توشیء = ته لاړی . نه من ال = ماته راکړه . من شتم = ماوویل . اموخ کیه = زموږ کور . موخ پیسوم = موږ یی وړو ، اموف وینم = تاسو ویم .

اشاری ضمیر دغایب ضمیر وظیفه هم اجراء کوی .

اشاری ضمیر :

اشاری ضمیر (دنزد ي ،لیري اوډیرلیري) داشاري په لحاظ په دری ډوله دی چه هریوی یې دوه ګراسری حالتونه اومفرد اوجمع لری :

مفر د جمع

لومړی حالت :

نژ دي	منځنی	لرې	نژدي	منځنی	لری .
سه	یه	وه	مای	یای	وای

دویم حا لت

نرینه : سان ـ یان ـ وان ـــ ماف ـ یاف ـ واف

ښځینه : مای یای وای » » »

نور یو شمیر ضمیرونه دا دی :

خی (د (خ) په زور کی) خپل ـ په خپله . کی (د (ك) په زور کی ـ څوك)

شتی (د(ش) په سکون معروفه‌ی ـ څه) کدی (کوم چه) .

فعل :

په‌سونجانی کښی دنورو پامیری ژ بو په شان فعلی صیغې له دریو اساسونو څخه جوړیږی .

الف. دحال له اساسه .

ب . دماضی د پیرفیکټ له اساسه .

دفعل تصریفونه دیوې‌نمونی په‌ډول دشخصی ضمیرونو دلاحقی سره و راندې کیږی. د(ژوی) (مجهول واو ـ ویل) دفعل په‌تصریف کښی‌دحال او مستقبل صیغی په‌لاندې ډول دی .

	مفرد	جمع
متکلم :	زه ژویم (زه‌وایم)	موخ ژوی ام (موږ وایو)
مخاطب :	توژوې(ته‌وایی)	توف ژوی‌اف (تاسو وایئ)
غایب :	واژوت (دی وایی)	وای ژوی‌ات (دوی وایی)

په ماضی‌قریبه کښی‌داساس‌نه‌وروسته دماضی‌نخښه(د) یا (ت) زیاتیږی‌لکه :

اساس	ماضی
وزن ـ پیژندل	وزیند (پیژنده) (۱)
شوو (رودل)	شووت (روده)

1- Wazon , Wazend

ماضی متعدی دتصریف لەمخې دپښتو پەشان دەچە فعل دمفعول‌تابع دی فاعل پە دویم حالت کښې ذکر کیږی .

ماضی بعیده (ویی) (۱) دپښتو (وول) دفارسی (بودن) کومکی فعل‌پەمرسته جوړ یږی چەداصل فعل‌نەوروسته ذکر کیږی .

امر او نفی :

د مفرد امرصیغه کله دحال‌له اساسه جوړ یږی چەوروستاړی ورنەحذف شی اوکله یې فتحه پەپای کښې‌اضافه کیږی لکه نیش . کښېنه. نښه . کښېنه .

دجمع پەپای کښې بې حرکنده (ی) زیاتیږی لکه.نیښې . کښېنی . دنهی همدارنګه دمنفی فعل ترمخه د(چه) (د(چ) پەزور کی) خدمتی کلمه زیاتیږی لکه زەچه وزونم ـ زەنه پوهیږم، چەنیښی. مه کښینه .

مصدر :

مصدر دماضی لەاساسه دالف (او پەپایدکا کښې د ـ ان) سوفیکس پەمرسته جوړ یږی لکه :

نیوستا ـ ناستل. خورا ـ خوړل .

ادات :

پەمونجانی کښې دغەخدمتی کلمې موجودی دی .

ده (د(د) پەزور کی) نه. ژ ه ، سك (د(س) پە زور کی) پە، شله (د (ش)

---

1 - Wiy

په‌زور کی) ترو (مجهول واو) قشره . ته . ددوی یوشمیر کوم کرا سری عمل نه‌لری اواسم ذات‌په لوسړی حالت کښی پاتی کیږی. چه‌هغه‌له « ده ». سك ، په. ترو » ـ نه‌عبارت دی. پاتې نورداسم ذات ددویم حالت غوښتنه کوی .

ده :(پـه فتحه‌یا زور کـی) دحـرکت سمت او د ظرفیت معنا وې افاده کوی لکه: شییات‌ده بازار ـ بازا رته لاړل. زه‌ده کمی‌و یم ـ زه‌په کورکښی‌وم.

نه: (په‌فتحه یازور کی): کله دمفعول‌له معنا افاده کوی: نه‌من ژو ـ ماته ووایه. کله دتعلق‌لکه : دیرونه شکورین ـ داوبش شونډك. کله د هدف لکه: نه خو ران ـ دخوراك له پاره .

ژه :(په‌فتحه‌یاپه‌زور کی): کله دپښتو د(له) په‌معنا لکه: مووروی ژ یونیـین و یات ـ دوه ورونه له یوې سوروو. کله دملکیت د ښوولو له پاره لکه: صاحب ژه شکو رین ـ داوبش خاوند .

سك : د(پر، باندې)په معنا لکه : سك شکوره سورشی ـ پر او بش سپور شو .

په (دپښتو د (په) په معناچه دآلې او ذریعی معنا افاده کوی : په ویکه ژ یبه واخره ـ په تیره (یی) خرو ویشته .

قشر : دپښتو د (څخه) معنا افاده کوی : قشر من ـ ماڅخه (له ماسره) .

ته : دپښتو د (تر) معنا افاده کوی : خشیو وته سیبش ـ شپه تر کهیځه .

لو (په مجهول واو) : دپښتو د (سره) معنا ورکوی : لو تاتین ـ د پلار سره .

شله : (هم د (سره) یوځای کله معنا ورکوی : شله د کاندارین نیو شتو ـ دد کاندار سره ناست دی .

ترو : د (پکښې ، دننه) معناافاده کوی: ترو کیف لو غوی-دننه لاړ، ننووت.
دا وروستی درې خدمتی کلمی یوازې په ایډګادیالیکت کښی موجودې دي .
عطف : دعطف له پاره دوه خدمتی کلمې موجودې دی .
الف : او د پښتو د (او) معنا افاده کوی چه دد وو مفهومو یاشیانو دجمع کولو دپاره کار ورکوی . لکه :
غرود ـ اوشی ـ وا (یی) خیست او لاړ .
ب : د (که) په زور کی ـ دپښتو د(چه) معنا ورکوی چه داصلی جملی پورې دتابعی جملې له تړلو څخه عبارت دی .
اوس اله کن که زه نه توتات ـ اوس وا وره چه زه ستا پلاریم .
دلته دپښتو او مونجانی څو کلمی و راندې کیږی چه ګډې ریښی لری :
پښتو: پل (دپښې) ـ ویستل ـلمر ـ نغوړل (غوړ ایښودل) ـراغی (راغلل) اړخ ـ زه (ضمیر) ـ زوولی ـ زیږولی ـ ژبه ـ اغوستل ـ اندی ـ اور ـ اوس ـ اوسپنه ـ تندر ـ غوز ـ جوس ـ ستر ـ ستن ـ ستوری ـ سوری (خوڅه) ـ شګه ـ لاس ـ ناستل ـ موږ ـ هیلی ـ یو (شمیر) خولی ـ لری (دخیټی) ـ د ستی (فو رآ) زوم ـ ویخ (بیخ)ـمرغه (شنیلی) غوا ـ غژکه ـ غلبیل ـ غنم ـ غو ږ ـ غو ښه ـ کب ـ کله ـ وازده ـ وزر ـ وزه ـ داریدل ـ نوی ـ دا .
د غـه کلمې پـه مو نجا نی کښې په تر تیب سره : پل ـ ا یسی ـ میر ـ نقوشکا ـ اغیء ـ الیخا ـ زه ـ زولی ـ زویکا ـ ژوو ـ اغوستو ـ اندا ـیور ـ وس ـ یوسپن ـ تاندرا ـ غوزا ـ چواسته ـ ستر ـ ستنا ـ ستا روی ـ سو ر ـ شغیا

لاست ــ لوس ـ (ایدګا) نیوسکا ــ موخ ـ یلکا ـ یو ـ خولا ــ ایلر ـ دستي ـ زماي ــ وخا ــ مورغا ـ غوا ـ غژك ــ غلبیل ــ غندوم ـ غوګك ـ غوښ ـ کاپ ـ کلا ـ وازده ـ وزرګا ــ وزا ــ دریکا ــ نوي ــ داي .

دلته دسونجاني دایږګا د دیالیکت یوه جمله دهغې دتحلیل سره دپروفیسرسارګین سترین له اثره (۱) وړاندې کیږي :

žūwā́ vio, yū wúlo vío,
loh purë viét

ژووان ــ (ځوان) دپښتو (ځوان) فارسي (جوان) اویستا یووان . منځنی فارسي یووان ـ مبتداء ده .

ویو(وو) دپښتو کومکي فعل (وول) دفارسي (بودن) واخاني (ویتك) اویستا (بوته) منځني فارسي (بوذ) خبر دی .

یو ـ «یو» عدد دی ــ پښتو (یو) اوسیتي (یو) شوغناني (ایو) واخاني (ایو) سریکولي (ایو) زړه پارسي (ایوه) او یستا (ایوه) نوی فارسي (یك) .

(۱) ـ دایراني ژبو په حواله .

ACKU

ووبو (ښځه، واده) اسم ذات . سوغدی (وذو) اویستا(واذو) او دپښتو(واده)

هم له دې ریښې دی .

لوه . (دوه) شمیر دی . دپښتو (دوه . دوې) اویستا (دوه) .

پور . (بور ، زوی) او یستا (پوثر) ز ړه پا رسی(پوثر) .

په دغه ترتیب کلمو کښې د (ثر ـ ث + ر) غږ عموماً په جنوب پیرسیک

ګروپ کښې د (س) په غږ اوړی او په شمالی اکثرو (همدارنګه باختری یولړ

ژبو کښې) په (هر — ه + ر) یوازې په (ر) اوړی او په پښتو کښې یې د (پ)

غږ د (ب) په غږ او ښتی دی لکه په (تربو ر — تره زو ی) (بوره ، زوی سړی)

یوشمیر لیکوال چه د (پور) کلمه لکه په (شاپور) (سلطانپور) اونورو کښې

فارسی بولی لویه اشتباه کوی بلکې په پارسی کښې دپاسنی‌اصل‌سره‌سم دا کلمه

په (پسر) اوښتی د ه

ی . جمع سوفیکس دی .

وییات . (وو) دغایب دجمع دکوسکی فعل ما ضی چه دپښتو د (وو) سره

سمون لری .

ترجمه ·

ځوان سړی و یوه ښځه (یی) وه دوه (زامن) یی وو .

AKU

سوغدی
او
یغنوبی ژبی

دباختري ،منځنیو،شمالی باختري ژبو په جمله کښی یوه هم سوغدي ده. تاریخی اسناد په دې شاهدي ورکوي چه دسوغد یانو اوباختریانو ترمنځه دتاریخ په پوړیو کښی نژدې روابط پاتی شوی دی.

کله چه باختریا د هخامنیشا نو ترلاس لاندې وه دسوغد سره داقتصادی او کلتوری ټینګو اړیکو دلرلو په اساس په غالب ګومان سوغدهم دباختریه ایالتی تشکیل کښی شامل ؤ. د هرو دوت دیادونو له مخی سوغدد هخامنشیانود امپراتوری په هغه مالیاتی شپاړسمه سیمه کښی شامل ؤ چه پارفیا آر یـایی خوار م ا جزاء

او په کال کښې یې درې سوه (تالانته) مالیه ور کوله .

دسکندر دیرغلونو اوفتو حاتو پهدوره کښې باختریا اوسوغد یوشان سرنوشت لاره.چه له وینو توئیدلو اوښارونو له سوزیدلو څخه عبارتدي . دیوناني مقدوني لښکر له خوا سوغد او باختر اباد ښارونه چور او تالاشول . ددغویر غلونو په اثر دباختریا او آریا په مناسبت سوغد ته زیاته صدمه ورسیده او په حقیقت کښې قبل المیلاد (۲۳۹-۲۳۷) کلونه دسوغد دسقوط دوره وه .

د یو نا نیانو تسلط په سو غد باندې دهخا منشیانو تسلط پـای تـه ورساوه او ځای یې دسکندر مقدوني واکمنی ونیو . مګر دباختر اریا او سوغد په غرنیو برخواو لوړودرو کښې زښت ډیر وطن پالونکي ووچه په خپلو هیواد و نو دپردیو دتسلط سره مخالف او ورسره په مبارزه او مجادله کښې وو . دهمد غی وطن پالنې سره سکندر هره خوا مخامخ کیده اومجاهدین یې د(بربریانو) پهنامه یادول .

کله چه په قبل المیلاد (۳۲۳) کال کښې دجون په (۱۳) نیټه سکندر مقدوني د (۳۳) کلو نو په عمر بابل ته دستنیدو په لاره کښې مړشو دباختر او سوغدپهسیمو کښې دخپلوا کې مبارزې ډیرې زیاتې شوې . دسکندر د پاتې ملګرو ترمنځه بې کارې او بې اتفاقي هم داو لسې مبارزینو دمبارزو دموفقیتسره مرسته کوله . وروستي اسناد ددې شاهدی ورکوی چهنور باختر سوغد اونور پهواقعیت کښې دیوناني مقدوني تسلط نه خپلواك وو . دغه روایت اساسا د (دیودور) په روایت بنا دی .

په قبل الميلاد ۳۱۲ کال کښې چه سليو کس په بابل قبضه وکړه ډېرژرېې سوغد ، باختر اوورخېرسه سيمې دسند پورې په خپل قلمرو کښې دا خلې کړې .

په دغه شان د هروخت تاريخي اسناد ښئې چه دسوغديانو تاريخي او کلتوری روابط دباختريانو او دمعاصر افغانستان دسيمې دنورو وګړو سره دتاريخ په پوړيو کښې ډېر نژدې وو .

دسوغدی کوم نژديوالی خصوصاً دلغت په ساحه کښې چه دنوی پارسی (دری) سره احساسيږی هغه له دې اسله نه دی چه ګوندې دادوه ژبې سره کوم دخپلوی روابط لری دادوه ژبې په حقيقت کښې بيلو بيلو (باختری او پارسی) ګروپونوته منسوبې دی . بلکې ددغې خپلوی موجبه دژبپو هنی په اصطلاح سوبسترا توم (Substratum) دی يعنې په فاتحه ژبه دمفتوحی ژبې اغيزه ده .

کله چه فارسی ژبه دساسانيانو په دوره کښې له خپل تاتوبی (پارس) څخه دشمال لويديځ او خراسان خواته راغله اوپه عيسوی اوومه - اتمه پيړی کښې يې يولړ بومې ژبې له منځه ويوړې دهغو سيمو په جمله کښې دسوغديانوسيمه هم شامله وه - دزرافشان دوادی سوغدی ژبو هم خپله سورنې ژبه وروپه وروهيره اوپه ځای يې فارسی ژبه ومنله . بالمقابل فارسی ژبې هم دسوغدی او بومی ژبونه ډېر سواد واخيستل او ځان يې پرې بډای کړ .

نوپه دې نسبت که په ژبنې لغوی مقايسه کښې دفارسی اوسوغدی ترمنځه دخپلوی کوم تکې احساس شی هغه دفارسی له خوا دسوغدی نه اخيستنه ده .

دسوغد تاریخي موقعیت :

کله چه سوېر اریایي ژبې (۱) په‌دوو ډلو (باختري او فارسي) ویشو دتاریخي اسنا دواو ژبنیو مقایسو له‌مخې گورو چه سوغدي ژبه دباختري ژبو په ډله کښې دریږي .

سوغدي ژبه دباختر دخاورې یوه لرغونې ژبه ده‌چه ډېرو لرغونو وختونو‌څخه را په دې خوا دزرافشان دسیند په غاړه او په ورخیرمه سیمو کښې ډېر عصرونه ژوندي وه .

دغه‌ژبه‌په‌زړه‌پارسي کښې د (سو‌گود ـ) اوپه‌زړه یوناني کښې‌د(سوغدیان، په نامه یادېدله .

هغه باختري‌سیمه چه‌دغه‌ژبه‌پکښې‌رایجه‌وه د (سوغدیانا) په‌نامه‌یادیده . دلویه یځ اوختیځ دتجارت په‌تاریخ کښې سوغد یانو او ددوی تاتو بې ډېر لوی رول لاره . ددوې تاتوبې دمنځنې آسیااو چین ترمنځه‌دتجارت لویه لاره وه . له دغه مخا یه وه چه په میلا دي لو مړ یو پېړ یو کښې سو غـدي ژ به د (LINGUA FRANCA آزادې ژبې) حیثیت لاره . هغه وخت سوغد دختیځ

---

(۱) ـ کله چه موږ د (اریایي ژبو) نوم اخلو مطلب سوورنه (هندوآریایي) نه‌بلکې دباختري اوپارسي ژبو ډله ده چه کله کله په‌غلط مشهور ډول په(ایراني) ژبو هم یادیږي .

اولویدیځ دتجارت په ساحه کښې (دوزیښتو دلو یې لارې) منځنی وه چه د چین تجارتي مالونه بهٔله دغې لارې منځنی آسیا اوله هغه ځایه دروم دبحیرې په غاړه هیوادونوته تلل ـ اوله هغه ځایه به دلویدیځ مالونه پهٔ دغه منځنی تیریدل اوله دغه کبله دغې ژبې هغه وخت زښت ډیر اهمیت لاره .

لیکلی اسناد :

دسوغدی دلیك ظهور میلادي لومړیو پیړیوته منسوب دی ، مګر ددغه وخت لیکلی آثار ډیرلږ موندل شوي دي .

سوغد په اوومه میلادي پیړی کښې بشپړ پرمختګ وکړ ، داوخت یې د خپلو اقتصادي او کلتوري پراختیاو په اثر په منځنی آسیا کښې مهم ځای ونیو .

په ارکیالوژیکو پلټنو کښې موندل شوي اسناد د سوغد د لویې هنرمندی مجسمه جوړولو او معماری شاهدي ورکوي . خصوصاً د (پنجی کنت) د هنري آثارو یولوی صفت ریالستیك اړخونه دي . دخوارزمی اوسوغدي هنرمندی مقایسه دابښئی چه دو یمه ډیره زړه وړونکی اوروښانه ده .

سوغدي ژبې په ټوله مرکزي آسیا کښې له څلورمې میلادي نه تر نهمې میلادي پورې د (خپلواکې ژبې) په صفت موجودیت لاره او په لیکلو آثارو بډای وه . متأسفانه د هغه وخت بدیعي ادبی متنونه زموږ په لاس کښې نشته .

په چینی تورکستان کښې چه د سوغدیانو دلاس لاندې سیمه وه بیل بیل مذهبونه رایج وولکه : بودایی ، مسیحی ، مانی . په سوغدی ژبه له چینایی ، سانسکریت ، آسوری منځنی پارسی څخه ډول ډول متنونه اوښتی چه غالباً به یې د مذهب مضمون لاره .

دشلمې پیړۍ په سرکښې په چینایي تورکستان کښې ددغو متنونو سوندل‌چه دلیکلوتاریخ یې (۸ - ۱۰ سیلادي پیړۍ) د ي دسوغدي ژبې په باره کښې لومړنی مهم اسناد جهاني پوهنې اوسحققینوته په لاس ورکړل .

همدغه وخت‌په چینایي تورکستان کښې یولړ نور اسنادهم وموندل شول چه په‌علمي کړیو کښې د (زړو سوغدي لیکنو) په‌نامه یادیږي اودلیکلو نېټه یې‌د میلادي څلورمې پیړۍ پیل‌ته رسیږي .

ددغو ټولواسنادو ژبه‌هغه وخت داتکل له‌مخې سوغدي ګڼله کیده . ضمناً په‌ماني اسنادو کښې دساتل شوو کلیزو (کلیندر) اصطلاحاتودهغو اصطلاحاتو سره سمون لاره کوم چه په (۱۰ - ۱۱) پیړۍ کښې د منځنۍ آسیا مشهور پوه البیروني دسوغدي په‌نامه یادکړي وو .

دغه اتکل چه‌ددغو ټولو اسنادو ژبه سوغدي ده په (۱۹۳۳) کال کښې دیقین په‌ډول ومنل‌شو . داوخت دشوروي اتحاد لرغون پېژندونکو دزرافشان په پاسیني برخه کښې په (سوغ) نومې غره کښې دکنډوالو په یولړ حفریاتو کښې دسوغدي یوزیات شمیر کتیبې وموندلې .

دغه‌لیکنې دسوغدي دولتي آرشیف پاتې‌او د سوغد ي پاد شاه (دیواشتیچ) پورې یې‌اړه لرله . دغه پادشاه داتمې میلادي پیړۍ په سرکښې واکمن ؤ . او ګله‌چه څرګنده‌شوه چه ددغو لیکنو ژبه او په چینا یي تورکستان کښې د څینو موندل شوو اسنادو ژبه‌یوه ده علم په‌یقیني ډول‌دا ومنله چه داټول اسنا د په یو ژبه لیکل شوي د ي .

د لیکنو توپیر :

ترمخه یادونه وشوه چه دسوغدیانو دلاس لاندې سیمو کښې بېل بېل (بودایي عیسوي او مانی) مذهبونه رائج وو. په دغو دریواړو مذهبونوته منسوبو لیکل شوو متنونو یوتربله څه اندازه توپیر سره لاره. په دغو درې مذهبونو دمونډل شوو کتیبو دلومړي ځل له پاره پلټونکو او محققینوته داعقیده ورکړه چه په سوغدي کښې خود یالیکنونه ژوندي وو چه له سوغدي بودایي، سوغدي ـ مانی او سوغدي ـ عیسوي نه عبارت وو.

مګروروستیو پلټنو اوتحقیقاتو داثابته کړه چه دغه اختلاف په سوغدي کښې دد یالیکتو نوپه صفت نه بلکې اساساً ددغو مذهبي کړیو د پیلتون په اثر د ارفو ګرافیك دوداودلیکنی د خصوصیا تو له مخې منځ ته راغلی او ضمناً باید و ویل شي چه دغه دلیك دود توپیراوخصوصیات یودم نه بلکې داوږدو وختونو په واټن سره په خوسرحلو کښې منځ ته راغلی وو. چه د سوغدي د پراختیا هره مرحله ورکښې منعکسه ده.

ددغو ټولو لیکلو اسنادو په لړ کښې خوراډیر لرغوني ای بودایي اونورهغه اسنا ددي چه په اصطلاح په (زړه سوغدی) لیکل شوي دي. اود (موغ) د کنډوالو نه دلاس ته راغلي آرشیف لیکنی هم ورکښې شاملې دي. ددغو اسنا د و په متنونو کښې په اصطلاح د(اولسي سوغدی) زوړ لیك دود اولرغوني ګرامرساتل شوي دي.

هغه متنونه چه په مانی اوآسوری لیکل شوي دي دوسره لرغوني نه دي دلغوي پانګې او ستیل له مخې هم دغه متنونه دمذهبي تکسونو دترجمې رنګ لري . همدا رنګه په هغو کښې عامیانه اولسي تحت اللفظي اړو نې هم کله کله په نظر راځي .

دستیل دغه بیلتون له هرڅه ترمخه په دې ولاړو کله چه مانې اوعیسوي مبلغین د سوغد یانوتر لاس لاندې سیمو کښې خپاره شول دهغوی تماسونه د خلکو دبیلوبیلو طبقو سره و اوله دغه امله دد وی په افاده اواستفاده کښې عامیانه ستیل اولغت زیات ځای لاره .

ددغو مبلغینو دلوسړی ډلې (مانې مبلغینو) دفعالیت ساحه له هرڅه زیاته داشرافو اودپاسنۍ طبقې دخلکو ګډې وې . د وریسي (منځنۍ) مبلغینو دعمل ساحه له نورو زیاته د خلکو او دار خاییزم له مخې نسبتاً وروستي دي . ځکه نود پوهنې لاس ته ورغلې دلرغونې سوغدي کتیبې ددیالیکتیك و یش نه زیات د زمانې واټن په بیلوبیلو مرحلو کې چه دبیلوبیلو مذهبي عقیدو پورې اړه لري مربوطې دي .

دسوغدي مړینه :

دسوغدي ژبې ترټولو وروستي لیکلې اسنا د اوددغو په باب تاریخي شواهد میلادي لومړیو زرو کلونو ته منسوب دي . په دغه زمانه کښې سوغدي ژبه ورو ورو خپله دفارسي په ذریعه او څه دتورکي ژبو په ذریعه دژوندانه له میدانه تنګه اوله منځه ووتله .

په‌میلادي لسمه پېړی کښې دعربو جغرافیه پوهورو ایت سر مسم دبخارا په سر بوطو کلیو کښې لا په سوغدی‌خبرې کیدې . خپله دبخاراپه ښار کښې فارسی ژ بی دلیك اوادب دژبی په حیث انکشاف کړیؤ اودبخا راپه نو روښا ري سیمو کښې فارسی په چټکۍ سره پخ په خپریدووه .

همدارنګه دیولسمی پېړ ی په نیما یی کښې‌عرب مؤرخ محمود کاشغری لیکلی چه په (بلاسوغوز) کښې دده تروخته سو غدي ژبه دتو رکی سره څنګ په څنګ دافا دې او استفادې له‌پاره معموله ژبه وه .

په هرصورت‌ددغه‌وخت په‌جریان کښې‌دسوغدیانوپه‌سیمو کښې‌څنګ په‌څنګ‌دوه د وه‌ژ بی (فارسی اوسوغدي تو ر کی ا وسوغدې)معمو لی‌وې مګرور و په ورو سو غدي له‌منځه لا ړه — یو ازې دهغې یوه لهجه (یغنوبی) دز را فشا ن دو ادي په‌غرنی بر خه د(یغنو ب) په د ره کښې پا تی شوې د ه.

بی‌ځایه نه ګڼمه‌چه‌دلته په‌یغنو بی هم‌دموضوع دارتباطله کبله‌لږ رڼاواچول شی .

یغنو بی :

یغنو بی ژ به‌یو ه ژوندی شما لی‌با ختری‌ژ به‌ده‌اود (یغنوب‌نومی سیندددرې په د رنیوسیمواوهمدار نګه‌د (ورزوب)نومی‌سیند په‌شو کلیو کښې پرې‌خبرې کیږي په‌دغه ژ به د و یو نکو شمیر نژد ې دو ه زره د ی .

یغنو بی ژ به‌په خپل و ارپه دو و ا سا سی د یا لیکتو نو ویشله کیږي :

الف : ـ لویدیځ (په‌سرغتو، ماینځ، نوسیتکان اونوروکلیو کښې) .

ب :ـ ختیځ (په دیبا لیا، فیسکون، پیتیپ اونورو کلیو کښې) .

له دې پرېخوانه را پەدې خوادمحققینو پاملرنه دیغنو بې څېرلو او پلټلوته او بنتی ده او پەدې باب دېر بنه آثاروخت پەوختو ر اندې‌شوی اوورانده کیږی.

په باختر ی ژبو کښې دسوغدی ځای :

کله چه موږ باختری ژبې دشیرتې لاندې نیسوژبنې مقایسه موږ ته اجازه راکوی چه هغه په دوه گروپو وویشو :

الف : جنوبی باختری (پښتو، پاموري ژبې اونور .)

ب : شمالی باختري (سوغدي، خوارزمی او سکیفی ژبې) .

دشمالی باختري ژبو یو لوی خصوصیت دادی چه دجمع له پاره د (ت) لاحقه لری . دغه دجمع لاحقه دیره لرغونی اودشمالی باختري قومونو په (۲۵) لرغونو نوسونو کښې لیدل کیږی .

دجمع دغه (ت) علامه په سوغدي متونو کښې هرکند ځای‌لری لکه: (پرسنت ـ برهمانـ میخت ـمیخونه ـسرغنتـسرځانـځوتـ ځرونه اونور .

په خوارزمی کښې ددغې جمع لاحقې (ت) په ځای د(خ)لاحقه‌موجوده‌ده. دشمالي باختری په جمله کښې سوغدی او خوا رزمی بالخاصه د فعل په باب یو کډ لوی صفت لری . او هغه داچه په دواړوژبو کښې دماضی‌فعل هغه‌لرغونی تیپ ساتلی شوی دی چه داو گو مینت (Augument) یعنی د ماضی فعل په سرکښې دالف له زیاتولو عبارت دی . د کومو کلمو په سر کښې چه الف

او یا نیم غږی (ر) وه هغه اوږد تلفظ کیدل مثلا (پریچ - پر ینبودل. اپریچ پر ینبود) همدارنګه سو غدی او خوارزمی دهغو سرکبو فعلو نو په تصریف کښی چه دګو مکی (ذ ر - لرل) او (ك م - هیله کول) په مرسته جوړیږی سره نژدی دی .

سوغدی یا دشمالی باختری ژبو په لړ کښی په دې بیلیږی چه سو غدی دلرغونی آریایی د (چ) غږ ساتی خوپه خوارزمی او او سیقی کښی دپښتو په شان ددغه غږ په مقابل کښی د (خ) غږ موجود دی لکه سو غدی (چرمیه) خوارزمي (خرم) اویستی (خرم) او پښتو (څرمن). همدارنګه سوغدی (پنچس) خوارزمی (پنځوس) اوستی (فنځای) پښتو (پنځوس) او داسی نور .

همداشان جنوبی باختری ژبی هم په یوله ژبنیو خصوصیاتو له شمالی باختری ژبو څخه بیلیږی چه څیرنه به یی په خپل ځای کښی وړاند ې کړ و .

دلته دسوغدی یغنوبی اوپښتو تر منځه یوه لنډه لغوی مقایسه وړاندی کیږی:

سو غدی	یغنو بی	پښتو
ود	او د ، ا و ت	ا و ه
ست ستی	است	سته، شته
غو	اخ	ه + غه(داشاري‌اوغایب ضمیر)
بغش	بخش	بخښل
میذ ن	مهدون	ملا

سوغدی	یغنوبی	پښتو
زن ، پتزن	بیزون	پیژن + دل
و ر	بر	وریدل، وربټت
بغښت ، پیغوښت	بغوغ	غښتل، نغښتل
ذ ص	د س	لس
خشیت	خشیغت	شوده ، شیده
زن ، زت	زان	زیږ و ل
زیر تك	زیرته	زیږ ، ژیږ
زبك (خوار زمی زوبك)	زیواك	ژبه
ز و	ژ و و	ژوند
ذوز	وژدیوز	وږی لوږه (پارفیانی - دبز)
ذیو	دیوی	لویدل(لرغونی اریائی دوی)
.	دیوال	دیوال
ذرش	دیروس	لور (دلوکولوآله)
ذم ذوپ	دامه	لم (لمن)
ذروك	دورك	لرګی
خشم	خشام	شوسه(کرارهښپه) (۱)

---

(۱) - دا کلمه په نورو باختری ژبو کښی د (ماخوستن اودشپی) د(کراری شومی) په معنا په دی ډول ده : پارفیانی (شم - Shim) ایستا (خشافنه - xshapnia) ، ایدګا (خشمیه - xchema) دپښتو (ما - ښام او دفارسی (شام) هم له دغی ریښی دی. متنونه (۳۶۲) مخ .

سوغدی	یغنوبی	پښتو
غوتی	خود خوت	خود (۱)
خوبن غوبن	خوون	خوب (۲)
غورت	خورته	خوړل
خور	خوار	خو ر
یغنیک	.	یخ ، یخی
یغرت ، یرغت	.	ارت (پراخ)
یش	یش	یشید ل
غنت + ك (ناوړه)	گنده	غند + ل
غتو م	غنتو م	غنم
غر	غر	غر
غر م	غرم	غرمه، غا رمه
غوت	غوغو،ته	غوښتل (۳)

(۱)ـ دپښتو داتعلیلی کلمه (مثلاً په دی جمله کښی : مابهٔ خودزلمی نه نما ڼخه چه هغه د احترام وړ نه دی) په پاوفعانی کښی (وخد ـ wxd) ده. مثنو نه (۳٦۲) مخ .

(۲)ـ د (خوب) کلمه په نورو باختری ژبو کښی په دی ډول ده : خو تنی ساکی (هو نه ـ Huna) اید گا(خوون ـ xovun اویستا (خوفنه ـ Xvafna) یزگو لیامی (خوو ن ـ Xuvn)

(۳)ـ دا کلمه په نورو باختری ژبو کښی په دی ډول ریښه لري؛ خوتنی ساکی (گو ـ ggu) خوارزمی (غاو) اویستی (غاون ـ کفایت نه کول) یزگو لیامی (غد ـ غو ښتل) .

ACKU

سوغدی	یغنوبی	پښتو
غور	غور	کوزل (دحال اومستقبل په صیغو کښې)
غذوك (دوا وپه زور ـ تخت)	غوتك(د (ت)په سکون ـ حاله)	غولی، غالی
غو	غوی	غوی
غوش	غوش	غوږ
غوش بو نك	.	غوږ والی
یو	ای	یو (شمیر)
یم	ایم	وم (دمفرد غایب کونکي ماضی فعل رابطه
ا یذ	اید	داد + غه
کذ	کد	کله
کنذ	کنسی	کندی(قریه)
کرغ	کرغ	کرغ
کت ، کتك	کت	کلی
کو ، کوی	کو	کښې (ظرفي ادات)(۱)
کون	کرنه	کول (هلته اودلته د کونکي فعل په حیث)
کو ت	کو ت	کوتی(وړو کی سپی)

(۱) دپښتو (کی ، کښې) چه هم دظرفي خدمتي ادات او هم په یولړ فعلونو کښې د پر یفیکس په صفت لکه (کښېښستل) کښې موجود دي په ایندو یورو پی کښې د(خملاستلو ، سلامت او سیدلو اومکان) په معناد(کیی ـ Kei) ریښه لري چه له هغې جملې په سانسکریت کښې (کسیتیس ـ Ksitis) استو گنځی هم دی . دزیات تفصیل له پاره(روسي ایتیمولوژیك قاموس) دپروفیسر پوری ار بژینسکي تالیفسسکو د ۱۹۵۸ کال چاپ، ۹۹۵ ، مخ وگوری.

سوغدی	يغنوبی	پښتو
ګپ	•	کب
•	ملغ	ملخ (۱)
مرغ ،مرغه	مرغ	مرغه (۲)
مغ ،مخ	موخ	موږ (دجمع متکلم شخصي ضمير)
نوي	نوه	نوي (عدد)
نيست	نيسته	ناسته (کښېنستل) (۳)
نيم	نيم	نيم
نيغ ، نغي (ژور)	نيخ	نيغ (مستقيم)
پر	پر	پر (باندې)

---

(۱) ـ دا کلمه پرېسيك ګروپ له باختري ژبو څخه اخيستې ده . يګنوبي متنونه (۲۸۴) مخ وګورئ .

(۲) دا کلمه د (وښو ، چمن زار) په معنا په ايدګا کې (ميرغو) په اويستا کې (مرغه) ده .

(۳) ـ د کښېنستل او کښېنل (غيرمستعمل مصدر) په حال کښې او مستقبل په صيغو کښې لکه کښېنم چه اصل ريښه ېې (نه) او (کښې) پريفکس دي) په باختري ژبو کښې په دې ډول دي : سوغدي (نيست ،نېذ) خوار زمي (نيذ) ختني ساکي (نيد) يزګولامي (نيذ ، نوست) روشاني (نيذ ، نوست) اشکاشمي (نيذ ،فيوست)مونجاني (نمش — نييوست) يغنوبي متنونه ۲۹۳ مخ .

سوغدی	یغنوبی	پښتو
پی	پی	په (۱)
پوغش ، بغوغت	پوخس	پوخ
پی ، پت	پای	پوول ، ساتل
پ	اوپ	او به
پذك	پد	پلی ، پل (دپښی)
بن	پیسنانچ	بن (دمیړه دویمه ښځه)
پرپذ	پیرانت	پیرودل
پوشغونك (پیشو غوندې)	پیش	پیشو
سك ، چپك	سیچی	هساك
سیخ	سیچه (یو ډول مرغه دی)	سیسی

---

(۱) ـ دا کلمه په خوارزمی ژبی هم د(پی ـ pi) په بڼه موجوده ده .
په یغنوب ژبی دوروستاړي په ډول دعمل دذریعی افاده کوي لکه (کورتی پی ـ په چاړه) یغنوبی متنونه ۲۱۳ مخ .

ACKU

سوغدي	يغنوبي	پښتو
•	سنچين	ستن (دګنډلو) (۱)
سترك، ستري	ستاره	ستوري (۲)
ورغ	ورغ	ورخ (دپټي) (۳)
بيس	وسك	باسل ، ويستل
برخت	ويراي	وريتول
بيرك ، بيري ، بيره	وياره (ماښام)	برابى (تيره شپه)
و	وافر	واوره (اويستا ـ وافره)
•	وسه	خوسى (۴)

---

(۱) ـ د (ستن) كلمه په باختري ژبو كښې اويستي (سوجين) ايشكاشمي (شتوون) سونجاني (شيژنه) ايدګا (شينجه) ستنونه (۳۲۱) مخ .

(۲) ـ دستوري كلمه په نورو باختري ژبو كښې : خوتني ماكى (ستاري) ايشكاشمي (سرو ولك) مونجاني (ستوري) او همدا رنګه په پارفيانى كښې (سترګك) ستونه (۳۲۰) مخ .

(۳) دا كلمه په پارفيانى كښې (بندورګك) ده .

(۴) ـ د (خوسى) كلمه په يغنوبي (كښې (وسه) اويستي (وس ـ) يزګولياسي (ووـ) ايشكاشمي (و و سو ولك ـ) واخاني (وشلك) ده . ستنونه ۳۵۰ مخ .

سوغدي	يغنو بي	پښتو
تونتر	تونتورك	تندر (صاعقه)
وشت (وستل ، راتلل)	اوشت	راوستل ،
وښشت	اوخت	اوښتل ، کښوتل
ونت ، ونك	اونت ، ونك	وندر ، وندي ، وندنی (تړونی)
تذ ي	تت	د لته (۱)
و يتير	تير	تيريدل ، تلل
و ين ، ويت	وين ، ويت	وينل (غيرمستعمل مصدر په وينم کښی)
خو	خيك	خو (لاکن مګر) (۳)

(۱) ـ داسی معلومیږي چه په (د ـ لته . ها ـ لته) همدا رنګه (کوم ـ لته ـ چیرته) کښی د کلمو لومړي توکی داشارې اوده یم دظرفیت له پاره دي . داتکل له مخی ددغی ظرفی کلمی اصل ریښه (تذ ـ Tatha) په (ایته دمـ Aitatha) کښی ده چه لومړي توکی دلته هم داشاري افادې له پاره دی ـ متنونه ـ ۳۳۳ مخ .

(۲) ـ د ا کلمه په با ختري ژ بـو کښی په دې ډ و ل ده : او يستا (و و هو ني ـ) شو غناني ا و ر و شا ني (و يخين) اروشري (واخين) يزګوليامی (خوان) ايشکا شمی (وين) مو نجا نی (يين) خو تن سا کی (هونـی) ددې کلمی ا ر يايي ريښه (وا هو نی) ا تکل شوې د ه . متنو نه ۱ د ۳مخ .

(۳) ـ په خوتني سا کی کښی هم (خـو) ايشکاشمی (خو) شوغنانی (خو) ده . متنونه ۳۵۸ مخ .

دلته دسوغدی یو وړو کی متن د(موغ) پردارشهف نه دښکارندوی په ډول وړاندې کوو.

Zkn pnčy MR'y	دپنج دخاوند
δyw'Styč	دیوشتیچ
Št Srδ" γ	اته کاله شپنه
mγy nysnyč	میاشت، نیسانیچ
myδ γwrrwč	ورځ، خورروچ
γty βyr'γwšmryk	او دیوړ شمیرونکی
MN Prm'nδ'r	له پرمان لرونکی
'wtt 20-20-3	څوارلسمه ۲۰-۲۰-۳
Pwst čw wryk	ورړ وره چلوستنکی

تشریح :

ZKN_ دا آرتهکل دي چه د(ن) ایډوګرام او په سوغدی کښې دمفرد مجروری حالت نخښه ده.

پنچی ـ (د (پنچ) خاص اسم دی او د (پنچ کنذچ) مخفف شکل دی چه

د (پنځه ـ ښاری)معنا ورکوی او نن د(پنچکینت ـ پنځه‌ښاری) په‌نامه یادیږی .

د کلمی دویم توکی (کنذ، کنت) او د پښتو (کندی ـ قریه) له یوې ریښی دی .

سړی ـ دسوغدی د (غو) یا (غوتو) یا (غدو) له پاره ایډوګرام دی چه د (خاوند،څښتن) په معنا دی .

ذیو شتیچ : داد هغه (ذیوا ښتیچ) اسم خاص دی چه داتمی پیړی په‌لوړی خلورمه کښی دسمرقند حاکم او دسوغد پاچاو. نوموړی داسلامی فتوحاتو په وخت کښی‌دعربو له‌خوا وژل شوی دی او د(موغ) ارشیف‌دده پورې اړه لرله .

دده‌نوم له‌دغوتو کوجوړ دی : (ذیو ـ دیو ـ شت ـ حرکت بیداری) او(چ) اسمی سوفیکس دی . داسم معنا (پردیوانو بریمن) ده .

شت ـ اته : اسم عدد چه په یغنوبی کښی (اشته) او همدارنګه په نورو باختری ژبو کښی د(الف) او په پارسی ژبو کښی د (ه) په غیر تلفظ کیږی . خه رنګه چه غیر یز تووي په سوغدی الفبا کښی نه‌لیکل کیږی نځکه نو د (اشته)په ځای (شت) لیکل شوی دی .

سرذ ـ کال : داکلمه په او یستا کښی(سرزند (ر) په زور کی ـ کال) په زړه پارسی کښی (ذارد ـ کال) ده . دپښتو په (سپرلی ـ ورغوسی) کښی د

(کالنی) په معنا کښې هم داریشه لیدل کیږی .

(غ) په‌حال کښې دمفرد غایب په‌صیغو کښې فعلی و ابطه‌ده چه په‌یغنوبی کښې یی په‌عوض کښې د (خ) غږ موجوددی ددغی رابطی معنا (دی‌شته) ده .

مغی ـ میاشت : دا کلمه په یغنوبی کښې (ماخ) ده .

نیشتیچ : دسوغدی (کلندر) د کال دریمه میاشت (نیسان) ده‌چه‌سامی ریښه‌لری.

میذ ـ ورځ : دلغاتو دمقایسی په جدول کښې وښوول شوه چه دغه کلمه د (ورځ) په‌معنا په‌زیاتو باختری ژبو کښې ریښه لری او د (مهال (سا) په (ماښام) ماسپښین) او نورو کښې یی هم ریښه احساسیږی.

غور روچ ـ دمیاشتی دیوولسمی ورځی نوم دی .تحت اللفظی معنا یی غور خور ـ لمر ـ روچ ـ ورځ) ده .

د (خور) کلمه د (لمر) په معنا په باختری ژبو کښې ژوندۍ ریښه لری .

رتی ـ دپښتو د (او) په معنا دعطف ادات دی .

ویر ـ د (ویل) له فعله دماضی مفرد غایب صیغه ده .

غوشمر یك ـ شمیرونکی : د (شمیرشمار) له ریښی څخه دی . ددغی ریښی لرغونی باختری ریښه (خشمار ـ Xshmer) ښوول شوی ده چه‌دفارسی (شمردن) هم ورنه اخیستل شوی دی .

من ـ (له، د) داد سوغدی د(چ) اویستا (هچه) خوار زمی (څی) فارسی (از) څخه ایډوګرام دی (۱) .

دغه ریښه دپښتو په (زما) (ز ـ ما) او څخه (څه ـ خوا) کښې هم موجوده ده .

پر منذر ـ (واکمن فرمان والا) اسم ذات دی د (رئیس، واکمن، مشر) په معنا اود فارسی د (فرماندار) سره سمون اری . دسوغدی (ذر) دپښتو د (لر ـ ل) سره سمون خوری .

وتت ـ ولایتونه ایالتونه ـ (وت د خوا، ولایت ، ایالت په معنا او دویمه (ت) دجمع علامه ده . دپښتو په (ایوات ـ هیواد) کښې ددغې ریښې څرك لیدل کیږی.

پومت ـ د(پوست، پوټکی) په معنا داسم ذات دی چه په زړه فارسی (پوسته) او په نوې کښې هم (پوست) دی .

چووریك ـ د (وړ غوره) په معنا ـ اصل ریښه یې (ور ـ) ښوول شوې ده. چه د پښتو د(وړ غوره او حتی غوړ) دریښې سره خپلوی لری .

---

(۱) ـ غالباً د سا سی ژ بو له(من ـ له ده) چه دی . دفارسی ایډوګرامونه په منځنی (ساسانی) فارسی کښې زښت ډیر وو .

سوغدي	پښتو
خشپ	شپه

د پښتو د (ړ)غږ په مقابل کښې سوغدي د (رت) غږ لري .

سوغدي	پښتو
زيرتك	زيړ،ژيړ
غورت	خوړل
سرت	سوړ

د پښتو همدارنګه د آريايي ژبو د (خ) دغږ په مقابل کښې سوغدی د (غ) غږ کله کله او کله د (خ) غږ لري . دلوسړي مثال :

سوغدي	پښتو
غوش	خوښ
غورت	خوړل
غريك	خيږی

دسوغدی په کلمو کښې نسبت پښتوته دکلمو په منځ او همدا رنګه په نورو ځايو کښې د (غ) غږ اضافه ليدل کيږي .

سوغدي	پښتو
يغرت	ارت (پراخ)
نيغر	تيره (تيز)

د پښتو د (ږ) دغږ په مقابل کښې سوغدي د (ش) غږ لري .

ACKU

سو غدي	پښتو
غوش	غوږ

د پښتو دموجوده (ږ) دغږ په مقابل کښې کلمه کلمه سوغدی هیڅ غږ نه لری. غالباً علت یې دادی چه دسوغدی په الفبا کښې غږیز توری نه لیکل کیږی او (ږ) لکه په نورو باختری ژبو کښې په (الف) تلفظ کید له.

یادونه :

په دې مقاله کښې اساساً له دغو منابعو استفاده شوې ده :

۱- (ایرانی‌ژبی) د. ی. م. اورانسکی تالیف.

۲- (یغنوبی متنونه) د. م. س. اناریف اوی. م. پیشیریوه تالیف.

۳- دافغانستان تاریخ لوسری توك د و. م. ماسون او و. ء. رومادین تالیف.

۴- (دتاجیکی اولسی‌اشعارولنه تاریخچی څیړنه) مولفی. س. براګینسکی.

خوارزمي ژبه

لرغوني خوارزم :

دقبل الميلاد شپږمې‌نه دميلادي اوومې پېړۍ پورې دمنځنۍ آسيا داولسونو تاريخ ډېرپه تياره کښې پروت‌دی . ددغې فاصلې تاريخ پوهنه‌په‌ډېرو لږو وېږدېو آثارو کښې يعنې دزړې‌پارسي دکتيبو ديوناني، لاتيني، ارمياني، چيناييي، آسوري او نورو جغرافيه ليکونکو اومؤرخينو په‌رواياتو او ليکنو کښې لټول کېږي .

خصوصاً دلرغوني خوارزم په‌باب ليکلي اسنادډېر لږاوپه تيارو کښې پراته‌دي تردې چه‌په منځنيو پېړيو کښې دعربو دفتوحاتو په وختو کښې‌هم خوارزم رڼاته نه‌دی راوتلی اودلسمې ترپايه او ديوولسمې تر اوله د خوارزم په باب معلومات نيمګړي دي .

دخوارزم لرغوني کلتور ، تمدن ابادي اوملي افتخارات د قطيبه ابن مسلم په قوماندانۍ دعربو لهلاسه پهعيسوي (۷۱۲) کال کښې د خاورو سره برابر شول . همدارنګه د خوارزم کتابونه، کتابخانې وسوزول شول ليکوونکي او پوهان څوك ووژل شول اوڅوك نورو سيمو ته وتښتېدل .

پهدې خوارزمي دسنځني آسيا دلسمي پو لسمی پيړۍ نامتو عالم البيرونی ددغې موضوع پهباب ليکي :

« قطيبه لهعربو لاړې هغه کسان خواره واره کړل ويی زمول کوم چه په خوارزمی ليك پوهيدل اود خوارزم درواياتو ساتونکي وو اوپه دغه صورت هغه هرڅه له منځه لاړل چهد اسلام تر راتګ سوجود وو » .

دزړې پارسي په کتيبو کښې داويستا اوپهلوی په مذهبي متنو نو کښې په يوناني، لاتيني، چيناييي، ارسياني منابعو کښې دخوارزم نوم ځای په ځای يادشوی دیګر دادوسره مفصل اوښشپړ اسنادنه دي چهدخوارزم معرفي وکړای شي .

همدارنګه دلسمي، پو لسمی پيړۍ په منابعو کښېمونږ د خوارزم د تاريخ ديرې لږې توټې مو ندلی شو .

ددولسمی پهپای اود ديارلسمی پهسر کښې خوارزم دهغې داسې لويی امپراتورۍ مرکز وګرزېدچه پولې يې د ګرجستان نهترفرغانی اود هندنه دشمالي ارال تر دښتو وغزېدې.

دغهوخت خوارزم تهدمؤرخينو پاملرنه پهزياته اندازه واوښته . دا وخت له هرڅه زيات دالبيروني پهآثاروکښې موږ د خوارزم د تاريخ سره ښه اشنا کيږو .

البيروني په ۳ - ۹۷۲ ع کال کښې دخوارزم پهلرغوني پلازميني کياته (فيره) کښې دښار دخوا اوشاپه (بيرون) نومې کلي کښې زيږيدلی ؤ .

خوارزم د لرغونو باختري قبا يلو سره دتل له پاره نژدې تاريخي کلتوري او اجتماعي روابط لرل . دزردشت دمذهب پهترويج کښې دخوار زميانو رول خاص

ارزښت لاره د (یونداهیشن) اونوروا سناد وپه استشهاد په خوارزم کښې یولوړني افسانوي پاچاییما (جمشید) دزردشتي مذهبي خورالرغوني اوډیرمقدس اور ـ هود دا د (خورداد) ادر هوره (ادر خو را) لګولی ؤ . حتی یو لړ مستشرقین لکه (مارکوارت ، بارتولد اونور) عقیده لري چه خوارزم د زردشتي مذهب د پیغمبر د پیدایښت ځانګوده .

همدارنګه (ج ـ مارکوارت) (۱) د لومړي ځل له پاره په (۱۹۳۸) کال کښې نظریه وړاندې کړه چه په منځنۍ آسیا کښې دهخامنشیانونه تر مخه دخوارزم په مشرۍ لویې سیاسي اتحادیې موجودې وې چه په هغوی کښې سوغد اوخراسان (جنوبي تورکمنستان ، شمال ختیځ ایران اولویدیځ افغانستان) شامل وو . مارکوارت دغه نظریه دهیرودوت دلیکنو په اسناد و وړاندې کړې ده مګردا نظریه لاتراوسه یقیني نه شي ګڼل کیدلای . ځکه چه داسي اسناد په دې باب په لاس کښې نشته چه دا موضوع پرې روښانه شي .

د خوارزم کلمه :

دخوارزم کلمه په عربي لیکنو کښې د (خوارزم) په زړې پارسي کښې (اووارزمیش ـ Urarzmish) په بابلي کښې (هوماریزمه) او په اوستا کښې (هوایریزم) په زړه یوناني کښې (خورامیه) ذکر شوې ده .

ددغه نوم په اشتقاق اومعنا کښې اختلاف موجود دی خودغه نظریه حقیقت ته نژدې ښکاري چه د کلمې لومړی توکی (خوارا د (لمر) اودوهم توکی (زم) د (ځمکې) په معنادي یعنې د (لمرځمکه ، ختیځه ځمکه) .

1—J.Marguaty— (Transh Ahy) Gottangen.

ACKU

خوارزمي ژبه :

کله چه موږ دمنځنیو باختري ژبو پلټنه کوو گورو چه دهغوی له ډلې څخه خوارزمي ژبه هم مهم ځای لري. دغه ژبه دخوارزم دآمودریان په لاندېنۍ حوزه کښې معموله او مروجه وه .

ددغې ژبې دمطالعې له پاره مواد بیخي لږ دي . د خراسان (۱) ایران او منځنۍ آسیا د نورو سیمو په شان په لرغونی خوارزم کښې هم دآرامي په اساس جوړه شوې الفبا منل شوې وه . په دې باب دخوارزمي په لرغونو سکو افسانې او همدارنګه د (توپرك کلا) په ارکیالوژیکو پلټنو کښې موندل شوی آرشیف چه د لیکلو تاریخ یې دزیمه میلادي پېړۍ اټکل شوې ښه شاهدي ورکوي . لاتراوسه دغه آرشیف نه دي خپور شوی . دهغه یوازې درې سندونه خپاره شوي دي . ځکه نو دخوارزمي ژبې دمطالعې اساس لاتراوسه دعربي ژبو لیکوالو په تألیفاتو کښې په هغو اقتباسونو او موادو ولاړدی چه نسبت یې بیخي وروستیو وختونو ته کیږي .

په دغو تألیفاتو کښې اساسي ارزښت خوارزمي گلوس ـ Gioss ـ حواشي) لري چه دواده، طلاقو ، سوگندونو او نورو دودونو په باب دي او د گلمو شمېرېنې درې

---

(۱) ـ باختري ژبه یا زړه پښتو له دغې جملې وتلې ده چه د هغې له پاره یوناني الفبا منل شوې وه ، ددغه حقیقت لوی شاهد د بغلان کتیبه ده چه په زړه ، ځکه پښتو لیکل شوې او د (۱۳۴۹) کال د کابل مجلې په دویمه او دریمه گڼه کښې یې دیوه مهم پراگراف تحلیل وړاندې شوی دی .

زروته رسيږي . دغه کلمې په ديارلسمې پيړۍ کښې د خوارزم د قانون پوه الفا زسيني په حقوقي عربي تاليفاتو کښې راوړل شوې دي .

همدارنگه يو لړ خوارزمي جملې د الزمخشري (يو ولسمه دولسمه پيړی) په (مقدمة الادب) نومي عربي ـ فارسي قاموس کښې هم راوړل شوې دي .

د منځنۍ آسيا د نامتو عالم البيروني په عربي ليکنو کښې د خوار زمې د کليزې (کلينډر) اونجومي اصطلاحات هم ذکر دي .

خوارزمي جملې او کلمې چه د عربو په تاليفاتو کښې ذکر شوې دي په داسې عربي الفباء ليکل شوې او ساتل شوې دي چه د خوار زمې له پاره د خه تو ر و او نخښو زياتوالي ور کښې راغلي دي .

هر نگه چه د خوار زمې په افاده کښې البيروني په نسبتاً يوه ثابته الفباء اتکاء لري له دغه خايه معلوميږي چه عربي الفباء د خوار زمې له پاره لږ تر لږه د لسمې پيړۍ د پای نه ترمخه منله شوې ده .

د خوارزمي کلمو اکثريت (مخصوصاً د الغازميني په حقوقي تاليفاتو کښې) دغو د کتبي ستې افادې له پاره حرکات (زور، زير اونور) په کاراچول شوي دي .

دالغازميني د خوار زمې حوا شيو په تحليل کښې له خوا رزمې څخه په عربي او فارسي کښې موجودو ترجمو هم ډېره مرسته کړې ده . دد غو موادو څير نو او پاتنو د نامتو شوروي پوه ا . ا . فريمن سره په ديار لسمه پيړۍ کښې د خوارزمي د سيستم او د نورو باختري ژبوسره د هغې د خپلوۍ د تثبيت په باب مرسته وکړه . دالبيروني دليکنو د شهادت له مخې ثابتيږي چه د ده په وخت کښې لا خوارزمې ژوندۍ وه .

ACKU

ددولسمې ديارلسمې پيړۍ په تاليفاتوکښې دخوارزمي دغبا را تو اقتباسا تو موجوديت محقق ته اجازه ورکوي چه حکم وکړي دخوارزم پوشمير او سيدونکو خوارزمي ژبه دکومې بلې ژبې په څنګ کښې لاترد غه وخته پاتلې وه . څوله دغه وخته وروسته دتل له پاره په پريکړې توګه خوارزمي ژبه مړه اوله منځه لاړه .

دخوارزمي په باب اساسي پلټنې ا . ا . فريمن په (خوارزمي ژبه) اودو.ب هيننګ په Mitteliranisch پکښې وړاندې کړې دی چه د لوستونکو داستفادې په منابع کښل کيږي .

په آريايي ژبو کښې دخوارزمي ځای :

کله چه مونږ آريايي ژبې (۱) په (باختري او پارسي) د بووډ لو ويشو ژبې مقايسه او پرتلنه حکم کوي چه خوارزمي ژبه دباختري ژبو په لړ کښې دربيږي مثلا :

د باختري اوپارسي ژبو ترمنځه دپلټون يوفونيټيکي لوی خصوصيت دادی چه دفارسي کلمو په سر کښې د (ب . د . ګ . ج . ه) د غږونو په مقابله کښې باختري ژبې د (و . ذ . ((ل)) . غ . ځ .) (۲) غږونه لري .

---

(۱) - کله چه (آريايي ژبې) يادوو مطلب موږ نه (هند و آريايي) نه دي بلکې هغه ژبې دی چه کله کله په غلط مشهور ږدو ل د (ايراني ژبو) په نامه هم يادېږي .

(۲) دباختري ژبو (ذ) دغږ په مقابل کښې پښتو هندارنګه مونجاني (ايدګا) د (ل) غږ لري .

په دغه خصوصیت کښې خوارزمي هم د نورو باختري ژبو سره خپله لرغوني
خپلوي ساتلې ده .

مثلاً :

پښتو - ورل لرل غوی خرمن اووه

سوغدي - ور ذر غو اود

خوارزمي - ود ذرین خرم اود

د اکلمې په پارسي ژبو کښې د (ب . د . گ . ج . ا) په غږونو
شروع کیږي .

د گرامر په باب هم باختري او پارسي ژبې په بولرتیبه کوخصوصیاتو سره بیلیږي
چه یوله هغو څخه د صفت او موصوف مدارنګه مضاف او مضاف الیه ترتیب دی .

په پارسي ژبو کښې معمولاً موصوف له صفته (همدارنګه مضاف له مضاف الیه)
نه ترمخه راځي . خو په باختري (او دهغو په ډله کښې) په خوارزمي کښې
صفت له موصوفه (او مضاف الیه له مضافه) ترمخه راځي .

د ښکارندوی په ډول دغه دوه مثالونه وګورئ :

خوارزمي - خوب ذغد - ښه لور

سوغدي - پریه مته - ګرانه مور

کله چه بیا باختري ژبې یوتر بله مقایسه کړو ګورو چه خوارزمي (د سوغدي
او سیکیفي لهجو په څنګ کښې) د شمالي باختري ژبو په ډله کښې د ربوي
او د جنوبي باختري (پښتو او پامیري) ژبو څخه بیلیږي .

دشمالي باختري ژبوپولو ی خصوصیت دا دی چه دغوي دجمع له پاره د (ت)
وروستاړي لري مګرددغه وروستاړي په مقابل کښې بیا خوارزمی د (خ) ځو لري
لکه : (نیغوسیخ - او ر یدو نکی) (تیکا نـخ - میـخو نه، مو ږي)
(ابروخ - وروځی) .

یوزیات شمیر ژ بنې خصوصیات شته چه خوارزمی دغوله مخې کله کله
له سیکیفی(اوسیتی) څخه لیرې کیږي اودسوغدی سره همغا ړه کیږي . او
کله کله بالعکس، دلته د تولو څیرل دومره ضروري نه ښکاري ځکه نسو ر نـه
تسیـر برم .

دخوارزمی دمتن نمونه (۱) .

, ماڅریند یا ذغدام پی یسد ذینازن کابین،

تشریح :

(هاویرین - دي - مادرکړه تاته) . (هاویرین)دماضی مفرد متکلم صیغه ده .
د فعل ریښه (هاور - و ر کول) ده . د غه فعل په سا کی کښې (ها و ر)
په سوغدی کښې (ذور) (۲) په یغنوبی کښې (تیفا ر) دی .

---

(۱) - دغه متن په عیسوي د یار لسمه پیړی کښې د خوا رزمی قا نون
پوه الغا زمیني له (کنت المنیه) څخه اخیستل شوي دي(ارانسکی) .
(۲) - کیدای شی چه د پښتو په (نوریدلو) کښې دا ریښه واتول شی .

د ې ـ په‌دویم حالت دمخاطب مفرد منفصل غیرمستقل ضمیردی . د ا ضمیر چه په‌اوسیتی کښې د (دي ـ dy) اویستا (ذوه) ا ر میا نی (د و ـ du) جرمنی (د و ـ du) همدار نگه‌څینی (دو ـ du) په‌بڼه‌موجوددی، په پښتو کښې ژوندی فورمه‌لري . لکه‌په (قلم دې، ودې لید) اونور .

یا ـ دمؤنث له‌پاره ارتیکل دي .

ذ غدا ـ می ـ لورمی . ذغده اسم ذات مفرد مؤنث دی چه په اویستا کښې د (دوغتر) اوپه‌پارسی کښې‌د (دخت، دختر) په بڼه هم موجود دی .

می . ـ په‌دویم حالت کښې دمفرد متکلم اضافی ضمیر دی‌چه په پښتو کښې د (می) په‌بڼه لکه په (کورمی، و رورمی) کښې ژوندی دی . د غه ضمیر په همدغه‌معنا په‌اویستا کښې د(می) په زړه پارسی کښې د (می ـ Maiy) اوپه نوي پارسی کښې د (ام . م) په بڼه موجود دی.

پی ـ (داخدمتی کلمه ده چه‌کته متهٔ‌دپښتو د (په) معنا ده . داادات په پښتو کښې (په) په‌اویستا کښې (پا یتی ـ paiti) په زړه پارسی کښې (پاتی ـ Patiy) په منځنی پا رسی کښې (پذ) په سوغد ی کښې (پی) په یغنو بی کښې (پی) په شو غنا نی کښې (پی ـ dy) په روشانی کښې (په ـ ad) په ایشکاشمی کښې (په ـ په زورکی) دی . دا کلمه په‌ایندو یو روپی ژبو کښې ثابته ریښه لري چه څېړ ل یې موضوع او پرد وي .

سید ـ سل . ددې کلمې په مقابل کښې فارسی د (صد) کلمه لري .

ذینارنه ـ (دینارونو) . داد (ذینار) دجمع صیغه پهدویم حالت کښې ده (نه) پهدویم حالت کښې دجمع د ښو و لو و رو ستاړی دی . په پښتو کښې د (ـ نو) سره سمون خوري لکه په (کلونو کورونو) کښې .

کابین ـ اسم ذات د (ولور) او (مهر) معناور کوي .

یعنی : لورمی په سل دینارو نو در کړه .

یادونه : په دغه مقاله کښې له دغو دوومأ خذونو څخه زیا ته استفاده شوې ده :

لومړی : (ایرانی ژبې) دی. م. ارانسکی تالیف ـ مسکو ـ ۱۹۶۳ کال .

دویم : (دلرغونی خوارزم دتمدن په پلونونو) کتاب سو فس .پ. تولستوف مسکو ۱۹۴۸ کال .

ACKU

اوسیتی ژبه

دباختری ژبو په شمالی ګروپ کښې یوه هم اوسیتی ژبه ده . اوسیتی ژبه دلرغونو سکیتی (ساکی ځانګې) ژبې پاتې شونې ده . سیکیتیان هغه باختری توکم وچه له باختره . کوچیدلی او دتورې بحیرې نه نیولی دچین دپولو پورې په دې لویه ساحه کښې په قبل المیلاد زرو کلونو کښې د کوچیانو په صفت خپاره او میشته وو .

دسکیتی قبایلو یوه ښېښه (دالان) قبیله ده . الانی ژبه دسکیتی قبایلو په یوه دیالیکت ولاړه ، منځنی اریایی ژبه او دمعاصرې اوسیتی سور ګڼله کیږی : په الانی ښېښهر متنونه لاس ته نه دی راغلی خوځانګړېځه لغوی سوادونه پاتې دی.

خپله د (اوسیتی) کلمه اریایی ریښه لری چه (آس) دی او دالانی یوې ښې نوم و . دغه ریښه په اویستا کښې (Asu اسو) دګړندی اوچابك په معنا — دپښتو (اوسی- هوسی) او دفارسی (آهو) هم له دغې ریښې دی (۱) .

۱- (ایرانی ژبی) ۵۹ - ۶۰ مخونه .

د (الان) کلمه هم د(د-ل) په قیاسي بدلون د(اریا) او (اریان) دهغې کلمې اوښتې بڼه ده چه په اویستا کښې (ایریانا- Airyana) اوپه زړه هندي کښې اریا - Arya) دارین توکم له پاره استعمالیدله .

داوسیتي ژبې معاصر تاتو بې قفقاز (څه یې دروسیې په فد راسیون اوڅه یې دګرجستان جمهوریت)دی . ددغې ژبې دوینکو شمیر څلور سوه زرو تنوته رسیږي .

اوسیتي ژبه په دو واساسي دیالیکتونو ویشل کیږي :

الف : ایروني (ختیځ) .

ب : دیګوري (لویدیځ) .

دغړونو دجوړښت اود ګرامري فورمو په ساتلو سره دویم دیالکت ییخي لرغوني خصوصیات ساتلي دي .

دلته د پښتو او اوسیتي ترمنځه لنډه فونیتیکي مقایسه وړاندې کیږي چه دهغې له مخې ضمناً دباختري ژبو سره دهغې خپلوي ته اشاره وشي :

د پښتو د (پ) دغږ په مقابل کښې اوسیتي د(ف) غږ لري .

پښتو : پنځه ، څپېره ، پرون ، پوزه ، پوخ ، پسه ، په .

اوسیتي: فنځه ، څف ، فرون ، فونځه ، فوخ ، فوس ، فه .

دیو لړ کلمو په سر کښې اوسیتي د(الف) (او ګومښت) غږ اري چه پښتو (اونورې باختري ژبې) یې نه لري مثلا :

پښتو : د(د«له» په معنا) ستل ، ګورل ، نغوتل ، زه .

اوسیتي : اد، استون ،اګورون ، انغو دون ، از .

دا و سیتي فو نیتیکي مقایسه ګرامر اونور بشپړ معلومات د (۱۳۴۹) کال دکابل مجلې دقوس او جدی په ګڼو کښې خپاره شوي دي .

دریم پاړکی

جنوبی پارسی ژبی

ACKU

زړه
پارسي

دتاريخي اسنادو پەشهادت دايراني قبايلو اصلي ټاټوبى معاصر افغانستان او هغه ته ورڅېرمه سيمې دي . لاهماغه وخت چه ايراني قبايل په خپل ټاټو بي کښې او سيدل د باختري قبايلو سره يې عشيروي ، کلتوري او اقتصادي روابط دومره ټينګک نەوواوهمدغه دروابطو ستوالى د دې يوسبب شو چه د دوى ژبه لوسړى پەبيلو بيلو دياليکتونو (لهجو) اوبيا پەبيلو بيلو ژبو وويشلەشى .

دغەبيلتون اوپه ځانګړو ژبوويش دپېر يو پېر يو جغرافيى ليرې واټن لازيات کړچه پەخپل اصلى ټاټوبى (باختر) کښى د باختري او په لو يديځ (ايران) کښى پيرسيك ژبى دبيلو بيلو ګروپونو په حيث متشکلې شوى چه دا دوه ډلې د (باختري) او (پيرسيك) پەنومونو اوس پيژنو .

دپیرسیکو ژبو په لړ کښې په کومه چه ډېر لرغونی لیکل شوی مواد دپوهنې په واک کښې شته هغه زړه پارسی ده چه په میخی لیک دودلیکله کیده .

دغه لیکنې د هخامنشیا نو د کورنی (٦ - ۴ ق م پیړی) دپا چایانو په امر دیوې لوډې تجارتی لارې پهسر پهشاهی هدیره کښې پهطلا یی تیکلیو ، په کودیواو دډبرو په توتو لیکلی‌شوې دي .

دغولیکنو دپوهنې دپاره تقریباً دوه نیم زره کاله پخوانی متن وړاندې کړی دي . پهزړه پارسی ترټولو لویه اوسهمه کتیبه هغه ده چه په نړی کښې دبیستون دکتیبې پهنامه مشهو ره اودلوی دارا (۵۲۲ — ۴۸٦) قبل‌المیلاد پهحکم د بغد ا د ا وری پهلویه لاره کښی معاصر کرما نشاه ته نژدې د یوې لویی ډېرې په مخ لیکل شوې وه (۱) .

همدارنگه پهمعاصر شیراز کښی د (نقش رستم) پهنامه کتیبه چه هغه هم لوی دارا ته منسوبه ده ښه اهمیت لري .

پهزړه‌پارسی دغه لاس ته راغلي لیکلي‌سواد تقریباً ټول یوشان دي اوډېرتوپیرسره نه لري

زړه پارسي پهمیخي لیک دودلیکل کیده - میخي لیک دود دومره بشپړ توري نه لرل چه په ژبه کښې دټولوموجود وغږونو افاده یې کړې وای . مثلاً د (ر) او (را) دپاره یوتوری موجودو داوږدو اولنډو (و - ي U.i) (افاده یو شان کیده همدارنگه دیفتونگ اوسونو فتونگ (ددوه غږیزو اویازیاتو غږیزو گڼون) دافادې دپاره هم‌خاصې نښې موجودې نه وې . مثلا :

۱ — دبیستون په کتیبه کښی د پوهاند حبیبی دتحقیق له مخې درې‌مسرې پهنکه پښتودي . پهدې باب دپښتو دادبیاتو تاریخ لومړی ټوک وگورئ .

ACKU

داشکل :

په څو ډوله :

Vazraka- Vazaraka Vazara ka- Vazrka— vazaraka-

ویل کیدای شو . له دغه ځایه د زړې پارسی د فونیټیك تثبیت د زړونو روښلاً
اویستا اوزړې هندی او دهغی دخپلوانو (منځنی پارسی) په مرسته شوی دی .
خصوصاً په دغه مقایسه کښې اویستا ښه مقام لري . د اویستا او زړې پارسی د
مقابلي څوتیپیکی خواوې دلته وړاندې کوم :

۱ — داویستا د (س) دغږ په مقابل کښې زړې پارسی د (ذ) غږ لاره .
او یستا (سوره = زور ،قوت) زړه پارسی (ذ وره) نوې فارسی (زور) . او یستا
(مثي شته ـ Masishta لوی ، مشر) زړه پارسی (مذ یشته) .

۲ ـ داویستا د (زـ) دغږ په مقابل کښې زړې پارسی د (د) غږ لاره چه
ددغه غږ په مقابل کښې پښتو کښې د (ل) او کله د (ز) غږلري :

اویستا (زاسته) پښتو (لاس) زړه پارسی (دسته) نوې پارسی (دست) .
اویستا (ازم) پښتو (زه) زړه پارسی (ادم) .

اویستا (زنـ) پښتو (پیژندل) زړه پارسی (دان) = (دانش) .
اویستا (زماتره) پښتو (زوم) زړه پارسی (؟) نوې پارسی (داماد) .
او یستا (زرایه —Zrayah) زړه پارسی (درایه) نوې پارسی (دریا ـ سیند) .

۳- داوستا (ذر) دزړې پارسي د (ذر) سره سمون خوري چه وروسته دا غږ یا په پارسي کښې په (س) اوښتی دي . او په پښتو کښې په (در) یعنی تقریبا په خپله لرغوني بڼه پاتې دي :

اویستا (ذریتیه)، زړه پارسي (ذریتیه) پښتو (درې) نوې پارسي (سه) .

اویستا (پوذره) زړه پارسي (پوذره) منځنۍ پارسي (پوس) نوې پارسي (پسر) .

دا کلمه په (بوره .. هغه ښځه چه اولادېې سړوي) او (تربور) کښې پښتو د (بور) په بڼه ساتلې ده .

۴ - داویستا د (سپ - Sp) په مقابل کښې زړه پارسي د (س) غږ لري .

اویستا (اسپه) زړه پارسي (اسه) پښتو (اسپه) (۱) .

اویستا (ویسپه) زړه پارسي (اویسه) پښتو (بس) .

د ګرامر په لحاظ زړې پارسي لکه اریایي نورولرغونو ژبو د حالت دافادې د پاره دلاحقو داوښتنې (فلکتیف) سیستم لاره یعنی د ګرامري حالت افاده یې دلاحقو په تغییر کیدله - اسم ذات د اساس په غږیز (الف - زور ، ي ، و) او بې غږه وروستاړي د موجودیت سره سمې بیلې بیلې لاحقې لرلې .

جنس (نرینه ، ښځینه او منځنی) همدارنګه شمیر (مفرد ، تثنیه او جمع) یې لرل .

همدارنګه اته حالته (فاعلي ، مجروري ، ندایي ، مفعولي ، ظرفي ، دمفعول له ، آله یي او تبعیدي (Ablative) یې لرل . دضمایرو په تصریف کښې لوی

---

۱ — په مذکر (اس) کښې پښتو دزړې پارسي په لاره ځي .

رول د ریښې د اوښتنې (لکه ؛ زه، ما) سیستم لوباوه چه د ې ته د ژبپوهنې په اصطلاح ـ Suppletive سیستم وایی .

په جنس اوشمیر کښې دفاعل او خبر صفت اوموصوف اونو روتر منځه سمون موجودؤ .

ددې تولوسره سره‌بیا هم‌دنورولرغونوآریایی ژبو مثلا (اویستا) په‌مناسبت زړې پارسی دلرغونې اریایی لرغونې خصوصیات په‌ځان کښې نه‌ووساتلی‌د مثال دپاره :

۱ ـ په‌زړه پارسی کښې دمفعول له ـ Datif له پاره خپله‌لرغونی خاصه لاحقه‌له منځه‌تللې وه اوددغه گرامري حالت‌افاده په مجروري حالت کیده . خو ددغه حالت‌دپاره په‌اویستا کښې لرغونې لاحقه لاژوندی وه .

۲ ـ دتثنیې استعمال بیخی په‌لږو مواردو کښې ښکاریده اساساً له‌منځه‌تللی‌او دمړه په حکم ؤ .

۳ ـ دماضی قریبې (Perfect) او (آوریست ـ Aorist) لرغونی فورمې نورې په زړه پارسی کښې سړې شوې او له منځه تللي وې . ماضی‌قریبه دهغو فعلی‌صفاتو په ذریعه له منځه تللي وه چه په (ته ـ Ta) ختمیدل .

۴ ـ اِدا تو خپلو اکی له لاسه ورکړې وه اودفعل سره گله شو ې وو (۱) دزړ ې پارسی دیوه متن یوه برخه (۲) .

---

۱ ـ ایرانی ژبی (۱ ۵) مخ .

۲ ـ دلو سړي دا ر ا د یوې کتیبې دلو سړ یو څلورو کرښولوست‌اوترجمه.

Baga Vazrka Ahuramazda hya avam asmaanam ada hya imaam bumimada hya martiyam ada shiyaatim ada martiyahy Xshy-ahya eshadram fraabara tya vazrkam huvaspam humar-tiyam.

تشریح :

(بگه ـ Baga خدای) تشریح یې دبغلان دبره کو تل دکتیبی دلومړي پرا ګراف د (بغه شاو) د کلمې په تحلیل کښې تیره شوی ده .

(وزرکه ـ Bazrka بزرګ ،لوي)منځنی پارسی(وزورغ)نوی پارسی(بزرګ) .

اهورامزد Ahuramazaa اهورمزد خاص اسم .

هیه (نسبتی اشاري ضمیر) دی . دا ضمیر په او یستا کښی (ها ، هو) په پښتو کښی (ها +غه ـ هو + غه) په زړه هندي کښی (سیه ـ Sya) زړه سلاو یا نی کښی (س ، سیه) .

د (س) غږ داشاري له پاره دپښتو په (سږ ــ کال) کښی لیدل کیږي.

اوم ـ اشاری ضمیر په مفعولی حالت کښی فاعلی حالت یې (اوه ـ Ava)نوی فارسی (او).

آسما نـــم (آسمان) اسم ذات پـــه مفعولـــی حـــا لت کښی دا کلمه په او یستا کښی (آسمان) زړه هندی کښې (آسمان) په پښتو کښی (آسمان) .

ادا ـ Ada دمفرد غایب ماضی صیغه ده د (جوړ ولو) او (در واو) په معنااساس یې دا ـ Da په او یستا کښی (دا) زړه هندی کښی (دها ـ Dha).

ایم ـ په مفعولی حالت کښی اشاري ضمیر دی چه فاعلی حالت یې(ایمه)

منځنی فارسی (ایم) ـ نوې فارسی (ا م لکه : په (امسال)(امروز) کښې .
بوییم (ځمکه) اسم ذات په‌مفعولی حالت کښې ' فاعلی حالت یې(بوسی)
دی . دا کلمه په اویستا کښې (بوسی) زړه هندی کښې (بهوسی) په نوې
فارسی کښې (بوسی) .

موتییم (Martiyam = سړی ، انسان) صریحی مفعول دی .
دالفظ په اویستا کښې (ماشیه Mashya) زړه هندي (مارتیه)منځنی
پارمنی (مرذ) نوې پارسی (مرد) او پښتو کښې (میړه) دی .

شیتیم Shiyaatim ـ خوښ ، ښاد) مفرد مونث مفعولی حالت دی.
دا کلمه په اویستا کښې (شاتی) منځنی پارسی کښې (شاذ) نوې پارسی
(شاد) پښتو کښې (ښاد) ده .

دا ریه وهم Darayavahum خاص اسم دي په مفعولی حالت
کښې ، لومړی تو کی یې (داریه) د (دار ـ ارل) او دویم یی د (وه ـ بهه)
د (ښه) په معنا دی .

خشایم (شاه ، پاچا) اسم ذات‌مفردمذکرپه‌مفعولی‌حالت‌کښې(په‌بغه‌شاو)
کښې یی تشریح تیره شوې ده .

اکو نوش ـ Akunush ،دماضي مفرد مذکر صیغه ده‌ریښه یې‌د(کردن)
دحال له اساسه یعنې (کن) ده .

داریه واهوش ـ Drayavahaush اسم ذات په جري‌حالت کښې مفرد
مذکر .

ـ خشیایه‌ثیه ـ Xshyaha پاچایی) مفرد مذکر په مجروري حالت کښې

تفصیل یې د (بغه شاو) په تشریح کښې وړاندې شوی .

خشاذرم (هیواد ، شار) تفصیل یې د (بغه شاو)ددویم توکې‌په‌تشریح کښې‌و گوری.

فرابره ـ Fraabara ریښه یې (بره ـ وړ ل) دی او (فر ا ـ (Fra پر یفکس دی لکه په (فراهم)،(فرا بر دن) کښې .

تیه ـ Tya د (هیه ـ Hya) (پاس ذکرشو) نسبتی اشاري ضمیر او ښځې صیغه ده چه کله کله دموصوف او صفت تر منځه د ربط و ظیفه هم اجرا کوي .

(وزرکم Vazrkam) (د خشازرم) دپاره صفت دی (تفصیل یې‌څو کرښې تر مخه تیر شو) اودخشاذ ره سره په جنس‌،شمیراو حالت کښې‌سمون‌لری.

۱ هیا سپم ـ (hyaspam دښوا سونو لرونی) دا کلمه له‌دووریښو (هوـښه) او (اسپ ـ اس)نه جوړه ده او د (خشاذره) دپا ره صفت دی .

هو مر تییم (humarivamدښو میړونو ارونی)دا کلمه هم په (هوـمرتیه) دووریښوویشل کیږی.

تر جمه : خدای ـ لوی اهر و مزد هغه چه آسمان دروبی دی هغه‌چه‌دغه ځمکه جوړه کړی ده هغه چه سړی (انسان) جوړ کړی دی چه دانسان دپاره ښیگڼه جوړه (پیدا) کړی ده هغه چه داراپاچا کړ چاچه‌پاچادارانه هغه‌پاچایی وبخښله کومه چه ښه اسونه او ښه سړونه لری .

۲ـ منځنۍ پارسی :

منځنی آریایی ژبی عموما او منځنی پارسی‌خصو صا دقبل‌المیلاد دڅلورمې

اودريمې پېړۍ نه تر ميلادي اتمې او نهمې پېړۍ پورې ژونديو ژبو ته اصطلاحاً ويل کيږي. دغه وخت کافي کتيبې په منځنۍ پارسي ، منځنۍ پښتو (باختري)، پارفياني (اشکاني پهلوي) ، سوغدي، خوارزمي او نورو دپوهنې د استفادې دپاره موجودې دي .

دمنځنيو آريايي ژبو يو لوی خصوصيت دادی چه ددوی په ګرامري جوړښت کښې لوی تحول راغی . لرغوني فليکسي (دلوا حقو په ذريعه ګرامري اوښتنې) سيستم سخ په وتلو شو او فعلي انا ليتيزم ـ Analytasm سيستم (دکومکي فعل په مرسته دفعل دجوړولو لار) ډير فعال شو ـ دغه تحولات مخصوصاً په منځنۍ پارسي کښې نسبت نورو ټولو ته ډير زيات وو (۱).

دزړې پارسي وروستی کتيبه چه په ميخي ليک د و د ايکل شوې وه په قبل الميلاد څلو رمې پيړۍ پورې اړه لري. دمنځنۍ پارسي لومړی متن چه نن دپوهانو په لاس کښې دی يوازې ددريمې ميلادي پيړۍ پورې ربط لري . او په دغه صورت دزړې او منځنۍ پارسي تر منځه شپږ پيړۍ داسې تيرې شوې دي چه داستفادې وړ کوم ليکلې اسناد نه دي ورنه پاتې.ضمناً ددواړو مرحلو ژبنۍ مقايسه دانښيي چه په دغو شپږ و پيړيو کښې پارسي ژبې زښت ډير فونيتيکي، ګرامري او لغوي اوښتنې او تحولات ګاللي دي .

دزړې پارسي ګرامري اوښتنې (فليکسي لاره) په منځنۍ پارسي کښې خصوصاً داسم په باب بيخي له منځه تللې وې . دجنس (تذکير او تأنيث) کتيګوري يې بيخي له لاسه ورکړې وه .

---

۱ ـ ايراني ژبې، اورانسکی ٦۱ مخ .

ګرامری اوښتنی نورې ورکښې هیڅ نه وې دضمیر دریښې دېدلون (سویلیتویزم۔ لکه زه ـ ما) دسیستم نورورکښې درك نه ؤ۔ همدارنګه دتثنیې حال هم ؤ.
دفعل په ګرامری سیستم کښې هم یولږ اوښتنې منځ ته راغلې: دفعل هغه فلیکس لرونکی inflexiounal فورمه چه په زړه پارسی کښې په فعلی اوزمانی خاصولاحقو پای ته رسیده بیخی مختصره شوه، ماضی هغه فعل له استعماله لویدلی ؤ چه دفعل دحال له اساسه دنښتی الف په مرسته جوړ شوی ؤ (۱) او ځای یی دماضی فعلی صفاتو ونیو.

په لاحقو دتغییر دسیستم له منځه تلل لا په زړه فارسی کښې د هخامنشیانو په وخت کښې شروع شوی ؤ د زړې پارسی دمخکښینیو اوروستنیو کتیبو په مقایسه کښې داموضوع ښه څرګنده ده. د زړې پارسی په وروستیو کتیبو کښې داسی لیدل کیږی چه په لاحقوسره د ګرامری حالاتو تغییر ژوندی نه ؤ بلکې دیوه زاړه دود په حیث استعمالیده.

په پیرسیکو ژبو کښې عموماً او په پارسی کښې خصوصاً د فلیکس سیستم له منځه تلل له هرڅه زیات دخج داغیږې پورې زیات ارتباط لاره: په زړو پیرسیکو ژبو کښې (د کلمود هجاودڅومره والی په تعلق) خج قانوناً د کلمو له آخره په دویمه یادریمه هجالویده او په دغه صورت جنسی (دتذکیر او تأنیث) اوحالتی

۱ـ دالاحقه د پښتو په اغوندل (وابه یی غوندم) (الو زول) (وابه لوزی) اونورو کښې ژوندی ده

(فاعلي مفعولي او نور) لاحقي همیشه بی ځجه اوپه کمزوری وضع Reduction کښې واقع وي چه داوضع ددوی له منځه تللو سبب شوه (۱) مثلا په دغه لنډه مقایسه کښې زړه او منځنی پارسي وګوریء :

زړه پارسي :		منځنۍ پارسي
فاعلي حالت	Persa پارسه	پارس
مجروری او دمفعول له حالت	Parsahya پاسهیه	پارسي، پارس
مفعولي حالت	Parsam پارسم	رو
ظرفي حالت	Parsaiy پا رسیه	پارس
تبعیدی حالت	Parsa پارسا	پارس

یوازې په یوڅو خاصو اسمي فورمو کښې دلرغوني فلیکس پاتې شوني لاوو: مثلا د جمع دپاره د (ـ ا ن ـ An ـ) سوفیکس په منځنی پارسي کښې دلرغ وني (انم ـ Anam) پاتې شوني وچه دجمع په مجروری حالت کښې موجود ؤ (۲).

دلته باید زیاته شي چه همدغسی تحول په نورو منځنیوآر یایي ژبو کښې هم راغلی ؤ . خو په ځینو کښې په ډیره زیاته اندازه او په ځینو کښې په لږه اندازه .

په باختری ژبو کښې دفلیکس سیستم نسبت پیر سیك ګروپ ته تینګك اوډیر لږتغییرپه کښې راغلی ؤ . باختری ژبې لاتراوسه لرغوني آریایي دفلیکس دسیستم

۱ـ ایراني ژبې (۶۲) مخ .

۲ـ ایراني ژبې (۶۳) مخ .

زیاته اندازه پاتی شونی لری چه دجنس اوحالت په تصریف کښی لیدل کیږی .

سوغدی او خوارزمی دماضی فعل هغه فورمه چه دحال له اساسه جوړه او په پیرسیکو ژبو کښی مړه وه ژوندی ساتلې وه همدارنګه دفعل یولږ نورلرغونی خصوصیات (خصوصاً په سوغدی کښی) ژوندی وو.

په دې وخت کښې پیرسیکو ژبو یوبل تغییر هم وزغامه او هغه دا چه په لرغونو آریایی مثلا : زړې پارسی کښی یوزیات شمیر فعلی فورمی او اسمای ذات ووچه په غیریز تماسیدل . باختری ژبودالر غونی خصوصیت وساته خوپیر سیکو ژبو له لاسه ورکړ (۱) .

همدارنګه دفونیتیك او ګرامر په نورو برخوکښی هم پیرسیك ګروپ ډیرې او ښتنې وزغملې او دازغم ددې یوبل سبب شو چه باختری او پارسی ژبی سره نورې هم لیرې شی . نوکه په قبل المیلاد دریمه پیړی کښی یونانی (ایراتوسفین) ویل چه دپارس ، مادیا ، باختر او سوغدیان ژبه یوه ده چه لږ څه توپیرلری- همدارنګه که په د و یمه قبل المیلاد پیړی کښی چینی سیاح (جزان سیان) ویل چه دفرغانی نه ترپارتیاپورې دخلکو په لهجو کښی که څه هم توپیرزیات دی خوژبې یې یو تربله ورته دی او په خبرو اترو کښی سره پوهیږی . مګر په لومړیو میلا دی پیړ یو کښی سوغد یا ن مجبورو و چه د ما نـــی متنونو د لو ست او په هغو د پو هید و دپاره د منځنی پا رسی ، پا ر تیا نـــی ، سو غدی

۲- دالرغونی خصوصیت خصوصا په پښتو کښی ډیر زیات دی لکه : (ملګری ـ سړی ـ پیشو ـ ماشوم ـ خولی، ډوډی ـ چاره ـ زړه) .

له مخصوصو قاموسونو څخه استفاده وکړي (۱) .

دليك دالفباء له مخې هم په منځنۍ پارسي کښې لوی بدلون را غی : زړه پارسي چه په ځينوسواردو کښې په ميخي الفبا ليکل کيده منځنۍ پارسي لکه نور و منځنيوا کثرو آريا يي ژبو آرا مي ا لفبا و منله . د آ ر يـا يي ژبو له خوادآرامي ا لفباء د منلو شرايط د نورو تاريخي او کلتوري شرايطو په لړ کښې لا د هخا منشيانو دا مپرا توری‌اودهغې دفناء په‌وختو کښې جوړ شوی وو .

د هخا منشيانو دامپراتوری په عصر کښې دنورو ژ بو په سيمو کښې پا رسي کوم نفوذ اوسيادت نه لاره . دغه وخت پارسي يوازې دفارس په‌ولايت کښې مروجه اويوازې اويوازې دفارسيانو ژبه وه اوبس . دليك داستعمال سوارد يې هم محدو د وواوهغه‌داچه يوازې د هخامنشيانو دياد ګارونو ، کارنامو ا و ښيګڼو د ژ و ندی ساتلو د پا ره په‌ليك کښې کار يد ل .

د ژوند په‌نورو چا ر و کښې دليك ژبه بابلي ا و ايلامي وه د حکو متی ر سمي چا رو دليك ژبه آرامي وه (۲) .

آرامي ژبه دسامي شمالي ژبو له ډ لې څخه د ه چه‌هلته د فا ر سيا نو د فتح نه‌لا پخواد مځکښني ختيځ په‌ډيرو هيوادونو کښې دليك دژبې په‌حيث منل‌شوې اوعامه وه . د هخامنشيانو دامپراتوری په‌دوره کښې‌دغه ژبه درسمي او دولتي چارو

---

۱ – ايراني ژ بې (٦٥) مخ .

۲ – اير اني ژبې اورانسکي(٦٦) مخ .

دپاره منل شوې وه .دآراسی ژ بی ا و دهغی د لیك د منلو عنعنه د هخا منشیا نو داسپراتوری دسقوط نه‌وروسته‌هم په‌تول ایران اوهمدارنگه په‌ورځېرمه‌سیمه کښی یعنی دقفقاز له‌شمال لوید یځه د هند دشمال لویدیځه پورې ژوندی‌وه په‌دې باب هغه آرامی کتیبې شاهد ي ورکوي چه‌دارمنستان دپاچا د لو سړ ي ا ر تا شېس دوخت پورې مربوطی اوپه (سیون) نوسی جهیل کښی همدا رنگه په آ را سی دآشو کالیکنې (دقبل‌المیلاد دریمی پیړۍ په‌نیمایی کښی) چه‌په‌تکسیلا کښی لاس ته راغلی دي همدارنگه په‌یونانی ـآرامی‌دوه ژبی لیکنی‌چه‌په‌کندها ر کښی سوندل‌شوې اوداسې په‌نورو ځایو کښی داټول دابیی چه آ ر ا می ا لفباءاو ژ به په‌دغو سیمو کښی لا پخوا منل شوې و .

ددې خبر ې پوره ثبوت په‌لاس کښی نشته چه آ ر یا یانو څه و خت د لو سړي ځل دپـاره آرامی ژبه اوالفباء ومنل په د غو سیمو کښی په آ ر ا می لیکل شوې هغه لو سړۍ کتیبه چه‌نه‌ده ساتل شوې چه دلوسړي داراپه هدیره کښی‌موندل شوې اودوروستیوپلټنو له‌مخی یې دلیکلو تاریخ دقبل‌المیلاددد (۲۸۰) کـا ل نه‌ترمخه نه‌د ی . ا و د (و ـ پ هینینگ) په‌عقیده امکان لر ي د د غی کتیبی ژ به (دزړې پارسی ووروستی یادمنځنی پارسی لوسړی سرحله وي (۱) .

ورو په ورو دآرامی ایك الفباء دلیك دپاره په‌پورته یا د و شووسیمو کښی خپره او حاکمه شوه چه د هغو په جمله کښی په سیلا دی لو سړی پیړی کښی

---

۱ ـ ایرانی ژبی (۶۷) مخ .

دتپول پارس دليك يوازيني وسيله و گرځيده او سيخي الفباء ته يې نوره خا تمه ورکړه مگر په آرامي ليك دايکل شو و کتيبو ژبې (منځني پارسي ، سوغدي پارتياني ، خوارزمي) دخپلې سوچه ژبې ښکارندوی نه دي ځکه چه د دوی ډير لغات په‌فونيتيك ډول نه بلکې‌په‌ايډيو گرافيك — ideographic ډول ليکل کيدل - يعنې آرامي لغت به‌ايکل کيدۀ چه‌تلفظ به يې په پارسي کيدۀ مثلا : (ثلاثه ، جمل ، کذب ، بنت) به‌ليکل کيدل‌اوتلفظ به‌يې په (سه ، شتر دروغ ، دختر) کيدۀ . دغه آرامي کلمې په ژوندی ژبه کښې نه وې موجودې اوهيڅوك نه‌پرې پوهيده يوازې په‌ليك د نښو او سيمبولونو په صفت موجودې وې (۱).

منځنۍ پارسي او ساساني دوره :

منځني‌پارسي (پهلوي) دايران دساساني دورې (۲۲۳ - ۶۵۱ ميلادي پېړيو) دليك اوادب ژبه اودساسانيانو دپخواني هيواد - د ايران د يوه جنوبي ايالت (فارس) دمرکز ايستخري ديالېکت په اساس بناء وه .

که څه هم‌په‌خپل ذات کښې دمنځني پارسي دژوند زماني واټن د ساسانيانو له دورې پراخ دی چه دځلورمې قبلالميلاد نه شروع او دميلادي اومې پېړې پورې تاکل کيږي خوبياهم په‌منځني پارسي‌دليك دپرمختګ دوره دساسانيانو د واکمنۍ ددورې پورې اړه لري .

---

۲ - (د پهلوی ، پارسی ، ارميانی . . .) قاموس ضميمه .

دمیلادي اووسی پېړی نه‌وروسته منځنی پارسی (پهلوی) په محاوره کښې نوره ژوندی نه وه خواوږدوخت دلیك دژبې خصوصاً دزردشتی مذهب له پاره ورنه کار اخیستل کیده. اوددغه مذهب دخپریدو سره ددې‌خپریدنه سلګرېوه.

دساسانیانو له‌دورې ترسخه‌هم په‌منځنی پارسی یولږ لیکل شوي موادو ولکه کانې، دبرینې تختې، خاورین لوښی اوسکې چه‌افسانی‌ورکښې ځای شوي وي خودژبې دمطالعی له‌پاره دغه مواد کافي نه دي.

دمنځنی پارسی د مطالعی په باب مخصوصاً د مانی مذهب د هغو کتیبو اهمیت زښت ډیر دی چه په تورفان (چینی ترکستا ن) کښې دشلمی پېړی په سر کښې موندل شوې دي.

دساسانیانو په‌عصر کښې چه‌منځنی پارسی دولتی اودزردشتی مذهبی چارو له‌پاره مذهبی ژبه شوه وروپه وروپې له‌خپل ټاټوبی د (فارس) له‌ایالته په خپریدو پیل وکړ اودپارس دشمال اوشمال ختیځ په‌لوربې دنیلو غځول شروع کړل‌ورو په ورو یې دسیمه ایزو ژبو دنفوذ ساحه تنګوله اوتردې‌چه‌یوزیات شمیر ژبې‌اولهجې یې‌دتل له‌پاره له‌منځه ویوړې اوځای یې منځنی پارسی ونیو. اوپه‌دې صورت د خوپیړیو په‌جریان کښې یې دټول ایران،دافغانستان اودمنځنی آسیا دیوې براخې سیمې‌چه‌خراسان (خراسان دختیځ په‌معنا په‌شمال کښې دآمودجریان، هندوکش اوپه جنوب کښې د (کیویر) ددښتی پورې‌دتاریخی ایالت نوم دی) ورته‌ویل کیده په‌درباري اودولتی مقاماتو کښې‌خپلې ځیلی وروپه ورو وغځولی اوپه‌دغه صورت منځنی پارسی (پهلوی) دمعاصر افغانستان او باختري نورو ژ بو سیمو ته

ورننه وته (۱) چه‌نور تفصیل یی باید دتاریخ په پانو کښې ولټول شي .

منځنی پارسی لکه‌چه له‌نامه یی څرګندیږي دژبنی مقایسی له مخی دزړې اونوې پارسی ترمنځه دوصل‌د کړی صفت لري . و . هنزن – O. Hansen دخپل کتاب (دمنځنی پارسی درسی کتاب) په‌مقدمه کښې لیکی : « دمنځنی‌پارسی نوم دکارل سلیمان له خوا (دایرانی ژبپوهنې اصول) نومی لنډګرامر دلیکلو په‌وخت کښې په (۱۹۰۰) کال کښې ورکړ شوی دی . دا ژبه داسلام د راتګ اودساسانیانو دانقراض سره سمه څه‌اندازه له رسمیته ولویده .

مګر بیاهم دعربی سره څنګ په څنګ مخصوصاً په‌ایرانی زردشتیانو کښې دلسم قرن تراوایلو موجوده وه . طاهریانو ، صفاریانو اوساسانیانو و غوښتل چه د عربی ځای ورکړی خولیک‌یی دعربی دالفباء په‌قالب کښې واچاوه . همدغه‌لیک منځنی او نوې پارسی سره جلا کوي .

په هند کښې فارسیان (زردشتیان) اوس هم‌دغه‌لیک په‌خپلو مذهبی کتابونو کښې استعمالوي » .

لکه چه ترمخه ورته اشاره و شوه چه دګرامر په ساحه کښې لور (منځنی پارسی) له‌خپلې‌مور (زړې پارسی) نه‌لیرې شوه خوبیایی‌هم هغه‌ټول‌خصوصیات په‌ځان کښې ساتلی‌وو دکومو له‌مخی چه‌زړه پارسی له‌نورو لرغونو آر یایی مثلا اویستا څخه‌بیلیدله .

---

۱ ـ په‌دې باب دزیات تفصیل دپاره (ایرانی ژبی) مؤلف (او رانسکی) (۷۰ ـ ۷۱) مخونوته مراجعه وکړيء .

دهمدغو خصوصیاتو له مخې منځنۍ پارسي هم له نورو آریایي منځنیو ژبو څخه بیلیږي . ترد ې چه په نوې پارسي (دري) کښې دنورو نوو آریایي ژبوسره په مقایسه کښې دغه حکم ثابت پاتې دی . اوپه دغه ترتیب څوك انکار نه شي کولای چه منځنی پارسي دزړې پارسي لوراو د نوې پارسي مور نه ده .

یوازې دیولړ فونیتیکي اوښتنواوضمایرو په باب کیدای شي وویل شي چه منځنی پارسي د هخامنشیانو د کتیبو دژبې نه ، بلکې د کوم بل داسې ایراني دیالیکت دود اوعنعنه ساتي چې دد ې سره يې نژدې خپلوي لرله . همدارنګه باید وویل شي چه منځنی پارسي په باختر کښې دخپریدلو په وخت کښې دباختري ژبوڅخه یو لو یه لغوي پانګه واخیستله اوپه دې صورت هم له زړې پارسي نه یو ګام لیرې شوه .

یوه تاریخي اشتباه : یولړ محققینو دمنځنی فارسي - له پاره دوه مرحلې تاکلې وې : لومړی - لرغونی مرحله چه دادا شکانیانو (۱۵٦ - ۲۲٦) میلادي او دویمه نوې مرحله چه دادساسانیانو (۲۲٦ - ٦۴۷) میلادي پیړیوڅخه عبارت دي .

حقیقت دادی چه دادیوې ژبې دوه مرحلې نه ، بلکې په دغه مرحله کښې دوه بیلې بیلې آریایي ژبې د ي چه اشتبا هاً په یو ه ژ به یادې شوې دي چه لومړی دا شکا نیا نو ژ به او دمیدیك له ګروپ ده او کله (داشکانی ، پارتیانی پهلوی او کله دپارتیانی) په نامه یاد یږي دویمه دایران د جنوب لویدیځ دساسانیانو ژبه ده چه د معاصرې دری مور ګڼل کیږ ي . منځنی پارسي ډیر وختونه ایران پیژندونکو د (پهلوی) په نامه یادوله مګر پهلوی په حقیقت کښې د پارتیانی (اشکانی) نوم دی چه (پهلو) د (پارتیا) اوښتی بڼه ده .

کله چه منځنی پارسي (ساساني ژبه) په ایران اوور څیرمه‌سیمو کښې خپره شوه د پهلوی نوم د پار تیانی په ځای‌د منځنی پارسی‌له پاره عام‌شواودعربوله‌فتوحاتو وروسته (پهلوي) په‌خپله‌اصلی اولومړی معنا بیخی هیره اود عربوسؤ لیفینو سره یې حتی نوم هم پاتی نه‌شوبلکی دنوې پارسی سره‌دتوپیر په غرض یی (پهلوی) د منځنی پارسی (ساسانی ژبی) نوم و ګرځاوه (۱).

داد ی ددوی بیلتون په‌لنډ ډول دیوه‌تاریخی جریان په‌تشریح کښې‌وړاندې کیږي :

کتیبې او دهغو لوست لنډه تار یخچه :

دمنځنی پارسی دوه‌ډوله کتیبی‌د پوهانولاس‌ته ورغلی‌دي‌اوداستفادې‌موردد ي:

لومړی ډول : دا له هغو عبارت دی چه په‌ډبرو ، دقبرونود لوحو، توسارونو، لوښو، سکواو دزردشتی مذهب‌په بیلو بیلو کتیبو کې‌ساتل‌شوی‌دي .

دمنځنی‌پارسی لومړی کتیبی ساسانی شاهانو ته منسوبی اوخورا مشهورې یی دارد شیر (۲۲۴ - ۲۴۱)، لومړي‌شاپور (۲۴۱- ۲۷۱) اونارسی(۲۹۳-۳۰۳) کلو نو کتیبی د ي .

ددوی په جمله کښی ترټولو مهمې یې (پیر سیپول) ته نږدې په‌نقش رستم کښې‌د(کابهٔ زردشت)اودحاجی‌آباد په نامه کتیبی چه‌دلومړي شاپورپو رې اړه لری‌همدارنګه په کر د یستان کښی سلیمان ته‌نږ دې دزاګروس په غرونو کښی د(بایکولی) کتیبه چه دنارسی پورې اړه لري زیا ت شهر ت لری . همدا رنګه

۱- د(پهلوی - پارسی ، ارسیانی ...)قاموس ضمیمه (۳۰۰ -۳۰۱) مخونه.

(پیر سیپول ته نژ دې) اوپه (نقش رجب) او د کرمانشاه په خوا او شا کښې د (تاك بوستان) کتیبې هم دیادولووړ دي .

دارد شیر اولومړی شاپورپخوا نی کتیبې په دری د ری ژبو (سنځنی پا رسی پارقیانی اویو نانی)لیکل شوې دي(یونانی تر جمه یی کله کله سمه نه وی)یوازې په حاجی آباد کښې دلومړی شاپور کتیبه(چه غا لباً تیا کل شوې وه چه په شپږو ژبو ولیکل شی اود ډېر وشپږ برابرې تختې په دی باب شاهدي ورکوي)په دوو(سنځنی پارسی اوپارقیانی)ژبولیکل شوې ده. دنارسی کتیبی په دووژبو(سنځنی پارسی اوپارقیانی لیکل شوې دي دوروستیو سر حلو کتیبې یوازې په سنځنی پارسی لیکل شوې دي .

دساسا نیانو له کتیبو علاوه ته د زردشتی دین دنوې قورم ور کوونکی(کاردیر-میلاد دي څلورمه پیړی) په(سرمشهد ، نقش رستم) کښی په څو کاپی ګانو کښی سا تل شوې اوفیروزآباد ته نژدې لوی وزیر مهر نارسی(پنځمه پیړی) په اصطلاح(پوښلی) کتیبی هم داستفادې په باره کښی شهرت لري .

په سنځنی پارسی ترټولو پخوانی لیکلی مواد هغه دي چه دقبل المیلاد دویمی پیړی نه په ګانو ، سکو ، ډبرو ، لوښو او نورو کښی پاتی دي .دغه موا د لږ مګر ډیر با ارزښته معلومات د ساسانیا نو نه دتر مخه عصرد سنځنی پارسی په با ب نه یوازې دژبپوهنی بلکی دتاریخ له پاره هم لري .

د کتابی پهلوی دلیك ډیر لرغونی ښ کارندوی هغه (له آسوري نه ترجمه) عیسوی پهلوي مذهبی مناسك دی چه دلیکلو تاریخ یی تقر یباً اوومه میلادي پیړی او

د تورفان نه شمال ته په (بولايك) کښې سوندل شوې دي .

په منځنۍ پارسۍ د زردشتي ادبياتو ليکنه د ساسانيانو په عصر کښې شروع شوه ـ مګر دوام او پراختيا يې له دغه عصره وروسته حتى د عربو د فتو حاتو په وخت کښې هم وو . دد غه وخت کتيبې معمولاً مذهبي مضمونونه لري .

په منځنۍ پارسۍ د نوي ادب کتيبې بيخي لږې دي د دوی په لړ کښې خورا مشهوره يې (کارنامك يې ارتخشيري پا پاکان د ارتخشير پاپاکان کارنامه) ده . د اسرې د ساسانيانو د کورنۍ موسس دی .

دويم ډول کتيبې: دا هغه کتيبې دي چه په پهلوي ليکنه بلکې د نيك په نورو توپونو ليکل شوي دي داله هغو ماني متنونو څخه عبارت دې چه په ماني ، سوغدي ليك دوداو تورکي (روني ـ يوډول لرغوني مخصوصاً سکانداناوی ليك دی) ليکل شوی دي . ماني متنونه چه په تورفان کښې سوندل شوي دي زيات يې په ماني هغه الفباء ليکل شوي دي چه د آرامي پالميري ليك په اساس بناء ده نه په پهلوی اساس .

دغه (پا لميري)ليك لوسړی د منځنی پا رسی د لیك د پاره د ماني مذهبي موسس (۲۱٦-۲۷۳ ميلا دي) له خواو منل شو . ماني متنو نه ټول مذهبي مضمون لري او د ماني مذ هبي عقايداو اصول ور کښې تشريح او همد ارنګه هغه مذهبي سندرې او ترانې ور کښې وړاندې شوي دی چه د عبادت په وخت کښې ويل کيدې .

مانی مذهب نه یوازې دایران پهلو یدیځ کښې بلکې ختیځ (دتور کستان په سو غد یانو) کښې هم خپور وو . عبادتی مراسم هم په منځنی پارسی چه ددغه ځای خلکوته یوه پردی ژ به و ه اجرا کید ل . دد ې لپاره چه دمذهبی سندرو او ترا نو لو ست او زده کړه اسانه شی لیکونکو به غالبا په سوغدی الفبا لیکل او په دغه صورت دمنځنی پارسی دمتنونو تلفظ (ترانسکر پیسیون) په سوغدی جوړ شوی ؤ چه اوس یی لویه اندازه کتیبی پاتی دی .

دمانی مذهب تورکی پیروانو دمانی اصولو او احکامو دلیکلوله پاره دتور کی (رونی - Run) لیک نه کار اخیسته .

دمنځنی پارسی په زده کړه د کلمو په لوست اود فونیتیك په اثبات کښې ددول دول کتیبونه علاوه هغه لغوی پانګې ډیره مرسته وکړه چه منځنی پار سی له ګاونډ یولکه آسوری ، ارسیانی او یونانی ژبو څخه اخیستی وه .

دمنځنی پارسی مطالعی او څیړنی ته داتلسمی پیړی په دویمه نیمایی کښې دلویدیځو ختیځ پیژندونکو پاملرنه واوښته . د هغی لو سړنی لو ستنه په پهلو ی دزردشتی ادب دلوستنی په ژوندی عنعنه بنا و ه . چه په هند ا و ایر ا ن کښې دفارسیانو سره ساتل شوې وه .

له (۱۷۵۵ تر ۱۷۶۲) کاله پورې یو فرانسوی عالم انکیتیل دوپیر و ن Anketil Duperron په هند کی وا قع او هلته یی داوسیدونکو پار سیا نو په مرسته اویستا او دهغوی مربوطدمنځنی پارسی څه متنونه ترجمه کړل . نوموړی چه کله پاریس ته ستون شو دختیځو ژبو ډیرې کتیبی یی له ځانه سره ویوړې .

نوسوړی په (۱۷۷۱) کال کښې داویستا او منځنی پارسی تر جمې خپر ې کړی . له دی وروسته دمنځنی پارسی په باره کښې په وخت په لو ید یځ کښې ښه آثار خپریدل .

دنولسمی پیړی په نیمایی کښې دمنځنی پارسی دمتنونو خپریدل په لویدیځ کښې شروع شول اوپه دې باب په کو پنهاګن ، ویانا ،اکسفورد ،بمبیی ، پاریس ، ستو تګارات اونورو علمی مرکزونو کښې یو لړ متنونه اودهغو تشریحات خپاره شول خو بیا هم دهغې دیرې خوا وی له محققینو څخه پټې وې .

په (۱۸۵۰) کال کښې م ـ هاوګ ـ M. Haug دې ته ملتفت شو چه دحاجی‌آباد کتیبې په دوه د یا لیکتو نو لیکل شو ې . ده داسی‌نظریه‌وړاندی کړه چه دواړه دیالیکتونه‌د پهلوی پوری اړه لری مګر داچه‌یولړلغات(لکه‌ضمیرونه کو مکی فعلونه او نور) په ایډیو ګرام (یعنی‌لیکل کیدل‌آ را می لغا ت لکه (لحم) او ویل کیدل فارسی (ګوشت)هول لیکل کیدل ددې علت د ادې چه پهلوی له آراسی نه راوتلی او دهغې په بنسټ ولاړه‌ده. په‌بل عبارت‌د هاوګ په عقیده پهلوی یوه سامی ژبه وه چه ایرانی لغات یې له ایرانی ژبو اخیستی‌وو. دغه اشتباه یې دجرمنی عالم نولدیکی ـ Noldeke له خوا ورسمه شوه : هغه وښوده چه پهلوی یوه داسی نګه ایرانی ژبه‌ده چه غبریز اړخ یې څه دتاریخی‌لیک دود او څه د کریپتو ګراف ـ Cryptographic (مخصوص‌اوسری لیک) له اصله پوره څرګندنه دی . دنګه ایرانی دیالیکت په‌صفت د ارسسترهم‌وګڼله(۱).

۱ـ Y. Darmsteter Etudes Irani ennes Voli, Paris 1883
(دمنځنی پارسی) په حواله .

دنو لسمی په وروستی څلو رمه کښی (هو بشمن —H.Hubshmann) په آر میانی ، آسوری او یو نانی کښی یو لړ کلمی وښوو ې چه دمنځنی پارسی‌نه اخیستل شوی دی . دغه کا رد (ك .سلیمان ـ C. Salemann)سره‌سرسته وکړه چه په منځنی پارسی کښی د وه مرحلی وټاکی :

۱ ـ پخوانی مرحله چه‌داشکاني (پارتیا نی) نه عبارت او په کتابی پهلوی دتاریخی کلمو له لیکنی او په ارمیانی کښی داخیستل شوو کلمو څخه‌عبارت‌دی.

۲ ـ وروستی مرحله دساسانیانو د کتیبو او دمنځنی پارسی نه په یو نانی او آسوری کښي له‌اخیستل شوو کلمونه ځرګند یږی . سلیمان دزند په مرسته دمنځنی پا رسی غږ یز ه خوا تثبیته کړه او په دغه صو رت په منځنی پارسی کښی‌ددوو مرحلو مفکوره منځ ته راغله .

دشلمی پیړی په سر کښی دچینی تور کستا ن په تو رفان کښی یو زیا ت شمیر متنونه وموندل شول چه په مانی لیك په دری (منځنی پارسی ، اشکانی او سوغدی) ژبو لیکل شوی‌وو.ددغومتنونو څه توټی دلو مړی‌ځل لپاره‌د ـف ـ مولیر له‌خواپه (۱۹۰۴)کال کښی خپر ې شوې .

د دغو متنونو یوه ژبه دمولیر له‌خو امنځنی‌پارسی‌وټا کل‌شوه،دویمه‌ژبه‌چه‌دمتنونو په ځینو نسخو کښی دلومړی سره ګله‌شوی وه (داندر پیاس) له خواپا رتیا نی (اشکانی) وټا کل شوه او بیا همدغی نظریی ته نامتو ژبپوه آ . میهی هم ورسید ، داندر پیاس شا ګرد نامتو ژبپوه (و . مان ـ O. Mann) داشکانی ا و منځنی پا رسی تر منځه شپږ بیلو و نکی‌نښی تثبیت کړ ې .

داشکاني (پارتياني) او منځنۍ پارسي ترمنځه پريکړې پولې ت . د يسکو (T. Desco) او و. لينګ تثبيت کړې .

دمنځنۍ پارسي او اشکاني دفعل سيستم په بشپړ ډول و . هينينګ تثبيت کړ .

ساني متنونو چه په عنعنوي ارتوګرافۍ په غېر ايد يو ګرام ليك ليکل شوي وو دمنځنۍ پارسي دفونيتيك او ساني مذهب په باب ئې په زړه پورې معلومات تر يوالوته وړاندې کړې دی .

لکه چه ترمخه ورته اشاره وشوه دمنځنۍ پارسي(پهلوي)او پارتياني(اشکاني) په باب ډېر په زړه پورې مواد په تورفان کښې ومندل شو يو ساني متنونو ور کړل. ددغو متنونو د ليکلو تاريخ چه (۸ - ۹) ميلادی پېړۍ تاکل شوی او په منځنۍ پارسي ، پارتياني او سوغدي ليکل شوي دي . دماني مذهب دچار و پورې اړه لري . ددغه مذهب پيروان دساسانيانو دحکومتي او زردشتي مذهب دمشرانوله خواله خپله هيواده وشړل شول او په دريمه ميلادي پېړۍ کښې يوې غلې او بې خطره سيمې ته تښتيدلي وو .

دماني متنونو فضيلت دادی چه په خاصه (ماني) الفباليکل شوي او فونيتيك يې دپهلوي دالفبا په مناسبت ښه څرګند دی .

ماني الفباد پالميری(د ارامي الفبا يو ډول دی) په اساس ولاړه او ماني(۲۱٦-۲۷۳ ميلادي) دخپلو مذهبي ليکنو دپاره په کار اچولې وه . دغه ليك دمنځنۍ پارسي دپاره لومړی شاپور ومانه بيا دماني مذهب دخپريدو سره سم دغه الفبا يو لړ نورو منځنيو آريايي (پارتياني ، سوغدي) هم ومانه .

ماني متنونو دمنځنۍ پارسي په لوست او مطالعه کښې ډېر لوی رول ولوباوه .

نوی (دری) پارسی

دنو آریایي ژبو تاریخ عموماً او دنوې پارسي خصوصاً دمیلادي اتمې نهمې پیړۍ نه شروع کیږي. داهغه وخت دی چه ددغو ژبو په سیمو کښې اسلام خپور شوی او دلیک له پاره یې عربي الفبا منل شوې ده (۱). له همدغه وخته د (نوې پارسي) اصطلاح منځ ته راغله.

لکه چه تر مخه ورته اشاره وشوه منځنۍ پارسي دساسانیانو دوا کمنۍ په دوره کښې له خپل ټاټوبي (پارس) نه دشمال لوېديځ او خراسان خواته خپره او په اوسه اتمه پیړۍ کښې یې بولې بوسې باختري ژبې او لهجې (خصوصاً له شاري او دولتي مقاماتو څخه) له منځه وېوړې او دیولې ژبو داستعمال ساحه یې ورتنګه کړه.

۱ ـ اوسیتي ژبه له دې وتلي ده چه هغې ته په (۱۷۹۸) کال کښې مذهبي سلاویاني الفبا او بیا په (۱۸۴۴) کال کښې روسي الفبا وټاکل شوه. همدارنګه دپارسي ژبو یهودانو لیک هم له دې وتلی دی چه په عبراني لیکل کیدل ـ او د آثارو نیټه یې میلادي اتمې پیړۍ ته رسیږي چه په ختن کښې موندل شوي دي ایراني ژبې ـ (۱۰۰) مخ.

نوی پارسی

له اتمې پیړۍ وروسته پارسي په ډېره چټکۍ سره په د غو پر د یو سیمو کښې
خپلې وغزولې د زرافشان دوادي سوغدي ژبواودورخیرسه سیمو باختري ژبو او د
لرغونې تخارستان ساکې - تخاري ژبوویونکو باختري وګړو ورو په وروخپلې ژبې
هېرې او په پارسي یې خبرې کول شروع کړل . همدارنګه ددغوسیمو څخه باختري
ژبې او لهجې دتورکې ژبو په ذریعه هم له منځه لاړې.

البته یولړمحلي ژبي له منځه لاړې خود هغوی ځینې ژبني (لغوی او فونیتیکي)عناصر
په پا رسی کښې پاتې شول چه په هغو هم دمحاورې او هم دادب په ساحه کښې
فارسي ژبه بډای شوه.مثلا د پارتیانې څخه :شهر (ښار)مهر(مینه)پور-پوهر (زوی)
او د ا سې نور (۱)له سوغدي نه راغ (چغد) ، فام د(بخن)په معنالکه سیاه فام
(توربخن)ګل فام (دګل غوندې) او داسې نور (۲).

دعر بوله فتو حاتو وروسته دپهلوی لیک په ځای د پارسي له پاره دعربی الفبا
استعمال شو .او دا کارغالباً داتمې عیسوی پیړۍ د نیمايي نه ترمخه نه دی شوی.له
بلې خوا فارسي دعربي نه په سلګونو لغات واخیستل .ددغو باختری اوعر بی لغاتو
په خپلولو سره د د غه وخت فارسي دلغت له پلوه ورمځکې (منځنې پارسي) نه ممتا زه
شوه .په نهمه اولسمه میلادی پیړۍ کښې چه دعربو دخلا فت د قلمرو په ختیځو
سیمو (خراسان،سیستان او ماوراءالنهر) کښې دازادۍ نیلی مخ په غز یدوشوې د یوې

---

۱ -سونږ په تیر هٔمقاله کښې وویل چه دزړې پارسي د(ذ ر)په مقا بل کښې
نوې او منځنی پارسي د(س)او پارتیانې د(هر) غږ لري .

۲- (ایرانې ژبې)(۱۰۱-۱۰۲) مخونه وګورئ.

دربارې ژبې په صفت دفارسي انکشاف هم ورسره سلګرئ شو اوپه عیسوی لسمه یوولسمه پیړۍ کښې ښه لیکوال، شاعران او مورخین منځته راغلل لکه رودکي ، سعد ی،حافظ ،فردوسي ،جامي ،ابن سینا ،بیهقي او نور.

ددغو تحولاتو سره په فارسي ژبه کښې یولړ ژبني اوښتنې هم د فونیتیک او هم دګرامر په ساحه کښې راغلې چه څه رڼا به پرې واچوم:

فونیتیك :

دفونیتیک (غږ) دجوړښت په باب هره ژبه خپل خپل خصوصیتونه لري: مثلاد (غ) (ل) همدارنګه دځینو پوهانو په عقیده د(ق) غږ ونه په زړه پارسي کښې سوجو د نه وو خوپه منځنۍ همدارنګه په نوی پارسي کښې منځ ته راغلی دی.له دغه ځایه ده چه کله سونږ دو وژبو ته د (موراو لور) په صفت قایلیږود هغوی ترمنځه څه فونیتیکي تو پیر هم وینو.

(لور) د (مور)فونیتیکي سیستم ترزیاتې اندازې پسا تې خود تکامل په جریان کښې یو لړ غږونه له لاسه ورکوي اویو لړ نوي لاس ته راوړي.

په دغه اساس سونږ دمنځنۍ اونوې پارسي ترمنځه دیو لړ غږ ونو بد او ن وینو چه د ښکارند وی په ډول یې دلته څه وړاندې کوو(۱) .

مثلا : دمنځنی پارسي د(چ ،و،ت، ه ،ج،س) غږونه په نوی پارسي کښې د(ز،ګ، «کله ب»،د، خ ،ی،ه) په غږ ونوا وړی.

۱-دراتلونکوسو اد وپه راټولونه کښې له (پهلوی، پارسي ،ارسیاني ،روسي انګریزي)قاموس څخه استفاده شوې ده.

منځنی پارسی :	اچ	هنداچه	اواچ	نماچ	فراچ
نوي فارسی	از	اندازه	آواز	نماز	فراز
منځنی پارسی	وتاختن	ورګك	ول	وشاتك	وریختن
نوي فارسی	ګداختن	ګرګك	ګل	ګشاده	ګریختن
منځنی فارسی	وزرګك	ویست	وید	وهشت	وات
نوي پارسی	بزرګك	بیست	بید	بهشت	باد
منځنی فارسی	برات	خریتن	خورت	خوت	دیتن
نوي فارسی	برادر	خریدن	خورد	خود	دیدن
منځنی پارسی	هوك	هیشم	هائیك	هورم	هردات
نوي فارسی	خوك	خشم	خایه	خورم	خرداد
منځنی پارسی	یامك	یوي	یاویتان	یاتو	یوان
نوي پارسی	جامه	جوی	جاویدان	جادو	جوان
منځنی پارسی	همراس	ګاس	اګاس	اسین	نیګاس
نوي پارسی	همراه	ګاه	اګاه	اهن	نیګاه

بلهداچه دمنځنی پارسی په کلمو کښی د سر (او) په نوي پارسی کښی له منځه تللی د هغی دنفی سوفیکس (ا ، ان) په نوي پا رسی کښی په (بی ، نا) اوښتی او د هغی د کلمو په پا ی کښی د (ك) غږ په نوي پا رسی کښی حذف او په ځا ي یی فتحه پاتی ده اوداسی نور لکه :

منځنۍ پارسي	اوشمار	اوشتاب	اوشتافتن		
نوې پارسي	شمار	شتاب	شتافتن		
منځنۍ پارسي	ادان	اناپ	اکار	اکام	انبین
نوې پارسي	نادان	بی‌آب	بی‌کار	ناکام	نابینا
منځنۍ پارسي	خانك	نامك	یامك	اراستك	همك
نوې پارسي	خانه	نامه	جامه	اراسته	همه

دګرامر په برخه کښې هم په دې باب څه رڼا اچوو :

مورفولوژي :

دګرامرپه ساحه کښې نوې فارسي دمنځنۍ پارسي دودا وعنعنه ساتلې اوډيره ابره ورنه وړاندې تللې ده .

اسم ذات :

په دواړو (منځنۍ اونوې پارسي) ژبو کښې دګرامري حالت تغير او جنس (مذکر اومؤنث) وجودنه لري اودګرامري حالت اما ده دخدمتي اداتوداضافت دعلامې اوپه جمله کښې دکلمو دترتیب په ذريعه افاده کيږي .

په دواړو ژبو کښې داسم ذات اواسم صفت تر منځه کوم ظاهري ذاتي توپير نشته ډيرځله دغه تو پير يوازې دمعنا په لحاظ کيږي .

جنس :

په اینهو یورو پې کښې اسم ذت اواسم صفت پوشان نښې لرلې چه مذکر اسماء په (و ـ o) اومؤنث په (ا ـ A) پای ته رسيدل. بيالهدغه ژبې نه راوتلونـ رو ژبوځينودغه کتيګوري له لاسه ورکړه اوځينو دغه نښې اوحتی په ځينو کښې د

ACKU

جنس (تذکیر او تانیث) تصور هم له منځه لاړ . دغه حالت په مخینوژبو کې حتی په قبل التاریخ مرحله کښې پیښ شوی دی لکه په ارمیانی ژبه کښې او په مخینو کښې دتاریخ دپیل نه شروع شوی لکه په زړه پارسی کښې . دزړې پارسی په میځی کتیبو کښې په سرعت سره دجنس له منځه تللو مشاهده کیږي او په دې صورت په مغځنۍ اونوی پارسی کښې دغه گرامري کتهگوري نوره نه لیدل کیږي .

په دوارو ژبو کښې یوازې دجنس طبیعی کتیگوري شته لکه (مرد ،زن ، پدر، مادر، برادر ، خواهر) .

مفرد او جمع :

په دواړو ژبو کښې جمع اومفرد شته دتثنیې نښې چه په زړه پارسی کښې کله کله لیدل کید لې دواړې ژبې ورنه بې برخې دي .

دوسره توپیر شته چه په منځنی پارسی کښې دژوند یو د جمع له پاره د(ـ آن) اودنا ژوند یو دجمع دپاره (ـ ایها) سوفیکسونه قیاسي وو .

لکه (گاوان، فرزندان، شپانان، مرتان) په ژوند یو کښې .

مگر دغه سوفیکسونو تر منځه داستعمال پولی پریکړې نه دي .

داضافت علامه :

د مضاف او مضاف الیه (همدارنگه د صفت او موصوف) تر منځه د منځنی پارسی په لیک او تلفظ کښې معروفه (ي) زیاتیده له اوساسانیانو ددورې ترپایه لیکله کیدله .په نوې پارسی کښې دغه غږ په تلفظ کښې په مجهوله (ې)لا تر اوسه موجود دی خو لیکل کیږي نه .

ګرامري حالات:

په اینډو یوروپي ژبو کښې اووه ګرامري حالات موجود وو چه له هغې نه په ټولو ژبو کښې وروسته ورو ورو ډیر له منځه لاړل. تر ټولو زیات دغه حالات په سانسکریت اویولږ نورو لرغونو ژبو کښې په ښه شان ساتل شوي وو. دغه ګرامري حالات چه د ډیرو ډیرو وروستیو په ذریعه افاده کیدل د ژبو د پراختیا په یون کښې وروسته په وروسته یا څو حدودو وروستیو ته راټول شول او بیا د ګرامري حالت په افاده کښې د غلطۍ دلیرې کولو په غرض د دغو وروستیو ځای اداتو او خدمتي کلموته پاتې شو او بالاخره د دغو اداتو استعمال حتمي شو. دغه حالت په انګریزي کښې چه یوازې یو (مجروري) حالت، په فرانسوي کښې چه دوه حالته همدا رنګه په پښتو کښې چه دوه (مجروري اوندایي) حالتونه یې ساتلي دي لیدل کیږي (فاعلي حالت چه د کلمې اصلي حالت دی دلته نه دی شمیرل شوی). په فارسي کښې یو ګرامري حالت هم وجود نه لري بلکې د ټولو ګرامري حالاتو افاده د اداتو په ذریعه کیږي. تر دې چه د زړې پارسي وروستي مرحلې په کتیبو کښې د حالتونو وروستاړي داسې ګډ وډ دي چه انسان د حالت له منځه تللو او ټکل ورته کولای شي او په منځنۍ پارسي کښې بیخي دغه سیستم له منځه لاړ، په نوي پارسي کښې هم د منځني پارسۍ دود ساتل شوی دی.

اسم صفت:

په اینډو یوروپي کښې صفت هم له موصوف نه ترمخه او هم وروسته راتلای شو. همدا رنګه په جنس (تذکیر او تانیث) او حالت کښې سمون ضروري و.

دغه خصوصیت تقریباً په ټولواینډویوروپی ژبو کښی څهناڅه لهمنځه تللی دی. پهمنځنی اونوی پارسی کښی نهد جنس کټیګو ري شته او نه ګرامري حالات. دمقام په لحاظ کهصفت لهموصو فه پـه دواړوژبو کښی ترمخهوي داضافت علامه (ي) هم پهلیک اوهم پهتلفظ کښی وجودنهلري لکهدمنځنی پا رسی (نیوك زن ـنیکهښځه) دنوې پارسی (خوبرو ،جوانمرد)اونو ر داسی توصیفی تر کیب له دوو کلمو څخه یو ه کلمه جوړوي اود کلام دیوه غړي وظیفه اجرا ء کوي .

پهدویم ډول کښی صفت له موصوفه وروستهوي داضافت علامه (ي) ددواړو تر منځه اضافه کیږی لکه : کارنامك‌ي پاپکان ـد پاپکان کار نامه) .

دصفت مقایسوي درجه پهدواړوژبو(منځنی اونوې پارسی کښی) د(تـر) دسوفیکس په مرسته د(هچ ـاز) پهمنځیا یو شان دهلکه دمنځنی پارسی (هچ تودوشتر وزیشترنی دیت ـ لهتالابد اولابدرنګ (ما)نه دی لید لی) .

ضمـیر :

په منځنی پارسی کښی هم آریایی اوهم سامی ضمیر ونه ا ستعمالیدل آریایی ضمیرونه دوه ډوله وو: متصل اومنفصل .دغه ضمیر دفورم اوداستعمال له مخې د نوې پارسی دضمایروسر ه کوم مهم‌او اساسي توپیر نه لـري . دټولو څیړل د لته موضوع بیخی اوږدوي .البته سامی ضمیرونه لکه (یی، لك ،لنا ، لکم) اونورچه په منځنی پارسی کښی ا ستعما لیدل په نو ې‌پارسی کښی نشته .

اسم عدد :

په اسم عدد کښی دنوی او منځنی پارسی ترمنځه دیادوړ هیڅ لیریوالی نشته او کوم لږ توپیر چه شته هغه دادی :

مقداری‌عدد: ۱- دنوی پارسی (یك) په‌منځنی پارسی کښی د (یوك - evak) په بڼه‌دی چه په زړه پارسی کښی د (ا یوه - aiva) په پښتو کښی (یوه) دی .

۲- دنوی پارسی (شانزده - نزده - بیست - سی - هفتاد - هشتاد - نود - صد) په‌منځنی پارسی کښی‌د (شاژده- نوازده- ویست-سیه- هفتات- هشتات- نهوت-ست) په بڼه سوجود وو .

ترتیبی عدد :

دمنځنی او نوی پارسی ترتیبی عددیوازی په لومړیو دری عددونو (لومړی دویم ،دریم) کښی‌توپیر لری او بس . په‌منځنی پارسی کښی له دغو دری عددونو ترتیبی عددونه داسی جوړیدل :

۱ -	یوك -	نخوست - نزیست - فراتوم = لومړی
۲ -	دیتیگار	=دویم
۳ -	سیتیگار	= دریم .

په منځنی پارسی کښی دترتیبی عدد جوړولو بله لاره هم وه چه دمقداری عدد پوری د (ین - in) دسوفیکس په مرسته جوړیدل لکه نخستین (لومړی) پنجین (پنجم) ششین (شپږم) او نور .

فعل :

دخپل جوړښت په لحاظ فعل په منځنی پارسی کښې دوه ډوله ؤ :

الف-ساده : دانستن (پوهیدل) زاتن (زیږول) .

ب- مرکب: لکه اندر زینیتن (نصیحت کول) فرجامینیتن (پا ی ته رسول) مصدری فـو ر می تولی په(تن) پای‌ته رسیدې لکه فرموتن (فرمایل) نیپیشتن (لیکل) . په نوې پارسی کښې ځای په ځای داسوفیکس (تن) په(دن) اوښتی دی لکه (فرمودن) .

فاعلی صفت :

دمنځنی پارسی فاعلی صفت داسی جوړیده چه‌دمصدری لاحقې (تن) حذف او دهغه په ځای (ندك ـ ndak) اضافه کیده‌اوبیا په‌نوې پارسی کښې د(ك) غږ له منځه تللی دی لکه : خورتن ـ خورندك ـ خورنده .

په منځنی‌پارسی کښې‌فاعلی صفت‌بل‌ډول هم جوړیده اوهغه داچه دمصدری لاحقی دحذف نه وروسته (ان ـ an) سوفیکس پرفعل اضافه کیده لکه خورتن ـ خوران . دغه سوفیکس‌په‌نوې پارسی کښې‌هم‌موجود دی لکه خندان،درخشان .

دماضی نه اسم صفت :

دماضی اسم صفت په منځنی پارسی کښې دمصدری (ن) په‌ځای د(ك)دغږ په اضافه کولو سره جوړیده چه په نوې پارسی کښې ددغه (ك) په ځای د(ه) توری په لیك کښې اضافه شوی دی لکه اراستن ـ اراستك ـ اراسته ـ نیپیشتن ـ نیپیشتك ـ نوشته .

حاصل مصدر :

په منځنۍ پارسي کښې حاصل مصدر دمصدري سوفيکس (ن) په ځای د(ايشن) په اضافه کولو سره جوړيده چه په نوې پارسي کښې د(ايشن) د(ن) غږ له منځه تللی او(ايش) پاتې دی لکه: پرورتن ـ پروريشن ـ پرورش ـ مينيتن ـ مينيشن ـ منش .

فعلي زماني :

دزړې پارسي يولړ زماني تصريفونه په منځنۍ پارسي کښې بيخي له منځه لاړل او په ځای يې نوې فورمې راغلې . د بسيطو ـ Syntheticفعلونو ځای مرکبو ـ Compound فعلونو ونيو .

حال: په منځنۍ پارسي کښې دحاليه فعل د(همی ـ Hamay) په مرسته چه دفعل نه ترمخه راته جوړيده لکه همی داريت ـ (تاسو) لرئ .

دمنځنۍ پارسي دغه (همی) په نوې پارسي کښې لوسرې په (همی ـ Hamiy اوبيا په (می) اوښتی اودمنځنۍ پارسي له (همی داريت) نه(ميداريد)جوړشوی دی.

مستقبل :

په منځنۍ پارسي کښې مستقبل د(به ـ Be) ادات په مرسته جوړيده چه دفعل نه به ترمخه ذکر کيده لکه: هگر پوسخ نی دهی پت همزمان په وژنم ـ اگر پاسخ ندهی درين زمان (ترا) خواهم کشت. په نوې پارسي کښې په داسې مواردو کښې د(به) ځای د(خواستن) دفعل ماضي صيغو نيولی دی .

ماضي مطلقه :

په منځنۍ پارسي کښې ماضي مطلقې دوه ټيپه تصريفونه لرل :لازمي اومتعدي .

لازمی ماضی مطلقه :

لازمی ماضی مطلقه دماضی لازمی صفت (رفت ، مرت) څخه دفعلی رابطی په ذریعه چه ریښه یې (ه) وه جوړیدل . دغه فعلی رابطه چه په زړه پارسی کښې د(اه ـ Ah) په بڼه موجوده وه د(موجودیت او شتوالی)معنایی لرله.دغه فعلی رابطه یوازې پهمفرد غایب کښېنهوه . دهغی پهسرسته مثلاً د(رفتن) نهماضی لازمی مرکب فعل تصریف داسی جوړیده :

مفرد : رفت هم (لاړم) رفت هی (لاړې) رفت (لاړ) ـ جمع ـ رفت هیم (لاړو) رفت هیت (لاړیء) رفت هند (لاړل) .

لکه چه لیدل کیږی دماضی لازمی فعل په ټولو احوالو کښې دفاعل سره درابطی په ذریعه مطابقت موسی او دغه صیغی په نوې پارسی کښې په داسی بڼه او ښتی دی چه فعلی رابطه له نظره لویدلی ښکاری : (رفتم ، رفتی ، رفت، رفتیم ، رفتید ، رفتند) .

متعدی ماضی :

متعدی ماضی کټ مټ دپښتو دمتعدی ماضی په شان ایرګاتیف سیستم لاره یعنی لازمه وه چه فعل دصریحی مفعول تابعوی نهدګرامری فاعل . فاعل دټولو صورتونو له پاره بس یوه صیغهوه چه دمصدری فورسی د(ن) له لیرې کولو عبارت وه مثلاً : د(ګوفتن) نه ماضی مطلقهداسی جوړیده : من ګوفت (ساوویل) تو ګوفت (تاوویل) اوی ګوفت (ده و ویل) اماه ګوفت (موږ وویل) شماه ګوفت (تاسو وو یـل) او یشان ګـوفت (دوی و و یـل)

پەنوی پارسی کښی لکه چەلیدل کیږي په تصریف کښی د ماضی لازمی اومتعدي توپیرلەمنځه تللی اومتعدي کټ مټ دلازمی پەشان تصریفوما نه .

ماضی استمراری :

ماضی استمراري په منځنی پارسی کښی د ماضی مطلقی تر مخه د(همی- Hamay) پەاضافه کیدوجوړیدەلکه: (همی خورت، همی کرت - میخورد، میکرد).

امر :

په منځنی پارسی کښی دامرصیغه پەدې ډول جوړیده چه دفعل نەبەمصدري لاحقی لیرې شوې لکه خورتن - خور اندیشتن - اندیش - او کله کله به دفعل ترمخه د (به) ادات هم اضافه کیده لکه (بخور ! باندیش) د جمع له پاره به دامر پەآخر کښی (ایت) اضافه کیده چەپەنوې پارسی کښی و رته (ا ید) جوړ شوی دی لکه بخوریت ! با ندیشیت= بخورید - باندیشید !

قید :

په منځنی پارسی کښی دغه قیدونەموجودوو . ایتر (دلته) پیش (پەمخکښی) پس (وروسته) اندر (پەکښی ، په منځ کښی) ایمروچ (نن) فراژ (پاس) پیرامون (گیردچاپیره) ' « کو » نون (اوس) اندرون (د ننه) بهرون (بهر ، دباندې) میان (منځ) .

ادات :

پەمنځنی پارسی کښې سربیره پرسامی (من ، ما دا م ا و نو ر و) خد ستی کلماتو دغه ځایی ادات‌هم استعما لیدل : هڅ (له)اپر (پر) ازیر(لا ندې) به (. . . ته) تاك (تر) اونور . په منځنی پارسی کښی د فعل‌د نفی له پاره دنوې پارسی پەشان د (نی) او (مه) سوفیکسونه استعمالیدل .

نوې فارسی خصوصا دفعل پەگرامري ساحه کښې‌لږ څه و ړاندې تللې د ه خاصتاً دغه وړاندې تګ دماضی متعدي په تصر یف کښی چه تقر یباً په ټولو آریا یی ژوند یوژبو کښی (غیر له پښتو) لږ اوډیرمنځ ته‌راغلی‌دی ښه څرگندد ی . دزاړه تیپ چیرته چەپەماضی متعدي کښی دعمل فاعل دگرامري مفعو ل ځا ی نیوه (لکه پەپښتو کښې) پەځای نوی تیپ منځ ته‌راغلی (ز یات تفصیل یی دا یر کاتیف سیستم ترعنوان لاندی تیر شوی دی) .

یعنی پەمنځنی پارسی کښی دپښتو پەشان فعل د مفعول تا بع او د ا سی تصر یفید ه :

(ایم‌دیذ،ایت‌دیذ ، ایش دیذ- ساولید ،تاولید ، هغه‌ولید).د د غه تیپ تصریف پەځای د کوسکی فعل د ماضی لەاساسه جوړشوي صفت پەمرسته دمر کب فعل تصریف منځ ته‌راغی چەد عمل‌فاعل گرامري فا عل هم شو. من د یذ م (دید ـ هم) تودیدي (دید هیه) او ...

همدارنګه د ګوسکی فعل په ذ ریعه د فعل د تر کیب سیلا ن په نوې پارسی کښې بیخی څرګند د ی : نو شته ا م ، نو شته بو د م ، خوا هم نو شت نوشته شد او نور .

په نوې پارسی کښې لکه په نورونو و آ ریائی ژبو کښې چه یو بل لو ی تغیر راغی هغه داچه دعربی نه یی ځپله لغوي خواپه اعظمی ډول بدای کړ ه .
د غه اخذ دنورو ټولو ژبو په نسبت په پارسی کښې ډیر زیات ؤ (۱) .

دنوې پارسی ګرامري فورسی په پریکړې ډول د سامانیا نو په و خت کښې قایمی اوبشپړې شوې چه ددغو فورسو په دراولو کښې مخصوصاً رو د کی ا و دده همعصر و شاعر ا نو لوی لاس لار ه (۲)

دلته غوارم د ښکارندوی په ډ و ل د منځنی پا رسی یو بشپړ متن د نوې پار سی سره دمقایسی په غرض وړاندې کړم (۳) .

---

۱ ـ په دې باب د زیات تفصیل له پاره (ایرانی ژبې) او رانسکی له ۱۰ ۱ ترنه ۱۱۱ مخونو پورې .

۲ ـ د (تاریخ سیستان) ژ به نوسی رساله دشوروي دعلوسو د ا کا ډ سی خپرونه ستالین آباد ۱۹۵۹ کال، مقدمه.

۳ ـ دغه متن ا و تر جمه یی له «منځنی پا ر سی ژ به»څخه ا خیستـل شو ې د ي .



Text*

* H.S. Nyberg, *Hilfsbuch des Pehlevi*, I.

151

دا دی په پهلوی د کتابی‌الفباء لیکلی شوی پاسنی متن ترانسکر یپسیون په لاتینی الفباء :

1. rōč-ē Ardavān apāk asvārān ut Artaxšēr ō naxčīr šut ēstāt. 2. gōr-ē andar dašt bē vitart u Artaxšēr ut pus i mas i Ardavān hač pas i ān gōr tāxt. 3. ut Artaxšēr andar rasīt u tīr-ē ētōn ō gōr zat kū tīr tāk par pat aškamb andar šut u ditīgar sōk bē vitart ut gōr apar gyāk murt. 4. Ardavān u asvārān frāč rasīt hand ut kū-šān zaniš pat ān ēvēnak dīt apd sahist ut pursīt kū ēn zaniš kē kart. 5. Artaxšēr guft kū man kart ham. 6. pus i Ardavān guft: nē čē man kart ham. 7. Artaxšēr xašm grift u-š ō pus i Ardavān guft kū hunar ut martānakīh pat stambakīh u dušravīh u druž (ut) adātastānīh ō x^vēš kartan nē tuvān. 8. ēn dašt nēvak ut gōr ētar vas. 9. man u tō ētar ditīkar āzmāyišn kunēm ut nēvakīh u dīrīh ut čāpukīh pat dīt āparēm. 10. Ardavān hač ān dušx^vār sahist ut pas hač ān Artaxšēr nē hišt ō asp nišastan.

ترجمه :

۱- یوه ورځ ارداوان دسپرو او اردشیر سره ښکار ته روان شو ۲- یو ګوړا (دشتی خر) په دښته کښی وزغلید اواردشیراو داردوان مشر زوی دهغه ګوړا پسی‌و زغاستل ۳ - او اردشیرور ورسید او(په) داسی غشی (یی) ګوړا وویشت چه غشی تربڼکو (د ګوړا) په خیټه ننوت او بلی خواته ووت‌او ګوړا (ځای) په ځای سړ شو ۴ - اردوان اوسپاره ورورسیدل او کله چه (یی) داسی ګوزارولید

حیران شول او پوښتنه (یې) وکړه چه دغه ګوزار چاوکړ ۵ـ اردشیر وویل چه ما کړی دی ۶ـ داردوان زوی وویل چه نه ما کړی دی ۷ـ ار د شیر په قهر شواو دار دوان زوی ته یې وویل چه هنراو میړ ا نه په زور، تېنګار، دروغ او بې انصافی نه شي خپلولی ۸ـ دادښته ښه ده او ګوړا دلته ډیر دی ۹ـ زه او ته دلته دویم ازمایښت کوواو ښاغلیتوب اوزړه ورتوب اوچابکی ښکاره کوو . ۱۰ـ اردوان ته داخبره ستوغه وبریښیده اوله هغې وروسته یې اردشیر ته په اس د کښینا ستواجازه نه ور کوله .

دادی دمقایسې په غرض دمتن دلوړیو څلورو جملو په مقابل کښې دنوي پارسي څلور جملې تکی په تکی وړاندې کوم .

منځنی : روچی ا رذ وان ا پاك اسو ار ا ن اوت ا ر تخشیر و نخچیر شوت ایستات .

نوي : روزی اردوان باسواران وارد شیر به شکار ایستاده شد (رفت) .

منځنی : ګوری اندر دشت بیویتارت او ارتخشیراوت پوسی ي سرې ارذوان هچ پس ي ا ن ګور تاخت .

نوې : گور دشتت بگذشت (بدوید) اردشیرو پسر بزرگ اردوان از پسی آن گور تاخت .

منځنی : اوت ارذوان اندر ریست وتیرې یتو وگور زت کوتیر تاك پرپت اشکمب اندر شوت ودیتیگر سوك بی ویتارت اوت گور اپرکیباك سورت .

نوې : واردوان رسید وتیرې طورې به گور زد که تیر تاپر به شکم داخل شد وی دیگر بگذشت وگور برجای (جابرجا) سرد .

منځنی ـ ارذوان واسواران فراچ رسیت هنداوت کوشان زنیشن پت انا یونیك دیت . ابد سهیست اوت پور سیت کواین زنیشن کو کرت .

نوې ـ اردوان وسواران فرار سیدند که شان زنیشن (ضربه) به آن قسم دیدند حیران شدند پرسید که این که کرد .

ددری اصطلاح :

(دری) (نوې فارسی) همدارنگه (فارسی دری) دیوې ژبې بیل بیل مترادف نومونه دی چه دمنځنی پارسی سره ددغی ژبې دامتیاز له پاره وضع شوی دی .

ددری اصطلاح لومړی په ساسانی مرکز کتیسیفون ـ Kteseton (مداین ـ دموجوده بغداد په ځای یوپخوانی ښار) کښې منځ ته راغلی ده . عربی مؤلفینو داسلام نه ترسخه ددغه ښار دساسانی دربارژبه د(دری) په نامه سره یاده کړی ده. چه بیا وروسته دغه اصطلاح په نورو معناوهم استعمال شوې ده . مثلاً په میلادی لسمه ، یولسمه پیړۍ کښې دپارسی هغه سبك ته (دری) ویل کیده چه له هغو سلګونو عربی اخیستل شویو لغاتو خلاص و چه داوخت په ادبی فارسی کښې منل شوی وو .

ددری په اصطلاح به کله کله دیزد، کرمان ، سواندی اونوری لهجی‌هم یادیدلی (۱)

په افغانستان کی هم بیا وروسته دغه ژبه د (دری،فارسی دری) په نامه کله کله یادشوی ده .

نوې پارسی (دری) په یوه لحاظ دزړې او منځنی پارسی یوه نوې فورمه ده نو دنړۍ په علمی حلقو کښې د پارسی دنوې فورمی یعنی (نوې پارسی ، فارسی)سره یادیږی او په بل ملحوظ هم رنگه چه په خراسان کښې ددغې ژبې موجودیت او پرمختگ دتاریخ له مخه دایرانی شاهانو درباروته منسوب دی او دعام‌اولس له پاره داسې ژبه وه چه څوك نه پرې پوهیدل ځکه نود باختری اولسی ژبو په مقابل کښی ددرباری (دری) په نامه یاده شوې ده .

دهمدغه مطلب یادونه عربو سو رخینو هم کړې ده لکه :

۱ ـ الفهرست دابی الفرج بن اسحاق بن یعقوب الند یم ا ال را ق متو فی (۳۸۵) تا لیف .

۲ ـ مفاتیح العلوم د ابی عبدالله محمد بن‌احمدبن‌یوسف کاتب‌خوارزمی متوفی(۳۸۷) تا لیف .

۳ ـ احسن التقا سیم فی معرفة الاقالیم د شمس ا لد ین ابو عبدالله بن محمد بن

۱ـ په دی باب (مقدساتی فیلالوژی) (۲۶۷-۲۶۸) مخونه همدارنگه (شهنامه‌فردوسی) لوسړی‌توك (۳۱۶)مخ دمسکود(۱۹۵۷) کال چاپ‌وگوری .

احمد ابی بکر متو فی (۳۸۰) تالیف (۱) .

دغه عرب سو رخین په خراسان کښې دفارسی ژبی څولهجې یادوی اود هغوی په جمله کښې ضمنا د (دری) نوم هم دیوې لهجې په صفت ذکر کوی اولیکی چه دا ددربار ژبه ده .مثلا دالفهرست مولف د (دری) په باب لیکی چه (....وبها کان یتکلم من بباب الملك فهی منسو بة الی حاضرته الباب . . . . . (۲).

تر جمه (. . . . . او په هغی (دری) د پادشاه ددربار و ګړو خبرې کوای نو دا در بار ته منسو به ده . . . .)

په دې باب غوارم دیو لړ ایرانی محققینو نظریات هم وړاندی کړم :

په دې باب دیوه ایرانی پوه محمد تقی بها ر (ملك الشعرا)د لیکنی لنډ مطلب دادی :

د دری ژبی د(دری) د کلمی دحقیقی معنا په باب اختلاف موجودا و پـه قامو سونو کښې دتسمیې مختلفی وجهی ورته یادی شوی دی .

یوه داچه دا دځو ښارونو بلخ ،بدخشان بخارا . . . . ژبه وه . دځینو پـه خیال داد (کیان) ددر باریانو دخبرو ژبه وه ـ ځینې وایی چه د بهمن اسفندیار

---

۱ ـ ددغو عربو سو رخینو سفصل روایات په (تاریخ ادبیات ایران ـ جلد اول) د دا کتر ذ بیح الله صفا په تا لیف کښې ـ تهران ۱۳۳۲ کـا ل همدارنګه دافغانستان د ۱۳۳۱ کال په کالنی کښې دښاغلی جاوید په مقا له (افغا نستان یا مهد زبان دری) کښې وړاندې شوی دی .

۲ ـ تاریخ ادبیات ایران مو لف دا کتر ذبیح الله صفا .

په وختو کښې څه رنګه چه ا و لسی وکړی دربارته راتلل اویو دبل په ژبه نه پو هېدل بهمن وفرمایل چه پوهان دې یوه‌ژبه وضع کړی او هغه یې (دری) وبلله یعنی هغه ژبه چه دپادشاه په دربار کښې پرې خبرې کیږی‌او حکم یې وکړ چه په ممالکو کښې دی په همدغه ژ به خبری کیږی .

(دری) ته هم ځینو منحو به کړی ده لکه : (کبك دری) (۱).

په دې باب د برهان قاطع دلیکنې لنډ مطلب داسی دی :

(د ری) دلومړی توری په زور د (پری) په وزن دباستانی پارسی‌لغت‌دی او دتسمې وجه یې ځینو فصاحت ښوولی ده او هر لغت چه نقص و نه لری هغه ته (دری) وایی لکه په (اشکم) او (شکم) او . . .) (۲) برهان قاطع ددغی نظریې له ښکاره کولو وروسته هماغه روا یتو نه و ړ ا لدی کوی چه دملك الشعرا له خواوړاندې شوی دی .

په دی باب‌بل ایرانی محقق داکتر ذبیح الله ڈ یر څه لیکلی دی (۳) چه لنډ مطلب یې د ادی:

---

۱ ـ په دی باب (سبك شناسی یا تاریخ تطور نثر فارسی) اومړی ټوك د محمد تقی بهار ملك الشعرا تالیف دتهران چاپ ته مراجعه وکړیء.

۲ ـ برهان قاطع دابن خلف تبریزی تالیف د (دال) ردیف‌وګوریء .

۳ـ تاریخ ادبیات ایران ـ جلد اول ـ مولف ډاکترذبیح‌الله‌صفا ـ تهران ۱۳۴۲ کال له (۱۶۳ نه تر ۱۷۵) مخونه وګوریء.

(په دري) (فارسي دري) سره ددغې (فارسي) ژبې دتسمیې وجه دا ده چه هغې دشاهانو په دربارپورې تعلق لاره . . . دغه‌قاعده له قدیمه معمول‌ له وه‌چه ددربار ژبې ته دري ویل کیده . دالفهرست مولف ابن‌الند یم د المقفع له نقله روایت کوي‌چه‌دساسانیانو ددربار ژبې ته(دري) ویل کیده . . . .

بل ځای لیکي : . . . این (پارسي) که در تسمیه فوق بکار رفته‌است بیشتر برای مقابله باعربی (تازی) وتر کی بکار رفته وبمعنی اعم (ایرانی) است.

دري هماغه درباري ژبه وه‌چه په هجري دریمه او څلو رمه پیړی کښې درباري شاعرانو او لیکوالو په کاراچوله . . . . ددریمې څلورمې هجري پیړی نه وروسته دغه‌لهجه (دري) چه دخراسان په اسلامي‌دربارونو کښې رسمي ژبه شوه د (دري) (فارسي) یا (پارسي) په نامه یاده شوه او د عربي (تازي) (او پهلوي) په مقابله پرته ده . . . .

ډاکتر ذبیح الله صفا لیکي : « دلته (پارسي) د (ایراني) په معناده نه دا چه نسبت یې کومې‌خاصې قبیلې ته یا قبایلو ته شوی‌دی » . نوموړی‌ډاکتر د خپلې ادعا داثبات له پاره یولړ شواهد وړاندې کوي او لیکي:« په تفسیرطبري کښې چه دمنصور ابن نوح ساماني په امر له عربي نه په فارسي ترجمه شوی دی په هغه کښې لیکل شوي دي‌چه « این کتاب بزرگ از روایت . . . ترجمه کرده وبزبان فارسی دری راه داشت » څو کرښې وروسته لیکي« و چنان خواست که این را ترجمه کنند بزبان پارسی » .

دډاکتر صفادا استناد څرګند وی چه د ترجمه شوي تفسیر له پاره دلته (پارسی دری) او (فارسی) دوه مترادف نومونه دی .

دفارسی ژبی معتبر شاعران او لیکوال چه تیر شوی دی د هغو په لیکنو کښی داسی شواهد نشته چه (دری) له نوي فارسی (یعنی دري) او سنځنی پارسی څخه له راوتلی او د هغو په مقابل کښی پرتی (فارسی) ژبي نه جلاوبنئی .

د دغو شاعرانو په جملو کښی دمثال له پاره فردوسی وړاندي کوو . فردوسی چه د نصر ابن احمد په امرد عبدالله ابن مقفع کلیله او دمنه په فارسی ترجمه کړي ده خپله ژبه کله (پارسی دری) او کله (پارسی) بولی فردوسی وایی :

بتا زی همی بو د تا گاه نصر ‌ ‌ ‌ بدانگه که شد درجهان شاه نصر

بفر مو د تا پا رسی د ری ‌ ‌ ‌ نبشتند و کـتاه شـد دا وری

فر د وسی بل ځای لیکی :

بسی رنج بردم درین سال سی ‌ ‌ ‌ عجب زنده کردم بدین پار سی

بل ځای(دری) او (پارسی) د پهلوی په مقابل کښی په مترادف ډول یادوی :

کجا بیورا ز پهلوا نی شمار ‌ ‌ ‌ بود بر ز با ن د ری ده هزا ر

نگر آ نکه گفتار او بشنوی ‌ ‌ ‌ اگر پارسی گو ید ا ز پهلوی

ددي موضوع زیات تفصیل د کابل مجلی د (۱۳۴۹) کال په ګڼو کښی وګوری .

يادونه: دفارسي په باب له دغو مأخذونو څخه زياته استفاده شوې ده:

۱- (ايراني ژبې) د ي. م. او رانسکي تاليف - مسکو (۱۹۶۳)

۲-«ايراني مقدماتي فيلا لوژي» . . او رانسکي - مسکو (۱۹۶۰)

۳- (منځنۍ پارسي ژبه) مولفه و. س. راستورگويفه - مسکو (۱۹۶۶)

۴- (دپهلوي - پارسي، ارمياني، روسي او انگريزي قاموس) مولف پروفيسر ابراميان ايروان (۱۹۶۵) کال.

څلورم پاړکی

میدیك ژبې

ACKU

پارتیانی (اشکانی پهلوی) ژبه :

پارتیانی ژبه د(پارتیا) لرغونی تاریخی ایالت ته منسوبه ده چه د کسپین د بحیری په جنوب ختیځ کښی واقع و. په لرغونو او منځنیو پیړیو کښی دغه ژبه دمنځنی آسیا په‌جنوب‌لویدیځه برخه (دتور کمنستان جنوبی برخه اوخراسان) کښی خپره وه. خراسان دمنځنی‌آسیا دیوې پراخې سیمې تاریخی نوم دی چه په‌لویدیځ کښی‌ددشت کویر اوپه‌شمال کښی‌د هند و کش اودآسود غاړو پورې‌یی لمن غزیدلې وه. دمعاصر افغانستان یوه زیاته اندازه سیمه دتاریخی خراسان په حدود و کښی شامله وه. دخراسان معنا (ختیځ، مشرق) دی (۱) دغه نوم ایرانیانو په‌دغه‌برخه‌ایښی‌ؤ.

۱- ایرانی ژبی (۷۱) مخ.

دپارتیا تاریخي سیمه دهخامنشیانو دامپراتورۍ په قلمرو کښې داخله وه خودمقدونی سکندرد تهاجم په اثرد هخامنشیانو امپراتوري ټوټه‌ټوټه‌شوه‌او بیادسکندر له مړینې وروسته‌دده امپراتوري هم په‌خپل حال پاتې نه‌شوه او دده دفوځي مشرانو په مشرتوب واړه واړه دولتونه منځ ته راغلل . ختیځې برخې دیوه فوځي مشر سیلیوکس دواکمنی لاندې راغلې چه په (۳۱۲) قبل المیلاد کښې جوړه شوې وه . مګر په دغه واکمن کښې دوسرۍ قدرت نه وچه خپلې واکمنۍ ته ادامه ورکړی . تقریباً په (۲۵۰) قبل المیلاد کښې له دغې واکمنۍ څخه دوه نوی ایالتونه (باختریا او پارتیا) خپلواك شول .

دباختریا په قلمرو کښې دغه وخت دسوغد ، مرګیانه (سرغاب) ، اریا ، ارا خوزیا ، درنګییانا (سیستان ، هیلمند) اونور او همدارنګه دهند دنیمې قارې دشمال لویدیځ سیمې او تاریخي ولایتونه شامل وو . دباختریا دخپلواکۍ سره سمه په‌یوه وخت کښې پارتیا هم داولسي یوه‌لوی قیام‌په‌نتیجه کښې خپلواکه شوه . ددغه قیام مشرارشك (۱) نومیده چه دقیام دبریالیتوب په اثر دی دټولې پارتیا واکمن او دده کورنۍ تقریباً پنځه سوه کاله واکمني وکړه . وخت په وخت یې واکمنۍ پراختیا وموند له او ټول ایران یې هم په خپل سیاسی

۱- د (ارشك) له نومه وروسته د (ر) غبر لویدلی چه (اشکانی) دهمدغه نوم اوښتې بڼه ده .

قلمرو کښې شامل کړ. پایتخت یې موجوده عشق آباد ته نژدې په (نیسه) کښې واقع وچه بیاد نظامی بریالیتوبونو په اثر لویدیځ ته نقل شو. لومړی د کسپین په جنوب ختیځ کښې، بیا په اکباتان او بیا د معاصر بغداد په سیمه کښې پخوانی ښار (کتیسیفون ـ Ktesefon مداین) ته د غه پایتخت نقل شو. (۱) په دغه وخت کښې پارتیانی دولت هم په اقتصادی او هم په نظامی لحاظ دومره قوی ولکه په اروپا کښې د روم ـ امپراتوری د پارتیانی امپراتوری دقوت یوسبب داهم وچه د مدیترانی په غاړو دهند او چین خواته دجهانی تجارتی لو یې لاری یې په خپل واك کښې وې مگر دغې مقتدری امپراتوری د میلادی د ریمی پیړی تر پیله پوری دوام وکړ نور بې د ساسانیانو له خوا ماتی وخوړه (۲).

داشکانیانو په عصر کښې دغه ژبه د ټولی پارتیا او داشکانیانو د سیاسی قلمرو دولتی ژبه وه خو دعربو تر فتو حاتو ددغې ژبې دنفوذ ساحه دمنځنۍ پارسی په ذریعه (خصوصاً په ښارونو کی) ور تنگه او و رو په ورو له منځه لاړه تردې چه د (پهلوی) کلمه عربو سو لفینو ته په دغه معنا نوره څرگنده نه وه.

د موندل شو یو کتیبو له مخی اشکانی دوسره بهایه نه وه، ددې په باب دځیړنو اساسی لیکلی مواد یوازې مانی متنونه دی چه په دغه ژبه لیکل شوی دی (ددغو متنونو بحث د ساسانی پهلوی په بحث کښې وکوری).

---

۱ ـ دغه ښار عربو د (مداین) په نامه زیات مشهور کړی دی.

۲ ـ مقدماتی فیلا لوژی (۱۳۵ ـ ۱۳۶) مخونه.

دنسبې خپلوی له مخې دغه ژبه دسیدیك ګروپ(بلوچي، کوردی، تالیشی او نورو) په کتار کښې دربیږي مګر پارتیانی ژ به په خاص ډول دباختری ژبو نه لغوی لویه پانګه اخیستې ده . ددی‌دلیل‌دمحققینوپه‌عقیده‌دادی چه پارتیانی دباختری‌ژبوسره‌نژدې ګاونډی‌وه اوډیرې‌اخیستنې‌یې ورڅخه کړی دی‌اوبله‌داچه ددې ژبې ویو نکی (پارتیان) په ختپه باختریان وو (۲) .

اشکانی (پار تیانی)چه دمید یك له ګروپه ده البته‌دپیرسیك ګروپ(منځنی پارسی ، دری او نورو) په مقابل کښې بیل ګروپ‌تشکیلوی او ددغه بیلتون په اساس مثلا د (دری) سره دغه مشخص تو پیرونه لری :

۱ ـ پارتیانی داضافی او صفتی تر کیب له پاره د (ي ـ e) غږ نـه لری مګر ددغه مقصد له پاره په منځنی پارسی کښې د (ي ـ i) او په نوې پارسی کښې د (ې ـ× e)غږزنه مو جود د ی چه په خپل وارد زړې‌پارسی د (هیه ـ hya ـ نسبتی ضمیر)او بنتی بڼه ده .

۲ ـ دمفرد متکلم ضمیر په پارتیانی کښې د(ز) په بڼه دی حال دا چه په منځنی پارسی او دری کښې (من) دی چه په زړه پارسی کښې (ادم)و .

۳ ـ دفو نیتیك په څینو بر خو کښې لکه څر نګه چه نو ری سیدیك ژبې له پیر سیك ګروپ نه لیری او دباختری ژبو سره‌نژدې کیږی ، دغه‌شان‌پارتیانی‌هم دمنځنی‌پارسی‌او دری‌نه‌لرې اوباختری‌ژبوته‌نژدې ده لکه‌په‌لا ندې‌مثالونو کښې:

پښتو	نوې‌پارسی	منځنی پارسی	الف : پارتیانی
زړه	دل	دیل	زیرد- Zerd

---

۱ ـ ایرانی ژ بې (۷۷ ـ ۷۸) مخو نه .

زن	دان	د ان(د انش)	پی+ژندل
ژن (ژیوندک)	زن (زند غان)	زن-زنده	ژوند،ژوندی
ژنین	زن	زن	جنی(ښځه)

ب : -د پارتیانی د (س) دغږ په مقابل کښې منځنی او نوې پارسی د(ه) غږ لری .

پارتیانی (د س) نو ی او منځنی پارسی (ده) .

ج : - د پارتیانی د(ز) دغږ په مقابل کی منځنی او نوې پارسی د (د) غږ لری:

پارتیانی (زوش) منځنی او نوی پارسی (دوست) .

د : - داویستا اوزړی پارسی د (ذ ر) غږ په پارتیانی کښې د (هر) په غږ منعکس دی .

مګر په منځنی او نوی پا رسی کښې د (س) په غږ . پارتیانی(هری ،پوهر) منځنی پارسی (سی ، پوس) نوی پارسی (سی ،پسر) (۱) .

داده په اشکانی دمانی دمتن دیوې برخې لوست او تحلیل وړاندې کوم(۱) .

---

۱ - په دی باب (دپهلوی پار سی. . .) قاموس (۱ ۳۰- ۳۰۲)مخونه همدا رنګه ایرانی ژبی (۱۸۳ - ۱۸۴) مخونه وګوری .

۱ - دد غه متن لوست ، تر جمه او تفصیل بناغلی اورانسکی په دغه حواله وړا ندی کړی دی.

M. Boyce' The Manichaean Hymn—cykles in Parthian , Oxford University Press, 1954.

ضمنا باید وویل شی چه غږیز توری په ترانسکر یپسیون کښې نه دی ښوول شوي .

'z pd zwš št'n'n

'wd frẇz'n pd b'xwr

'br'ž hrw z'wr'n

'wd xšynd'n [w] ystmbg

تفصیل :

ز (Z) دمفرد متکلم فاعلی ضمیر دی داضمیر په پښتو کښی د (زه)په او یستا کښی د (آزم) په سوغدی کښی د (ز ـ ZW) په ساکی کښی د (ازو ـ Azw) په او سیتی کښی د (از) او په ټولو باختری او حتی لرغونو اینډو یورو پی ژبو کښی د (ز) په غیر داضمیر موجود و. پد(Pd) خدمتی کلمه ده د پښتو د (په) په معنا . داادات په باختری او حتی اینډویوروپی ژبو کښی ثابته ریښه لری . خو دلته یی را سپړل موضوع بیخی او ږدوی . ددغه ادات له پاره په نوی پارسی کښی د (به) خدمتی کلمه موجوده ده .

زوش (Zwsh) د ا اسم ذات دی . د (هیلی) او (مینی) په معنا . ددې کلمی ریښه په اویستا کښی (زوش ـ Zaosh) په زړه پا رسی کښی (دوشتر ـ daushtar) په منځنی او نوی پارسی کښی (دو ست) ده.

ACKU

ستن (St'n'n) مستشرقینو دد غه فعل رابطه دپا ر سی د(سیستا ن ـ اخیستل نیول) سره ورکړی ده زمارپه عقیده د پښتود (ستنول ـ ستنیدل ــ ستنه، ستو ن) سره دریښی خپلو ی اری یعنی (له زمکی آسمان ته ستنول)دامعنا دلته موزو نه بر یښی .

ود(Wd)دعطف ادات د ی چه په پښتو کښی د(او) په فارسی کښیې(و)اوپه زړه پښتو (باختري)کښی د(اوته) په بڼه دی . بشپړ تفصیل ئـی دسره کو تل د کتیبی ددریم پراګراف په تحلیل کښی وړا ندې شوی دی .

فروزن ـ(frwz'n) دادحال له اساسه دمستقبل دمفر دمتکلم صیغه ده دا کلمه په اویستا کښی (فراواز) په منځنی اونوی پارسی کښی (پرواز) ده .

بزور ـ (b'zwr)د اسم ذات د ی دپښتو د (وزر) پارسی د(با ل)به معنا.

بر ـ brد (بر ، پورته ،هسك) په معنا ـ بشپړ تحلیل یی د سره کوتل د کتیبی په دویم پراګراف کښی د(برغه) په تحلیل کښیوګوری ء .

ژ(Zh)داخد متی کلمه دپارسی د(از)دپښتود (له)په معنادد ې کلمی ریښه په اویستا کښی (هچه)په زړه پارسی کښی(هچا)په منځنی پارسی کښی(اچ)ده. اودپښتو په (زما=ز+ ما) (چخه = څه +خوا) کښی دا ر یښه سو جو ده د ه .

هرو (Hrw) د(هر ـ ټول) په معنا .دا کلمه په اویستا کښی (هور ووا ـ Haourva) په زړه پارسی کښی (هرووا ـ Haruva) په پښتو اوپارسی کښی (هر) ده .

(زورن ـ Z'wr'n)اسم ذات د (زور)جمع ده (ن)چه غالباً (و)یا(الف)یی ترمخه

شته دجمع سوفیکس دی دغه سوفیکس (الف+ن) دسا(رونکواو(و+ن) دسانه(رونکوله پاره په پښتو کښې ژوندي دي .

خشینددن Xshydd'nاسم ذات جمع د (خاوند او پاچا) په معنا. ددغی کلمی بشپړ تحلیل دسره کوتل د کتیبی په دویم پراگراف کښې د(بغه شاو) ددویم توکی په تحلیل کښې وړاندې شوی دی. (و، یستمبگ ystmbg "W")اسم صفت د (یاغی او نا- مطیع) په معنا. (ستم) اود اویسنا (ستمبه) ته دد غی کلمی سره دخپلوی ربطور کړشوی دی.

ترجمه :

زهپه مینه (تا) له تولوز ورونو او یاغی پاچایانو ستنو م اوپه وزرورا الوزوم .

یادونه : په دې برخه کښې زیاته استفاده له د غو کتابونو شوې ده :

۱- (ایرانیژ بی) دنباغلی م .اورانسکی تالیف مسکو ۱۹۶۳ کال .

۲ -(منځنی پارسی ژبه) مولفه و . س . راستور گویفه مسکو ۱۹۶۶ کال .

۳ -« دپهلوی، پارسی، ارسیا نی روسی او انگریزی قاموس» د پروفیسورابرامیان تالیف دایراوان چاپ ۱۹۶۰ کال .

۴ -مقدماتی فیلا لو ژی - داورانسکی تالیف.

بلوچ او د هغو ژبه:

بلوچستان د يوې لويې سيمې نوم دی چه ختيځ خواته يې د پښتونستان څه برخې او د پاکستان د سيند ايالت دی، د شمال خواته يې افغانستان، او ويديځې خواته يې ايران او د جنوب برخې ته يې د عرب بحيره پرته ده .

د بلوچستان نه علاوه يو زيات شمير بلوچان د افغانستان په جنوبی ولايتو او د ايران په جنوب ختيځوايالاتو کښې هم ژوند کوي. د افغانستان په خاوره کښې له اتيا زره ، په ايران کښې له (۳۰۰) زرو، په عربی ټاپو ګانو (مسقط ، عمان او نورو کی) له (۲۵) زرو او په بلوچستان کښی له يو سليون څخه زيات بلوچا ن ژ و ند کوي . په شوروي کښی هم د دوی شمير له پنځه زره زيات د ی چه ټول بلوڅی ژ بی تقريبا يو نيم ميليو ن ته رسيږي . (۱) .

---

۱ - مقدماتی فيلا لوژي (۳۲۳) مخ .

بلوچستان ډیر وخت دباختر په یونانیانو ،موریانانو او کوشانیانوپورې تړلشوی ؤ اوپه اخر کښې دسامانیا نوپه لاس کښې کښیووت اوبیا په اومه پیړی کښې عربو خپل تصرف ته راوو ست وروسته بیا بلوچستان دصفاریا نواوغزنو یانوددولت جزء وګرزید .دمغوا و د امپراتوری له منځه تللووروسته چه بلوچستان یې هم په لاس کښې ؤبلوچستان په ابدالی دوات پورې وتړل شو .

دافغاناو انګلیس دلوسړی جګړې په وخت کښې انګریز انو دبلوچستان په مر کز (کلات) باندې یرغل وکړ اودهغه ځای مشردوم میرمحراب خان یې وواژه .

دګندمك دتحمیلي تړون نه وروسته دبلوچستان زیاته برخه دافغانستان څخه جلااو دبرتانیې داداري لاندې راغله (۱) .مګر بلوچانوخپله رابطه دافغانستا ن سره نه شلوله .

همیشه لکه په (۱۸۶۲-۱۸۵۲) (۱۸۹۷، -۱۸۹۸ -۱۹۰۱)کلونو کښې یې دانګریزانو سره سخت جنګونه کړي اودانګریز په مقابل کښې یې همیشه د افغانستان ملاتړ کړی دی (۲) .

دبلوچو لرغو نی تار یخ :

دمیلاد نه ترمخه په وروستیو پیړیو کښې دمیلادي لومړیو ز رو کلو نولومړی نیمایی پورې دبلوچستان اوسیدونکی له دریو اساسی قومونوڅخه مر کب وو :

۱- آریانادایرة المعا رف د(بلوچ) کلمه وګو ری ۰ .

۲- مقدماتی فیلا لوژي (۳۲۵) مخ .

۱ ـ آریایی ـ په‌لوید یخ او شمالی بلوچستان کښی .

۲ ـ اینډوآریایی قوم ـ په‌جنوب ختیځ اوپه‌ختیځ بلوچستان کښی.

۳ ـ دراویدي ـ چه‌اکثره یې په‌سرګزي بلو چستا ن کښې میشته و و البته ځینې یې دبلوچستان په‌نورو سیمو اوهمدارنګه د کرمان په‌ختیځ اوجنوب کښی هم او سید ل .

دبلوچی ژبی دویونکې ټولنې تشکیل په کرمان اومکران کښې دهغوآریایی کوچیو بلوچانو دنهضت سره اړه لري ، د کو مولو سړ نی تا ټو بی چه د کسپین دبحیر ې غاړوته نژدې سیمه‌وه . له هغه‌ځایه د د وی د مها جر ت نیټه ا و علت لا ترا و سه په‌بشپړ ډ و ل څرګند نه دی . امکان لري علت یې د لو مړي خسر و نوشیروان هغه یرغلونه وی چه‌د ګیلان او آزربایجان په او سیدو نکو یې کو ل اویا دیفتلیانو هغه حملې وې چه‌دایران‌په‌شمال یې کولې (۱) . په دغه صورت دبلوچو دیو ه ګروپ مهاجرت دځینو مؤرخینو په خیال تقر یباً په میلا دي پنځمه اوشپږمه پیړی کښی شوی د ی . مګر غا لبه دا د ه چه د مها جر ت علتو نه یې نو روي اودغه مهاجرت له‌دغه وخت ډ یر پخوا شوی و ي . په د ې با ر ه کښی دسترابون روایت هم په‌زړه پورې دی چه‌وایی : د کرمان‌اوسیدونکی بیل کړ ه وړه اوداسې‌ژبه لري چه‌زیاته برخه یې‌پارسی اوسیدي ده . د بلو چانو ژبه د یو ه هغه لرغونی آریایی توکم ژبه‌ده چه په‌میدیا اوپارتیا کښی اوسیدل .

---

1. M. Longworth Dames, the Baloch race P 29.

د غه روايت ددغه تکی تقويه کوي چه دبلوچانو لو سړنی تا تو بی د کسپین جنوبی سواحلوته نژدې سيمه وه . دغه لرغونی ژبه له يوې خوا د پا رتيانی ژ بی سره نژدې خپلوي لري اوله بلی خوا دځينو ژبنيو خصوصياتو له مخې و ر نه ليري کيږي . د کسپین جنوبی سواحلوته له نژدې سيمونه دبلوچانو سها جر ت د ا هم ښيی چه ددوی ژبه د هغه ځا ی دنوروآريايی دياليکتونو(فاروي) ا و (خور ي) سره زياته خپلوي لري .

د(بلوخ —بلوچ) د کلمی ا يتيمو لوژيکه ريښه اودهغی معنا څرګندونه ده . دي . هيرڅفيلډ (۱) په عقيده د (باو چ - بلو خ) کلمه له د و و تو کوجوړه ده:

(برز-لوړ، بر، هسك+ واچيه - ويل) يعنی (لوړ غږی، د لوړ غږ خاوندان) په ميدي ژبه کښی (برزه واچيه (brza—Vaciya)دلوړ غږ معنا ورکوی.

د کوثر غورياخيل دتحليل له مخی (بل) د(قوت) او(سيك) معنا ورکوي ، چه په سانسکريت کښی هم دغه کلمه په همدغه معنا ده او (اوچ) د(اوچت) په معنا يعنی غښتلی، قو ی اواوچت وګړی. زما په خيال دا کلمه د پښتو (بړيخ) سره ډير نژدې ورته والی لري.

لا نګورث ديمس دا کلمه دچرګ د کر کرې په معنا ا خيستی ده . دد غی نظريی خاوندان وايی چه پخوا به بلوچانو خپلی خولی دچرګانو په بڼکو ښکلی کولی .له دغه ځايه دغه خلك په دغه نامه يادشول (۲).

1— E.Herzfeild, zoroaster and his world. vol.11,pp. 734—735 princeton 1947.

2— M.Longworth Dames, the baloch race.p.22, londen 1904.

داسلامي دوري مؤرخينو لا داووسي پيړۍ په نيمايي کښې په دغو سيمو کښې دعربو دفتوحاتو د يادوني په ترڅ کښې (د کوفيچيانو ـ د دغه ځای د ارغونو اينډ و آروپايي قبايلو د پاتی شونو سره) د کرمان دغرونو او درود سحدود ی سيمې اوسيدونکو په نامه ياد کړي دي دلسمې پيړۍ ترآخره پورې دوی يوازي د کرمان اويد يځی اوشمالی سيمې فتح کړې وې (۱) حال داچه زيات شمير بلوچان داوخت هم په سيستان اوپه لويد يځ مکرا ، کښې ميشته وه (۲) .

دبلوچانو ژوند اساسا د کوچيانو يا نيم کوچيانو په توګه روان ؤ. عربو فاتحانو وروپه وروپه دوی کښې اسلام خپور کړ ، مګراسلام ددوی په خاوره کښې ډير په تدريج ريښې وغزولې .

دلسمې پيړۍ مورخينو دهغه وخت دبلوچانو په باره کښې ليکلي دي چه دوی تش په نامه مسلمانان دي (۳) په بلوچستان باندې د عربو فاتحانو اکمنی (دبلوچستان په يوازې مرکزي او محکمو کلابندو سيمو کښې) د لسمې پيړۍ ترپايه موجوده وه .

---

۲ ـ ابن خرداذبه (کتاب المسالك والممالك) ۹ ۳ ـ ۳ ٥ مخونه (حدودالعالم) (٦ ٦ ۲) مخ ، الاستخري (کتاب المسالك المـمالـك) ۱٦۳ـ۱٦۳ مخ .

۲ ـ جوزجانی په (طبقات ناصري) کښې دسيستان په يوې ختيځې برخې کښې ديوه اولس يادونه کوي چه د کوسبز (اوبلوچ) په نامه ياديدل لومړی توک ۳۹ ۱ مخ .

۳ ـ المقدسی (احسن التقاسيم) ۷ ۸ ۳) مخ .

په (۹۷۶) کال کښې دعربو په لاس کښې دبلوچستان لږې برخې وې . ابن حوقل دعربو په تصرف کښې يوازې د کيکانان (معاصر کلات) يادونه کوي .

له هغې وروسته ډيرژر دغزنې حاکم سبکتګين د بلوچستان شمال ختيځ په خپل تصرف کښې راووست .

په يو لړمنا بعو کښې سونږ د هغه د خلف (خوزدر) نوم په جالوان کښې مونډلاي شو چه دسختو جګړ ونه وروسته د غزنوي محمود له لاسه ماتې وخوړه اود ده تابعيت يې ومانه داهم څرګنده دهچه دمکران حاکم دغه سلطان ته ماليه ورکوله (۱) . په سيستان او خاران باندې دبلوچانو يرغلونه ددې سبب شول چه ديوولسمې پيړۍ په سر کښې د غزنويانو کرمان ته ليږل شويو لښکرو د حابس په سيمه کښې بلوچان سخت وزپل (۲) .

دغسې پهښې ديوولسمې پيړۍ په نيمايي کښې دسلجوقيانو له خوا تکرار او ددې سبب شوې چه دبلوچانو يوه برخه دسيستان اودکرمان د شمال نه د لويديځ خوا مکران ته وليږي اوپه لويديځو سيمو پنجګوره کښې يولږ بلوچان ميشته شي(۳) .

په معاصر بلوچستان کښې دبلوچانو ميشته کيدل ددوی دمليت دتشکل مهم تاريخي عصر دی .

۱- ابوالفضل بيهقي (تاريخ مسعودی) (۵۳۳ - ۵۳۶) مخونه.

۲ - نظام الملك (سيستان نامه) ۶۸ - ۷۲ مخونه .

۳ - المقدسي (احسن التقاسيم) (۴۷۸) مخ .

په دغه ځای کښې په لسمه ـ دیارلسمه پیړیو کښې دبیلوبیلو توکمونود ګډون اوپه یوه ځای دېروخت راتولیدل دیوې ګډې ټولنې اوشریکې ژبې دمنځ ته راتلو اوتشکل سبب شول اود (باوچ) یواولس جوړ شو.

په دې ځای کښې د پښتونکو په لاس و رغلی فولکلوري روایات هم په زړه پورې دي چه دهغو له مخې د بلوچانو په یوولسمه ، دولسمه پېړی کښې پخوانی نیکه سیرجلال خان څلور زامن (ریند ، لشر، خوت او کورای) اویوه لور (جاتو) دراودل اوله دغوڅخه دبلوچانو لویې څانګې خپرې شوې (۱)

داسې ښکاري چه په دغه وخت کښې د (بـلـوخ) داولس دجوړو ونکو اولسونو یووالی منځ ته راغلی وي .

دغزنویانو ، غوریانو اوخصوصاً دمغولوله خواچه ددیارلسمې پیړی په نیمایی کښې اساساً دافغانستان په لویدیځو اودایران دختیځو سیموپه اوسیدونکو بلوچانو یرغلونه کیدل ددې سبب شول چه دبلوچانونه ډیرې زراعتي ځمکې تشې شي ـ او ځوسلوك الطوایفی لکه توران (په ختیځ بلوچستان کښې چه مرکز یی (خوردر) ؤ ، کند ابیل (معاصره ګنداوه) او کیچ (په جنوبی مکران کښې) او نو رې له منځه لاړې شی .

دغه پیښې ددې سبب شوې چه بلوچی قبایل له مکرانه وزاندې د شمال او شمال ختیځ په لور د اباسین اوپنجاب ترپولو خپاره شول .

په مرکزي بلوچسان (کلات) کښې د بلو چو مهاجرت چه د برا هو ی دقبا یلو د

1— M.M.Longworth Dames,the baloch race ·P 34.

سخت مقاومت سره مخامخ شو په دوو بهیرونووو ېشل شول . یوبهیر یې دخوارلسمې پیړۍ په پیل کښې لاندېنۍ اباسین اوبل یې دمعاصرو دیره جاتو سیمو ته وو .

په (۱۳۷۰) کال کښې دملتان واکمن شاه حسین لنګه (۱۳٦۷ - ۱۵۰۲) دغه بلوچان دهند په لویدیځو غاړو کښې میشته کړل. دپنځلسمې پیړۍ په پای کښې اسماعیل خان ، فتح خان اوغازي خان ددریوبنارونو اساس هلته کیښود چه تراوسه دغه ښارونه ددوی په نومو نوېادیږي (۱) .

ددوی دنفوسو ډیرښت اودځړځایونو کمی ددې سبب شول چه ددوی وخت په وخت نوي نوې سیمې لاندې کړي مغلوبو وګړو به ددوی اسارت مانه او یا به نوروسیموته کوچیدل .

دبلوچو سره دهغو جګړو فکراو احساس ډیرزیاتیده چه په لسمه، یوولسمه پیړۍ کښې یې ددوی په مقدراتو کښې په نقش لوباوه اوپه نتیجه کښې بلوچ دیوه تورزن قوم په صفت تبارزو کړ .

دمغولو او دهغوی داخلافو ملوك الطوایفی حکمرانانو د سختو او بی رحمه یرغلونو اوخرابیو په نتیجه کښې چه دبلوچو زراعتی ځمکې شاړې شوې د خړوبولو کانالونه وران اووچ شول اوله نفوسه کې سیمې تشې شوې . د دې پیښو په اثر بلوچانو دکوچیانو یانیم کوچیانو په دول ژوند روان کړ اودځمکو دکرلو په ځای یې مالدارۍ په ملی اقتصاد کښې ځای ونیواو دبلوچانو ژوند تقریباً خپله پخوانی بدوي بڼه غوره کړه .

1— J.W.H. Tolbort, the di- strict of Deve Ismail Khan.

دیوه حکومت اوقوي مرکز نشتوالی دد ې سبب ؤ چه بلوڅ ن په دخپلو ځانو او مالو دساتنې اودفاع له پاره په قومی بدوي روا بطوتکیه ولري ، د دوی ددفاع وسیله تکړه اوتورزن ځوانان وو .

داسی تصور کیږي چه دبلوڅی فیوډالی ټولنی تشکیل په دیارلسمه ، پنځلسمه پیړی کښی شروع شو . داهغه وخت دی چه په معاصر بلوچستان کښی د هغو بیلو بیلو تپوترمنځه یووالی راغی چه دځایی (بومی) خلکو ځمکې یې تر لاس لاند ې کړې وې . دځمکو اشغال د دې سبب شو چه د دوی دقومی اتحاد ځای سیمه ایز اتحاد و نیسی .

د م . ك پیکولین په عقیده دشپاړسمې پیړی په پای کښی دختیځو سیمو بلوڅو یوه مجاور تې ټولنه جوړه کړه (۱) قومی هغه وا کمن کسان چه بښی زراعتی ځمکی اوودان خړځایونه یې په لاس کښی وونه یوازې د آبادو زراعتی ځمکو خاوندان بلکه غریب شوي کوچیان یې هم دخپل لاس لاندې کړل . او په دغه ترتیب په بلوچستان کښی یوه ملوك الطوایفی ټولنه جوړه شوه .

اولسی وا کمنـی دځو کورنیو په لاس ورغله چه دبلوڅی په اصطلاح (پخاك لوگـ دپګړی دخاوند کور) چه دخانی سیمبول دی دیوه نسل نه بل ته په میراث پاتې شوه .

د (پګړ یو د کو رنیو) په مشری اودبلوڅو زلمیانو په هغه مهارت چه په جګړو کښی یې لاره د کرمان اود کیرتهار اودسلیمان دغرونوترمنځه په داسې یوه سیمه

---

۱ - م . ك . پیکولین (مسکو - ۱۹۵۹ کال،بلوچان) ۲۷ مخ .

کښې دمعاصر بلوچستان په نامه یوه ځانله سیمه اوځان ته ملت ورو وروسته ته راغلی.

بلوچستان چه له څوروورو خانیو او ملوك الطوایفی ټولنو څخه جوړ ؤ دنفوسو تمرکز یې له بله هره ځایه زیات دکلات په شمال ختیځو اوجنوب لویدیځو سیمو بندې ؤ . دبلوچستان په جنوب لویدیځ کښې دژوند اقتصادي او کلتوري مرکزونه بې دباسپور ، کسرکند ، کیچ اود پنجګوړه حاصل خیزې سیمې وی .

مارکوپولو چه څوکاله په ختیځ کښې ګرزیدلی اودغو سیموته هم ورغلی ؤ په خپلو یادداشتونو کښې ددغو ځایونو په باب یادونه کوي چه « دخلکو شغل یې کرنه (دغنمو او وریجو پالنه) اوهمدارنګه مالداري ده ، تجارت او کسبونو هم ورکښې ښه پراختیا موندلی ده ، دنړۍ ډیر سوداګرهم دوچې اوهم دبحر له لارې دلته خپل مالونه دتجارت له پاره راوړي او له دغه ځایه نور مالونه له ځانه سره وړي دي » (۱) .

د جنوبي بلوچستان ډیرلوی ښارونه په دغه وخت کښې له پنجپور(پنجبور)، بناجبور اوفنازبور (معاصر ـ پنجګوړه) وو.

داسلامی مؤرخینو په قول دبلوچستا ن په اقتصاد کښې زیاته برخه دخورماو حاصل لرله کرنه اساساً للمي نه ، بلکې دویالو او کانالونو په ذریعه وه. دبلوچستان په شمال ختیځ کښې اقتصادی او کلتوری سرکز هغه وخت (کج ـ ګنداو)حاصل خیزه سیمه وه چه دختیځ له خوانه دسلیمان دغرو نو لمنې ورغزیدلې وی. د د غه ځای سرکز کندابیل (معاصره ګنداوه)وه .

---

۲ ـ دمارکوپولو کتاب ـ (۱۸۸)باب .

په دغو مرکزونو کښې دبلوچانو دتمرکز سره ځنګ په ځنګ دنورو ځایي قومونوجذب او بلوڅ کیدل Assimilation هم روان وو. ډیروآر یايي قومونو : (پښتنو، اورمړو، تاجیکانو) ډیر واینډوآر یايي قومونو :(سیندیانو، پنجابیانو) دراویدی ژبو (براهوی) او حتی دعربو پاتی شونوخپلې ژبې هیرې کړې اودبلوچانو دټولنې جوړوونکی عناصر وګرځیدل (۱).

دیو زیات شمیرمحققینو په عقیده دبلوچانو دیوی موجوده لویې ټبې -(ماری) په تشکیل کښې هغه پښتانه او کهیترانی ډیره لویه برخه لری چه دبلوچانو دتصرف نه پخوا دسلیمان دغوکی په جنوبی لمنو کښې اوسیدل (۲).

دبلوچو دمزاری ټبې په جوړولو کښې دبراهوی ټبې یوه څانګه (کیرد) برخه لری. په دغه متعلق با ید وویل شی چه بلوچان دبراهوی ژبه د(کیر- کالی= کور کالی) په نامه یا د وی دبراهوی قبیلی بله څانګه (رو خشانی) دبلوچو په باله قبیله (ریند) کښې جذ به شوې ده . دبلوچانو دیوې بلې مهمې څانګې (ګیچکی) او (دو دای) په جوړولو کښې سیندیان ګډون کوی. او د (بولید) څانګې په تشکیل کښې دعربو پاتې شونې برخه لری (۳) .

۱- د (پاکستان اولسونه)۳ ۵ ۱ مخ وګوریء.

۲- په دې باب دم .لو ذګورث(دبلوچانو ترا کم) نومی تالیف (٦ ۱ - ۱۷ ۵۸ - ۵۹)مخو نه، همدارنګه دسار ګینسترین تألیف(دهندشمال مغرب ته دژبپوهنې دهیئت رپوټ)(۳ ۱)مخ وګوریء.

۳- په دې باب: Mockler E. Orgin of the Baloch JASB, vol. LXIV, pt i, 1896

دد ې تو لوڅا نګو يوه ستمه د(بلوچ) اوهيوادېي د(بلوچستان) په‌نامه يادېږي ی بلوچ په خپل منځ کښې په‌دوو نژادي‌لو يو اويو ګروپونو ويشل کيږي :

الف : شمال ختيځه څا نګه (سليماني) .

ب : جنوب لو يد يځه څا نګه (مکراني).

دلومړی څانګې په تشکيل کښې يوشمير بلوچ شوی‌پښتانه، اورمړي اوهم دار نګه يوشمير سنديان اوپنجا بيان‌هم شامل د ی.

ددويمې‌څانګې په جوړښت کښې دافغا نستان لو يد يځ او د ايران د ختيځ نوراولسونه برخه لري. ددغې پيښې انعکا س‌نه يوازې‌دد و ی‌په کړووړ و ، اجتما عی روابطو ، کلتور اودو دونو کښې ،بلکې‌په ژبه کښې هم‌ليدل کيږی.

دما ر ګينستر ين په عقيده دبلوچي‌په‌شمال‌ختيځو د يا ليکتو نو داورمړی‌ژبته لويه اغيزه پر ته‌ده (۱).ددوی په لغوی‌اړخ دجنوب ختيځوديالیکتونو په نسبت دايند وآريا يی‌ژبولغو ی‌ا خيستنی زياته اغيزه کړې‌ده بالمقابل په‌جنوب لويديځو ديالیکتو نو دفارسی‌لغو ی‌اغيز ه‌دير ه د ه. دختيځوبلو چا نو علمی، تخنيکی،معياری د کرنی او داسې نو راصطلاحات دسيندی او پنجا بی نه اخيستل شو ی‌د ی،مګر دلويد يځو بلو چا نو دغسې‌اصطلاحات له فارسی‌څخه‌اخيستل‌شوی‌دی(۲).

1— G. Morgenstierne, repo rt on....p.14

۲- په د ې باب:

(A.W.Hughes, The country of Baluchistan) pp. 316—317

(۱۸۶-۱۸۷)مخونه همدار نګه د کلا ت دخانی‌دتاريخ‌لنډ يادداشتو نه‌دم. ګ پيکو لين تأليف (۶۶-۷۱)مخونه وګوری.

دبلوچستان معاصر تاریخ ته یو ه کتنه :

په شپاړسمه‌اوواسمه پیړ ی کښې په بلو چستان کښې یولړ سیمه ایزحکومتونه منځ ته‌راغلل چه‌په‌سر کښې یې دبلوچو نیم‌خپلواك خانان‌اوسشران ووچه‌دمغلواونورو واکمنو دلاس لاند ې وو .

د(۱۸) پیړ ی په نیما یی کښې دنادرشاه‌دسقوط او دمغو لو دامپراتو رې د کمز ور ی‌په نتیجې کښې داسې شرایط منځ ته راغلل چه دکلات دلو یو ا و مقتدروخا نانو او دټول بلوچستا ن په یو والی او اتحاد تمام شول.دغه‌یووا لی دکلات دهغولویو او مقتدرو خانا نو اوداحمد زیو د کورنی‌مؤسس‌په‌ختیه‌براهوئی اول میر احمد او په (۱۶۶۶-۱۶۹۵) کښې وا کمن یا کمبرانی وو(۱) .

دد غو تو لو په‌لړ کښې مقتدرخان‌نصیرخان‌بلوچ ؤدنصیرخان‌دفاعی‌او نظامی‌اتکاء دبراهو ی‌دهغو پنځوتپوپه کونفیدیراسیون باندې‌وه د کوموسردارانو ته‌چه‌په‌سراوان اوجالوان کښې حکمې‌ورکړ شوې‌وې .په‌لوید یځ کښې‌بامپور، کسر کنداودیزك په شمال کښې شا ل(معاصره کویټه)، همدارنگه(دغازي خان‌جنوب‌ته)په‌شمال ختیځ کښې خراسان اوداجل دنصیرخان په‌تصرف کښې‌وو. همدارنگه په جنوب

۱ـدبلو چو په باب ددغومعلوماتو زیاته برخه (د پا کستان‌اولسونه)نومی کتاب د۱۴۷-۱۵۸ مخو نو څخه اخستل شو ی ده.

کښې دلاس پیلا او کیچ خانان هم دنصیر خان دلاس لاندې وو (۱) .
خپله نصیرخان که څه هم د د رانی دولت دوا کمنوتر لاس لاندې ؤخودی همدومره مکلف ؤ چه د د رانیانولښکر اوعسکري خدمت ته خپل یوشمیر تکړه زلمیان ورولیږي . ددغه مکلفیت په بدل کښې درانی دولت نصیرخان ته دشال (کویټې) ،مستونګ خاران اوداجل اداره ورپریښې وه اود کلات دخانانو په کورنیو چارو کښې درانیانو لاس نه واهه . داتلسمی پیړۍ په دویمه نیما یی کښې دنصیر خان دسر ګ ځ نه وروسته دبلوچو دسر دارا نو ترمنځه اوضاع خرهپره شوه اود کلات لو یه خانی ړنګه او په ورووړو خانیووو یشله شوه .علت یې هم داؤ چه هرخان غوښتل دخپل لاس لا ندې سیمی ته پراختیا ورکړي . دنصیرخان کالنی عایدات چه له دریسلیونه رو پیو څخه زیات وو دده دزوی محمو د خان (۱۷۹۵-۱۸۱٦) کالنی عایدات (۳۰۰۱) زره روپې کیدلې ځکه چه داوخت د کیچ ،پنجکوړه، لاس دیزك اوخاران خانانو دمالیاتو له ورکولو ډډه وکړه او په خپلو سیموې خپله وا کمنی قا یمه کړ ه .
داتلسمی پیړی په پای اود نو لسمی په پیل کښې دبلوچستان لوی خصوصیت داؤچه دغه تولنه په وړووړو تپه ایز وتپینګو روابطوولا ړه وه .بلو چان که څه هم لکه چه ترمنځه څرګنده شوه له یو ه تو کم او یوې وینې څخه نه وو ، خوبیا هم په تپه ایزوډلو ویش ورکښې بیخی څر ګندؤ . یوازې په سینداوپنجاب کښې دمیشته شووبلوچو ترمنځه دغو تپه ایز ورو ابطو خپل ار زښت ترز یا تی ا ند ا زې له لا سه ورکړیؤ ، دهرې ډلې په سر کښې داسې مشران واقع وو چه دنورو له تسلطه خپلواك اودخپلې تپې اداره یې په خپل لاس کښې و ه .

---

۱ - په دې باب دمثال په توګه دغه اثرو ګوری :

H.Pottinger' Travels in Bal ochistan and Sinde P.63.

ACKU

دشمال ختیځ بلوچستان د ټېو تر منځه وخت په وخت ځمکې سره بدلیدلې. د ځمکو بدلون د جرګو په ذریعه کیده د جرګې غړي به د کورنیو او ټبرونو مشران وو.

په مکران کښې ټول اقتدار د لویو خانانو پورې منحصر ؤ. د ټپو و ړو مشرانو به اکثره خپل واك له لاسه ور کاوه او د لویو خانانو (رعیت) او (همسایه) به ګڼل کیدل.

په ختیځ بلوچستان کښې بلوچان د هغو غیر بلوچو ټپو او خیلونو د مشرانو یعنې د هغو تاجیکانو، سندیانو او پنجابیانو تر لاس لاندې وو چه یا خو اصلاً د غو سیمو اوسیدونکي وو او یا د هغو پنجابیانو او سیندیانو له نسله وو د کومو نیکونو چه په سیند او پنجاب کښې د محلي واکدارانو له ظلمه بلوچستان ته پناه راوړې وه.

د تاریخ په اوږدو پوړیو کښې بلوچان (لکه پښتانه) په مالداری بوخت او د اقتصادي او کلتوري مرکزونو څخه لرې وو د بلوچانو د غه مرکزونه او ټولې حرفوي چارې د تاجکو، سندیانو او پنجابیانو په لاس کښې وو. په ښارونو او کلتوري مرکزونو ورو په ورو غیر بلوچو ګډ یو تمرکز پیدا کړ. تجارتي چارې یې غالباً د هندوانو په لاس کښې وې چه د سلطانانو او ښکارپور نه راغلي وو او د نولسمې پېړۍ په سر کښې یوازې د کلات په ښار کښې د دوی د کورنیو شمېر څلور پنځه سوه ته رسیده. او په دغه صورت د کلتوري او اقتصادي مرکزونو څخه د بلوچو لرې پاتې کیدل د دې سبب وچه د بلوچانو اکثریت نالوستی او بیسواده پاتې شول. ژبه او ادب یې د بروختونه له لیکه محرومه او وروسته پاتې شول او یوازې په فولکلوري ډول یې ادب ژوندی و، د ایك او دفتري ژبې په حیث یې پردی (فارسی) یا (اردو) ژبه استعمالوله خپلې ژبې یې دفتر ته لار نه لرله.

په دغه ژبه غیر له فولکلوري متونو لرغوني آثار ځکه نشته مګر د فولکلور له مخې بلوچي بډایه ژبه ده.

بلوچی ژبه :

دغه ژبه دسیدیك شمال لوید یخ ګروپ یوه‌سهمه‌خانګه ده.ددغه‌ګروپ دژبوا و دیالیکتو نو اصلی تاټوبی د(سید یا)تار یخی هیواددی دسیدي ژبې نه‌یو ازې‌یو څو کلمی پاتی دي اوبس . دځینو په عقیده او یستا هم‌دمیدي ژبو سره نژدې شباهتونه لري .ددغه ځای ژ بو او دیالیکتو نو ته کله کله په پوهنه کښی د(پا رتیا نی دیالیکتو نو) نو سونه هم ورکول کیږي .

دغه ژبی دډیرو ژ یو خصوصیاتو له‌مخی دباختري ژبوسره خپلوي لري .

محققین عقیده لري چه‌دغه (میدي) یا (پارتیا نی‌دیالیکتونه) چه‌دباختري ژبو سره نژدې خپلوي لري دآریایی ژبو په منځنی عصر کښی د جنوب لو یدیخ (پارسی ژبو) دګروپ په‌ذریعه هم‌په خراسان اوهم په مر کزي ایران کښی له منځه وویستل شول ، ځای‌یې پارسی‌اود هغی خپلوانودیالیکتونو ونیو . اودوی چیرته په ګوښه اوله مر کزونو په لیرو ځایو کښی پاتی شول .

دغه‌ژبی له‌کوردی ، زازانی ، تالیشی ، ګیلانی ، مازندرانی اوبلوچی‌څخه عبارت دي . د دغو ژبو ډیر لږ خصوصیات په پراچی او اورمړی کښی هم لیدل کیږي (۱) .

بلوچی ژبه په‌پاسنی حساب که څه هم د پښتونه په ځینو ملحوظاتو بیلیږي خوبیا هم‌ډیر فونیتیکی او لغوي خپلوي ورسره لري .

---

۱ - (ایرانی ژبی) داورانسکی تالیف (۱۷۳ - ۱۷۵) مخونه وګوریء .

د پښتو ژبې دغه لاندې يوشمير لغات چه خصوصاً د ترکمنستان د بلوچو په ژبه کښې مروج دي دلته يې دمثال په ډول راوړم . (۱) .

پښتو : ته (شخصي ضمير) -توکه- تـول- ټمپ- تکې - هډ - کوټ (فلز) لنډ (لنډی) - پنډي (باروړونکی) پسه - نن - سپين - ناست ...

بلوچي : ته - توك - تو (لوی) تمپ - تيك - اډ - کوټ - لنډی - پنډی (خر) پس - نون - سپيتين - نيست ...

د بلوچي ژبې ديالیکتونه :

لکه چه څرګنده ده ژبې خپل قوم او خپلو ويونکوته منسوبيږي . بلوچي ژبه هم خپل لوی قوم او خوراخپورتبربلوچ ته منسوبه ده .

اوس د بلوچو يوه برخه په پښتونستان، بله په ايران، بله په عربي ټاټوبو (مسقط، عمان او نورو) او بله د افغانستان په جنوبي سيمو کښې (۲) او همدارنګه څه يې د پنجاب په جنوب لويديځ کښې

---

۱ ـ دامثالونه د (ايراني ژبو فونيتيك ياد داشتونه) نومې کتاب نه اخيستل شوي دي .

۲ ـ بدخشان ته دسفر په لاره کښې مونبرد يوزيات شمير کوچيو کورنيو سره مخامخ شوو چه ځانونه يې بلوچان بلل، ژبه يې پښتووه اوداوړي د تيرولو له پاره د بدخشان په لوړه سطحه کښې دشيوه دښتې ته کوچيدل (ليکونکی) .

پر ته د ه ، په نو لسمه پیړ ی کښی یوشمیر کورنۍ شوروي تور کمنستان ته هم لیږدیدلی دي (۱) .

دبلوچی ډیرواړه ګروپونه په‌دوولویو دیالیکتونو ویشل کیږي :

الف : شمالی(یا شمال‌ختیځ)دیا لیکت چه د(سلیمانی)په‌نامه‌هم یاد یږي .

ب : جنوبی (یاجنوب‌لویدیځ دیالیکت) چه‌د (مکرانی) دیالیکت په نامه هم یا دیږي .

ختیځ دیالیکت دبرا هوی دقبایلو داوسیدلو دسیمودلیکی (د کلات ، بیله‌په کر ښه) په‌ختیځه اوشمال ختیځه خوا کښی موجوددی . لویدیځ د یا لیکت د دغی لیکی په‌لویدیځه خوا کښی خپور دی‌چه‌دافغانستان دجنوبی‌سیمواوهمدارنګه په‌شوروي تورکمنستان کښی داوسیدونکو بلوچو ژبی هم‌ورکښی شاملی دي .

ختیځ د یالیکت نسبت لویدیځ ته خپل لرغونی ژ بنی خصو صیات ترزیاتی اندازې ساتلی دي .

دلویدیځ دیالیکت سره‌دختیځ دیالیکت دبیلتون څواساسی خواوې دادي :

۱ ــ دغه دیالیکت په خپل ځان کښی تنفسی ــ Aspirateصامت غږونه ساتلی دي . مقابله وکړی‌ء :

ختیځ دیالیکت : پذ (پښه) کوفګ (او ږه) .

لویدیځ دیالیکت : پد (پښه) کوپګ (او ږه).

---

۱ ــ د (۱۹۵۹) کال داحصائیې‌له مخې په شو روي کښی تقریباً اته زره بلوچان شمیرل شوي دي (ایرانی ژبی - اورانسکی) (۱۲۱ مخ)وګوری‌ء .

۲ ـ د لو یدیځ د یالیکت ددغو (ت ، د ، پ ، ب ، ك ، ګ ، چ ، ج) غږونو په مقابل کښې ختیځ د یالیکت په ترتیب سره د (ث ، ذ ، ف ، و ، خ ، غ ، ش ، ژ) غږونه موجود دي .

مثلاء : لو یدیځ د یا لیکت : اپ (او به) ، دته (دود ، رواج) او ده (هلته) نزیك (نژدې)، پیګ (وازده) ، اچ (د فارسی از) .

دغه کلمې په ختیځ دیالیکت کښې په ترتیب سره په دې ډول دي :

اف (اوبه) ، دثه (دود ، رواج) ، او ذه (هلته) ، نزیخ (نژدې) پیغ (وازده) اش ، د فارسی (از) .

بلوچي ته پاملرنه :

که چه تر مخه وویل شول دبلوچي لیکناولیکلی ادب دنامساعد و شرایطو له اسله پراختیانه ده مو ندلې . که څه هم یو ماېره اندازه قلمي آثارئی موجوددي خو هغه دومره نه دي چه ددغې ژبې په باب لازمه اوقناعت ور کوونکې تشریح وکړای شي . یوازې په دې وروستیو وختو کښې دبلو چې ژبې چاپې محد ود آثار په بلو چستان کښې منځ ته راغلي . دبلوچي مطالعې او څیړنې ته په نولسمه پیړی کښې د ختیځ پوهانو پاملرنه واو ښته . په دې باب د و. ګیو گر ا ئر په نو لسمه پیړی کښې ، همدارنګه دشلمی پیړی په(۱۹۲۳) کال کښې په انګلستان کښې دبلو چي ګراسر په انګریزی ژبه او وروسی دبلو چي انګریزی قامو س په (۱۹۲۵) کال کښې دهلیبر تسن له خوا خپاره شوی آثار د یادونې و ړ دي .

ناروېژي ناستو ژبپوه مار ګینسترین هم په بلوچی ژبه یولړ دقدرور آثار خپاره کړي دي. په روسیه کښې پرو فیسری .ی زا روبین دبلوچي ژبې دمطالعې اوڅیړنې

په اساس اینبی او دغې سلسلې تهشوروي نورو محققینو ادامه ورکړې ده .اوس دبلوچي ژبې په باب تحقیقات دنړۍ په ډیرو هیوادو کښې لیدل کیږي .

دمحققینو پلټنې په دې شاهدی ورکوی چه بلوچیژبې دریاتو آریایي ژبو په نسبت خپل ډیر ارغونی ژبنی خصوصیات لاتـر اوسـه ساتـلـی دی ، تـر دې چـه داخـصـوصـیـات دوسـره ارغـونـیدی چه دا ژبهد اینډو آریـایـی ژبـو سـره نـژدې کـوی . دغـه خـصـوصـیـت دغـیـر بـزو لنډو او اوږدو غږونو دساتنې په باب ښه څرګند دی . دبلو چی مورفولوژیك سیستم انالیتیك ((Analytical)) دی . یعنی دکو مکی کلمو په مرسته افاده کیږي . فلیکتیف — Inflexional یعنیفورمی چه دوروستاړو پهمرسته افاده کیږی ، لږې دی .

اسم یې جمع او مفرد لری خود جنس (تذکیر او تانیث) کټیګوری‌نه‌لری . په بلوچی کښې دری ګراسری (لومړی ، دویم او مفعولی)حالتونه موجوددي. وصلی ضمایر هم دا سم او هم دفعل پورې تړلی خوداستعمال دو مره ډیر موارد نه لري .

دفعل په لړ کښې هم دبسیطور ډیښو څخه جوړشوی فعلو نه لری چه د اساس پورې دشخصی ضمایر و دنښتلو په مرسته دماضی او حال (همدارنګه دمستقبل) صیغې ورنه جوړ یږی او هم مرکب فعلونه لری چه دفعلی اسمونو پورې دکومکی فعل په مرسته جوړیږی .

دبلو چی بل لوی خصوصیت دایر ګاتیف سیستم دی یعنی دپښتو په شان

په ما ضی متعدی کښې فعل دمفعول تا بع د ی نه د فا عل (۱) په ختیځو دیا لیکتونو کښې دمفعول او فعل تر منځه ممون نه لیدل کیږي (۲) .

داته دبلو چی دیوه واړه فولکلوری متن تحلیل ا و تر جمه د بېلګا رند وی په ډول وړا ندی کو م (۳) .

Yak roče būt ki wazanen
brās šut pa kārā ganok want
bi gisā go watī masā.

تشر یح ا و تحلیل :

یك — (یو) عدد دا کلمه په نوې فارسی کښې (یك) ، منځنی پار سی کښې (ایو غ) ، په زړه فارسی کښې (ایو وا که — Aiva Ka) په بڼه د په پښتو کښې(یو)،شوغنانی کښې(یو) په‌واخانی کښې(ا یو)په‌مونجانی کښې(یو)ده

رو چې - (ورخ ،روځ) . دا کلمه په زړه پارسی کښې (رواچه) په او یستا کښې (راوچه) په سکیقی دیا یکتونو کښې (راوکه ، روچه) په سو غـدی (روچ - Rwc)په کور مانجی‌اوسو کری کښې(روژ)ده. (ې)دتنکیرله‌پاره.

---

۱ — دایر ګاتیف سیستم بحث دباختري ژبې په بحث کښې وګورئ.

۲ — (پا کستان ، نوی کتاب (٦۲) مخ .

۳ ـ دامتن دی . زارو بین د (بلوچی افسانی) په استناد وړاندې شوی‌دی (او ر ا نسکی).

بوت - (و) دماضي مفرد غايب د کوسکي فعل صيغه ده چه په او يستا کښې د Buta په بڼه‌وه - کې - (چه) دنوي‌فارسي د (که) سره سمون‌خوري .

مزانيـن: (مشر) د (سـزان ـ مشر) د صفتې نسبتـې (- يـن) لـه لا حقه دپښتو د (مشر) دريښې سره څه‌خپلوي ليدل کيږي .

براس - (ورور) اسم ذات په‌لومړي حالت کښې - فاعل .

شوت - (شو ، لاړ) دماضي فعل دمفرد غايب صيغه د ه . دا يتيمو لوژيکو پلټنو په‌رڼا کښې د پښتو (شو ل) ، دفارسي (شدن) اوپه‌آريايي‌نوروژبو کښې دغه ريښه اصلا د (تللو) معنا لري . دلته دغه فعل خبرواقع شو ی دی .

په - (په) دغه ادات دپښتو د (په) سره سمو ن خو ري چه په آريايي اوحتی په اينډ و يوروپي ژبو کښې ثابته ريښه لري .

کاره - (کار) اسم ذات دی . دُدغې ريښې‌فعل په‌پښتو کښې (کړل) په‌فارسي کښې (کردن) دی . دغه اسم ذ ا ت په پښتو کـښې د (کـا ر) په فارسي کښې د (کار) په زړه پارسي کښې (کاريه - Karya) اوپه سانسکريټ کښې هم (کار يه - Karya) دی .

دلته دبلوچي په (کاره) کښې - فتح د د و يم حا ات ښو ونکې نخښه د ه .

ګنوك - (بوده ، احمق) اسم ذات مفرد فاعلي د ی .

سانت - (پاتې ، شو) د ما ضي فعل دمفرد غا يب صيغه ده چه خبر و اقع شو ی دی .

بی ـ (په) دظرفیت یادعمل دسمت د ښوولو ادات دي .

ګیس ـ gis (کوره ـ جوس) ـ اسم ذات دی . دا کلمه په اویستا کښې (ویس ـ Vis) په زړه پارسی کښې د (ویذ) په سانسکریت کښې د (ویش) په بڼه ده .

کـولای شو چه د (میرویس ـ د کورکوڼی مشر) په کلمه کښې داریښه وټاکو .

په ګیس ـه کښې (ـ ه فتح) ددویم حالت علامه ده .

ګو ـ (سره) ادات دی چه دپښتو د (سره) دعربی (مع) د فارسی د (با) په معنا دي .

وت ـ ې : (خپـل) دا کلمه په پښتو کښې (خپل) په پارسی کښې (خود) په اویستا کښې (خواتو ـ xvato.) ده . (ې) د دویم حالت نخښه ده .

ماس ـ (مور) اسم ذات مفرد دی . دا کلمه په سوغدی کښې د (مت ـ Mt) په بڼه او په اینډویو روپی ژبو کښې د (م) په غیر ثابته ریښه لري .

ترجمه :

یوه ورځ مشر ورور (په) کار (ته) لاړ احمق په کور کښې د مورسره پاتې شو .

یادونه :

دبلوچو اوبلوچې په باب له دغو منابعو اساسي استفاده شوې ده :

۱- (ایرانی ژبې) دي . م . اورانسکی تالیف په مسکو کښې د (۱۹۶۳) کال چاپ .

۲ -(ایرانی مقدماتی فیلا لو ژي) مولف اورانسکی - مسکو- ۱۹۶۰ کال .

۳ - (دپاکستان اولسونه) دیو . وکا نکوفسکی تالیف په مسکو کښې د (۱۹۶۴) کال چاپ .

۴ - (دایرانی ژبو په فونیتیك یا دداشتونه) دو. س.سو کولووا تالیف په مسکو کښې د (۱۹۵۳) کال چاپ .

براهوی ژبه

کله چه سونږ دبلو چې اوبلوچو یادونه کو و بیځایه نه ده چه دبلوچستان په یوه بله ژبه هم څه ناڅه رڼا و اچو وچه اوس دیو زیات شمیر بلوچانو مورنۍ ژبه گرزید لې ده دا ژبه د (براهوی) څخه عبارت ده .

دتاریخي اسناد وپه شهادت براهو یان دبلوچستان ډیر لرغوني او سیدونکي دي .براهوی یوازیني دراویدي ژبه ده چه هم په بلوچستان اوهم په افغانستان کښې ژوندی ده. ددې ژبې دویونکو اکثریت د کوټې په جنوب اودمستو نگ په ساحه کښې میشته او دبلوچي د دواړو لهجو تر منځه واقع ده . دغه ژبه دافغانستان په جنوب کښې له شوراوکه تر چخانسوره ځای په ځای دبلوچي سره په متوازي ډول ویل کیږي.

ترمخه مو یادونه وکړه چه دبلوچستان وگړي اصلا له دري بیلو بیلو توکمونو.

الف- (اینډ وار یا یي) (د بلوچستان په جنوب ختیځ کښې

ب-آریا یي (په لوید یځ او شمال کښې) .

ج ـ درا ویدي(په مرکزي بلوچستان کښې) ښځه جوړه وو.دریم توکم له براهوي ښځه عبارت دی.

الاستخري دخپل (مسالك الممالك) نومي کتاب په (۱۷٦) مخ کښې لرغوني بلوچستان کښې کج ګنداوه ته نژدې د(البدهه) په نامه دیوه کوچي بدوي قوم دموجودیت یادونه کوي .دیو لړ مستشرقینو لکه اکاډمیك و . و. برتولد او نورو په عقیده موجوده براهوي قوم هماغه دی چه الاستخري د (البدهه) په نامه یاد کړی دی .

براهوي ژبه چه اوس یو شمیر بلوچان وربانده خبرې کوي اساساً کلات په ولایت کښې او ښه ناځه دخیرپوراوحیدر آباد په سیمو کښې خپره او تقریبا (۳٦۵) زره وګړي وربانده خبرې کوي(۱) .له دغو سیمو پرته تقریبا (۸۷) زره نورو ګړي چه په ختمه بلوچ او ښه یې سیندیان دی هم دغه ژبه یې دمورنۍ ژبې په حیث منلې ده.

دغه ژبه چه په عصرونوعصرونو لهخپلو سکنیودراویدي ژبوڅخه چه تاتوبی یې جنوبي اومرکزي هند دی جلاشوې اودآریایي اوایندوآریایي ژبودسختې اغیزې لاندې راغلې ده .دغه اغیزه له هرڅه زیاته په لغوي پانګه کې لیدله کیږي. دغو نیتیك له مخې براهوي ژبه دآریایي او ایندوآریایي ژبو سره ډیر ورته والی لري .په ګرامري

۱ـ دغه شمیر دمقدماتی فیلالو ژی(۳۲۵)مخ د(۱۹۳۱) کال دا حصائیې له مخې یوازې (۲۲۵)زره ښو ولې دی.

براهوی ژبه

جوړښت کښې یې دراویدی سیستم هرگند دی‌اوپه دی‌باب‌دبراهوی‌خپلوی‌دهند دمرکزی دراویدی (کوروه)او (ملتو)ژبو سره ښکاره ده.

براهویان علاوه‌پرخپلې ژبې په بلوچی‌او په ځینوسیمو کښې‌پښتو هم پوهیږی .دبراهوی‌لیك له پاره له عربی الفباءنه‌کار اخیستل کیږی . او لیکلی ادبی آثار یې په دی وروستیو وختو کښې منځ ته راغلی او پراختیاکوی.(۱)

(۱)دپا(کستان)نومی کتاب (٦٣)مخ.

کوردی ژبه

کوردی ژبه په میدیک گروپ کښې شامله ده . په افغانستان او پاکستان کښې د کوردانو شمیر ددوه سوه زرو پورې اټکل کیږی (۱) یقینی احصا ئیه ئې نشته .

دافغانستان کوردان دهرات دولایت مربوط یه غورا تو کښې د ایران سره سرحدي پولوته نژدې میشته دي . دلرغونو مو افینوپه جمله کښې کسینوفونت Kcinofont (قبل المیلاد پنځمه پیړی) لومړی یو نانی دی چه د کورد نوم یې د (خردوی خوت) (۲) په نامه یاد کړی دی. اوبیا نورود (گوردوی توت) (۳) په‌نامه یاد کړی دی . دغه نوم بیا لرغونو ارمنیا نو د (کوردوك) (۴)

---

۱ — مقدماتی فیلالوژی (۱۶ ۳) مخ

(2)xardoynot
(3)gordyatot
(4)korduk

او سوريانو د (قاردوك) په‌نامه يا د کړی دی . په‌منځنيو پېړ يو کښې عر بو جغرافيه پوهانو د (کورد) په‌نامه ياد کړی چه‌جمع يې د (ا کر ا د) په بڼه ليکلې ده . دتور کيې په ختيځو ولايتونو کښې کوردان په‌ميلا دي‌لسمه‌اويولسمه پېړی کښې خپاره شوي دي - په‌شپاړسمه ميلا د ی کښې د کوردانو يوه بر خه دتور کيې په‌امپراتوری کښې شامله او بله دصفوي دو لت په قلمر و کښې و ه . دلومړی جهانی جګړ ې نه‌وروسته هغه سيمه چه کوردان پکښې‌شامل‌وود تور کيې ايران ، عراق اوسور يې ترمنځه وويشله شوه .

د کور دانو ا کثريت اوس هم په‌مالداری بوخت‌او کوچي د و له ژ و ند لري . کوردانو د پښتنو په‌شان دعشيروي اوقبيلوي ژوند دودونه اوخپلوی سا تلی دي . کوردان غالباً سنيا ن دي ډير لږيې شيعه دي .

په‌منځنيو پېړ يو کښې د کوردي ژبې دليك له پا ر ه د عر بې ا لفبا ء ا سا س منل شوی اودژبې خاص توري ورته پکښې جوړ شوي و و . د کور دی د د غه وخت ښه شاعران ا حمد جزيري (د ميلا د ي يو ولسمی پېړ ی دويمه‌نيما يی) اواحمد خاني (دشپاړسمی پېړی لومړی نيمايی) دی .

کور دي ژبه په‌فولکوري ادب ښه بډايه ده ، ليکلی ادب د و مره نه لري . دنولسمی پېړی په‌سر کښې په کورد ی ژبه طباعتی‌خپرونو پېل و کړ . په کوردی ژبه لومړ ی ورځپانه په قاهره کښې د (کو ر دستان) په نا مه په (۱۸۹۸) کال کښې خپر ه شوه .

له (۱۹۲۰) کال څخه په‌عراق کښی ، له(۱۹۳۰) کال څخه په‌سوریه اولبنان کښی په کوردی ژبه دادبیاتو خپریدل شروع شول . په‌ توركیه او ایران کښی په کوردي ژبه خپرونی رسماً ممنوع شوې وی . د کوردانو ددې دوسره سیمه ایزبیلتون اوجغرافیوی ویش په‌اثر کوردی ژبه‌تقریباً په همدومره وړووړو دیا لیکتونو ویشل شوې‌ده‌خوبیا هم دغه‌ژبه په‌دوولویو دیا لیکتونوو یشل کیږی :

۱ — کورمانجی (شمال لویدیځه لهجه).

۲ — کوردی (جنوب ختیځه لهجه).

په کوردی کښی دا سې لهجې هم شته چه ځینې محققین یې ځا نګړې ژبې ګڼی ، لکه د کرمانشاه‌دغورانی کوردانو اوزازالهجې .ډیرمعتبریې‌د کورمانجی دیالیکت دی چه دترکیې ، دعراق په شمال ، دسوریی ، دافغانستان د هرات او دشوروی اتحاد کوردان پرې خبرې کوی .

د کورمانجی دیالیکت‌د سیاسی جغرافیې د ویش په موجوده شرا یطو کښی بیا هم ګرامری خواص یو شان ساتلی دی ، خولغوی پانګه‌یې سره یوشان نه ده . دایران کوردی په‌فارسی لغاتو ، دتورکیې کوردی په‌تورکی لغاتو ، د عربی کوردانو ژبه په‌عربی لغاتو اودنورو کوردانو ژبې د نورو ژبو د لغاتو په پانګه بډای شوې دی .

د کوردی ژبې دوهم معتبر دیالیکت دجنوب شرقی کوردانو پورې اړه لری چه‌د کوردستان په‌مرکزی سیمو ، دعراق په کوردستان ، کرمانشاه اونوروکښی خبری پرې کیږی .

په ژیړو هنه کښې چه د کور د ی ژبې نوم یادیږی مطلب ورنه د کورمانجی دیالیکت دی ځکه چه دعامی تحقیقاتو د پاره نسبت جنوبی شرقی ته زیات مساعد دی . دغه دیالیکت د پښتو په شان ګرامری لرغونی خواص ساتلی دی اماجنوبی شرقی د یالیکت دمعاصرې فارسی په شان د غه خواص له لاسه و ر کـړی دی : مثلا دتذکیر اوتانیث نښې ورکښې چندان نه لیدل کیږی .

داسم ذات دتصریف مراعات ورکښې نه کیږی د لازمی ا و متعدی فعل ترمنځه چندان توپیرنه لیدل کیږی او داسې نور .

همدارنګه په کرمانجی کښې د پښتو په شان متعدي فعل دماضی په زمانه کښې دمفعول تابع دی امادا توپیر په مقابل دیالیکت کښې نشته اوداسی نور .

الفباء : دنورو سلی نه ضتونو په ځنګ کښې د کورد ی ژبې لیك په نواسمه او شلمه پیړی کښې د عربی الفبأ په اساس دلازمو فونیتیکی زیاتوالی او سمون سره انکشاف وکړ ، خوبیا هم ولیدل شوه چه عربی الفباء د کور دي ژبې دغږونوافاده نه شی کولای نوځکه په دې وروستیو کلونو کښې د د و ولاړونه دلاتینی الفباء استخدام شوي دي : دلاتینی ـ تورکی الفباء په اساس (په دمشق اوبیروت کښې) دوهمه هم دلاتینی الفبأء په اساس خود انګریزی ژبې د لیك دود د اغیزې لاندې (په عراق کښې) .

په شوروي اتحاد کښې داوسیدونکو کور دانو د پاره په ۱۹۲۷ کال کښې دلاتینی الفباء په اساس توري جوړشول خو په ۱۹۴۵ کال کښې د شوروي د نورو اولسونو دپاره دالفبأ په شان کوردا نوهم دروسی الفباء اساس دځپل لیك دپاره وټا که.

سکردغه الفباء وې کهدعربی پهاساس دي اوکه دلاتینی د کوردي ژبې دغږونو پوره افاده نهشی کولای ځکهچه پهکوردی کښی علاوه پرغږو نونیمغږي فونیمی همشته چهدتهواو دپاره دتوري تاکل اوتورل ژبه لاسختوي .

دلته د کوردی (کورمانجی) یو وړوکی متن د ښکارندوی په دول وړاندې کیږي :

(شمو ـ) خاص‌نوم دی ، (کورمانج) د (کورد) پهمعنا اسم ذات‌دی او (اك) دتنکیروروستاړی دی (ي) داضافت نخښه دهچهدصفت‌اوموصوف‌ترمنځه هم‌راځی . (کسیب) اصلا دعربی (کاسب) دی چه په کوردی کښی د (بې وزلی) معنا ورکوي . (بو) کوسکی فعل د ماضی صیغه چه مصدر یې په (بویین) دي . (ژه) د (له) پهمعنا چه‌په فارسی کښی (از) دی . (آل) دعربی له (آل) څخه اخیستل شوی چهدلته د (توکم) معنا ورکوي . (آ) دښځینه اسم ذات داضافت نخښه ده (حسنی) (حسن) تهمنسوبه کلمهدهچه (حسني) دکوردانو یوه تپه‌ده . (آ) ددویم حالت نخښه ده .

ترجمه : شمو بیوزلی کوردو ـ له حسنی تپی څخه و .

یادونه : پهدغه مقاله کښی علاوه پرنوروماً خذونو له (مقدماتی فیلالوژی او (ایرانی ژبی) داورانسکی تالیفونو څخه زیاته استفاده شوی دکوردي ژبی دګرامر په باب مفصل معلومات دکابل مجلې د (۱۳۴۸) کال په اوو ګڼو کښی وړاندې شوې دي .

پنځم پاړکی
داردي ژبې

داردی ژبی :

داردي ژبې داینډو آریایي ژبو هغه ګروپ دی چه دافغانستان دشمال ختیځ په غرنیو سیمو او ترڅه یې دپاکستان په شمال اودهند د شمال لویدیځ په ځو سیمو کښې موجود ې دی .

ددغو ژبودژوند ساحه دهندي اوباختري ژبوترمنځه واقع ده . ددغو ژبو د پیدا ینښت اوپراختیا په باب دآریایي ژبومحققین بیل بیل ډول نظر یات لري .

درابرت بر کلي شاوپه عقیده داردي ژبې دپامیري (چه دباختري ژبوپه ګروپ کښې شاملې دي) ژبوپه شمول دشرقي آریائي (هندي) اوسر کزی او لویدیځ آریائی (باختري اوایرانی) ژبوترمنځه موقعیت لری. دده په عقیده د دوه ګروپ سره هم دخپلوي رابطه نه لری یعنی نه په هندی ګروپ اونه په باختری اوایرانی ګروپ کښې شاملې دي .

د رابرټشاو په‌عقیده پامیري اواردي ژبې ډیر وخت له نورو اینډو آریایي (هندي ، باختري ، ایراني) ژبوڅخه ګوښه وې نوځکه یې دنورو ژبو سره دوسره رابطه نشته اوپوتر بله‌یې په‌خپل منځ کښې روابط سره ساتلي دي .

په‌دې باره کښې بله نظر یه دستین اکانا وده . دده په عقیده دار دی ژبې خصوصاً نورستاني ګروپ د آریایي ژبو (باختری او ایراني) ګروپ سره نسبي خپلوی لری . مګردلته دی ،هم داسې وایي چه ددغه باختری او ایراني ګروپ سره ددارډی ژبوښاخ یونه دی ، بلکې له‌هغوڅخه په دوسره لرغونو زمانو کښې بېل‌شوی دی ، لکه‌څوسره پخواچه تقریباً دهندی ژبوښاخ له آریایي (باختری اوایراني) څخه بېل شوی و .

ګ . ګریرسون (۱) لوسړی دشاو او کاناو دنظریاتو ترمنځه یوه متوسطه نظریه ښکاره کړه په‌دې معناچه دنوموړی په‌عقیده ددارډی ژبوښاخ دپامیری‌ژبو سره څنګ په‌څنګ اوپه متوازی ډول دمرکزی (باختری) اوپېرسیك ژبو له ونې جلاشوی او ځانګړی انکشاف یې کړی دی ، مګر دغه جلاتوب که څه هم‌ډیر لرغونی دی خودآریایي ژبوڅخه دهندی ژبوله جلاتوب وروسته‌دی .

ګریرسون بیاپه خپلو وروستو آثارو کښې‌داسې نظریه ښکاره کړه چه‌داردی ژبې د ختیځ (هندی) او لویدیځ (باختری او ایرانی) ژبو ترمنځه یوه بله ځانګړی دریمه څانګه ده .

---

(1)G.A.Grlerson, LSI LS,VOL. I, 1, calcutta, 1927, p.100

دناروېژي نامتو محقق مارګين سترين (۱) په‌عقيده ددارد ی ژبود بيلو بيلو ګروپونو وضع په بيل بيل شان‌ده . ددغو ژ بو ختيځه څا نګه (کشميري ، مایانی تورالی ، بشکاریك اونورې) چه‌دی ته (خاصې د ا ردی ژبی) هم وا يی يقيناً دآريائی ژبودهندی ګروپ سره خپلوي لري .

لويديځی داردي(نورستانی) يعنی (وايګلی ، کاتی ، دا ملی ا و نو ری) داژبی ځانګړ ی اوسخصوصه وضع لري . مګر په‌دغو ژبوکښې د لر غونوبی غږ ه Consonant ګروپونو موجوديت دباختري اوپيرسيك ګروپ په‌نسبت دهند ی ژ بوسره ددغو ژبو دنسبی خپلوی شاهدی ور کوی .

ددغو ژبو په‌باب که‌څه‌هم دمحققينو نظريات سره يوشان نه‌دی خوپه دغه باب سره ډير نژد ی‌دی‌چه‌وايی دار دی ژبی‌ديولړ داسی ژبو مخصوص ګروپ‌دی چه مخصو ص تاريخی فونيتيك اومورفو لوژيك ګډخصوصيات لری .

او س داسی ګڼل کيږی‌چه‌دداردی‌ژبو ګروپ‌دآريائی‌ژبوديوه هغه ديالیکت په اسا س انکشاف کړی دی د کوم ويونکی چه‌لرغونی آريايان‌اوپه خپله همدغه معاصره سيمه کښې ميشته وو .

دځينورواياتو سره سم ددار دی ژبو سيمه پخواد موجوده سيمی په منا سبت ډيره پراخه وه ،دغه سيمه پخوا دمعاصر افغانستان په شمال ختيځو په غرنيو بر خو اودهند دنيمی قارې په‌ټول شمال‌شامله وه چه‌بالتيستان ، پنجاب ، لهانده ا و حتی دتبت‌لويديځه برخه ورکښې شامله‌وه ددغوسيمو په ژبو دداردی ژ بو څر ګند ه اغيزه ددغې موضوع د ثبوت يوښه دليل د ی .

1— G.Mergenstierne, Repo rt on a linguistic mission to Afghanistan, Oslo, 1926, P. 52.

ددار دی ژبو گروپ دهندی ، باختری‌اوایرانی گروپ نه‌جلا اووتلی نه‌دی بلکې دا ددغو ژبو ترمنځه یودریم گروپ‌دی چه د وصل د کړی حیثیت لری چه له‌یوې‌خوادلویدیځو آریائی ژبو گروپ سره تماس‌لری چه‌ورځیرمه یی نو رستا نی گروپ دی اوله‌بلې خوا دهندی (له‌هرځه زیات د لهندی ، سندی ، پنجا بی) ژبو سره تماس لری .

بیل بیل ایزوگلاسونه داردی ژبی کله دختیځو آریایی‌ژبوسره‌یوځای کوی او کله دلویدیځو آریائی سره او دوصل د کړی په‌حیث دغه زنځیر لاسزبوتوی .

ددار دی ژبو طبقه بندی او کلاسفیکاسیون له‌د'سی مشاجرو ا و دنظریاتو په‌کهوډی بنا دی‌ لکه‌څرنگه‌چه‌دآریایی ژبو په‌نه‌ځ کښی‌ددوی دمقام‌تثبیت‌دی . (مثلا دنورو داردي ژبو په‌لړکښی د کهوواری ژبی دمقام په باب‌د گر یرسیون او دمار گین سترین دنظریاتو اختلاف) په‌سعاصروخت کښی دغه نظریه قوی‌ده چه‌داردی ژبی په دغو راتلونکو څا نگو ویشی :

الف — لویدیځی داردی (یانو رستانی) ژبی .

ب ـ مرکزي داردي ژ بی .

د ـ ختیځې داردي یاخاصی داردي ژبی .

لو یدیځی دارد ی ژ بی :

دداردي ژبو د غه څانگه (لو ید یځی د ا ردی) چه د (کافری ژبو) په نامه هم کله کله یادیږی ددوی دژوند ځا ی‌دافغانستان دنورستان‌خاوره‌ده . په‌دغه گروپ کښی شاملی مشهورې ژ بی دادي :

کاتي (یا کتائي) - ددغې ژبې دژوند ساحه د کتائي دره (چه سين يې دپيچ دسين دښې اړخ دی) دټولو د یالیکټو نو اصلي ټاټوبې او زانگو ده او درامگیل او کولوم (د - الیگار معاونین) د سینونو دمنځ سیمه ده .

ددغو سیمو ژبه د کاتي اویدیځ دیالیکټ دی . ختیځ یې دباشگل په دره کښې دی چه دباشگل سين په یاسني جریان (چترال کښې) د کونړ دسین معاون دی . دغه ژبه هم ددغې درې باشگلي په نامه یادیږي .

وایگلـي :

(د کریرسون په اصطلاح (وائي) یا (وائي آیي): ددغې ژبې دموجودیت سیمه اساساً دوایگل دره (دپیچ دسین د کین اړخ معاون سین) ده . د پیچ ددرې په نورو وړوسیمو کښې هم ددغې ژبې اویادهغې دخپلوانو د یا لیکټونو څرك لیدل کیږي .

اشکو ني :

ددغې ژبې دموجودیت سیمه دالینگار اوپیچ دسیندونو ترمنځ ساحه ده .
کاتي ، وایگلي او اشکوني ژبې یوتربله سره نژدې خپلوي لري .

پراسو ني یا (پارو ني) ژبه : ددغې ژبې دموجودیت ساحه دپارون دره ده د کومې سین چه دپیچ دسین کیڼ مرستیال دی . دغه ژبه له پورته یادوشویو درې ژبو څخه له دې کبله ډیره‌لرې ښکاري چه په هغې کښې دیوې غیر اینډو آریائي غالباً مغلو بې (سوبستراټ)ژبې څرگند عناصر موجودي .

دامیلي ژبه :

دغه ژبه دنورستاني او داردي مرکزي ژبو ترمنځه دوصل دکړې صفت

لري او کیدای شي چه دځینو زیاتو خصوصیاتو له مخې په مرکزي داردي ګروپ کښې شامله وګڼله شي .

دهغې دموجودیت ساحه د (داسیل) دره ده چه دچترال دسین په ښي خوا کښې پرته ده .

دار دی مرکزی ژبی :

په دغه ګروپ کې ډیرې او بیخی بیلې بیلې ژبی شاملې دي چه تقریباً له بیلو بیلو کورنیو څخه دي .

هم په جغرافیوي لحاظ اوهم دفونیتیکي اوسورفولوژیکي خصوصیاتو په اساس دغه ژبی په د وو څانګو ویشل کیږي :

الف ـ شمالی څانګه.

ب : جنوبی څانګه .

شمالی څانګه له دوو ژبو یعنی (کهووار) او (کلیشی) څخه عبارت ده چه تاریخی او ګمنت Augment (۱) لري .

جنوبي څانګی بیخی بیل بیل ډولونه لري .

په هغه کښې ګواري ، شوماشتي ، وته پوري او دهغو خپلوان دیالیکتونه او ژبی کلانګلي او ننګلاسی همدارنګه دپشه ئی دیالیکتونه اوتیرایی شامل دي .

۱ـ دکلمو دمختارې چه دکلمې له ریښې څخه نه وي او ورسره یو ځای شوي وي لکه په پښتو کښې (اچول، اغوستل) چه په (وابه چوم ، وابه غوندم) کښې ئی بیلتون ددې نخښه ده چه دکلمې جزء نه دي .

ځينې فونيتيکي خصوصيات خصوصاً د ژبې بواړخيز صامت Lateral consonant د غږونو (د تيرائي په استثنا) موجوديت دغه ژبې سره يو کوي .

پشه يي :

داد يو لړ سره لرې وتلو ډياليکتونو (اسکان لرې د ژبو) يوه ځانګه ده چه په هغې د نورستان په جنوبي برخو اليشينګ، الينګار د سينونو په لاندنيو برخو ، په دره نور، د مزارد رې په کيڼ اړخ ، د کونړ د سين په ځينو نورو غاړو کښې لکه د کاپيسا په الله ساى، درنامه، بولغين، ځينو نورو وړو وړو سيمو کښې ورباندې خبرې کيږي .

شوماشتى ژبه :

دغه ژبه د شوماشت د درې په پاسنۍ برخه د مزار درې په کيڼ اړخ د کونړ د سيند د ښى سرستيال سيند په غاړه خپره ده (د شوماشت د درې په لانديني برخه کښې پشه يي مروجه ده) .

د ننګلامي ډياليکتونه :

دغه ډياليکتونه چه اوس مړه دي (او د شوماشتى سره يې نسبي خپلوي لرله) په هغو د ننګلام او سيدونکو خبرې کولې او د پيچ او وايګل د سيندونو د يو ځاى کيدلو په سيمه کې ژوندي وو .

دا مې ښکاري چه د دغو ډياليکتونو سره ګلانګلى ډياليکتونو (ياژبې) زيات ګډ خصوصيات لرل (ګلانګل) د پيچ د سيند په ښى اړخ کښې چيرته چه د وايګل سيند ورسره يو ځاى کيږي پروت دى .

وټه پوري ژبه :

په وټه پوراو ګتر (ګتړګل) کښې یعنې د کونړ په سیند د پیچ دسیند، دتوئیدلو دځای نه لږ څه پاس دغه ژبه ژوندۍ ده .

ګواري ژبه :

(ډیر محققین دغه ژبه د ګوار باتي په نامه یادوي) مګر خپله دژبې دخلکو په اصطلاح (ګواري) ژبه ورته ویل کیږي . د (نرساتی) په نامه هم یادیږي دغه ژبه دچترال په سیمه کښې دباشګل دسیند په کښتنۍ برخه کښې مروجه ده .

شوماشتي ، وټه پوري ، ګواري ژبې او دننګلامي او ګلانګلي دډیالیکټونه یو تربله سره ډیر شریك خصوصیات لري او په سر کزي دار دي ژبو کښې یوه ځانګړې ځانګه ده . ددغې ځانګې پوشمیر دډیالیکټونه د(دیګانو) په نامه یادیږي .

تیرایي ژبه :

دغه ژبه دجلال آباد په جنوب ختیځ د(کوټ) په دره کښې د پښتو ژبو وګړو ترمنځه ژوندۍ وه خواوس سره او یوازې منفرد لغات یې دخلکو په یاددي دتیرایي ژبې ویونکو د کونړ دد رودنـورو دارد یا نو د ا کثر یـت په شان په دوه ژبو خبرې کوالې چه دویمه ژبه یې پښتو وه .

کلشي ژبه :

دغه ژبه دچترال او باشګل دسیند و نو د یو ځای کید لو په سیمه کښې د (بوسبوریت) (ګلشګوم) او(بیرار) دچترال په جنوب اوید یخ کښې ژوندۍ ده .

خوواري ژبه :

دغه ژبه چه د(چتراري) (چترالي) همدارنګه (ارنیه)په نوم ونو یادیږي دچترال

ددرې په پاسینی برخه کښې ژوندی ده.ددغې ژبې بولرشمیرویونکی په‌شوروی بدخشان کښې هم موجوددي .

ختیځی داردی (یاخاصی داردی)ژبې :

دغه ژبې په خپل وارپه دریوځانگو ویشل کیږي :

لوسړی ځانگه-دغه‌له هغو داردي ژبو څخه‌عبارت‌دهچه د پنجکوړې ،سوات او اباسین دسیند ونو په غرنیو بر خو کښې چه په (کوهستان)سره‌شهرت‌لري‌ژوند ی ده ددغې ځانگې اساسی ژ بې دغه دي :

بشکاریك :

دغه ژبه دیوه د یالیکت له‌مخې (دیری)هم نومیږي٬ دغه‌ژ به د د بر په کوهستان د (پنجکوړې دسیند په پاسنی برخه کښې) ژوندی ده .

کاروی‌ژ به :

دغه ژبه دسوات دسیند په غرنیو برخو کښې ژوندی اودبا شکاریك ژ بې سر ه ډیر ه نژ د ې ده‌دانژ دیوالی دومر ه زیات دی چه عملا باشکاریك اوگا ر وی د دیوی‌ژبې‌دومښاخونه‌د ي. د دې‌ژبې‌د‌ژوندساحه‌د باشکاریك په‌لویدیځ کښې‌واقع ده.

توروالی‌ژ به :

ددې ژبې دژوند ساحه دسوات او پنجکوړې د سیندو نو په غرنیو برخو کښې د کاروې نه په لاند ینی سیمه کښې‌پر ته ده .

مایانی ژ به :

ددې ژبې‌ساحه داباسین‌په غرنیو برخو کښې‌اوداباسین اودسوات‌دسیند ترمنځه له یوې خوااو له بلې خوا دا باسین او د جیلم دبیلتون‌نه تر یوځای کیدلو پورې

په د غو سیمو کښې د غه ژ به ژ و ندی د ه .(ما یا نی ژ به) د هغې ژ بې د
ویونکو له خوا نومیږي اوزیات شهرت په (کو هستانی) ژ به لري مایانی ژبه
په یولړ دیالیکتو نو ویشل کیږي چه د هغوپه جمله کښې یو مشهور یې (کانیاوالی)
نومیږي چه د (تانګیر) په (بانګاري) نومې کلي کښې ژوندی دی . د غه کلی
د شینې ژ بې په چا پیر با ل کښې پر وت دی .

شینې ژ به :

داژبه د یولړ دیالیکتونو مجموعه ده چه یو تر بله سره لرې شوې ا و دژ وند
ساحه یې اساساً په کشمیر کښې د ګلګیت ،تانګیر ،چیلاس، دراس اوداهانو څو
ځا یو نه دي .

پها لور ی یا (پا لو لی) ژ به :

په دغه ژبه دچترال په ختیځ کښې دځو ړوو ړ و(شریت ، بیرې ، باشګل،
ګهوس ، ګومادانو)اوسید ونکې خبرې کوي .دژبې و خصوصیا تو له مخې د غه
ژبه شینې ژبې ته ډیر ه نژ د ې ده .

کشمیر ی ژ به :

ددې ژبې دژوند ساحه کشمیر دی چه دزیات‌شمیر و ګړ و ژ به د ه .

ددارد ی ژ بو و ګړ ی :

ددارډي ژبو دویونکو شمیر په یقینی ډول نه دی ځرګند .دا تو کل له مخې
یې شمیر د رې‌ملیونو وګړوته رسیږي چه یو ازې تقر یبا دو ه ملیو نه یې (دهند د
۱۹۶۱ کال داحصایې له‌مخې) په کشمیری خبرې کوي . داتوکل له‌مخې په
ګهوواری(۱۲۱) زره په پشه یې (۱۰۰) زره‌په‌شینې (۷۰) زره په کو هستا نی

(٦٧) زره په وايګلي - (٥) زره په پرا سوني - (٢٨٠٠) په پهالوري(١٠٠٠) تنه خبرې کوي .

دنورود ار دي ژبو ويونکو احصائيه نه ده ا تکل شوې .

دمذهب له مخې دد ارد يانو ا کثريت مسلمانان دي دنورستان او سيدونکود شلمې پيړۍ په سر کښې اود کشمير خلکو په څوا رلسمه پيړۍ کښې ا سلام منلی دی . په کشمير کښې په سلو کښې (٧٧) خلك مسلمان(٢٠)بود ايان اود(١/٥) سکان دي.

ددارد ی اصطلاح :

د(دارد ي) اصطلاح له(دارا ده)څخه اخيستل شوې چه په سنسکر يټ کښې دغه اصطلاح ډير ه لرغو نتياري(هم په جغرافيوی آثارو اوهم په حماسي نژادی قصايدو کښې)د هغه اولس يااولسونو دپاره استعما ل شوی چه هغه وخت د هند دنيمې قاری دشمال غرب په سيمو کښې اوسيدل .دغه اصطلا ح لر غونو مو رخانو ا و مؤلفينو هم استعمال کړې ده .بطليموس د دارادريی (١) سترابو ن ددير دا يی (٢) پلينوس دد ار دا(٣) اوداسې نورو په همدغه شان ور ته کلمو ذ کر کړی دی .

د هندي لرغونو مأخذ ونود روا ياتو له مخې داردی او لسو نو په تحر يف شوی آريا يی ژبه خبرې کولی .

له دې روا يا تو څخه داسې معلومېږ ی چه دوی د آر يايي ژبو په کوم ديا ليکت خبر ې کولی چه وروسته دغه دياليکت په د ياليکتونو اويا په ژبو وا وښت . له

---

(1)Daradria (2)Derdai (3)Darda

دغه ځای یه دا هم معلومیږی چه ددارد ی او هندی ژبو ترمنځه څه بیلتون موجود دو چه یادو نه یی په هندی ارغونو مأخذ و نو کښی شوې ده .

دمورخینو په عقیده دا باسین دحوزې په مرکزی برخو کښی دقبل المیلاد د زرو کلو نو په منځ کښی هغه ملیت یا ملیتونه تشکیل شول چه په داردی ژبو یی خبرې کولی . د ځینو محققینو لکه ګریرسون اونورو له خوادد اردي په ځای ددغو ژبو ګروپ ته د پیشاچه یا پیشاچی (۱) اصطلاح منل شوې چه دا هم دهندی ارغونو مأخذ ونو په استناد ده . دغه اصطلاح دیوې پرا کا ریتی ژبی نوم و چه د تاریخی فونیتیک له مخی کیدای شوه دیو لړ داردي ژبو نیا و ګڼل شی .

مګر دهندي تاریخی مأخذ ونوله مخی دغی اصطلاح یوه بله معنا هم لرله دغه اصطلاح دهرې غیر آر یائی محاوروي ژبی په مقا بل کښی استعمالیدله چه دآریایی ژبو دمنځو تر وخته په موجوده وه او له هغی و روسته دداردي اولسونو دپاره محققینو دد غی اصطلاح استعمال پریښود .

یوه تاریخی کتنه :

دمورخینو په عقیده هغه خلک چه په داردي ژبو یی خبرې کولی دا باسین دحوزې په سر کزي برخو کښی یی دقبل المیلاد دزرو کلو نو په نیما یی کښی ګروپونه تشکیل شول . مورخین دیونانی مورخ هیرودیت د(دادیك) د کلمی سره (داردي) ته سمون ورکوي . د کوم هیواد چه د (ګند ها را) د شمال

(1) Pishacha, Paisachi

په غرونو کښې و (۱) (دادیك) او د ګندهاریانو ، اپارتییانو (اپرید یو) او ستا ګید یانو (خټکو یا سیټکو) دقبایلو په شمول یې د هخامنشیانو د امپراتورۍ او م مالیاتي ولایت (ساتراپ) تشکیل کړی و . داردیانو (دادیکانو) د ګندهاریانو سره د هخا منشیا نو په لښکر کښې یو ه شر یکه پلټن جوړه کړې وه او یو شریك سر لښکر یې درلود .

دا چه (دادیکان) له (دارد یانو) څخه عبارت دي بل شاهد یې دا و چه د کشمیر او هغه ته دور څېرمه غرنیو سیمو او سیدو نکې هم (داد یکان) وو چه نن په (دارد ي) قبایلو کې شا مل دي (۲) .

ددار دی ژ بو څېړ نه :

دداردي ژبو علمي څېړ نه عملا د (۱۹) پېړۍ په (۳۰) کلونو کښې شروع شوه چه په اتفاقي ډول دد ا ردي ژ بو په با ب د سیا حینو له خوا په اینو ګرانیکو (تو کم پېژند نو) او جغرافیوي آثارو او همدارنګه د عیسوي مبلغینو په

---

(۱) - یو لړ اشخاص خیال کوي چه (دادیك) د (تاجك) سره سمون لري مګر دا خبره تاریخي سندونه نه لري . څکه نو دا نظر په هیڅ ډول نه ښکاري . په دي باب د ما کسي ګلیمبورګ اثر (افغانستان د منځنی آسیا په بحراني مرحله کښې) دویانا د (۱۹۶۶) کال چاپ (۱۲۳) مخ و ګورئ چه تاجك څوك دی ؟

(۲) - په دی با ب د ز یاتو معلو ماتو له پاره (د پا کستان اولسونه) د ګانګوفسکی تالیف د شوروي د علو مو دا کاډ مې د (۱۹۱۳) کال خپر ونه (۵۸ - ۵۹) مخونه و ګو رئ .

ACKU

خپرو نو (چه دتیرې پیړۍ پهلو سړ یو شلو کلو نو کښې دانجیل یوه برخه په کشمیر ی لو سړی په نګاري الفباء او بیا په (۸۰ - ۹۰) کلونو کښې په عربي الفباء) کښې دداردي ژبو لوسړنې شوا هد چاپ شول .

په دې باب لوسړنې آثار ډیر بسیط وو چه په هغو کې دیوې یوې ژبې یاد ژبودځانګو په باب ابتدایي معلومات ، لنډ قاموسونه، ګرامري لنډمعلومات او دهغو دژوندجغرافیوي ساحې ښوو ل کیدې .

دد غې دورې آثار او س یوازې تاریخي ارزښت لري چه دژبو علمي بریدونه نه وو درول شوي او اساسي څیړنې نه وې شوې او ډیرې ژبې لانه وې څرګندې شوې او دیو شمیر ژبو د یا لیکتونه لادځانګړو ژبو په حیث پیژند ل کیدل.سربیره پر دې دتراسکر یپسیون سمه افاده او دفو نیتیک درست جوړښت هم موجود نه ؤ. په هر صورت ددغې دورې آثارود راتلونکو علمي پلټنو او څیړنو له پاره لاره خلاصه کړې وه او دمحققینو دپاملرنې دجلبولو سبب وو.

دداردي ژبو په باب د (۶۰ - ۸۰) کلونو آثار نسبتا په لو ړه سویه وو ، په دغه دوره کښې د کشمیري ژبې داو لسي ادب (فو لکلور) دمتنونو خپر ید ل شرو ع شو ل .

دداردي ژبو په باب ددغه وخت نه آثار دتروسپ، راورتې، او ستین، کیمپبله ایلمسلي ، لینتر ، بیشون ، تراین ، نو پلیس ، بر هارټ او نو رو محققینو له آ ثا ر و څخه عبا رت دي .

د همدغو مو لفینو په آثارو کښې د نورو اینډو آریایي ژبوسره دداردي ژبوژبنۍ پرتلنه اومقایسه شروع شوه . ددغې مقایسې ابتد ا یي پلا ن په دې ډ و ل و :

۱ - یو معنا لرونکی‌ستن دتولوژبوپه‌عبارتی‌قالبونو کښې‌اچول‌اوسره‌مقایسه کول.

۲- په‌ټا کلی‌ژبه کښې د هغې داصلی فو لکلوری آثار و وړاندی کول .

۳ - معیاري لغات او جملې دژبو دواحد په ډول په هغو کښې‌وړاندې کول .

ددارد ي ژبو دبشپړې مطالعې او دهغود کاسلې کتنې‌په‌باره کښې‌جارج‌اترهام ګریر سون ډیر لوی لاس لري . ده دخپل‌اثرپه‌اتم‌ټوك کښې‌دافغانستان په دارډي ژبو هم بشپړه رڼا اچولې‌او دهغولغات‌یې‌دنورودارد ي‌ژبودلغاتو سره‌په یوه‌مقایسوي قاموس کښې وړاندې کړې دي .

ده په دې باب دتیرې پیړۍ په (۹۰) کلونو کی په خپرونو پیل وکړ ا و زښت ډیر کتابونه ، علمی مقالې او آثار یې خپاره کړل .

دنورستانی ژبو په باب درابرټ سون کتاب (دهندوکش کافري) هم بشپړ ارزښت لري چه دیوه سیاحت په ترڅ کښې یې‌دغه‌ژبې‌مطالعه‌اوبیایې‌دنورستان دخلکو دنژاد او ژبې په باب دغه کتاب خپور کړی دی .

دشلمې پیړۍ په سر کښې ددارډي ژبو یولړ نور محققین منځ ته راوتلی‌دي چه دهغو په جمله کښې ستین کونوف‌دګریر سیون همکار ښه شهرت‌لري.ددغو محققینو په جمله کښې بل تو ماس ګریهیم بیل دی چه د شینې ا و کشمیري ژبو په باب ښې خپرونې لري .

په (۱۹۲۴) کال کښې دناروې دکلتوري مقایسوي اینستیتوت نا متو ناروېژي محقق مارګین ستر ین افغانستان ته راولیږ ه‌چه‌ددارډي‌ژبوبشپړه‌مطالعه و کړي . ددغه محقق آثار ددغو ژبو په‌باب دمحققینو اودعلاقه لرونکو له پاره

ډیر ګټور او مفید ثابت شول .

ده وکړای شول چه ددادردي ژبو بشپړه طبقه بندي تکمیله اوداینډو آریایي ژبو په منځ کښې ددوی ځای داسې تثبیت کړي چه دمنلو وړ وي . خصوصاً دپشه ئي په باب دده بشپړ ګرامري او فو نیتیکي تحلیلونه او کامل قا موس دډیر ارزښت وړ دي .

دروانې پیړۍ په (۵۰ - ۶۰) کلونو کښې یولړ نورو محققینو د(داردي) ژبو په مطالعه پیل وکړ چه دهغو په جمله کښې یوجرمني عالم ګیورګ بودروس دیادوني وړ دی چه دوټه پورې ګرامر او قا موس ، دپشه ئي ګرامر او قاموس او داسې دنورو وخو داردي ژبو په باب یې ښه آثار خپاره کړي دي .

په (۱۳۴۰) کال کښې دکابل دادبیاتو په پو هنځي کښې دافغانستان د ژبو اطلس جوړول شروع شول چه په هغه کښې دداردي ژبو بریدونه هم طبعاً ملحوظ دي . همدارنګه په (۱۳۴۰) کال کښې ښاغلي دوریا نکوف پشه یي او د (دیګانو) په ګروپ کښې ښه مطا لعه کړې او ز یات سواد یې ورکښې را ټول کړي دي .

دنورستاني ژبو په باب د ا . ل . ګریون بیر ګ له خوا راټول شوی او خپا ره شوي معلومات هم ډیر په زړه پورې دي .

دداردي ژبو په باب دډیرو محققینوله خوا څیړنې شوې او خپرې شوي چه دلته یې یو څه سهم ټکي وړاندې شول .

ددغو ټولو څیړنو لنډیز د (داردی ژبې) په نامه کتاب کښې وړاندې شوی چه مولف یې د . ی ایدیلمن دی دا کتاب ددوریانکوف په مسئولیت د شوروی دعلومو اکاډمۍ دآسیایی اولسونو دانستیتوت له خوا په (۱۹۶۵) کال کښې په مسکو کښې چاپ شوی دی او ما هم له دغه کتابه زیاته استفاده کړې ده زما داستفادې نور ماخذونه هم ځای په ځای ښوول شوی دی.

داردی ژبې داینډو آریایی ژبو یوه څانګه :

دژبو یو تر بله خپلوی باید ددوی دفونیټیک، ګرامر او دلغت د خپلوی په رڼا کښې ولټول شی . داردی ژبې په دغو دریو اړو برخو کښې یو لړ داسې ګډ خصوصیات لری چه ددوی دنسبی خپلوی شهادت ورکوی .

فونیټیک :

دداردي ژبو یولوی خصوصیت دا دی چه یو لړ صایت غنوی (۱) غږونه لری . که څه هم ددغو غنوی صایتو غږونو موجودیت په ټولو داردی ژبو کښې یوشان نه دی ـ مثلاً په ځینو ژبو لکه : په (داسیلی، اشکونی، ګوواری) کښې دصایتو دغنی سبب دادی چه غنه یې دبې غږه (صامتو) ترمخه واقع وی په ځینو نورو کښې دغه غنه ډیره کمزوری ده .

غنه معمولا دکلمو دپای (د یر لږ د کلمو دمنځ) په هغو صایتو کښې وی چه تلفظ یې واضح نه وی (لکه په شینی، پها لوری او نورو کی) . په ځینو نورو ژبو کښې غنوي صایت په یولړ هغو ټولو کلمو کښې دایماً موجود وی په کومو کښې چه دمعنا لرونکی کلمې د جوړولو خصوصیت لری یعنی په دغو

---

(1) nazalized....

ACKU

کلمو کښې که صایت په غنه سره افاده نه شي د کلمې معنا اوړي . (دغه ډول غنه په یولړ هندی ژبو کښې هم شته‌اود پښتو یوازې په (ڼ) موجوده د ه) .

دا ر دي ژبو دختیځی ځانګی (کشمیري او کو هستانی) او د مرکزی ګروپ دیو لړ ژبوبل ګله‌خصوصیت دادی‌چه دفنو لوژۍ له‌مخې‌د (ي-معروفه) او (ې — مجهوله) توپیرنه لري .

دبی غږو (کونسونانت) اوازونو په‌باره کی‌دتړلو (۱) مخرجونو د غږونو ددرې لړیوموجودیت ددغو ژبو یوه خاصه ده چه د غه لړ ی له غږ یز و ګو نګو تنفسی او ګونګو غیر تنفسی مخرجونو (۲) څخه عبا رت د ي . په آ ر یا یی بیلو بیلو ژبو کښې‌غیرله‌هندي ژبود کوردی ، پراچی‌اودبلوچی‌دلویدیځ دیالیکت نه پرته دتنفسی اوغیر تنفسی تقابل خاصه نه‌ده .

په د ې باره کښې نورستانی ژبی (اشکونې ، وایګلی ، کا تی او پراسونی) اوپشه‌یی ژبه ا ستثنادي چه‌تنفسی غږونه نه‌لري . په‌نورستانی ژبو کښې دتنفسی مخرجونو له‌منځه تلل د (س . خ . ه) دلرغونی‌بدلون سره سمون لری ، چه په لرغو نو عصر ونو کښې‌په‌باختری او ایرانی ژبو کښې لید ل کیږي او دا تا ریخی‌بدلون‌ددې یوه‌نخښه ده‌چه‌دغه‌لویدیځی (نورستانی او پشه یی) ژ بی له‌هند ي ځانګی څخه باختري اوایرانی ځانګوته زیاتی نژدې دي .

ددار دي ژبو بله فونیتیکی لویه خاصه داده چه په د وی کښې د سیربیرال(۳) (څ ، ټ، ڼ، ډ ، ړ ، اونور بی‌غږه‌اوغیرسیریبرال‌بی‌غږه‌مخر جونه

1—Obstrued.

2 —Voiced, unvoiced, aspirate, unvoiced unaspirated.

3 —Cerebral.

لکه په ټولو هندي او ځینو باختري ژبو (لکه پښتو) کښې موجود دي مګر دځینو سیر یبرال اوغیر سیریبرال مخرجونو دتقابل موجودیت په د غو ژبو کښې مثلا (څ ، چ ، ج ، ژ) دغه ژبې د هندي ژبو په نسبت باختري ژبوته نژدې کوي .

همدارنګه د (ځ) غږهم چه په داردي ژبو کښې موجود دی اوپه هندی ګروپ ژبو کښې نشته دا یوبل دلیل دی چه د اردي ژبې د هندي ګروپ په‌نسبت مرکزي آریائی (باختري) ژبوته نژدې دي .

په داردي ژبو کښې د د ووا ویلونو (۱) ترمنځه همدا رنګه‌د کلمو په پاې کښې دغږیزدبې‌غږه کولو قانون چه‌لا په منځنیوپیړیو کښې‌په (پایشاچی) کې‌موجود وواونن هم په‌دغو ژبو کښې لکه(تبیپ، رباپ) موجود دی او په‌هندي ژبو کښې نشته اوپه‌مرکزی آریایی (باختري لکه پښتو) اوایرانی ځینو ژبو کښې‌لیدل کیږي‌داپیښه هم‌داردي‌ژبې باختري‌ژبوته نژدې کوي .

دداردي زیاتو ژبوبل لوی‌خصوصیت داد ی‌چه د (ي ـ مجهوله اومعروفه) تر منځه د سراو پاې بې غږه توری په فشار سره‌سخت اداء کیږی . چه دې ته پلا تالیزاسیون (۲) وائی دغه خصوصیت د باختری په پامیری ژبو کښې هم موجودد ی او په هند ی ګروپ ژبو کښې نشته . دداردی ژبوپه یولړ (خصوصاً په‌نورستانی‌اوهغوته په‌ورځیرمه) ژبو کښې‌په‌زغرده تلفظ کښې‌د (ن ـ راونې + ړ) ترمنځه بدلون اوریدل کیږي دامکه چه په خیشوم کښې‌ا دا کیږی ا و غنه

1 —Intervocalic.
2 —palatalization.

ACKU

ورکښې زیا ته وی مثلاداشکونې په (انیك ـ اړیك ـ ستا سو) کلمه کښې همدارنګه په پراسونې ، ګواری او نوروکښې د (ړ) دغږ په ځای (ډ ـ ټ) اور یدل کیږی .

په داردی ژبوکښې اصلا د (ف ، خ ، غ ، ق) غږونه نشته . دا غږونه یوازې په اخیستلو شویوکلمو کښې‌اوریدل کیږی . د (ف . خ) دغږونو په بدل کښې اکثره د (پ . پهه) او (ك ـ کهه) غږونه اوریدل کیږی . د لرغونو آریایی (ت ـ ر) (۱) په‌داردی یولړ ژبو کښې ساتل‌شوی په ځینو کښې په (چ) په‌ځینوکښې په (ش) اوښتی دی او ډیر لږ د (ت) په غږ (په هندی ژبو کښې) پا تې دی .

مثلا : سانسکریت (پوتره ـ زوی) ، هندی (پوت) ، وایګلی (پیوتر) ، کلشی (پوتر) ، کشمیری (پوتر ـ په مجهول واو) ، شینې (پوش) ګاروی (پوخ)، ما یانی (پوچ) .

د ګواری ، وټه پوری ، شوماشتی اوپاشکاریك ژبوپه ګروپ کښې د کلمو د سرلرغونی (ت ـ ر) غږ په اړخیز (ل) چه (د خولی په یوه اړخ کښې ادا کیږی) بدل‌شوی چه‌دیته (لاتیرال) (۲) مخرج وایی ، چه د محققینو له خواپه (ه ـل) (۳) ورنه تعبیرشوی دی ـ له‌دغه غږه په پشه یی کښې تعبیر په (ث ـ ل) شوی‌دی . لکه‌لرغونی آریایی (بلکی اینډو ارو پا یی) تری ـ

---

(1)tr

(2)Lateral

(3)HL

درپ) ، په پشه یی کښی (ثلی) ، ګوا ری (هلې) ، وته پوری (تا) (هله) , شوماشتی (هیله) ' ننګلامی (شلی) ، باشکاریك هله .

همدارنګه دسانسکریت (پوتر - زوی) کلمه په باشکاریك کښی (پوهله) پشه یی (پوثل) ' (پوتر) ، وته پوری (پور) شوماشتی اوګواری (پوهل) .

دنورستانی ژبو د (داسیلی په شمول) یوخصوصیت داد یچه داینډو اروپایی ژبو د (ك) غږ د (خ) په غږ ور کښی او بنتی دی . مثلا د سا نسکریت شا کهه (ښاخ)(۱) کاتی (ښاو) وایګلی او پراسونی (ښاو) اشکونی (ساو - ښاو) همدارنګه سانسکریت (کیشه - ویښته) (۲) وایګلی (کیخ) ' دامیلی (کښ)، پراسونی (ایش - کیخ) (ایش - خوله ، کیخ - ویښته) د (بریت) په معنا، کاتی (کیخ) . داسی ښکاری چه د پښتو په (کوڅی) کښی هم دغه ریښه موجوده ده .

مور فو لوژی :

دمور فولوژی په ساحه کښی کیدا ی شی چه دداردی ژبولنه خصوصیات په راتلونکی ډول وړاندی شی .

په داردی زیاتو ژبو کښی مذکراومؤنث دواړه موجود دیچه په اسم ذات او صفت کښی دغه ژبی دمؤنث له پاره د (ي - معروفه) نخښه لری . ددغی خاصی موجودیت له یوې خوا دداردی ژبو یوتر بله دخپلوی لوی ثبوت دی او له بلی خوا دغه ژبی د هندی ګروپ سره نژدی کوی .

دمفرد اوجمع کتیګوری د هندی ژ بو په شان دګرامری حالت د کتیګوری سره نژد یوالی لری .

په داردې يولړژبو کښې اسم ذات جمع اومفرد دبيلتون له پاره کومې خاصې ګرامرې نخښې موجودې نه‌دې . جمع او مفرديې يوازې له‌قرينې (ګونتيکست) څخه څرګندیږې . دغه خصوصيت په‌نورستاني اويولړنورو ژبو (وايګلی ، پراسونې، داميلی) او په مرکزی ګروپ :

(شوماشتی،تيراهی، ګهوواری-غيرذيروحو، کلشی-داسم ذات په يوه‌خاص ګروپ کښې) اوپه‌خيځ ګروپ(توروالی،مايانې په يوه‌خاصه ډله‌اسمای ذاتو کښې) کشميرې (په هغو اسمونو کښې چه په بې‌غږه‌پاي ته رسيږي) ليدل کيږي چه يادحالت د وروستا ړو په مرسته او کله دپاميري ژبو په شان دخدمتی کلمو په مرسته يې دجمع افاده کيږي لکه د(کيلی، ګيله- توول،واړه)خدمتی کلمه دجمع معناافاده کوي .

د ګرامري حالتونو افاده‌دنوروا کثرو اينډو يورو پی ژبو په شان دخدمتی وروستيو کلمو (پوسلی لوګ) په‌مرسته کيږي .

دصفت په‌برخه کښې داردي ژبې دمؤنث له پاره د(ي - معروفه) وروستاړي لري او مذکر په نورو مختاړويا وروستاړو (افيکسونو) سره افاده کيږي .

په زياتو داردي ژبو کښې صفت هم جنس (مذکر ، مؤنث)هم جمع اومفرد او هم ګرامري حالتونه لري البته ټولی ژبې په دې باب سره توپير لري .

دپښه يې ددیا ليکتونو څخه پرته په‌نورو داردي ژبو کښې دصفت درجې (مقايسوي ، مبالغوي) تقريباً نه ليدل کيږي .

داردي ژبې معمولا د قيد له پاره خاصې صيغې نه لري . دا وظيفه غالباً صفت او ډير لږ اسم ذات اجراء کوي .

داردي ژبې دشخصي ضميرونو په برخه کې يوازې دمتکلم او مخاطب دجمع مفرد او جمع ضميرونه اري دغايب ضمير وظيفه داشارې اسمونه اجراء کوي .

اشاري ضميرونه دواتن له مخې حتی ترپنځودرجوپورې ضميرونه لري. په داردي زياتو ژبو کښې (دويدي او منځنيو هندي ژبو په شان) دمتصلو خپلواکو (۱) ضميرونو استعمال زښت ډير دی .

دشمير په برخه کښې د(کشميري نه پرته) ټولی داردي ژبی يوشان دي په دې معنا چه په شمير کښې د(شلگونو)سيستم لري . مثلاء (ديرش) په(شل اولس)، (پنځه ديرش) په (شل اولس او پنځه) ، (څلويښت) په(دوه شلی) ، (پنځوس) په (دوه شلی اولس) او داسی نورو افاده کيږي . په کشميري کښی د (شل) په ځای (اس) استعمالوي .

دداردي ژبو دفعل په برخه کښی يوشی چه دمحقق له پاره زيات په زړه پورې دی هغه دپښتو په شان اير گاتيف سيستم دی په دې معنا چه په داردي زياتو ژبو کښی ماضی متعدي دمفعول تابع ده نه دفاعل . په شينی ژبه کښی دغه سيستم نه يوازې په ماضی متعدي بلکی په متعدي حال کښی هم معمول دی . مگردار گاتيف سيستم په بيلوبيلو ژبو کښی يوشان نه دی د گرامري حالت له مخی يو تر بله سره تو پيرلري.

---

(1)Inclitic

سرکزی داردی ژبې :

داردي ژبې دمحققینو له خوا په دریو څانگو ویشل کیږي :

۱- مرکزي داردي .

۲- نورستاني یا الویدیځې داردي ژبې .

۳- ختیځې یا خاصې داردي ژبې .

ختیځې یا خاصې داردي ژبې دلته نه ځیږم چه دهغو سوجودیت زسونږ په هیواد کښې یقیني نه دی .

دلته لوسړی سرکزي داردي ژبې اوبیا نورستاني ژبې څیړل کیږي . سرکزي داردي ژبې له پشه یی، تیرایی، وته پوری، گواری،شوساشتی،خواری او کلیشی څخه عبارت دي . د کلیشی او خواری سوجودیت هم دلته یقیني نه دی ځکه یی له څیړلو څخه تیریږم . نوری ژبې دلته وړاندې کیږي :

دلته په هغو داردي ژبو لنډه رڼا اچول کیږي چه دهېښتونخوا په خاوره کښې

ژوندی‌دي . ترټولودمخه دلته دافغانستان‌یوه لرغونی ژبه‌پشه یی‌وړاندې کیږي :

پشه یی ژ به : په سرکزي ګروپ کښي ځای لري‌چه په‌دغه ګروپ کښي ورسره ګا واري، وته پوري ، شو ماشتي، تیرایی ، کلشی او خواري ژبی شاملی دي . پشه یی دخپل جغرافیوي موقعیت دتشتت له سخی په څلورولهجو ویشل شوې چه هغه دادي :

١- شمال لویدیځه لهجه (ګلبهار او شوتل) .

٢- داوزبین ددرې لهجه (دلغمان لویدیځ اوالیشنګ ددرې لهجه) .

٣- دتګاواو نجر او لهجه .

٤- دالینګار ،کونړ او دپیچ ددرې لهجه (١)

لویدیځو محققینو هم پشه یی یا په دوو یا څلورو دیا لیکتونو (یا ژبو)ویشلی ده . ددغو دیا لیکتو نو (یا ژبو) یو تر بله تو پیر له ګرامر او لغوي خوا څخه زیات په فو نیتیک کښي مو جود د ی. په ژبه کښي ددغی ګډوډی سبب‌له‌یوې خوا دادی چه دلیك ژبه نه‌ده ،لیکلی آثارنه لري او دغی ژبی ته خد مت نه د ی شوی . له بلی خوا پشه یان ډیر ګډوډ او په بیلو بیلو سیمو کښي ژوند کوي چه دغه سیمه ایز بیلتون ددوی په ژبه کښي هم داختلا فونو سبب شوی دی .

دپشه یانو دتاریخ په باب مفصل لیکلی آثار نشته‌چه دتاریخ په‌پوړیو کښي‌ددوی په ژوند رڼا واچول شي .

لرغونو هندي منابعو چه د (پیشا چه) یا (پایشاچی) کلمه قید کړی ده

١- داویش په آریانا دایر ةالمعارف کښي هم وګوری .

ACKU

او د ګرير سون او ځينو نورو محققينو له خوا په همدغه نامه بيا تول دارديقومونه ياد شوي دي . زما په عقيده دا کلمه داوسنی (پشه یی) سره ډير سمون لري خو نورو زياتو محققينو (لکه چه بحث يې په تيره بر خه کښې تير شو) دا کلمه د پراکريتانو له پاره منلې ده .

د پشئی ويونکو په ژوندانه کښې خيرنه ډير مشکل کار دی ځکه چه دوی په خپله ژبه کښې کوم ليکلی آثار نه لري چه مستند ژوند يې بيا ن شی . بی له رواياتو چه خلك يې کوي بل شی نه موندل کيږي . په دغو روا يا تو کښې ددرويش محمد خان غازي جنګنامه ياصفت نامه زيات شهرت لري چه هغه هم ډيره نه موندل کيږي (۱) .

په هغه کتاب کښې ددرويش محمد خان غازی ټول فتوحات اوحماسی تاريخ ليکل شوی دی . دی دميرزا محمد حکيم (۹۹۰ ه) هم عصر دی.

درويش محمد خان غازي چه په اليشنګ او الينګار کښې اسلام خپور کړ په جنګ نامه کې يې مفصل معلو مات و ړا ند ې شو ي دي.

درواياتو له مخې داليشنګ او الينګار اوسيدونکی اصلا د ا لينايانو په نا مه يادشوي دي . الينايان دويدی دزمانې يوه مهمه قبيله و ه دريګ و يد ا له ترانو

---

۱ — ددغه کتاب مؤلف قاضی محمد سالم نوميږي چه د کتاب نوم يې(صفت نامه غازي محمد درويش خان)او په ۱۹۶۰ عيسوي کال کښې په روم کښې چاپ شوی دی د (۱۳۰) کـال کابل مجله ـ شپږمه ګڼه (داليشنګ او الينګار ننداره) مضمون و ګورئ .

چه‌د آرئیانو له‌مهاجرت څخه و روسته د هند و کش جنوب خوا ته و یل شوې سعلوسیرې چه‌الینایان دآریائی قبائیلو لکه پکتها (پښتانه) اوبهلان ا و داسی نور غوندې دی چه‌دلسو قبا یلو په‌جگړه کښې یې گډه و ن کړې دی کله چه (وزایو مترا) د (یو دا سا) پا چا منشی له خپلې وظیفې څخه گوښه کړې شو ځان یې دلسوآریائی قبا یلو سره یوځای کړ اود (یود اسا) سره یې سخته جگړه وکړه ، جگړه دهغه په‌نفع پای ته‌ورسیده د وی څه هـنـد ته لا ړل ا و څه‌یـې پا تې شول .

الینایانودالیشنگ او الینگار په دروکښې‌د هندوکش په‌لمنو کښې هستوګنه غو ره کړې او بیا یې د نفوس دډیروالی له کبله نورو ځایوته‌حرکت کړی دی اوډیریې د هندوکش په‌جنوبی لمنو کښې لرو بر خپاره شوی دی.

الیشنگ‌او الینگار همدا معنی لری چه‌دالینا یا نو هستو ګنځی دی . دوی مالد ار اور سې به یې روزلې له‌وړیونه به‌یې جا مې جوړولې ا و له پوستکو به یې د (کتاك) په‌نامه‌جامه‌جوړوله . دوی‌ا کثر په‌غرونو کښې اوسیدل تول خلك‌یې غښتلی اولوړ قدونه یې لرل له همدغه کبله د (توروديوانو) په نامه یادیدل .

قاضی محمد سالم په‌خپل کتاب (صفت‌نامه غازی محمد د رویش) کښې له‌د رونتې څخه ترپرچ غانه‌اوپچه غانه (٦٦)لویی‌اووړې د رې یادې کړې‌دی اولیکی چه « غا زی محمددرویش ددغو درو له کافرانو سره ډ یر جنگونه کړي اودوی‌یې اسلام ته رابللي دي » .

په‌صفت‌نامه کی (پانداد) ، (شروي) ، (لاماندي) ددوی د خدا یا نو په نامه یاد شوي دي . بایدوویل شی‌چه‌په‌دغودرې‌نومونو (پانداد) ، (شاروي)

(لامانده) په‌نامه دپشه یانو درې کلي اوس هم یادیږي .

د صفت نامي په‌قول غازي محمد درویش یو ر و حاني شخصیت و چه د کابل دوالي میرزا محمد حکیم له‌خوا په (۹۹۰ ه) کښي ددغو درو د ا یل کو لو په‌غرض واستول شو . داليشنګ په‌دره کښي داسلام آباد او درویش آ با د کلي تول دده‌نامه ته‌منسوب دی چه لوسړی‌یی داسلام‌آبا د ګلا جوړه‌اودمرکزپه‌حیث یی ورنه کار اخیسته او اوس یی هم قبر همالته دی . دصفت نامی شخه سعلومیږي چه دغه درې یوځل دسلطان محمود غزنوي‌اوبیا دامیر تیمورګور ګانی‌په وخت کښي وهل شوې دي .

په صفت نامه کښي دغازي محمد درویش په لښکر کښي دغور غوشتي شینواري هزار میښواونورو نوسونه هم یاد شوي دي (۱) .

کله چه امیرعبدالرحمن په‌هغه‌ځای بری وموند دهغه ځای‌زیات اوسیدونکي یی دیر غمل په نامه کابل ، لغمان او لوګر ته ولیږ دول .

الینایان چه هری طایفی ته نژدې ورغلی دي ژبه یی هم دمحیطی تاثیر لاندې راغلی او بیلی‌بیلی لهجی پکښي پیدا شوې اوخپل اصلی شکل‌یی له‌لاسه ورکړی دی لکه شرقی او غربی نورستانی ژبی چه ډیر توپیر لري پشه‌ئی ژبه هم په مختلفو لهجو منځ ته راغلی لکه سیوالی لهجه چه په الیشنګ دره‌کښي ویل کیږي . وامائی لهجه چه په النګار کښي ویل کیږي ، کشمنډي‌او خاریګا چلسی اونورچه هرې ژبی ته نژدې شوې غیر پشه‌یی لغات پکښي ګډ شوي دي‌لکه

۱ـ کابل مجله د . ۱۳۵ کال شپږمه ګڼه .

د کاپیسا پشه یي چه د پارسي ډیرې جملې لري او په خارېګا او چلسي کښې چه غیر پشه یي لغات زیات لیدل کیږي .

د پشه یانو د نفوسو د شمیرسمه احصا ئیه په لاس کښې نشته (۱) او په کومو ځایونو کښې چه هستوګنه لري هغه دادي :

د لغمان ولایت په مرکز میترلام کښې د پشه یانو کلي ـ سکوره ، دیوه ، ده زیارت ، دالیشنګ کلي ، کرنج ، چلمتي . دقرغیو په ولسوالي کښې چار باغ ، کشمنډ دالیشنګ په ولسوالي کښې دشمګټ دره ، چاناك ، دسایګل دره ، دګل احمد کلا ، کاسیګر ، تنګو ، دردري (چه یوه تاریخي کتیبه هم لري) ، منجات ، غازي آباد شارخلو ، حاجي آباد ، نوروم ، جمشو آباد ، اند را ، لامانده ، دماسانده دره ، ده برجو ، نوخلو ، کاسکین ، دپوښین دره ، نلي ، شمسه خیل ، کرندالي ، بانډو ، پرائین ، ګولګري ، نژه لوم ، نجیل ، ګلوتو ، اسي خانوتو ، قلو ، دمبلوم ، میل دره ، پانډاو ، ګونډالي . (په دې ځای کښې هم کتیبه موجوده ده) کوټا ، دا کاور دره ، د کوهستان په علاقه داري کې کسوك ، سنجري ، منډول ، دیوان دره ، شاهي درنګي ، بوسبي ، کنداکوري ، نوړ ولمبړي ، الوکون ، لوړ کون ، منانګر ، خوجه ګشته ، داتپ دره ، دچکلي دره ، دد ګړان دره ، مورا ، ویس نولوم ، دنوییا دره ، چنډال ، تمبلو ، ګډیالو ، او کو نډ وشیر .

۱ـ د . ي . ۱ . ایدیلمان په کتاب کښې (دشوروي علومو دا کاډمي د ۱۹٦۵ کال خپرونه . تقریبا سل زره اټکل شوی دي .

ACKU

په الینگار ولسوالی کښې د کلمان دره ، دساودره ، دنور کلام دره ، تیتین نکړه ، د کچور سالاو دره ، پچا ګرو دوو ، شاما ، دژنیا دره ، دننګرهار په ولایت کښې ښیوه ، ګوریك دره اونور.

د کاپیسا په ولایت کښې کوتې، دالسکین دره، داشپی اوالی سی دره، پچغان، سنجن ، درنامه ، ګیاوه ، بوله غین .

دسر وبی په اولسوالی کښې دازبین درې خوکلی - دپغمان پشئی کلی.
دبغلان په ولایت کښې داختاج ستار بای قریه .

دبدخشان د ولایت دکشم په ولسوالی کښې دسرجر کلی .

باید وویل شي چه دمهاجر تونو له کبله هرې خواته تللی ځینو پشه یی ژبه هیره کړې ده . همدغه رنګه ځینی نورې قبیلی چه ددوی سره نژدې شوی هغوی پشه ئی ژبه زده کړی لکه پښتانه، چغتیان، تیمور یان تاجیکیان اونور چه ژبه یی پشه ئی ده ولی قومی ادعا کوي چه زه پښتون ، چغتی، تیموري، تاجك یم(۱).

دپشه یی ژبی په باب ناستو ختیځ پیژندونکی اوپیاوړي محقق مارګین سترین نسبتاً یولوی کتاب په انګریزي ژبه لیکلی دی ، نوم یی (اینډو ایرانین فرنټیر لانګویجز) (۲) دی.ددغه کتاب دریم ټوك پشه یی ته وقف دی چه په(۳۳۵) مخونو کښې په ۱۹٦۷ کال په اوسلو کښې چاپ شوی دی.

---

(۱)ـ ددغومعلوماتو زیاته برخه ښاغلی مظفرالدین ننګیار دالیشنګ د(لورګون) او سیدونکی را کړې ده .

(2) Indo Iranian Frontier Languages Vol III oslo 19,7.

دپشه یی و یونکو دسیمو نقشه

ددغه کتاب دمقدمی دیوې برخی لنډیز دلته وړاندې کوو (۱) پر و فیسر مارګین ستر ین لیکی : پشه یی ژ به دافغانستان په شما ل ختیځو سیمو کښی د کابل سیند پهشمال کښی ویل کیږی چه دا سیمه تقریباً (۱۷۰) کیلو متره اوږدوالی لري. په یو شمیر وادي ګانو کښی چه د ګلبهار څخه تر پنجشیره پهشمال لویدیځ کښی او پهختیځ کښی د کونړاو پیچ دسیندونو تر یوځای کیدو پوري رسیږی .

---

۱ ـ ددغه کتاب مقدمه ښاغلی خیر محمد تر جمه کړ ي چه په تشکر سره یی وړاندې کوم .

ډېره سوده نه ده تيره شوې چه داژبه دپنجشېر د ناوې په يوه برخه کښې هم ويل کيده او دنجراو او بدراو په سيمو کښې په پراخه ساحه کښې ويل کيده .
همدا راز دلغمان او کونړ په ناوو کښې هم ځای په ځای ويل کيده .

ج . ک . لوريمرد پشه يی ژبې ويونکی سل زره وګڼي اتکل کړی وو چه دهغوی نوسانی ډيرښت او کموالی يی په نظر کښې نه ؤ نيولی چه دا اتکل يی هم د پشه يی ژبې دويونکو دسيمواله مخې کړی ؤ . مګر دی د پشه يی ژبې دغربی سيمې دپراختيا داندازې نه ابر خبرؤ . له بلې خوا ددې په وخت کښې پشه يی نفوس له يوې خوا زيا تيدل مګر له بلې خوا د پښتو او پا رسی ژبو د تاثير لـه کبله چه د پشه يی سره څنګ پرڅنګ پرتې دی او د پشه يی په سيمو کښې يې نفوذ کاوه د پشه يی ويونکی ورځ په ورځ کميدل دپشه يی دويونکو د شمير تخمين د (۹٦۰۰۰) نفر و په شا او خوا کښې دلوريمر داتکل سره سمون خوري . ليکن دا اتکل په يوې منظمې سرشميرنې بنا نه دی او ددې ټولو سره سمکن چه لوړ وی .

پشه يی ديوې بوسې او اصلی ژبې نوم دی چه دانوم د ليچ ، بورنيس او راورتی له خوا شمال غربی او جنوب شرقی لهجوته ورکړ شوی دی .

نور نومونه لکه کوهستانی ، لغمانی ، اوديګانی نومونه ددباندې کاونډ يانو له خوا سيمه ايزو لهجوته ورکړ شوی دی .

د پشه يی په باب دلوړې خلد پاره دمار کوپولو له خوا ياد ونه شوې ده :
« داسيمه دبدخشان څخه ترد ې ځايه پورې لسو ورځو فاصلې په امتداد کښې يوولايت دی چه (پاشيای) بلل کيږی اودوی خپلو خانونو د پاره خپله

ژبه لری د دې ولایت ټول خلك بت پرستان دی دښکلیو او په زړه پورې هنرونو سره بلد دی، خپل زیات وخت په دعا او له شیا طینو څخه په مرسته غوښتلو تیروی. او دلته خلك دسرو، سپینو، قیمتي تیږو، مرغلرو ګوتی په لاسو کوی او په غوږونو کښې یې راځوړ ندوی، دوی د کار ښه استعداد لری. دوی پخپلو اخلاقو کښې ډیر کینه کښ، څیرك، سخت زړی اوزړور خلك دی. د ا ولایت په یوه ګرمه سیمه کښې پروت دی. دد وی خواړه غوښه، وریژې اوطبی بوټی دی»

یوه پیړ ی وروسته ابن بطوطه په خپلو یا دد ا شتو نو کښې د (پشه یی) ذکر د «بروان» (پروان) سره نژدې په یوغره کښې کوی.

(په ۳ ۵ ۵ ۱ ع) کال کښې ترکی امیرالبحر سیدی علی د فرانچې (پراچی) او پشه یی خلکو دمشر له خوا د کابل څخه دچاریکار او اوپروان په لاربدرګه شو.

په همدغه وخت کښې بابرد پشه یی (په اغلب احتمال سره غربي لهجه یی) ذکر دلغمان سره دډیرو هغو ژبو په منځ کښې کوی چه د کابل په شاوخوا کښې ویل کیدې.

لوسړی ا رو پا یی چه په ا و سنی عصر کښې د پشه یا نو یادیګا نو (چه دی یی بولی) ذ کر کوی الفنستون دی چه دی دد وی ځای د کونړ او لغمان په سیمو کښې او په نورو هغو ځا یونو کښې چه د ا ژبه ویل کیږی داسی کوی :

«داسی ښکاری چه دا ژبه د سنسکریت او اوسنی پارسی ا و د پښتو څو لغا تو او دځینو ډیرو نامعلوموریښو یو مخلوط دی».

ماسون هم دپشه يي ذکر په ډيروځايونو کښې کوي . د ده دوينا له مخې پشه يي دپنجشير د اوسيدونکو چه تاجك دی دپوهو لوژ به ده .

«داژبه همدارنگه دنجراو په ختيځو غرونو کښې مروجه او په شپږوکليو کښې وربانديې خبرې اترې کيږي او همدارنگه عموماً دنجراو هغه اوسيدونکی وربانديې غږيږي‌چه دپارسی ژبې سره‌هم اشنادي . دتگاو ساپيان‌هم په‌قوي‌احتمال سره دپشه يي نژاد څخه دي . دلغمان تاجك تاجيکی ژبه‌وايي داژبه هم په‌قوي احتمال‌ددره نور کوهستاني اودتور پوښو (سياه پوش) کافرانو لهجی ته‌نژدې‌ده».

لنډه داچه دماسون دويناله مخې چه کوهستاني ژبه ددرهٔ نور، دره مزار او پيچ او نورو ساپيانو له خوا ويل کيږي چه په نورو لهجونه پوهيږي .

ليچ لوسړی سړی وچه دکونړ دپشه يي دوه سوه لغتونه او دلغمان (۱۷۰) لغتونه يې خپاره کړل .

بورنيس هم د(پوشی) لهجې يوڅه‌کم لغات نشر کړل.ليکن په(۱۸۳۷م) کښې ماسون پخپله مجله کښې دلغمان (۹۵) لغتونه او(۱۳) عبارتونه ثبت کړل . گريفيت په (۱۸۴۰م) کښې په‌خپل سفر کښې دپشه‌يي دشمال شرقی لهجی کرونکولی (۱۲) لغتونه خپاره کړل اوتروسپ مونږد کونړي لهجې د(شلو) لغاتو سره اشنا کوي .

راورتی دپشه يي (۷۸) لغاته او دکوهستاني دشمال غربی لهجې (۱۲۶) لغاته ثبت کړي دي ، داسعلومه خبره ده چه دراورتی کوهستاني د عربی الفباء څخه رانقل شوې وه ، په‌ډيرو ځايونو کښې‌مونږ (ك) د (گ) اويا د (ل) په‌عوض

ګورو. د(د) توری د(و) په‌عوض اویا (و) د(د) په‌عوض اوداسی نورلیدل کیږي .

راورتی دپښه یی زیات لغات دلیچ څخه رانقل کړی‌دي اودتور پوښولغات‌یی دبورنیس څخه نقل کړي‌دي . په‌ځینو ځایونو کښې یې دلیچ لغات یاغلط کړي او یایې شکل وربدل کړی دی .

تنرته ده په خپل سفر کښې دپښه یی یوڅه لغات ولیکل او د ، داوید سن دوینا مطابق ده ددره نور دلغا تو (۱۵) پانې‌یاد داشتونه ولیکل چه هغه‌تراوسه پورې لاس ته نه دي راغلی .

بالاخره دهند دژبیو هنی دتحقیقاتو دکتاب په (۸) او (۲) توکونو کښې ددوه پښه یی لهجو یادونه‌شوې‌ده چه یوه‌یی ختیځه (دکونړ) اوبله‌یی لویدیځه (دلغمان) ده چه دواړه په جنوب ختیځ ګروپ کښې شاملیږي .

د ګ. بودروس مهم اثر(ویترا ګ‌زور کینتمس دریشته یی دیالکټ ۱۹۵۹ کال) چه ددرهٔ نوري لهجو (قلعه شاهی)اوسوتن‌ټیوه (کونړ) اوددوه‌شمال شرق ګروپ (چلس او ګنډک) دلهجو لغات او متنونه راوړي. بود روس په‌ډیره سخاوت مندانه توګه ددې لهجو ګرامري یاد داشتونه ماته راکړل چه ډیر لغات‌دده په کتاب کښې‌نه‌ولیکل شوي‌ژه‌په‌زیاته‌اندازه خپل ځان‌دده دموادو دراکولو سرهون ګڼم.

لینترهم‌پخپل اثر زیتریخ ننګ (این نورستانی اندام پامیر) کښې دکولمانی او کور ددرې یوڅه لغات را وړي .

دکابل کلنی (۱۳۱۳) په (۱۳۹) مخ کښې په پښتو الفباء دپښه یی دجنوب غربی لهجې تقریباً (۱۲۰) لغتونه او ګرامري صیغې چاپ شوې دي .

ایف میکنیزی په (۱۹۵۱) کال د نوسبر په اتمه نیټه په پشه یی ګړ کښې (۲۱) لغتونه اخیستي وو .

ك . فردیناند د هند دژبو دسروې دموسسې د کتاب څخه دفعلونو او اصطلاحاتو د روابطویو څونمونې اود کلاتك (شفیغ کوټ) دیوه پښتون څخه چه دوړو کوالي څخه د پشه یي سره اشناؤ یوڅو جملې او یولنډ غزل د ۱۹۵۵ کال په فبروري کښې تیار کړ .

ل - ایډ لبر ګ د (۱۹۵٦) کال په فبروری کښې (۲۹) اسمونه اویوڅه لغات په کوردار کښې اخیستي وو .

ه - پنزل - د کونړ څخه یوڅو فعلي شکلونه را ټول کړل چه غالباً دشمال غربی او یاشمال شرقی داله سای دلهجې څخه دي .

ګ . ریډار دپه (۱۹٦۰) کال کې کابل ته د تګاو څخه څو یادداشتونه راورسول چه د درهٔ نوري لهجې په فعلي شکلونو اوصفتونو او ضمیرونو باندې لیکل شوي وو .

په (۱۹۳۹) کال کښې داله سای لهجې لغات مې په پښتو ټولنه کښې چاپ کړل . ساد لوسړي ځل دپاره په پشه یي ژبه د (۱۹۲۳) کال دسی څخه تر سپتمبره پورې په کابل کښې کار وکړ .

په (۱۹۲۳) کال کښې مې په کابل کښې د کهنه ده اود شوتل د اوسیدونکو سره کار وکړ چه وروستي لهجه د کهنه ده دلهجې سره نژدې وه .

دلغاتو ګرامر او جملو یولنډ لست مې په کابل کښې (۱۹۲۳) کال د ایشپې ،

نازو ولام (ناجیلي) پسیو دو (پچه غان) څخه واخیستل .

په جلال آباد کښې مې څینې مواد دچارباغ (په لغمان کښې) کچوړې سالاو ، منګو ، نورلام (دوی واړه په الینګار کښې دي) کونړ، ویګل خلشاي (قلعهٔ شاهی) (په دره کښې) څخه راټول کړل .

د ۱۹۲۹ کال په مارچ او اپریل کښې مې په پېښور کښې دپشه یي ژبې دویونکو څخه چه دلغمان پچه غان درهٔ نور (دقلعه شاهی او لمټک)، اریت، دچلساي، کونړ نګال داوسېدونکو څخه معلومات واخیستل .

د ۱۹۶۱ کال په اکتوبر کښې په کابل کښې دیوې لنډې مودې په هستوګنه کښې مې (دلغمان ده زیارت) اواله سای ددووتنو او سیدونکو... سره کار وکړ چه ماته یې ډېرې مهمې او ګټورې فعلي نمونې او مثالونه راکړل چه زما ډېره علاقه یې جلب کړه او زما دکار دپاره یوښه مرستیال بلل کیږي . دیوې لنډې کتنې دپاره اله سای او ایشپې ته لاړم او ددې کلیو په لهجومې داله سای او ایشپې داوسیدونکو څخه معلومات راټول کړل .

پشه یي لکه څنګه چه وبه یې وګورو په ډېر شمېر داسې لهجوویشل شوې ده چه پوهیدل پرې ګران دي . دشمال شرق پشه یي دنورو داردي او کافري (نورستاني) ژبو په ګاونډیتوب کښې پرته ده په جنوب او جنوب شرق کښې یې سرحدونه دپارسي او پښتو ویونکو سیمو ته رسیدلي دي ....»

پروفیسر مارګین ستیرن دګلبهار په سنجان، ده کهنه، په نجراو، پرګمتال، باشګل، اوزبین اوشا مکوټ کښې دخپلو پلټنو یادونه کوي او نور دپشه یي په لهجوي ویش پیل کوي چه موږ تر هم دغه ځایه دده دمقدمې لنډیز وړاندې کړ .

پشه یی ژبه چه پهځوځانګو (یاژبو) ویشل کیږي یوتربله یی بیلتون له هرځه زیات دفونیتیك په برخه کښی موجود دی .

فو نیتیك :

پشه یی ژبه لاندې غږونه لري :

الف ، زور ، زور کی ، ب ، پ ، ت ، ټ ، ث ، (۱) ج ، چ ، ځ ، څ ، د ، ډ ، ر ، ړ ، ز ، ږ (۲) س ، ش ، ښ (۳) ، غ ، ف ، ك ، ګ (غنه یي) ګ ، ل ، م ، ن ، ڼ ، و (ټول ډولونه) ء ه ې (مجهوله او څرګنده) .

د (ڼ) اوغنه یی (ګ) غږونه دپشه یی په ټولو دیالیکټونو کښی نه دي موجود. ددغو غږونو په بدل کښی غالباً د(ن) غږ وجود لري . دلویدیځو دیالیکټونو د(ن-ڼ) په مقابل کښی ختیځ دیالیکونه د(ن) غږ لري .

دلویدیځو دیالیکټونو د(ښ- سخت - ش) دغږ پهمقابل کښی ختیځ د(خ) غږ لري . د(ر) سره ګروپونو دلرغونو کونسو نانت دانکشاف لهمخی دپشه یي ژبې دیالیکټونه په څلورو ځانګو ویشل کیږي :

۱ - شمال لویدیځه ځانګه چه دګلبهار په خوا او شا کښی ده . د دغی ځانګی خصوصیت دادی چه د(ر) سره دګروپونو ارغونی کونسو نانت یی ساتلی دي او هغه دادي :

۱- غږ یی (ث) ته ډیر نژدی دی چه دژبی په اڼخ کښی اداکیږي .

۲- دکندهاری لهجی د(ږ) په شان سخته ویل کیږي .

۳- دکندهاری لهجی د(ښ) په شان سخته ویل کیږي .

(ت + ر، د + ر، ګ + ر، ب + ر، پ + ر، م + ر،) .

۲ـ دلغمان دلویدیځ الیشنګ څانګه چه په هغه کښې دلرغونی کونسونانت (ر) سره دګروپونو حال داسی دی چه د (ك + ر، پ + ر) په ځای (ښ) او د(ك + ر) په ځای (ل) را ځی او (ت + ر، د + ر) ساتل شوي دي .

۳ـ دتګاو اونجراو په څانګه کښې(ق+ر،ك+ر) هم(ث)ته ورته غږ ور کوي.

ددغو دریو سیمو دزاړه نسل په خبرو کښې دغږ لرونکو (۱) تنفسی تلفظ (۲) لاتر اوسه ساتل شوی دی .

۴ـ د کونړ، پیچ او الینګار په څانګه کښې د(ب + ر) ، (ك + ر) ، (د + ر) په بدل کښې(ل) او د(پ + ر) (ت + ر) په بدل کښې (ث + ل) موجود دي.

دلغاتو په باره کښې هم یولړ توپیرونه شته چه یوه نمونه یی دلته وړاندې کیږي:

دلروان دیالیکت:	اویه	سوراتل	مارایکی	هایچ .
دګلبهار ـ	پوتره	یا کتی	ماراته.	
دده نور	ویوه	کنیشته	.	این
دویګل	اوی	کنیشته	.	این
دچاس	اووه	کنیشته		هاراهی ـ خه

(په زور کیو)

داریت	وایی	لمتك	ماریشی	اویان	
د کونړ	پرتهله	چنتا	میالکین	ماینك	
دلغمان	پوتهلی	چمنتامار	یکین	هاینك	
معنا	ماشومان	زامن ـ	کشر	وویل	وو .

---

(1) Voced.
(2) Aspirata.

دلته د پشه یی دختیځ د یالیکت دوه ټوکې دمتن دښکارندوی په ډول وړاند ې کیږ ی (۱) .

اولوالو ټوخ:

ائی فهمیدو دي کوپرسان کر ییا هر کیله که ډشتا کوچااو چاوانه پیلووند یو ګه بو والی کو یوه دورئین کورای‌دوره کویوا . فهمیدو ماتیاتانکی دور ین تانکی کا لووانه چر خیدای که چیرنه ګور یدي .

لومړی ټوکه :

له یوه پوه ښخه چا پوښتنه وکړه هر کله چه په دښته کښې چینې‌ته ورسیږو او وغواړو چه ولاسبو سخ کوم پلو واړوو .

پوه وویل : خپل مخ خپلو کالیوته واړ وی‌ء چه غل یی یونسی .

دوهمنګله :

کیانی طبیب وانه اییت ماتن بنډیم بیرولا وتیو طبیب پرسان کرییا : کور ژیچکی . جوابه ذتن : چتیك ا و ئی .

طبیب شاګردخه وانه ماتییا : اپی دوا اچه .

ادم ماتییا : بنډیم لاوتیواچی دوا کور سعنی‌دارتو .

طبیب ماتیا : اګراچی بی جوړتیان جتیك اونی بې نه ژیچی یی .

دویمه ټوکه :

یوخوك طبیب ته ورغی ویی ویل ګیډه می ډیره خوږ یږي.طبیب پو ښتنه

---

۱ ـ دغه ټوکې ښاغلی ننګیار لیکلی دي .

وکړه : څه د ې خوړلی د ي ، خواب یې ورکړ : سوپ ډوډی .طبیب خپل شاګرد
ته وویل : دستر ګو دارو راوړه .

سړي وویل : ګیډه مې خو ږیږي دستر ګو دارو څه معنی لري .

طبیب وویل: که ستر ګی دې روغې وای سوپ ډوډی به د ې نه خوړلای .

تیرا یی ژبه:

دغه ژبه دننگرهار په یوه وړه سیمه (د کوټ دره) کښې ویل کیده. دغه ژبه اوس عملاله منځه تللې او یولږ شمیر لغات اوترکیبونه یې د کوټ د درې د زړو خلکو په یاددې خوددغې درې هغه توکم چه پخوا یی نیکونو په تیرا یی خبرې کولې اوس هم د تیرا یانو په نامه یادیږي خود اولاد ژبه یی اوس نکه پښتو ده. دغه خلك چه اصلاله تیرا څخه د ننگرهار د کوټ دری ته راغلي دي ژبه یی اوس په تیرا کی هم نشته د تیرا نه د ننگرهار د کوټ درې ته د تیرا یانو راتگ د پیر روښان د مذهبي او سیاسي مبارزو سره اړه لری تاریخي اسناد وایی:

کله چه پیر روښان په (دوړو) کی او سیده خپل یو ماٌذون یې چه هغه هم بایزید نومیده تیرا ته واستا وه هلته د پیر روښان د دغه ماٌذون لارښوونو په ورك زیو، اپریدیو او تیرا یانو ښه اغیزه وکړه او هلته یې د پیر روښان دورتللو شرایط برابر کړل ، کله چه هلته لاړ د تیرا یانو له خوا یی تود هرکلي وشو. پیرروښان د تیرا په (مستوي) نومي ځای کښې خوورځې تیرې کړې او بیا خلیلوته لاړ.

دمغلو سره د(اغاز پور) له جګړې وروسته پیر روښان بیا تیراته لاړ او هلته بیا دتیرا یانو په منځ کښې میشته شو. (۱).

اخوند درویزه چه دپیر روښان دسیاسی او مذهبی مبارزو سخت مخالف او دهغه په باب له تورو نو او مبالغو څخه ډک روایتونه لري په خپلو آثارو(مخزن الاسلام او تذکرة الابرار والاشرار) کښې دکوټ درې ته دتیرا هیانو د راتلو په باب لیکی :

بایزید چه کله بیا تیراته راغی تیراهیان که څه هم په ظاهره دده مریدان وو خو په باطن کی یی دمغولو سره مینه لرله . پیر روښان ددوی په دغه نیت پوه شو ، دوی یی وغوښتل ، دوی ته یی وویل : که ماراضی کوئ خپل لاسونه وتړئ او زما خدمت ته حاضر شئ . کله چه زما په حکم ستاسو لاسونه پرانستل شی هغه وخت به زه له تاسو خوښ شم .

تیراهیانو همداسې وکړل او په دغه صورت روښانیانو دریسوه تیراهیان ووژل کورونه او مالونه یی ددوی لوټ کړل تیراه یی له دوی څخه خالی کړه پاتې تیراهیان له تیراه څخه په کوچ شول چه دکوټ درې ته راغلل اوله دوی څخه څوك په تیراه کښې پاتی نه دي او ځایونه یی پښتنو ونیول (۱) .

داخوند درویزه دوینا څخه داحقیقت لاس ته راځی چه تیراهیان دپیرروښان له خوا دهجري لسمی پیړی په دویمه نیمایی کښې له تیرا څخه دکوټ درې

---

۱ - دخیبر البیان مقدمه - ۲۱ - ۲۲ - ۳۰ مخونه .

۱ - په دې باب مثلا دمخزن (۱۲۶) مخ وګورئ .

ته راغلي دي چه په دغو زواياتو هم داخلي او هم خارجي محققينو او نور خينو (لکه مارگين سترين ، گريرسيون ، گانکوفسکي او نورو) استناد کړی دی .

دلته په تيراهي ژبه لنډه رڼا اچول کيږي : (۱)

اسم ذات :

د تيرايي ژبې اسم ذات هم جنس (نرينه او ښځينه) هم‌شمير(مفرد او جمع) او هم گرامري حالتونه لري .

د جنس تو پير و ر کښې لږ دی چه اسا ساً لـه کـو نټکسټ او قرينو څخه معلو ميږي په دې معنا چه دصفت په صورت او يا د فعل په تصريف کې ليدل کيږي چه دموضوع يا فعل د فاعل سره دجنس په لحاظ سمون‌نه لري .

دمفرد او جمع صيغې هم په گرامري حالاتو کی افاده کيږی :

گرامري حالات دوه دي : لوسړی يا فاعلي حالت دا سم په مجرد دا ساس سره افاده کيږي لکه ماله (پلار) پوتر(زوی) کوم اسمونه چه په (زور - فتح) لکه : (ما له - پلار) يا په بې غږه لکه (پوتر - زوی) پای ته رسيږي دجمع په صورت کښې په (زور) يا(مجهو له يې) پاي ته رسيږي لکه (پو تره - زا من) (دنت - غا ښ)(دنتې -غا ښو نه .) په يو شمير کلموکی دجمع علامه (زورکی) دی لکه : (سپاز - خور) (سپازه - خويندې) . (۲)

---

۱ - څرنگه چه دغه ژبه اوس له منځه تللې نو د گرامر د لنډ يز وړ اندې گول يې بې ځايه نه ښکاری.

(2) spaz,spazə.

په گرا مري دويم حالت کښې هغه ا سمو نه چه په غږ يز پاى ته رسيږي هغه د لو مړي حالت سره تو پير نه لري لکه د (ساله ـ پلا ر) کلمه کوم چه په بى غږه تما سيږي هغه هم کله تغير نه لري لکه (پو تر ـ زوی) په دو اړ وحالتونو کښې او کله د د ويم حالت علامه (زور) ور پورى نښلي لکه : (دام ـ ثنی سزی (دا مه ـ دهني دمزى) کله کله مجهو له (ې) يا مجهول (واو) ورپورې نښلي لکه (طرف ـ خوا ، طر ف) (است ـ لاس) دو يم حالت (طر فی ، استو) د جمع علامه(ان)او کله کله (انو) (گانو)(مجهول واو)لري لکه: ادم،وگړي آدسان،وگړي خلك د(دي ـ لور) سپاز ـخورجمعى په خا ص ډول (دون ، سپا زون = لوني ، خو يندې) په څر گند واو جوړ يږي .

صفت :

په تير ايى کښې صفت هم جنس (نر ينه او ښځينه) لرى لکه (سوره ـ وو ړ، وړو کی) (سوري ـ وړه ، وړو کی ـ(په ځر گند واو) (کا نه ـ لوی ، غټ) ، (کا نی ـ لو يه ، غټه) اوهم جمع مفر د لکه : (بر اړه ستري ـ ښه ښځه) ا و (براړي ستري ـ ښې ښځې ـ ستري ـ ښځه) لکه چه ليدل کيږي اضا فى تر کيب د پښتو او نو رو با ختري ژبو په شان دى چه صفت تر مو صوفه مخکښې را ځى .

ضمير :

په لاند ې ډول شخصى ضمير ونه په تير ايى کښې موجوددي :

	لومړی حالت		دو یم حالت	
	مفر د	جمع (۱)	مفرد	جمع
متکلم	او(زه)	ما (مو نږ)	می (ما)	مین (موږ)
مخا طب	تو(ته)	تاو (تاسو)	تی (تا)	تا (تاسو)

اشاري ضمیر ونه دغایب شخصي ضمیرو ظیفه هم اجر اء کوي .

دمتعدي ماضي فاعل دپښتو په شان په دویم حالت کښې راځي چه دی ته د ژبپوهني په اصطلاح ایرګاتیف سیستم وا یی لکه (مې دیته وا ـ ماوو اهه)(۲).

اضافي ضمیرونه :

(میانه ـ زما) چه مضاف نرینه وی (میانی ـ زما) چه مضاف ښځینه وی .

(چا نه ـ ستا) لکه : (بی میانی خواخی تهی ـ دازما خوا ښې ده) (۳)

اشاری ضمیرونه :

(لا ،لی،لیمه)(۴) اشاری ضمیرونه دی چه دواړه په لحاظ کوم توپیرسره نه لری.

د (لیمه) اشاري ضمیر معمولا دجمع او دمفرد په دویم حالت کښی استعمالیږی .

اشاری ضمیرونه دجنس په لحاظ بدلون نه لری ا ونه په ګراسری حالاتو کښی تغیرمنی .

دنژ دې له پاره یوبل اشارې ضمیرهم موجود دی چه له (اسی،ایسه ـ دغه، دا)(۵) څخه عبارت دی .

(1) au(ao)—Me—Me —Men —tu(to)—tao—te —ta.
(2) Me dita wa.
(3) Myana—Mvani —Le Myani— chana xwaxe the.
(4) La,Le,Lema.
(5) ase—esa.

ACKU

تیرایی ژبه

نور ضمیرونه په دې ډول دي : (کامه—څوک ، چا) (کی ـ څه ، کوم) (کامیك ـ دچا) (تانو ـ خپل) (لیتیك ،دوسره) کتیس ـ څومره (۱)

شمیر : په‌تیرایی کی شمیر په‌لاندې ډول دی :

یك (۱) دو (۲) تري (۳) څوور (۴) پنځ (۵) خو (۶) ست (۷) اخت (۸) ند (۹) ده (۱۰) ده‌ایکو (۱۱) ده‌بو (۱۲) چا و ده (۱۴) پنزي (۱۵) ستاره (۱۷)اتاره (۱۸) کوني (۱۹)بیاو (۲۰) بیاوده (۳۰) بیاوایکو (۳۱) دوبی (۴۰) دوبیاوایك(۴۱)دوبیاو ده (۵۰) دوبیاوبو (۵۲) څوور بیاو ده (۹۰) پنزبی(۱۰۰) . (۲)

فعل :

دمصدر علامه‌د (ن) و رو ستاړی دی لکه ه (کرن ـ کول ، کړل) (دبیان ـ وهل) (۳) لکه (دبیان براډي نه‌تی ـ و هل به نه دي) (۴) .

فعلي تصريف :

دفعل تصریف دښکارند وی په ډول دلته او مړی د کومکی فعل تصریف چه په جملو کښې درانطی‌په‌حیث وظیفه‌اجرا کوی او دپښتو دغیر مستعمل (و ل) کومکی فعل سره سمون لري په دریواړو زمانو کښې وړاندې کوو:

	حال اومستقبل		ماضی	
	مفرد	جمع	مفرد	جمع
متکلم	(تیم)(یم)	تیمه	وامه	وامه

(1) kama—ki—kamik —Letik—katest.

(2) ek, do, tre, cavor, panc, xo, sat, nad, dah... chauda, panzi, satara, atara, kuni biau biaudah, biaueko, dobe, dobiauek, dobiau dah, dobiau dah, dobiaudo, cawar blau dah, panzi be.

(3) karan—dıyan.

(4) diyan Brade na ti

مخاطب تیهں (یی) تیزه واز مامنه
غایب تي (مذکر) تې (مونث ـ دي ، دم) tina وا(مذکر)وې(مونث) « (۱)

دحال اومستقبل توپیر دصیغو لهمخی نشته ـ یوازې دپښتو پهشان د (به) ادات داستقبال له پارهزیاتیږي . داستمراري مستقبل لهپاره د (به) زیاتول حتمی نهدي مګر دمطلق لهپاره ضروري دي .

امر :

دامرد مفرد صیغه دمجرد اساس څخه جوړ یږی : (بیزـ کښېنه ، اچیتو واخله ، ترې ـ وتره ، ګړې ـ وایه وګړیږه) (۲) دجمع صیغو په پای کښی (زور یاالف) اودیر لږ مجهول یا معروف (واو) اضافه کیږي : (اناـ راوړیء) ځیبه ـ واغوندیء) (۳) دلته د یوه وړو کی متن ترانسکر یپسیون د ترجمی سره وړاندې کیږي (۴) .


ek adamas do putəra' wāna
lema-manzum sūrē putər mala
ditanas: «ai mala, myāna māla-
'manzum ki kissa' owē, la masi de»

1—tim, tis, ti, te—tima, tiza—tina—wama, waz, wa, we—wama, wama, mam—(na)
2—Bez—achito— tare—gari.
3—ana—ciya

۴ ـ دامتن دایدلمن پهحواله د ګریرسون له (لینګو یستیک سروې اف اینډیا) څخه اخیستل شوی دي .

ټیرایی ژبه

ایلك ـ ادمس ـ دوـ پوتره ـ واته ـ لیمه ـ منزوم ـ سو رې ـ هو تـر ـ مـا لا

د یتا نس :

(اي ـ ماله ـ میانه ـ ماله ـ منزوم ـ کی ـ هیسه ـ اووې ـ له ـ ملسی ـ دې)

ترجمه :

یوه سړی دوه زامن ئرل لهدوی څخه کشري زوی پلارته وویل : (اې پلاره زما کومه برخه چه ستا په شته منی کښی رسیږ ي هغه رابیله کړه) .

تحلیل :

۱ یك (یو) عدد دی . ادم (سړی)اسم ذاتدی.(اس)داضافتنخښهده .

دو (دوه) عدد دی. پوتره (زامن) اسم ذات جمع مفرد یی (پوتر) دی .

واته (وو) د کومکی فعل دماضی د جمع صیغه .

لیمه (ددوی) اشاری ضمیر .

منزو م (منځ ،په منځکښی) سو ری (کشر) صفت دی . ما لا (پلا ر) ا سم ذات دی .

دیتانس = و یل (هغه ته) . ای (ای) ندا ئیه تو ری . مـا له منزو م (دمال له منځه ، له ماله ـ (څخه) کي (چه) دتابعی جملو د رابطی ادات .

هیسه (برخه حصه) اسم ذات .

اوی (کیږي)(رسیږی) دغایب مفرد دحال صیغه د ه .

وتڼه پوری ژبه :

دمرکزي داردي ژبو په جمله کښې یوه وتڼه پوري ژبه ده چه د کونړ دولایت دپیچ په دره کښې په وتڼه پوراو (کتر کلا) کښې ژوندی ده .

دنورو مرکزي داردي ژبو په لړ کښې دغه ژبه د شوماشتی ، همدارنګه د ننګلامی او ګلنګالی دیالیکتو نومره زیاته خپلوي لري او حتی د غه ژبې دمرکزی داردي ژبو په منځ کښې یوه بیله ځانګه جوړوي .

ACKU

دلته یو وړوکی متن دښکارندوی په توګه وړاندې کیږي :


«dū zūyen yek nāṛ rati dawā išāu. yek isyenaū zi: «men pur thū». sē dūi zūi isyenaū zi: «men pur thū»

دو-زوی یین-ییک تاړ-راتی-داوه-ایشاو - ییک - ایسیناو-زي: (مین-پوړتهو) - سی دوی - زوی - ایسییناو - زي-(مین) پوړ تهو) .

ترجمه : دیوه ماشوم په باره کښې د د ووښځو جګړه وه - یوې ویل (دازما زوی دی) بلې ویل (دازما زوی دی) .

تحلیل : دو (دوه) عدددی . زویین (ښځو) اسم ذات جمع اضافي حالت، (ین) داضافت نخښه‌ده. ییک (یوې) عدددی . ناړ (هلك ، ماشوم) اسم‌ذات.راتی (پر ، په باره- کښې) . داوه (دعوه) عربی کلمه ده اسم ذات مفرد په‌لومړي‌حالت کښې ایشاو (وه) دماضی قریبی‌صیغه ده کومکی فعل دی . ایسییناو (ویل) ماضی استمراري . زی (چه) دتابعی جملو دربطوظیفه‌اجراء کوي.مین (زما) دمفرد متکلم اضافي‌ضمیردی. پوړ(زوی)اسم‌ذات‌مفرددی.تهو(دی)دجملو د ربطادات‌دی.سی(هغه) اشاري‌ضمیردی.دوی(بلې)تعینوونکی‌ضمیردی.زوی (ښځې) اسم ذات مفرد دی .

شوماشتی ژبه:

ددغې ژبې دژوند تاتوبې د شوماشت ددرې پاسنۍ برخه ده چه دمزاردرې په کینه خوا د کونړ دسین دښې اړخ سرستیال په غاړه پرته ده . دشوماشت درې دلاندینۍ برخې اوسیدونکې په پشه یي خبرې کوي .

دلته یوه جمله دنمونې په ډول وړاندې کیږي : (۱)

sesikye - gorss - sim-as - āmā-me

سوسیکیی - ګوړس - سیم - اس - اما - اینه .

ترجمه : د سپین اسزین په کور کښې دی .

تحلیل : سوسیکی - سپین ، ګوړه -اس-(س) داضافت نخښه ، سیم-زین (اس - یې) (دمفرد غایب وصلی ضمیر) اما - په کور کښې ا یښې - دی (دمفرد غا یب دارتباط کلمه) .

---

(۱) دغه جمله دمارګین ستریبن له کتابه ایدلمن اخیستې چه مادلته نقل کړه .

ګوار باتي ژبه:

دمرکزي داردي ژبو په لړ کښې يوه هم ګواري ژبه ده. دغه ژبه ديولړ محققينو له خوا د (ګوار باتي) په نامه ياديږي چه سعا يې (ګواري ژبه) ده. ددغې ژبې دويو نکو ترمنځه دغه ژبه د(نرساتي) په نامه هم ياديږي ددغې ژبې ټاټوبې د کونړ پرسين دباشګل دسين دتوئيدلوله سيمې نه ښکته د کونړ دسين دواړه غاړې دي.

ګواري ژبه په څولهجو ويشل کيږي چه يوتربله يې توپير هرڅه زيات دفونيټيک په برخه کښې دی.

دستن نمونه : (۱)


ya-mānuš thiwana. se-dāran
di-thana. ban ase-dār-Kerimān
bō-yarib-manuš. dār-Kerimān bō

یه مانیش تهیوه نه سي دارن دي تهه نه بن اسی دار کیریمان بوغریب مانیش دار کیریمان بو.

ترجمه : - یوسړی و - هغه دلرګیوپسی غونډی (غره) ته لاړ هغه لرګی را وړل غریب لرګی راوړل.

تحلیل :(یه - یو) مانیش(سړی)تهیوه نه (و)سي (هغه) دارن (لرګیونه) دي تهانه بون(لاړ) بن(غونډی)اسی(هغه) کیریمان بو(کول)(وړل)غریب(غریب).

---

(۱) داید یرمن پهحواله دسارګین ستربن لهګوار باتی څخه دمتن ښکارندوی اخیستل شوی دی.

کهواری ژبه:

دغه ژبه چه د-چترالی او-ار نیا (۱)- په نامه هم یادیږي دافغانستان چترال په نژدې سیمه او دچترال دسین په پاسنی برخه کښې ژوندی ده،دشوروي بدخشان پهسیمه کښې ددغې ژبې یوشمیرویونکی‌شته.

(1)Arnia.

دلته دیوه واړه متن ترجمه اوتحلیل (۱) وړاندې کیږي :


I-mošo-ju žižau astani hatětan muji ciro tato-tě restai: uě tati ma-tě ma bašo tan māl-ār Ki-ma-tě tariran dět.

ايموشوجو ژيژاواستاني هتيتانموجي څيروټ، توتي ريستي(ي تاتماتي ماباشوتان مال اركي ماتي تار بران ديت).

ترجمه :

يوه سړي دوه زامن لرل كشر يې پلارته وويل:(اى پلاره ! ستاله شتمنى څخه ماته برخه راكړه كومه چه زما رسيږي) .

تحليل :

اى (يو) عدد دى . موشو (دسړى) مفرد اسم ذات په دويم حالت كښې .
جو (دوه) عدد دى .

---

(۱) دغه ټوټه متن دايد لمن په حواله دگرير سون د(لانگويستيك سروى آف اينډيا) څخه اخيستل شوى دى .

ژیژاو(زامن) اسم ذات جمع . استانی (وو) په ماضی کښې د کومکی فعل جمع . هتیتان (ددوی) اشاري ضمیر په دویم‌حالت کښې . موجی (په‌سنځ کښې) خیرو(کشر) صفت دی . تاتوتی (پلارته) (تات ـ پلارتی ـ ته).ایستاي (وویل) دغایب مفرد ماضی قریبه . ی (ای) ندایی ادات .

ماتی ـ ماته، ماله . (دماضمیرپه دویم حالت کښې) . تی ـ ته . ما ـزما. باشو ـ برخه .

تان ـ خپل . مال ـ مال . اسم ذات . ار ـ مخه. ادات دی . کی ـ چه. دتابعی جملود تړلو ادات . تریران ـ رسیږی . دغا یب مفرد دحا ل صیغه . دیت ـ را کړه . د مفر د امر صیغه .

نورستان او نورستانی ژبې:

نورستان دافغانستان یوه ښکلې اوتاریخی سیمه ده چه د هند کوش په جنوبی لمنو کښې دافغانستان په شمال لویدیځه برخه کښې پرته او تقریباً نهه زره او پنځه سوه مربعه کیلومتره ساحه یې نیولې ده (۱) .

اوسنی نورستان (اوپه لرغونو و ختو کښې دبیلور) په نامه یاديده خودانوموړنه دتاریخ له مخې یو تربله سره لږ څه توپیرلري . د اسلام له دوری ترمخه په موجوده نورستان اوپه ورځیرمه دچترال په سیمه اودپنجکوړې په پاسنیو برخو کښې خپلواك اولسونه اوسیدل چه دلهجوله مخې سره بیلیدل په دوی کښې ډیره لویه قبیله د (کاتی) په نامه وه چه بابر په خپلویادداښتونو کښې د (کتور Katur) په نامه یاده کړې ده . ددغې قبیلې وګړې د کافرستان په ختیځه اولویدیځه خوا کښې اوسیدل.

---

(۱) آریانا دایرة المعارف یې ساحه پنځه زره مربعه میله چه اته زره مربعه کیلو متره کیږی ښوولې ده .

ACKU

په پیچ دره کښې پرسونیان اوسیدل. پرسونیان دتوکم پیژندنې له مخې ډیر لرغونی اوسید ونکي ګڼل کیږي.

دوایګل ددرې په منځنی او پاسنی برخه کښې وایګلیان او سیدل. د پیچ درې اوالینګار ددرې ترمنځه په سیمه کښې اشکونیان اوسیدل. دا ددوی دتوکم پیژندنې له مخې وېشو. مګردنورو ګاونډیو له خوا ددوی ویش دلباس او ظاهري فورم له مخې ؤ. په دی معنا، تور کالی اغوستل ـ اوسپین کالی اغوستل (۱)

تور پوښونو ډول تور ې میږی او ګډان روزل چه د هغو له وړیو څخه یې تور کالی جوړول اوهغه د لاندی کلیو اوبانډو اوسیدونکی وو.

کتوی ـ پوشان ـ باندول ـ کامدیش ـ کشتوز ـ کا نتوز ـ منډه ګل ـ برګ متال ـ پیروك، پیشه وار ـ شد ګل ـ پرستام ـ چیو ـ بد موك ـ اپسی ـ پسی ګرام.

کو مو یې چه دخپل ذوق او دود له مخې سپینی میږی او ګډان روزل او سپین کالی یې ورنه جوړول دسپین پوښو په نامه یادیدل اودلاندی کلو او بانډو او سیدونکی وو:

اشکوڼ ـ پرسون (پارونی) ـ ملیل ـ مشوه ـ تیتین ـ نخره ـ مشوی ـ وایګل ـ

---

۱ ـ پورتنی مواد (دافغانستان تاریخ) دریم توك (۰۰. ۳ ـ ۴ ـ ۳۰ ـ مخونه) دمسون اورو مودین تالیف دمسکو د ۱۹٦۵ کال خپرونه څخه اخیستل شوی دی.

ارنس - اشوز - کو رد ر - کلای کل - کتا - کمبیر - وامه - شپه کر
کورکل - ژونبا - پهار - نشه یې .

تورپوښ اکثره دنورستان پهشمال کښې ژوند کوي او د نو رستان د ختیځ کته یان‌او دلویدیځ کته‌یان دي .

مګر پورتنۍ ویش‌لکه چه‌وویل شول دنژاد پیژندنې په اساس‌نه بلکې دلباس اوپوشاك په اساس دي (۱).

کله چه‌په(۱۲۷۳)شمسي کال کښې‌دامیرعبدالرحمان‌خان‌له خواپه دغه سیمه کښې اسلام خپورشو دغه‌سیمه دنورستان په نامه یاده شوه .

دنورستانیانو دتوکم اونوروسره دنسبي خپلوی په‌باب دلویدیځو محققینوله خوا ډول ډول نظریات وړاندې شوي چه دلته د یولړ محققینو د نظریاتو لنډ یز وړاندي کوو .

رابرت سن انګریز چه‌په ۱۸۹۰ کال کښې نورستان‌ته تللی ؤ دده عقیده‌داوه چه « نورستانیان دهنداو شرقي آریانانو یوه څانګه‌ده چه په یوواسمه عیسوی پیړی کښې‌یې داسلام د مټلوڅخه غاړه غړولې او دنورستان موجوده غرنیو سیمو ته د پناوړلو په غرض وړتول شوي وو او اوس یې له لرغونې توکم څخه پرسون ، جامیان اواسیان اونور پاتې دي . »

دتاریخي اسنادو څخه‌داسې معلومیږي چه دنورستانیانو تاتو بې پخوا دومره

---

(۱) په دې باب (نور ستان) نومې کتا ب د محمد صفر غرزي تا لیف (۱۸ ، ۱۹ - مخونو) ته رجوع وکړی .

وړوکی نه ؤ .

نورستان یووخت دیونانیانو دقلمرو جز ؤ وروسته د کوشانیانو او یووخت په کاپیسا کښی دساکانو د سلطنت جزؤ .

کوم وخت چه نامتو چینی سیاح هیوان څانګ په (۶۳۰) عیسوی کښی راغلی ؤ نورستان هغه وخت دیوه مقتدر سلطنت جزؤ چه دغوربند اوپنجشیر وادی ، لغمان (لمپاکا) ، ننګرهار (ناګارا) اوورخیرمه سیمی هم ور کښی شاملی وې . داموضوع (کیمبرج هیستری آف انډیا ـ لومړی جلد ۵۶۶ ـ ۵۵۵ مخونو کښی) لیکلی ده ـ بل انګریزی (یول) نومی محقق د لرغونی تاریخ له مخی نورستان د هغه سلطنت په قلمرو کښی داخل ګڼی چه د کابل او کشمیر ترمنځه واقع او په منځنیو پیړیو کښی د (بیلور) په نامه یاد یده (انسایکلو پیډیا بریتانیکا جلد ۱۳ ـ مخ ۳۴۸) .

د (اسلامی انسایکلو پیډیا دویم جلد ۶۲۰ مخ) په قول نورستان دمسیحی عصر په لومړیو پیړیو کښی د کوشانیانو دامپراتوری په قلمرو کښی شامل او د کاپیسا په شمول دغه ټولی غرنی سیمی د (کاتور) په نامه یادیدلی . اوس د نورستان یوه لویه قبیله چه د (کتر ، کاتی) په نامه یادیږی له هم دغه (کاتور) څخه ده . دغه نوم اصلا د یوه کوشانی واکمن (کیداره) څخه اخستل شوی ګڼل شوی دی .

کپتان (ودو) او (یول) په دی عقیده دی چه مارکو پولو چه کوم توکم کسم (کیشم) ته نژدی د کوکچی په وادی کښی لیدلی دی هماغه نورستانیان

دی‌چه هغه‌وخت دهندوکش په‌شمالی برخوکښې میشته‌وودسرارل‌ستین په عقیده د نورستانیانو د نفوذ لمنه تر واخانه رسیدلې وه او دوا خان لرغونې کلا ګانې‌او حصارونه ددوی دلاس نخښې دی .

د کوهن او ګریرسون په عقیده دنورستانیانو دنژادخانګه د (نوروداردی قبایلو په‌شمول) هغه وخت له هندوآریایي قومونو څخه بېله شوی وه چه لاپه دوو څانګو (هندی ـ آریایی) نه‌ؤ ویشل‌شوی .

کله چه تیمورګو ګانې په (۸۰۰ هـ) کښې دهنددنیولو اراده لرله‌داندراب خلکو ورته د (کتور) دقبایلوله لاسه‌شکایت وکړ . تیمورد هند لاره بدله اوپه نورستان‌یې یرغل شروع کړ .

مګر په دغه یرغل کښې دده دلښکر زیاته برخه دنورستانیانو له‌خوا ووژل شوه .

با برپه خپلو یاد داشتونو کښې دنـورستانیانو داسې یاد ونه کوي چه په پنجشیر به‌یې یرغلونه کول .

نورستان بیاپه (۱۸۹۶ ع) کال کښې د اعلیحضرت عبدالرحمان له خوا ووهل شو او اسلام ور کښې خپور او زوړ نوم‌یې په (نورستان) بدل‌شو چې اوس‌په‌همدغه‌نامه شهرت‌لری . (۱) . او په دغه‌ترتیب اوسنی نورستان دلرغونی (بیلور) یوه لویه برخه ده.

---

۱ ـ پاسنی سطالب په آریانا دایر ة المعارف کښې لیکل شوی چه دلته یې لنډیز وړاندی شو .

د نورستانیانو دنژاد او د هغو ژبو په باب وروستنی تحقیقات وایی چه دوی ددادری (دادیك) قبایلو یوه سهمه ښنه‌اونورستانی ژبی‌ددادری ژبو یوه ځانگړی اوسهمه څانګه ده چه د لوید یځو محققینو له خوا کلمه د (کافری) او کلمه د (دادری ژبودلویدیځی څانګی) په نامه یادیږی .

نورستانی ژبی‌له (کاتی،وایګلی، اشکونی،پرسونی)ژبوڅخه عبارت دی .

دلته به‌په دغو ژبولنډه‌شان رڼاواچول شی .

کاتي ژبه :

ترمخه ووېل شول چه دنورستان په ژبو کښې د ویو نکو د ډیروالي له مخې کاتي ژبه نوم ځای لري . داژبه چه د (کتر ، کتور) دقبیلي ژبه ده په دووسهمو دیالیکتونو : ختیځ دیالیکت (دباشکل په دره اوورخېرمه سیمو کښې) اولویدیځ دیالیکت ویشل کیږي . دغه ژبه د کاتیو (دپیچ دسین دښې مرستیال) په دره اودرا مګل او کولوم (دالینګار مرستیالانو) سینونو تر منځه ساحه کښې مروجه ده . دانظریه سمه ښکاري چه د کاتي ژبې د ټولو د یالیکتونو اصلي ټاټو بې د کاتیو دره ده چه بیاوروسته له دغه ځایه خپاره شوي دي .

څرنګه چه دغه ژبه د باشګل په دره کښې هم ژوندی ده ځینې کسان یې د باشګلي په نامه هم یادوي .

دلته د کاتی ژبی یو وړو کی متن د ترجمی سره ښکار ندوی په ډول وړاندې کیږي . (۱) .

e manje du pitr azamme, amño
Pamiju kanište tot-os-tą giji karas:
«eh tot-a, to, toi latri pamiju ī
baristā gac».

ی مانجی دو پیترازاسی امنو پامیجو کنیشتی توت‌ـاوس‌ـ توگیجی کړس .
(ایهمه توت ! تولاتري یامیجوي پړشته کڅ) .

ترجمه :
دیوه سړی دوه زامن و کشر یی خپل پلارته وویل :(ای پلاره دخپلی شتمنی څخه زما برخه را بیله کړه) .

---

۱ ـ متن او دهغه تحلیل او ترجمه د گریر سیون دلینگو یستیك سروې اف انډیا .اتم ټوك دویم فصل(۴۳) مخ نه اخیستل شوی دي (دایډ لمن په حواله) .

ACKU

تشریح :

ي (یو) داعدد دی چه په کاتی کښې یی بشپړه فورمه (یو) دی خوپه‌خبرو کښې مخفف شوی دی .

سانچی (دسړي) اسم‌ذات دمفرد غایب‌صیغه ده چه په‌دویم گراسري حالت کښې واقع شوی ده . دو(دوه) شمیر دی .

پیتر :(زوی، زاسن) اسم ذات په لوسړي حالت کښې واقع دی . ازامی-(وو) دجمع غایبی صیغه چه دکوسکي ماضي فعل نه جوړ شوې ده . اسنو پاسیجو : (له دوی ښخه) (اسنو) اشاري ضمیردجمع صیغه ده‌او یاسیجور (له-ښخه،'ه‌سنځه) خد ستی کلمه ده .

کانیشتی : (کشر ، وړوکی) صفت دی دستاینې په فورمه کښې . توت - او س - تو : (خپل پلارته) . (توت - پلار ،اوس- خپل ،ته - ته) .

کیجی(خبره کلمه) اسم‌ذات کړس(وکړ) خبره وکړه وویل). (کړ- کول- اس دغایب متصل خپلواک اینگلیتیك) ضمیر دی .

ایه -(ای، وا)دندا غږ دی. توته - (پلاره) ! (توت-پلار) او (ه) دندایی حا لت ننښه ده .

تو (ستا) دمخاطب مفرد اضافي ضمیردی . لا تري (شتمنی) لاتري یاسیجو - له شتمنی ښخه) .

ي(زما)دمتکلم‌مفرداضافي‌ضمیردي.بړشته-(برخه)اسم‌ذات په‌لوسړي‌حالت کې.
گا خ (را کړه) دمفرد مخاطب دامر صیغه ده .

ACKU

وايگلي ژبه:

وايگلي دياليکتونه په دو واساسي څانگو ويشل کيږي :

الف : دوايگلي ددرې په لانديني برخو ، هغو ته په ورڅيرمه د کونړ دسين په غاړو کښې .

ب : اساساً دوايگل دره کښې اولړ څه په ژو نجيگل ، درين او جا ساميش کښې . ددغو دياليکتونو توپير اصلا دفونيتيك په برخه کښې موجود دى .

دلته دوايگلي دژو نچيگل دمتن نمونه وړاندې کيږي (۱) :

ew manaṣtä-bä dü pūtr oṛē·düyä
kēnī köštō pütras tātisā-ken mätre:
«tāt-e, tū-bä māla mäṭī ū mäṭänē
gre».

۱- دمتن دغه نمونه دايدلمن له کتابه چه حواله يې په سارکين سترين ورکړې ، واخستله شوه .

یوسانشه به دوېږوترا ړی . دویه ـ کینې کوشتو پوترس تاتیسه ـ کین ماترې (تانې توبه ساله ستې او ستانې او کړې) .

ژ باړ ه :

یوه سړي دوه زامن لرل . له دوو څخه یوه کشري خپل پلارته و ویل: (اې پلاره ! خپله شتمنې وو یشه او زما برخه را کړه) .

تحلیل :

یو ـ (یو) شمیردی . مانشه به ـ (سړی) اسم ذات (به) داضافت وروستاړی دی .

دو ـ (دوه) شمیردی . پوتر (زوي) اسم ذات . اړې (وو) دماضی کومکی فعل دمفرد او جمع له پاره یوه صیغه لری . دویه کینی (له دووڅخه) شمیر په دویم حالت کښې (کینی) ادات دی د(څخه نه) په معنا، کوشتو (کشر) صفت دی چه دمقایسې په فورمه کښې دی . پوترس (زوی یی) پوتر (زوي (س) داضافت وصلی ضمیر دی . تاتیسه ـ کین ـ خپل پلارته ـ تات ـ پلار (س) د اضافت ضمیر دی . ماتری ـ وویل ـ دغایب مفرددماضی صیغه . ې ـ ندایه معمول دی.

تو ـ به (ستا)(تو ـ شخصی ضمیر (په) داضافت نخښه ده . ساله (مال، شتمنی) اسم ذات دی . (زور) دجمع نخښه ده مفردیې(مال) دی .

ستې ـ د(ویشلی ، بیل کړی) فعلی صفت دی . (او) (زما) ضمیر په دویم حالت کښې .

ستانی (برخه) فعلی اسم دی چې له (ست ـ ویش)څخه اخستی شوی دی. (او) (ماتو) ضمیر په دویم حالت . کړی (را کړه) دمفرد امر صیغه ده .

اشکوڼی ژبه :

دنورستانی ژبو په لړ کښې یوه هم اشکوڼی ژبه ده . د د غی ژبی دژوند تاتوبی دالینګار او پیچ درې ترمنځ ساحه اوور خیرهسیمی دی . دنورستانی ژبو په لړ کې اشکوڼی د کاتی او وایګلی سره زیاته خپلوی لری . اشکو ڼی ژبه د نورو نورستانی ژبو په شان په یولړ دیالیکتونو ویشل کیږی .

ددغو دیالیکتونو په جمله کښې (وامی) او (وامایی) دیالیکتونه د اشکوڼ ددرې له ژبی څخه نسبتاً لرې دي .

دمتن ښکارندوی (۱)

kūṛum bagōs kal,cēi Aṣ̌kuṇū
tọ wiētä ba, sakāṛye miš wērī
kales, saka Aṣ̌kuṇū tọ ta kudālāi:
«yāk imba wērī tọ kūṛū zudā
cē? »

(۱) د متن د غه نمونه دایدلمن له کتابه واخستله شو ، چه هغه د مارګین ـترین له کتا به اخیستی ده.

ترجمه :

کله چه ته کوم پلوځی کوم اشکو نوال وو ینی ته ورسره خبرې وکړې نواشکونوال له تا پوښتنه کوی : تا زمو نږ ژبه چیر ته زده کړه .

تحلیل :

کورم : (کو نو م) - (پلو ، خوا ، لو ری) د (به) سره د (کو م پلو کومه خوا) په معنا .

گوس : (لاړې)دمفرد مخاطب ماضی مطلقی صیغه ـ دلتهدحال(ځی)معناور کوي.

کل: (کله کوم وخت) دتا بعی زمانی جملی د ربط له پاره .

څیی : (څوك ، کوم ،څوك) .

(اشکو نو (اشکو نو ال اشکونی) نسبتی کلمه ده چه (اسکون) ته یی نسبت شوی .

تو (ته) دمفرد مخا طب ضمیر په دویم حالت کښی .

ویته : (ولید) ما ضی مطلقه (دلته دحال په معنا) .

به : (کیږی، کیدا ی شی) دفعل ر یښه (به) ده چه د (شول) او (کیدل) مرستیال فعل دی .

سکه ړ یه میش : (له د و ی سره) دلری و ا تن له پا ره دجمع ا شا ری ضمیردی چه په دویم حال کښی وا قع شوی دی .

و یرې کلیس : (خبرې کوې) - (ویرې) د (ژبی،خبرې) معنا ور کوي او کلیس دحال دمفرد متکلم صیغه ده چه د (کوې) معنا و ر کوي .

سه گه : (هغه دی) دلرې و اتن اشا ري ضمير دی .

ته : (ته) ادات د ي چه د سمت معنا ا فا ده کوي .

کود الای (وبه پو ښتی) دمستقبل دغا یب مفر د صیغه ده .

ییك (دغه) دنژ دې له پاره دمفرد اشاری ضمیر دی .

ایمیه (ز موږ) دمتکلم جمع اضافی ضمیر دی .

کوړو (چیرته په کوم ځای کښې) ظرفی سوا لیه ضمیر د ی .

ز و ده ځی (زده کړي) زوده د(زده) معنا و ر کوي او (ځی) د کو لو دمفرد او جمع غا یبی ما ضی فعل د ی.

پراسونی ژبه:

دغه ژبه چه د پراسونی او پارونی (د کریرسون لهخوا وا سینواري او ویرونی (۱) پهنامه یاده شوی دپارون نومی سین (دپیچ دکینړ سرستیال) د دره په پاسنی برخه کښی ژوندی ده .

دغه ژبه له نورو نورستانی ژبو څخه ډیر دلرې ده چهداسی ډیر ژبنی عناصر لری چه هغه ایندو اروپایی نه دي او داسی معلومیږي چهدغه عناصر دکومی مغلوبی (سوبستراتوم) له ژبی ور کښی پاتی دي .

د پراسونی د لهجوترمنځه توپیر بیخی لږ دی چه هغه هم په لغوي پانکه او د غږونو په سیستم کښی لیدل کیږي .

دلته یوورو کی متن دبنګارندوی په توګه وړاندې کیږي .

Wulu əncerā atek žīcīwə ācəkso. unzū ütyöiš: «alək žīčīw a-žī-pči, ažitẽ te-gə̃m a-pli psü n-ōc» ilyäg-lom. üyū žīčīš sag n-ā-žī-pčegnē pscog-laš? ütyöiš unzū orod mārasum.

ترجمه :

پرون کوم لیك را ورسید (له لاندې خواراغی) ماتاته (وو یل) دالیك پورته یو سه په پا سنی با نډه کښې یی ور کړه (هلته یی پر یږ ده او را ښکته شه) تا ولی لیك پر یښو د وردې نه وو ړ ما به ته و هلی و ای .

تحلیل :

او لو س (بل، بله) دلته یی معنا (پر ونی) د ی .

انځیره (ورځ) اسم ذات د او لو س سره یی معنا (پرون ورځ ، ابله ورځ) .

اتیك (یو، کوم یو،) دتنکیر له پاره .

ژ یچیو (لیك ، کاغذ) اسم ذات مفرد په لو سړی حالت کښې .

اڅکسو (راورسید ، راغی) د (ځ) معنا(راتلل) دی دماضی مطلقی صیغه.

او نز و زه) دمفرد متکلم شخصی ضمیر دی .

او تیو و یش (تا ته) دمخا طب مفرد ضمیر په دویم حا لت کښې .

الك (هغه) اشاری ضمیر د ی .

اژ ې پیچی(پورته کړه)(اژی-پو رته خواته) او (پیچی-وړل)دامرصیغه ده.

اژ یتی (پا سنی، هسك) صفت د ی .

تیگیم (بانډې ته ، کلی ته) (گیم)د(بانډې، کلی) په معناً او(تی-ته) د پښتود (ته) معنا ور کوی چه دحر کت سمت او خوا ښئی .

اپلی (ور کړه) (پلی ورکول) او (الف) سیمه ا یز سو فیکس دی .

پسو (پر پرده ، کښېږو ده)دفعل مفعو لی صفت دی چه دلته دامرمعناوو کوی

نو څ (را کیښو زه ، لا ندې را شه) (اڅ) د (را تللو) او (ن) سیمه-
ایز سوفیکس دی .

ایلیا گلوم (ما وویل) ایلیلو د(کولو) او (ویلو) دوا په معنا ور کوی
چه دمفرد متکلم دما ضی مطلقی صیغه ده .

رو یو (تا) دمفر د مخا طب شخصی ضمیر دی .

ژ یچیش (لیك، کاغذ) اسم ذات په دویم حالت کښې .

سګ (ولی ، څله) سوا لیه ضمیر دی .

نا ژی پچیګی (پورته و ی‌نه وور) تحت‌اللفظی معنا یې (پورته نه کړ)دلته
(ن) دنفی معنا ور کوی .

پسخوك (پر ې دې ښود) دما ضی مطلقی دمفرد مخا طب صیغه ده .

او تیوش (ته) دمفرد مخا طب شخصی ضمیر دی په دویم حالت کښې.

او رو د ما زه سوم (وهلی به می وا ی) (او رو د) د(و هلو) په معنا
د کو مکی فعل (سوم)په مر سته د مفر د مخا طب صیغه ده .

یا دو نه :د د ار دی‌ژ بو په‌برخه کښې د اید لمن له‌کتابه استفاده شوې‌ده
دد اړ دی ژبو گرامری معلو مات د (۱۳۵۱) کال د کابل مجلی په پرله
پسې گڼو کی خپاره شوی دی .

ACKU

ضمیمه

افغانستان ته د تورکی ژبو دراتګ لنډ تاریخ

په افغانستان کښی سربیره پرآریایی ژبو اوآر یایی توکم نورې ژبی او نور توکمونه هم ژوند کوی چه په هغو کښی دیاد ولو وړ مقام ترکی ژبی او ترکی نژاد لری .

دافغانستان پهشمالی سیمو(په مزارشریف ، بغلان، میمنه) کښې لهیوملیون څخهزیات اوزبکان، تورکمنان، قیرغیز یان، کازاقان او کره کالپاکانژوندکوی .

د هرات په سیمه کښی یولړ نورتوکمونه هم شته چه اوس په فارسی خبرې کویمګردتوکم پهلحاظ هغویسره خپلوانندی . دغه توکمونه له(تایمنی،(۱) ده زینتی، جمشیدی ، فیروز کوهی) څخه عبارت دی چه داتول د(چارایماقی) په نامهیادیږی اودنفوسو شمیریی لهدوه زره اوپنځه سوه څخه زیاتدی . په افغانستان

۱ـ دځینو محققینو په عقیده تایمنیان پښتانه دی، خواوسیې ژبه اوښتې ده.

ACKU

کښې ځينې واړه توکمونه نورهم شته لکه (تيموريان ، لوريان ، بختياران) همدارنګه په سيمه کښې يوازې شمير کشمير يان ، هندکيان ، چنګړ (جټان) ، عرب اونورهم ژوند کوي .

افغا نستان يوه داسې سيمه ده چه دتاريخ په پوړيو کښې بې ډير نژادونه په خپله غيږ کښې روزلي ، ډيرې ژبې ورکښې اوريدل شوي دي .

بابر په خپلو يادونو کښې يوازې د کابل په ولايت کښې دډيرو توکمو نو يادونه کوي :

دی ليکي چه د کابل په ولايت کښې پښتانه ، تاجيکان ، پشه يان ، ايماق ، تورکان ، عرب ، سارتان ، پراچيان اوبرکيان ژوند کوي . دی ليکي چه د کابل په ولايت کښې په پښتو ، فارسي ، تورکي ، عربي ، مغولي ، هندي ، پراچي ، برکي (او رسړي) ، عبراني ، پشه ئي او لمګاني خبرې کيږي (۱) .

اوس سونږ ګورو چه نورې ټولې ژبې له سنځه تللي او دخلکو ژبه يې پښتو او فارسي (د هنديانو هندي) ژبې پاتې دي .

له دغه ځا يه اټکل کولای شو چه په ا فغا نستان کښې به پخوا ډ يرې ژ بې ژوندۍ وې چه اوس سونږ د هغوپه باب معلومات نه لرو .

په هرصورت دافغانستان په اقليتونو کښې دتورکي ژ بو ګروپ د يا د و نې وړدی چه غواړم دلته د هغو دراتګ اوتاريخي سير په باب څه وړاندې کړم .

---

(۱) (دافغانستان تاريخ) دويم ټوك ، سولف مسعود اورسودين (. ۱-۱۱) مخونه .

د منځنی آسیا دتوکمونو په باب دلرغونو یونانی مؤرخینو په تأ لیفا تو او دهخا منشیانو په کتیبو اوداویستاپه روایاتو کښی چه دقبل المیلادز رو کلونو په جریان کښی لیکل شوي مؤرخ ته دااجازه ورکوي چه دمنځنی آسیا داوسیدونکو مطلق اکثریت آریایی توکمونه وګڼی ـ اوبیا ډیروروسته په دغه سیمه کښې تورکی ژبی نسلونه میشته شول . د میلا دي پیړیو په سر کښی د غې سیمې ته دچین له سرحدونو څخه دکوچی لویو قبایلو هجوم شروع شو چه په وروستیو پیړیو کښی به کله کمزوری او کله به ډیرزور ورو . لومړی دغه قبایل په منځنی آسیا اوبیا په ایران کښی خپاره شول. دغوتورکی قبایلودمیلا دی پیړیوپه سر کښی دچینا یی ختیځ تورکستان سیمه ونیوله چه دغه سیمه ددوی په نامه په تاریخ کښی یـا د یـږي .

د غه وخت په چینی ختیځ تورکستان کښی باختری توکم ساکی ـ تخاری قبایل اوسیدل چه دباختری ژبو په بیلو بیلو دیالیکتونو یې خبرې کولې .

دد غو ساکی تخاری قبایلو یوه برخه دقبل المیلاددوه زره کلونو په جریا ن کښی دلرغونی باختر او درنګیانا(سیستان ، هیلمند . . .) سیموته راغلی وو .

ددغو قبایلو بله برخه چه په تاریخ کښی د هیون ـ افتالیانو په نامه یادیږی په میلا د ی څلورمه اوپنځمه پیړی کښی راوکوچید ل او په بین النهرین او تخارستان کښی میشته شول اویوشمیر یې هما لته په چینی تو ر کستا ن کښې پاتې شول . دغو پا تی شو یو قبا یلو په (۸ ـ ۹) میلا دی پیړ یو کښی بودایی مذهب دراود اوبودایی متنونه یې په خپلو ژبو اړولی ووچه په دې باب

په‌ختن او دچیني تورکستان په‌نورو وادیگانو کښې لاس ته‌راغلي کتیبې شاهدي ورکوي . له‌دغه وخته‌وروسته‌دباختري ژبوآثارپه‌دغه‌سیمه کښې نه‌څرگندیږي . دلته باختري ژبې نور دتورکي ژبو سره دگډوډې په‌اثر له منځه تللي دي .

دتورکي قبایلو دهجوم قوت‌په منځني آسیا کښې په‌بین‌النهرین کښې‌خصوصاً د کاقانات (شپږمه میلادي پیړۍ . ٦ - ٧ کلونه) دوا کمنې، دقره خاني (دلسمې پای د یولسمې لومړۍ نیما یې) کښې‌او د تورکي قبایلو د یووالي په وخت کښې ډیرزور وروو .

په همدغه وخت کښې دوی له‌یوې خوا د کرنې د چارو سره زیات آشنا او دمالداري او کوچي‌ دوله ژوندنه په‌څنگ شول‌او له‌بلې خوادآریایي ژبو و یونکو سره خلط او گډوډ میشته شول .

دتورکي ژبوسره داختلاط او گډوډې په‌اثریو لړبومې باختري ژبې‌اولهجې له منځه لاړې اوځای‌یې‌تورکي ژبوونیو چه‌ددغو له‌منځه تللیو ژبوپه جمله کښې یوه لرغوني باختري ژبه‌سوغدي‌ده . د ژبود گډون په ساحه کښې سو غدیان لومړي دوه ژبي‌شول چه‌په‌خپلو کښې به‌یې په‌سوغدي خبرې کولې اودتورکانو سره په تورکي ، بیایې ورو په ورو خپله‌ژبه‌دتل له‌پاره هیره اوتورکي ژبې‌شول .

د غسې حال‌دمنځني آسیاپه ډیرو سیمو کښې لیدل کیږي ، مثلا د نامتو عالم‌البیروني خپله‌ژبه خوارزمي وه سگرد ده په تالیفاتو کښې زښت ډیر تورکي لغات ، جملې ، بشپړ عبارات اودیالوگونه لیدل کیږي . له دغه ځایه معلومیږي چه په خوارزم کښې هم‌په دیارلسمه پیړۍ کښې تورکي ژبې‌زښت ډیرو و، چه

بالاخره خوارزمی ژبه‌مغلوبه اوځای یې تـو ر کی ژبو ونیو چه له (۱۳) پیړی وروسته دخوارزمی ژبې‌آثاربیخی‌ونه لیدل شول .

دتورکی ژبوپه اثرځای په‌ځای دفارسی ژبی‌ساحه هم‌ورتنګه شوه اوپه یو لړ سیمو کښې لکه‌فرغانه ، دچیرچیك د سین‌حوزه (تاشکند) ، زرافشان‌دره ، سورخان دره او نوروکښی دهغې ځای تورکی ژبو ونیو .

دسلجوقیانو (۱۱ - ۱۲ پیړۍ) په عصر کښې تور کی ژبی قبایل د ایران دفلات شمال ـ لویدیځو سیمو (آذربایجان) ته‌وکوچیدل او هلته میشته شول . په‌جنو بی آذربایجان کښی هم‌د بوسی آر یایی د یالیکتونو او تورکی ژبو ترمنځه اختلاط اوګډ ون شروع شو .

هلته دتورکی ژبو غلبه‌وخت په وخت زیا تیدله چه له یوې خوا وروستنیو سغـو لی هجو سونو و رسره سرسته و کـړ ه او له بلـې خـوا د نو یو تورکی ژ بو د هجوم طوفان‌هغې خوا ته مخ په زیا تید لوو ا و له بلې خوا بوسی خلکو هم د خپلـو ژ بو په ځا ی و ر و په و روتو ر کی ژ بـې خـپلـو لی ا و اوخپلې یې هیرولې چه بالاخره یی خپلې ژبې بیخی هیرې کړې . بیخی لږ ویی خپلې لرغونې ژبې لانه دي هیرې کړې لکه تالیشیان او تا تیا ن . په تا ریخی خراسان کښی د کور دانو په مقابل کښی هم دتورکی ژبو دغسې تا ر یخی سیر ولیدل‌شو چه‌ځای‌په ځا ی بې‌د دوي دژبې‌لمن‌ورټوله کړه‌او ځای‌یې‌تور کی‌ژبو ونیو.

په دغه صورت دتاریخ په رڼا کښی لیدل کیږي چه دتقریباً یو نیم زرکلونو په جر یان کښی تورکی قبایل دمنځنی آسیا په پراخه سیمه کښی خپاره‌شوي‌او

بوسی ژبې يې متأ ثرې کړې دي ـ څه يې بيخی له منځه وړي او دځينو وروډژوند ساحه يې ورتنګه کړې ده (۱) .

دافغانستان په معاصره خاوره کښې هم دتور کی ژبوقبا یلوسیر دمنځنی آسیا د نوروسيمو تار يخی سير ته ورته وو .

ديفتليا نو دوا کمنی له سقوطه وروسته چه په څلورمه میلادي پیړی کښې جوړه شوې وه د (۵۹۰ - ۶۲۷) کلو نو تر منځه دتور کانو او ساسانيانو تـر منځه دتخارستان ، تالقان او خوا اوشا سیمو دنیولو دپاره مبارزه روانه وه . مګر دتو ر کی تاردو شاد په وخت کښې دغه سیمې دتور کانو پهلاس ورغلی(۲) .

تورکی ژبو وخت په وخت دافغانستان په خاوره کښې دخپل نفو ذ سا حه پراخه کړې او ډير وخت نه وتير چه د کابل وادي يې هم دخپل تسلط لاندې را وسته . په ميلادي (۷۲۶) کال کښې چه چينیزاير (هوی‌چاو)دلته‌راغلی‌ؤ، هغه ليکلی دي چه : « ددغه ځای پادشاه ادهغه دسپرو پلټن ټول‌تور کان‌دي » دجنو بی تر کستا ن اودافغانستان له شماله دتور کانو نفوذ بیا دهند په نیمې قارې کی هم خپو رشوچه تر ډیره وخته یې دوا م وکړ(۳) .

په منځنی آسیا کښې‌دتزاري روسيي دنفوذ په وخت کښې‌دزښتوډيروتورکی ژبو خلکو د پناه ځای افغا نستان و چه په دې مرحله کښې هم افغا نستا ن ته ددوی راتګ دیادونی و ړ دی .

---

(۱) ـ مقدماتی ژبپوهنه (۲۳۶ - ۲۴۰) مخونه .

(۲) ـ دافغانستان تاریخ ،نومړی ټوك(۲۰۹) مخ .

(۳) ـ دپاکستان اولسونه (۱۰۸ - ۱۰۹) مخونه .

په منځنۍ آسیا کښې د آریایي ژبو سره د تورکي ژبو د اختلاف او غلبې په اثر لکه چه تر مخه وویل شول ډېرې ژبې له منځه ولاړې او ډېرې ژبې متأثرې شوې چه له دغې اغیزې نه پښتو هم په څنګ نه وه. د ژبو د طبیعي قانون په حکم تورکي ژبو ډېر آریایي لغات له آریایي ژبو څخه واخستل او په مقابل کښې یې ډېر تورکي لغات آریایي ژبو ته ور کړل. فارسي ژبه چه دا خذ لوی استعداد لري له تورکي ژبو څخه زښته ډېره متأثر شوه مګر پښتو هم یو محدود شمېر لغات لکه توپ، اردو (پلټن)، کتنغ، سوغات، اولس او داسې نور چه اوس په پښتو کښې پر دي نه ښکاري د تورکي ژبو نه اخیستي دي.

د لته باید وویل شي د نورو ژبو په مقابل کښې غلبه همېشه د تورکي ژبو په برخه نه وه بلکې داسې هم لیدل کیږي چه آریایي ژبو ځای په ځای د تورکي ژبو لمن هم ور تنګه کړې او ترکي ژبو خلکو خپله ژبه پرېښې او په ځای یې آریایي کومه ژبه منلې ده. مثلاً د معاصر افغانستان په خاوره کښې چار ایماقو چه په تورکي مغولي ژبو خبرې کولې همدارنګه قزلباشانو چه پخوا په تورکي ژبو خبرې کولې او په اتلسمه پېړۍ کښې د شمالي ایران نه افغانستان ته راکوچېدلي همدارنګه د مغولي وا کمنو پاتې شوني هزاره چه ځینو ګروپونو یې لا د نولسمې پېړۍ په سر کښې په مغولي دیالیکتونو خبرې کولې د غو ټولو اوس خپلې ژبې بیخي هېرې کړې دي.

همدارنګه په هند کښې هم تورکانو خپله ژبه له لاسه ورکړه او هندي محلي ژبې یې ومنلې چه مفصله خبره یې لازمه نه لیدل کیږي.

ACKU

په افغانستان کښې دعربي ژبې تاريخي سير :

په معاصر افغانستان (اوپه منځنۍآسيا) کښې دعربۍژبې تاريخ هم ديادولو وړ دیچه تر اوسه يې بوسې ژبې (خصوصاً پهلغوی پانګه کښې)لدا غيز ې نه ستاً ثرې دی.

منځنۍآسيا ته داسلام دنفوذ سره سم دعربي ژبې دنفوذ لمن راوغزيده .

په هجری (۸۱)میلادی (۷۰۰) کال کښې عربی ژبه په منځنۍآسيا کښې دعربو دنفوذ دلاندې سميوله پاره درسمې ژبې په حيث اعلان شوه .

مګر پهدغهوخت کښېچه اسلام ددغوسيمو هرې برخې ته لاخپلې ريښې نهوې غزولې او دعربو فاتحانو تسلط په محدودو مرکزي سيمو قايم والبته دعربي ژبې نفوذ هم لاد ومره زيات نه و .

مګر دعربو دتسلط دټينګيدلوسرهسم دعربي داستحکام اوزياتو خپريدلو لهپاره لارهاواريدله . دتاريخی اسناد وپه شهادت دمیلادی اتمې پيړۍ په سر کښې په خراسان او ساورءالنهر کښې عربې ژ به نه يوازې دعربو دليك او لوست ژبه وه، بلکې دمحلي ميرزا يانو او رسمي اشخاصو دليك او لوست ژبه هم وه .

په دې باب په ساورأ النهر کښې د سوغد دپاچا ديواشتيچ هغه ليك ښه شاهد دی چه په خراسان کښې يې عربي حاکم ته په (۷۱۸) کال ميلادی کښې ليږلی و. دوخت په تيريدلو سره ورو په ورو د عربي دنفوذ لمن له مذهبی او رسمي چارو څخه دتسلط لاندې اولسونو داشرافی کورنيو کلتور او دژوند په نورو چارو کښې، افادې او استفادې ته هم ورو‌غزيدله . دغو کورنيو دعربي په

ذریعه عربو حاکمانو او واکمنو مقاماتوته ځان نژدې کاوه ، زیاریې ویسته چه عربي ژبه زده او په هغې پوره تسلط ولري او په دغه ترتیب یې په عربي کښې داشعارو په لیکلو ، ادبي ، علمي او مذهبي تالیفاتو هم پیل وکړ . په (۸-۱۱) میلادي پیړیو کښې ددغو سیمو دعالمانو له خوا دمذهب ، حساب ، الجبر ، طب ، حقوق ، نجوم ، فلسفه اونورو علومو په ساحه کښې په سلګونو آثار او تألیفات منځ ته را غلل چه نامتو لیکوال یې البیروني ، فارابي ، ابن سینا ، محمود قاشقاري او نورو و .

داوخت داسلامي تولو هیوادونو دپاره عربي ژبې په علمي ساحه کښې دبین المللي ژبې همې حیثیت لاره لکه څومره چه په منځنیو پیړیو کښې لاتیني ژبې په ټوله اروپا کښې لاره . داوخت په عربي ژبه دشعرویلو دودهم ډیر زیات شو . ثعالبي (لسمه پیړۍ) په خپل اثر (یتیمات الدهر) کښې لیکلي چه دده په وخت کښې دعربي ژبې (۱۱۹) شاعران په خراسان او ماوراء النهر کښې موجودو و .

البته له دغه جریانه پښتني سیمې او پښتانه هم لرې او ډیر په ځنګ نه شول پاتې ګیدلای ډیرو پښتنو عربي زده کوله اوپه هغې یې حتی پاخه شعرونه ویل : دلته دمثال له پاره دهجري دریمې پیړۍ یوپښتون شاعرته ګوته نیسو دغه شاعر دهلمند دسروان اوسیدونکی محمد هاشم بن الزید السرواني البستي دی چه سر بیره پرپښتو دعربي ژبې شاعر هم و (۱) .

---

(۱)ــ پټه خزانه ، دویم چاپ (۵۸-۶۰) مخونه.

البته دا ته باید وویل شي چه عربي یو ازې دهغې لوړې طبقې و ګړي د خپل نفوذ په چاپیر یال کښې متاثر کړي وو چه دمذهبي یاسیاسي هدفونو دلاس ته راوړلو په غرض دسورني ژبې په شان زده کوله اوپه رسمي اود ولتي چارو کښې یې تری کاراخیسته .دهیواد د اولسي خلکو په ژبه د عربي کوم تاثیر پروت نه و دوی ته عربي ژبه دتل دپاره پر دې وه .مګر دد وی ادب نو ر په لیک اولوست کښې نه ویوا زې دفلکلور په ډول دخلکو تر منځه ژوندی و.

دتاریخي اسناد و په شهادت ویلای شو چه دعربي په مقابل کښې د پښتو مقاومت نه یوازې په اولسي خلکو بلکې دپښتنو په لویو کورنیو کښې هم موجود و.په دې باب داسیر کروړ (دویمی پیړی پیل) دحماسي شعر قوت اود ژبې سو چه والي لوی شاهد دی چه له یو ی خوا د عربي ژبې یولغت او دعربي ادبیاتو یوه تشبیه هم ورکښې نشته او له بلې خوادشعر قوت دا ښیي چه پښتوتر دغه عصره پورې ډیر قوي او پیاوړی ادبیات لرل بل ښه مثال یې د ابن الزید السرواني له خوادخپل استاد (ابن خلاد) دعربي شعر ترجمه دچه په دریمه ه پیړۍ کښې بې کړې مګراه عربي نه متأثر ه ده .خومتا سفانه دډول ګلبن غخه بې یو ا زې همدایویادوه ګلونه دښکارند وی په ډول زمونږ به لاس کښې دی بلکې د ا سلام دخپرید لو څخه وروسته د (۵) هجری ددو یمې نیما یې پورې په سیمه ایزو ژ بو (نه په فارسي ،نه په پښتو) لیکلي ادبیات تقریباً په لاس کښې نشته .مګر کله چه په منځنۍ آسیا او له هر ه ځا یه زیات په افغانستان کښې دعر بو په ضد ا و د خپلو اکۍ دحصول په غرض مبارزې شروع شوې ځای په ځا ی ملوک الطوایفي ا و

سیمه ایزي حکمراني منځ ته راغلی د لوړي طبقو کورنیو چه پخوا تو له پاملرنه دعربي ژبې اوذهني دادبیا توزده کړی ته اړ ولې وه نو ر مجبور شول چه دخپلو اولسونو د پاملرنې راګرزولو په غرض ددوی ژبواو ادبیا تـو تـه ستوجه شی او هـغـه دعر بو په ضد د درستې اوو سلې په حیث استعما ل کړی چه داحرکت دهجری څلورمې پیړی لهدویمی نیمایی څخه وروسته پهځرګندیږی چه وروپه ورویی دعربو او عربی له تسلطه خپل هیواد اوخپل کلتورخپلواك کړل لومړی دطاهر یانو بیا د صفاریانو او ور پسی دسامانیانو دولتو نه جوړشول اوعربی ژبه له رسمیا تو څخه ولویده .دا څرګنده نه ده چه دعر بو له فتوحاتو وروسته دلومړی ځل لهپاره دچاله خوا کله او په کوم ځای کښې دمحلی ژبودپاره د عربی الفباء ومنله شوه .

مګر داځر ګندهده چهدطاهر یا نو او صفاریانو پهعصر کښې ورو په ورو دعربی دنفوذ لمن ور تو له او دساما نیانو په عصر (۸۷۵-۹۹۹) میلادي کښې چه پا یتخت یی بخارا او فارسی رسمی ژبه شوه . دعربی نه وروستهفارسی ژبه کله دفارسی کله دنوې فارسی او کله ددري په نامه هم یادیږي .

په عربی الفبا دفارسی لومړی متن (تاریخ طبري) اولسی څلوریزې رانقل کړي دي چه دعربی حکمران اسد ابن عبدالله دماتې په باره کښې پهبلخ کښې ویل شوې دې .

داهغه وخت وچه دبلخ دښارغالباً په کومه برخه او محله کښې فا رسی رایج شوې وه مګر دالبیرونيدروایت سره سم دبلخ په ولایت کښې د باختري

(بلخي) او (تخاري) ژبې او لهجې عامې وې (۱) چه غالباً دپښتو بيلې بيلې لهجې دي . حدود العالم دپښتنو دلويې قبيلې غلجيانو داستوګنې ساحې غزني بلخ ، تخارستان ، جوز جان او بست ښوولي دي (۲) . په هر صورت دعربي دنفوذ دلمن دور تيرولو وروسته په فارسي کښې زيات اصلا حات وشول چه اوسنی بڼې ته راواوښته چه دسلطان محمود په وخت کښې خصوصاً په ادبي لحاظ ډيره بډا يه شوه .

دپښتو څه حال و؟ ددې سوال ځواب دپښتو په بحث کښې وړاندې کوو . عربي له رسميته ولويدله مګر بيا هم دافغانستان په ځينو برخو کښې عرب پاتي وو چه عربي يې دخپلې مورنۍ ژبې په حيث ساتلې وه .

بابر په خپل توزک کښې دکابل دولايت دژبو اوتوکمونو ديادونې په لړ کښې دعربي او عربو دموجوديت يادونه هم کړې ده .دافغا نستا ن په يولړ سيمو کښې عربي ژبه ډير وخت دمحلي ژبو په کتار کښې ژو ندۍ وه خواوس ځاى په ځاى په نامه عرب شته مګر ژبه يې دپښتو او فارسي په ذريعه عملاله منځه تللې ده .

البته عربي اوس نه يوازې دمذهبي مراسمو دژبې په حيث پا تې ده بلکې د مرکزي آسيا په ژبو يې دلغوي پا نګې لويه اغيزه پرته ده چه له هر څه زيا ت ورنه فارسي ډيره متأ ثره ده لهدغې اغيزې يې پښتو هم څه نا څه خلاصه نه ده.

دپښتو پهلغوي پانګه کښې دعربي لغاتو استعمال په څلورډوله ليدل کيږي:
الف: هغه مذهبي اوځينې علمي اصطلاحات چه پښتو پخوا نه لرل لکه(حج،سنت

---

(۱) ـ دافغانستان تاريخ لومړى ټوك (۲۳۹) مخ .

(۲) ـ (د پاکستان او لسو نه) (۱۳۵) مخ .

واجب ،فرض ،امر ،ماضی،حال ،متعدی) او نور .

ب: په ځینو موارد و کښې دعربی دلغاتو سره پښتو په کټ مټ،مفهوم یالږ تو پیر سره خپل ژوندی لغات لری لکه :

عر بی:فاصله ـ فرق ـ احسان ـ احترام .

پښتو :واټن ـ تو پیر ـ ښیګڼه ـ لما نځنه.

ج: په ځینو موارد و کښې دعربی په ذریعه د پښتولغات دامی له منځه تللی چه دهغو څرك یا په کلا سیکو ادبیاتواو یا په کوسه لهجه کښې لیدلای شو اوبس لکه:

عربی :عز م ـ منزل (مزل) نصیحت ـ اتفا ق ـ وعده.

پښتو :ویلا ړ ـ پند ـ ورم ـ سند ـ ژ منه .

د: په ځینو موارد و کښې پښتو دخپلو لغاتو دار لو یا نه لرلو په صورت کښې عر بی لغات اړ ولی اوخپل کړی یی دی لکه :وخت (وقت) خلك (خلق) بیه (بیعه) کمیس (قمیص) .

یادو نه: په د ې مقاله کښې له ډیر ومأ خذونو څخه استفاد ه شوی چه سهم یی دادی:

۱ـ«دافغانستان تاریخ »لوسړ ی توك ـ دمسون او روسودین تالیف د مسکو د ۱۹٦۴ کال خپرونه.

۲ـ«دپا کستان اولسو نه » دګانکو فسکی تألیف دمسکود(۱۹٦۴) کا ل خپرو نه .

۳ـ «ایرانی مقد ساتی فیلا لو ژی»داو رانسکی تالیف دمسکو د(۱۹٦۰) کال خپر ونه .

په‌دغه اثر کی‌د استفادی‌مأخذونه

الف ـ هغه ماخذونه چه زیاته استفاده ورنه شوې ده :

۱ - دافغانستان تاریخ ـ لومړی ټوك ـ مؤلفین و . م . مسون ـ او د . ا . رومودین دشوروي اتحاد دعلومو اکادمی مسکو (۱۹۶۴) کال .

۲ - ایرانی ژبی ـ مؤلف . ي . م . اورانسکی دشوروي اتحاد دعلوموا کادمی مسکو (۱۹۶۱) کال .

۳ - « ایرانی مقدماتی فیلا لوژي » مولف ي . م اورانسکی دشوري اتحاد دعلومو اکادمی مسکو (۱۹۶۰) کال .

۴ - « داوسیتی ژبی تاریخی ایتیمو لوژیك قاموس ـ لومړی ټوك » مولف و.ي . ابا یف دشوروي اتحاد دعلومو اکادمی ـ مسکو (۱۹۵۸) کال .

۵ - « دپاکستان او لسونه » مولف یو . و . گانکوفسکی دشوروي اتحاد دعلوموا کادمی مسکو (۱۹۶۴) کال .

۶ - « دتاجکی اولسی اشعارو ته تاریخه » مولف اي.س. براگینسکی دشوروی اتحاد دعلومو اکادمی خپرونه ـ مسکو (۱۹۵۶) کال .

۷ - « داردي ژبی » مولف د.ي . ایدیلمن دشوروي اتحاد دعلومودا کادمی خپرونه مسکو (۱۹۶۵) کال .

۸ - « دپهلوی . فارسی . ارمیانی . روسی او انگریزی قاموس » مولف

ACKU

پروفیسر ابرامیا ن دشوروي اتحاددعلوسودا کاډسی خپرونه ایرووان(۱۹۶۵) کال.
ب ـ هغه ماخذونه چه نسبت لړه استفاده ورنه شوې ده :
۹ ـ « منځنی فارسی ژبه » سولف و . س . راستور گویفه دشوروی ا تحـاد دعلوسو دا کاډسی خپرونه مسکو (۱۹۶۶) کا ل .
۱۰ ـ « پامیری ژبی » مؤلف ت.ن. پخالینه دشوروی اتحاد دعلوسوا کاډسی مسکو (۱۹۶۹) کا ل .
۱۱ « دیاز گو لاسی او شو غنانی ژبو دگروپ ترمنځه نسبی خپلوي » سو اف و. س . سو کولو نه دشوروی اتحاد دعلوسو ا کاډسی ـ لیننګراد (۱۹۶۷) کال .
۱۲ـ « اشکا شمی ژبه» مولفه پخالینه دشوروي اتحاددعلوسوا کاډسی مسکو (۱۹۵۹) کال .
۱۳ـ « دشو غنانی ژبی باجو دي دیا لیکت» سو نو کر سونیك ،شورويِ اتحاد دعلوسو ا کاډمی دو شنبه (۱۹۶۳) کال .
۱۴ ـ دروشانه او خوفی ژبو متنو نه او قاسو سونه سولف و . س.سو کولونه دشوروی اتحاد دعلوسو ا کاډسی (۱۹۵۹) کال .
۱۵ـ «دختیځ هندو کش ژبی سونجانی»سولف گریوزبرگ،لیننګراد ۱۹۷۲ کال.
۱۶ ـ« افغانستان ته دلینگو ستیك هیئت رپوټ » سو لف. ج . مار گین سترین (۱۹۲۶) کال .خپرونه اوسلو .
۱۷ـ«داوسیتی ژبی په باب یادونه »سولف فرانسوي ختیځ پوه ی. بینوینیست روسی تر جمه دشوروي دعلوسو ا کاډمی خپرو نه مسکو (۱۹۶۴) کال .

۱۸ - « دروسی ژبی ایتیمو لو ژیك قاموس » مولف ا. گ . پر ي ابریژینسکی دشوروي اتحاد دعلومو اکاډمی خپرونه مسکو(۱۹۵۹) کال .

هغه مأخذونه چه پیخی لږه استفاده ورنه شوی ده :

۱-«دهند او ایرانی ژبو په سوادو کی دایر کاتیف سیستم اسامی پرابلمونه» مؤلف ل . ل پیرپیکو دشوروی اتحاد دعلومو داکاډمی خپرونه (۱۹٦۸) کال .

۲- « داینډو وایران سرحدی ژبی » ج . سارګین سترین(۱۹۲۹) کال اوسلو.

۳-دروسی ژبی ایتیمولوژیك قاموس ۱ ، ۲ ، ۳ ټوك د مسکو د پوهنتون خپرونه.

۴- «دنولسمی اوشلمی پېړی د ژبپوهنی تاریخ لومړی ټوك» مسکو ۱۹٦۴ کال .

۵- «دهند . پا کستان، نیپال اوسیلون ژبی» دشورویاتحاد دعلومودا کاډمی د (۱۹٦۸) کال خپرونه . مسکو.

٦- «دختیځ پیژندونکو کانګرس» نومی کتاب ، نوی ډیلی (۱۹٦۴) کال .

۷- زړي سلاویانی ژبی ' مونو نیکېسفورف مسکو (۱۹۵۵) کال .

۸-«لرغونی روسی ژبه» د دیبروف او افیچیسکوف تألیف دشوروی اتحاد درستوف د پوهنتون خپرونه .

۹- «داینډو وآریایی ژبپوهنی پرابلمونه» مؤلف و . ي . اباینف دشوروی اتحاد دعلومو اکاډمی مسکو (۱۹٦۴) .

۱۰- «تاریخ سیستان» رساله دشوروی اتحاد دعلومو اکاډمی ، ستالین آباد (۱۹۵۹) کال .

۱۱-«شاهنامه فردوسی» (اومړی ټوك) (۱۹۵٦) کال، مسکو.

۱۲- «دلرغونی خوارزم دتمدن په پلونو» مؤلف س . پ . تولستوف مسکو (۱۹۴۸) کال .

۱۳- «داوسیتی ژبې دیګوری دیالیکت» مؤلف م . اي . ایسایف - دشوروی اتحاد دعلومو اکاډمی مسکو (۱۹۶۶) کال .

۱۴- «یګنوبی ژبې» مؤلفین م . س . انارپیف اوي . م . پیشیر یوه دشوروی اتحاد دعلومو اکاډمی مسکو (۱۹۵۷) کال .

په پښتو اودری هغه مأخذونه چه غالباً لیږ استفاده ورنه شوی ده :

۱- «دافغانستان دځینو ژبو او لهجو قاموس» دشاه عبدالله بدخشی تالیف پښتو ټولنه .

۲- آریانا دایرة المعارف .

۳- پښتانه دتاریخ په رڼاکی دپیښور چاپ .

۴- (د کابل کلنی - پښتودشاهانو په‌دربار کی نوی مقاله) (۱۳۲۲) کال.

۵- تاریخ خط ونوشته های کهن افغانستان دپوهاند حبیبی تالیف (۱۳۵۰) کال.

۶- خیراللغات دپښتو اردو قاموس دقاضی خیرالله تالیف لاهور (۱۹۰۶) کال.

۷- پښتانه شعرا لومړی ټوک .

۸- خیرالبیان .

۹- ددرویزه مخزن .

۱۰- یوسف او زلیخا - عبدالقادر ختک - د کابل مطبعه .

۱۱- «دپښتو خیړنی» دډار مستترد تالیف ترجمه کابل .

۱۲- «آریانا افغانستان» دښاغلی نجیب الله تالیف د کابل چاپ .

۱۴ - « مادرزبان دری » پوهاند حبیبی کابل .

۱۵ — « نورستان » مؤلف محمدصفر غرزی .

۱۶ - « تاریخ ادبیات ایران ـ جلداول » مولف دوکتور ذبیح الله صفا، تهران
(۱۳۴۲) کال .

۱۷ - « تاریخ ادب ایران ـ جلداول » دپروفیسرادوارد براون تالیف
دعلی بادشاه صالح ترجمه، تهران (۱۳۳۳) کال .

۱۸ - « سبک شناسی یا تاریخ تطور نثرفارسی » مولف محمد تقی بهار
ملک الشعراء، تهران .

۱۹ — « تاریخ شیرشاهی » دعباس خان سروانی تالیف د ډاکی د پوهنتون
د (۱۹۶۴) کال خپرونه .

۲۰ - پټه خزانه ـ دکابل چاپ .

۲۱ — برهان قاطع، دابن خلف تبریزی تألیف .

PROPERTY OF ACKU 4682

The Languages & Races of Afghanistan

by

DOST MOHAMMAD DOST

Pushtu Academy

KABUL, AFGHANISTAN

OCT. 1975

GRD
PK6780
D6

دولتی مطبعه